

# رحمان بابا دیوان

پښتو ټولنه ۱۳۵۶


4645

احمد شرقپوری

ذخیرہ

لاہور پاکستان

4645

...يل احمد شرقپوري نقشبندي مجددي
...س مياں صاحب نے
...ں لائبريري کو عطا فرمايا

**درحمان بابا د عکس انځور**
**دمحمد روحاني رؤيا**

S-369

Marfat.com

د پښتو ټولنې پرله پسې لمبر ۲۲۵

د

# رحمان بابا دیوان

خپرونکې

پښتو ټولنه

د

۱۳۵۶ کال د زمري پنځلسم

د چاپ شمیر ۳۰۰۰ ټوکه

دولتي مطبعه

Marfat.com

88019

70579

مرتب او مُهتمم :

څېړنیار محمد عارف غروال

د نسخو مقابله کوونکي :

څېړنمل عزیزالله

څېړنیار محمد عارف غروال

څېړونکی محمد عمر

Marfat.com

## چې کشور د افغانانو معطر کړي
## د هر بیت مصرع مې زلفې د خوبانو کړي

له څه مودې راهیسې د رحمان بابا د دیوان چاپي نسخې بازار کې نایابه شوې وې

له همدې امله، د پښتو ټولنې تصمیم ونیو چې د بابا یو نوښته جامع او ښه دیوان چاپ

کړي. خو څرنګه چې کتاب د یوې علمي او ادبي اکاډمۍ له خوا خپرېده لازمه وه چې تر څه

حده پورې اکاډمیک او علمي پرنسیپونه پلي او پر ځای شي. د دې هدف د تحقیق د پاره

له ټولو چاپي او ډېرو قلمي نسخو څخه استفاده وشوه. دا باوري خبره ده چې د رحمان بابا

د دیوان قلمي نسخې د پښتونخوا په هر ګوټ کې پیدا کېږي. خو له یوې خوا د ملکوال ادبي

تندې او علمي اړتیا او له بلې خوا د پښتو ټولنې مالي امکاناتو اجازه نه ورکوله چې دا

کار نور هم وځنډېږي.

په همدې اساس، د پښتو ټولنې د کتابتون او فولکلور د مدیریت ته دنده ورکړه شوه

چې د بابا د دیوان یو انتقادي متن تیار کړي. د دې دیوان په خپرېدو سره به د تحقیق څېړونکي امکانات

ترلاسه کړي چې د بابا ادبي سبک "ژبه"، او د نظر طرز په ښه توګه وڅېړي

او د هغو اشعارو پر ماهیت باندې هم رڼا واچوي چې رحمان بابا ته منسوب شوي دي.

دا د بیا تر څیړونکي د خپلو علمي څیړنو د پاره، البته، په دې نسخه باندې بسنه او قناعت نشي کولی
ځکه سره له دې چې کتاب له یو شمېر نسخو څخه ترکیب شوی دی، خو هره نسخه یې د متني کره کتنې -
textual criticism لپاره ځانګړې مطالعه او ژوره څېړنه غواړي. له دې امله، د دې
نسخې په چاپېدلو سره دا د بل کره کتونکو وظیفه پای ته نه رسېږي بلکه په نوي افق کې به خپلو څېړنو
ته دوام ورکړي.

زه دلته د رحمان بابا د افکارو د ترجمانۍ، تعبیر او تفسیر څخه تېرېږم ځکه چې هر حرکت به یې له خپلو
عمیقو څخه په بل رنګ وینې او بهره به دې چې په دې باره کې ځانګړې رسالې یا کتابونه ولیکل شي.
سره له دې، د لوېدیځ فولکلور د لوی مدیریت له خوا د رحمان بابا یوه لنډه بیوګرافي ترتیب شوې ده
چې مبتدي لوستونکي له څېړنو او اساسي ټکو سره آشنا کړي او د بابا ته د زیاتې څېړنې د پاره
چلینج ورکړي.

د دې کتاب په تدوین کې د لوېدیځ ادب او فولکلور د لوی مدیریت مسلکي غړو ښاغلي محمد عارف غروال،
ښاغلي عزیزالله، ښاغلي شاه ولي او ښاغلي محمد عمر او نورو هم زیار ایستلی دی. د پښتو ټولنه
په دې وسیله د دوی د زیار او اهتمام یادونه کوي او د پښتو ژبې او ادب د خدمت په لاره کې د دوی
د زیاتو بریالیتوبو هیله لري.

۱۳۵۵/۷/۱

څېړنوال محمد صدیق روهي
د پښتو ټولنې رئیس

# رحمان بابا

## ژوند پېښې او دیوان

لیکوال
حبیب الله رفیع

م

ما غوښتل چې په دې لیکنه کې د رحمان بابا په ژوند پېښو، فکر او فن بشپړې خبرې وکړم. لټون مې پیل کړ، یادداشتونه مې راغونډ کړل، ډېرې لوې خبرې مخې ته راغلې مجبور وم چې په ټولو وغږېږم نو ځکه خبره د دیوان له سریزې څخه لوی بشپړ کتاب ته اوږده شوه. په دې سریزه کې د رحمان بابا د فکر او فن له خبرې څخه تېر شوم ځکه چې لویه خبره ده. او بل دا چې له بله پلوه دده فکر او فن په دې دیوان کې ستاسو په مخ کې دی. نو یوازې یې ژوند پېښې او له دیوان سره مربوط مطالب یې راوړم. البته دده په باب هر اړخیزې خبرې به په هغه ځانګړي کتاب کې چې "رحمان بابا - د پښتو عالمګیر" مې نوم ورته ټاکلی دی وړاندې شي.

Marfat.com

نه عاشق یم سره وکار می دی له عشقه
نه خلیل، نه داؤد نه یم، نه مومند

# [I]

# د رحمان بابا تاریخي څېره

رحمان بابا لکه څومره چې په پښتنو کې وتلی او منلی شخصیت دی هماغومره یې ژوند پېښې تتې او د تاریخ په تیارو کې پټې دي، داځکه چې دی د یوې غریبې کورنۍ غړی ؤ او د غریبانو ژوند او مرګ ته چا د پام جوګه نه ورکاوه چې ځان پرې ستړی کړي او ژوند پېښې یې وکاږي، د ده ژوند هغه وخت ارزښت وموند چې ده د خپل شعر په قوت د پښتنو زړونه او د "روح" سیمه تسخیر کړل او د تولو پام یې ځان ته وروا اړاوه خو دا هغه وخت ؤ چې د ده د ژوند د پېر خبرې هېر شوي وو.

د ده د ژوند پېښو په باب د پېر وکسانو دا تکل نیلی ځغلولی او د پېرې خبرې پرې شوې خو د ده د ژوند په باب د پېر حقایق پټ هم پاته شوي او د پېر داسې غږ هم ورسره تړل شوي چې په اصطلاح د ده اړ واهم ترې خبره نه ده.

**تبر، کلی او زوکړه :** رحمان بابا د پښتنو د روایتي سلسلة النسب له مخې "سړبن" (۱) په سړبن کې غوریاخېل (۲) په غوریاخېل

---

(۱) یو کتاب په سړبن کې چا وند کړی — لې رحمانه چې لې وکړ دا کتاب
(رحمان بابا دیوان، کابل پښتو ټولنه ۱۹۴۱ ع)

سل سړبني دې تر دا یو غزل ځاریږي — نن چې دا پښتنو د ډکرالې خوشال ویلې
(کلیات خوشحال خان خټک ... دوست محمد خان کامل پېښور ۱۹۶۰ ع)
پاتې په (۳) مخ کې

Marfat.com

کې "مومند" [۳] په مومندکې "دویزی" [۴] او په دویزیو کې "ابراهیم خېل" [۵] دی. راورتلې دی په مومندو کې غوریاخېل بولي [۶] خوځنګه چې مومند دغوریاخېلو ښاخ دی نوځکه نوموړي ختیځ یوه تېره وتلې او دخبرې دښه سپيناوي له پاره له مومند نه ترسربن پورې شجره دلته کاږو :

---

د (۲) ځ پاته :

فرکیږي چې له سربني نه مراد رحمان بابا وي او د رحمان بابا دا بیت د ده څواب ګڼل کېدای شي :

یو خوشال یو کم سل ختک نوریه طبیعت کې — څارشه درحمان سربني لـه یوه فرده

(رحمان بابا دیوان ، کابل ، ۱۴۲ مخ)

بیا به دوره دشاه عالم په څم بنو کې — راښکاره شو په جهان عبد الرحمان

(میراحمد شاه رضوانی - روحی ګلونه ، ۱۲۳ مخ)

(۳) - زه ختک دیاں په غم تازه تازه شم — غوریه خېل رحمان که شو ورځني ستړی

(عبدالقادر خان ختک دیوان ، داستاد حبیبي تدوین او تصحیح ، ۱۳۴ مخ)

دد ې مخ دمتن پا ملیکونه :

(۳) که لې شعر درحمان مومند تر غوږ شي — غوږ به نه باسي په شعر دخوشال خوړک

(رحمان بابا دیوان ، کابل ، کهتار جهنوا په سریزه ، ۹۴ مخ)

خدایه وبښې مومند عبد الرحمان — پرې نازل کړې خپل رحمت لکه باران

(دیوان عظیم (عبد العظیم رانیزی) لاهور ۷۶ مخ)

(۴) ما نجیبم به دا طور غزل وو یې — که ویلي دویزي عبد الرحمان دی

(دیوان نجیب ، د پېښور پښتو اکاډمی ، ۲۷۳ مخ)

دملانبا یسته خان په جونګ کې چې درحمان بابا دش وند وخت ته ورلنډ کښل شوی ، دده له نامه سره د دویزی کلمه شته

(د ملا بسته خان جونګ ، قلمي نسخه ، دلیکوال کتابتون)

(۵) "رحمان بابا لکه چې پادري هیوز لیکي ابراهیم خېل مومند و . د پېښور د مومندو په تپه کې چې کوم هلګ خان درحمان بابا نسبي او عزیزان بولي هغوی په ابراهیم خېلو یادیږي ..." (رحمان بابا ، دوست محمد کامل مومند ، پېښور ، ۱۹۵۸ ع ۸ مخ)

(۶) کامل ، دوست محمد : "رحمان بابا" ، ۵ مخ

Marfat.com

# خلوړم




* . دې شجرې په ترتيب لوکې دخواجه نعمت الله هروي له "مخزن افغانی" په ۱۹۶۲ ع . کال کې دراکې چاپ دحافظ رحمت خان له "خلاصة الانساب" په ۱۹۷۳ ع . کال د پښتو د پښتو اکيډمۍ چاپ، دافضل خان خټک له "تاریخ مرصع" په ۱۹۷٤ ع کال کې د پښور يونيورسټۍ بک ايجنسۍ چاپ ، دظفر کاکاخيل له "پښتانه د تاريخ په رڼاکې" په ۱۹۶۵ ع . کال کې د پښور يونيورسټي بک ايجنسي چاپ ، څخه استفاده شوې ده .

(۷) "پښتانه د تاريخ په رڼاکې" دا لوم "ګند" کاږي .

(۸) "تاريخ مرصع" دکاسي لوم نه اخلي .

(۹) دالوم "خلاصة الانساب" د "شحي" محفف بولی . مخزن افغاني يې "شيخا" او "خرخشنی" ليکوي . پښتانه د تاريخ په رڼاکې يې د رېږيو : "شيخا، خونني خاښي" راوړي .

(۱۰) د "غوريا" لوم مخزن افغاني "غوري" او "غوزل" او تاريخ مرصع "غوري" راوړي .

(۱۱) خلاصة الانساب او مخزن افغانی ځينې نسخې (چې دخلاصة الانساب اخځ هم همدا دي) دغوريا زامن پنځه بولي په دې ترتيب :
"خليل ، داوُد ، مندك ، يوسف ، مومند " او په دې اساس مومند او داوُدزی دخليل وروڼه نه بلکه وروڼه ګڼي او سبکاري چې رحمان بابا هم دهمدې عقيدې په اعتبار کې وائي :
"نه خليل نه داوُدزی يم نه مومند "
دمخزن افغاني ځيني نسخې د "دولت يار" وجود دځيني فولکلوري روايا تو په اساس ردوي او مومند او داوُد ده دا زامنو په توګه غلط بولي

(۱۲) د مخزن افغاني معتبرې نسخې دغوريا په زامنو کې تر خليل وروسته د "منوز لي" په نامه يو لوم زياتوي او دغوريا زامن پنځه بولي

(۱۳) دالوم د مخزن ځينې نسخو "جوکن" ضبط کړی دی .

(۱۴) د زيراني ' لوم مخزن افغاني "زيرانه" راوړي دی .

(۱۵) د 'ملی ' لوم مخزن افغاني او پښتانه د تاريخ په رڼاکې " ملهی " کښلی دی .

(۱۶) د "ترک " لوم په خلاصة الانساب او مخزن افغاني کې نشته . ۴

(۱۷) د "شجاع ' لوم هم خلاصة الانساب او مخزن افغاني نه راوړی .

(۱۸) دالوم خلاصة الانساب او پښتانه د تاريخ په رڼاکې "مهيار" کاږي .

Marfat.com

رحمان بابا په "بهادرکلي" کې چې له پېښور څخه درې څلور میله لیرې[19] جنوبي اړخ ته پروت دی[20] له عبدالستار مومندکره وزېږېده[21] پټه خزانه د محمد رسول کلاقال د بیاض[22] له مخي د رحمان بابا د زېږېدو کال (۱۰۴۲ ه.ق.) ښيي[23] که څه هم ځیني کسانو څخه کړي چې داسنه سمه وینه بولي خصوصاً ښاغلی کامل مومند په خپل "رحمان بابا" نومي تحقیقي اثر کې زیار ایستلی چې د انکلونو په اساس دې کال په څنګ کې دېرنوم کلونه ورانديږکړي خو بریالي شوی نه دی او مجبور شوی چې د خپل بحث په پای کې بیا هم دده زېږېدل د همدې کال شا او خوا بولي[24].

د پښتونستان یوبل مؤلف ښاغلی عبدالحلیم اثر سره له دې چې د پېښور د پښتو اکیډمۍ د پښتو مجلې د ۱۹۷۶ م. کال د اپریل په ګڼه کې پټه خزانه یو دېر باوري کتاب بولي خو د ښاغلي میر عبدالصمدخان د "رحمان بابا شاعرانسانیت" د کتاب په سریزه کې چې له دې چې کوم اخځ وښيي، کاږي چې سوانح لیکونکي د رحمان بابا د زېږېدو کال ۱۰۴۰ ه.ق. بولي![25] بیا د اکال رد وي او جالبه دا چې د اخځ هم چې له دې چې کوم لا سوند ولري، لیکي: "زما د معلوماتو(؟) له مخې رحمان بابا د ۱۰۳۸ ه.ق. کال د جمادی الثاني په ۲۱ نېټه د جمعې په ورځ د پېښور له مضافاتو څخه په بهادرکلي کې وزېږېد."[26]

د رحمان بابا نومي بل لیکوال کتاب هم د رحمان بابا د زېږېد و په باب د فکرنیلی. زغلولی او د پټې خزانې د صراحت په خلاف یې دده د زېږېدو کال ۱۰۶۳ ه.ق. اټکل

---

(19) عبدالصمدخان، رحمان بابا شاعرانسانیت، ۱۹۷۴ ع. پېښور، ۶۹ مخ.
(20) حبیبی، استاد عبدالحی، پښتانه شعراء (لومړی ټوک)، ۱۳۲۰ ش.، کابل، ۱۹۲ مخ.
(21) محمدهوتک "پټه خزانه" د لوی استاد پوهاند عبدالحی حبیبی په سریزه، سمون او تشریح ۱۳۲۲ ش. کابل ۹۳ مخ.
(22) د دې بیاض نسخه محمدهوتک لیدلې وه خو اوس یې چیرته پته نشته او د زمانې په سبب له سترګو الوتنیا کړي ده.
(23) پټه خزانه، ۹۳ مخ.
(24) وګورئ: له ۷ تر ۱۶ مخ پورې.
(25) رحمان بابا شاعرانسانیت، ۱۳ مخ.
(26) هماغه اثر.

Marfat.com

کړې دي . (۲۷)

دهېواد پیاوړي محقق لوی استاد پوهاند عبدالحي حبیبي درحمان بابا دزېږېدو په باب دېتي خزانې وینا سمه بولي او دهیڅ شک ځای نه پکې ویني (۲۸).

په دې ترتیب وینو چې درحمان بابا دزوکړې په برخه کې دېتي خزانې دوینا په مقابل کې ماتوونکی سند نشته . نو موږ په دې برخه کې دده خپل دېوان ګوروچې هلته ددې وینا په رد یا منلو کې څه مونداۍ شو که نه ؟

رحمان بابا په خپل دېوان کې ځلند یو اوږده بولله لري ، چې ددنیا لې وفائي او خپل ځان سپینږیرتوب پکې انځور وي او د اورنګ زېب په مړینه بحث او ساندې پکې کوي ، د ابوالله ظاهراً په ۱۱۱۸ هـ.ق. کال چې د اورنګزیب دمړینې کال دی (۲۹) او یا هم احیاناً په ۱۱۱۹ هـ.ق. کال ویله شوې ده . په دې بولله کې یو بیت داسې لولو :

تر پنځا ویځه تېر شوې          تر لا ځان بولې پسر (۳۰)

نو کله چې دی په ۱۱۱۸ هـ.ق. کال تر پنځه پنځوس تېر و بولو او دا تېر والې هم دده شپیته کلنې و منو نو بیا دده دزېږېدو کال ۱۰۵۸ هـ.ق. راځي او دېتي خزانې تر سنېږ (۱۶) کاله را وروسته کېږي خو دېتي خزانې کال له دې سره هم نه ردېږي .

ځکه چې دابیت درحمان بابا ددیوان په بېلو ـ بېلو نسخو کې یو له بله توپیر لري .

---

(۲۷) محکمهٔ نشر واشاعت قبایل، "رحمان بابا" . دا کتاب نه دلیکوال نوم لري او نه يې دچاپ کال ښئي او ښکاري چې دکوم غرض له مخې په دېر عجولانه دول درحمان بابا په باب دافکار و دتشتت یاد خور شوی.

(۲۸) - حبیبي ، پوهاند عبدالحي ، دافغانستان پښتنیک ، ۱۳۵۳ ش ، ۱۴۰ مخ .

(۲۹) محي الدین اورنګزیب عالمګیر دګورګاني شاهجهان دریم زوی دی چې په ۱۰۲۷ هـ.ق. کال دهند په احمدآباد کې زېږېدلی ، په ۱۰۶۸ هـ.ق. کال يې خپل پلار بندي کړ او دی پرتخت کېناست ده دخپلې واکمنې په دوره کې پښتانه دېر وکوښل او په پښتونخوا کې دده په ضد پیاوړي ملي نهضتونه پیل شول چې داخوند چالاک ، ایمل خان او خوشال خان غوندې ځلنګو ونه يې رهبري دملي تاریخ روڼه بالونه دي . (دتفصیل له پاره وګورئ : تاریخ افغانستان دعصر ګورګاني هند ، دلوی استاد پوهاند عبدالحي حبیبي اثر ، دخوشال ختک مرغلرې ، کلیات خوشال خان ، ارمغان خوشحال او نور .... ) .

(۳۰) دیوان عبدالرحمن ، دپښتو پښتو اکېډمي ، ۳۸ مخ .

Marfat.com

او خصوصاً د رحمان بابا د دیوان په یوه هغه نسخه کې چې د پښتو ټولنې په کتابتون کې ساتله کېږي، دا بیت داسې دی:

تر ځیګرا وشسته تېر شوي — ته لا ځان بولې پسر

او په دې متن کې هم همدا بیت د اصل په توګه راغلی دی.

د بېتې خرابې د سنې له مخې دا وخت د ده عمر ۷۲ کلو ته رسېږي او تر شپېته کلنۍ تېر په دل شېږ او یا کلنۍ ته رسېدل نه مقید وي لو ځکه د بېتې خرابې وینا بیا هم سمه او په ځای ده.

## استوګنه، زده کړه، او سفرونه:

موږ مخکې وویل چې رحمان بابا پېښور ته ورنږدې مومند په بهادرکلي کې زېږېدلی دی. راډرتي لیکي چې دی د پېښور د مومندو د تپې په هزارخانۍ نومې کلي کې اوسېده[۳۱] دا چې رحمان بابا په هزارخانی کې اوسېدلی له نورو روایاتو څخه هم سنکاري خو دا چې دی په څه علت له بهادرکلي څخه هزارخانې ته تللی د خبرې لو ورېده.

لوی استاد پوهاند حبیبي په دې برخه کې کاږي: "... عبدالرحمن په خپله زمانه کې یو صوفي مشرب او په عشق کې داسې ډوب شاعر تېر شوی دی چې خپلې فقیر مزاجۍ او په خپل عشق کې فنا شوی حالت ـ دی د خپل کلي (نه) هزارخانې ته په تلو او استوګنه مجبور کړی."[۳۲] په دې توګه وینو چې درونداو محترم استاد د ده دلبر د علت د ده فقیر مزاجي ګڼي.

ل "رحمان بابا" لومې کتاب نامعلوم مؤلف د ده د دې لېږدله پاره لاندې دوه علتونه ښوولي: "... لکه څنګه چې مشهوره ده رحمان بابا پیدا شوي خو په بهادرکلي کې وخو وړستو

(۳۱). کامل مومند، دوست محمد، رحمان بابا، ۴۹ مخ.
(۳۲). پښتانه شعراء، ۱۹۲ مخ.

Marfat.com

د ځينو وجوهاتو له کبله يې خپل کلي پرېښود او هزارخوانې (؟) ته راغی. په دې وجوهاتو د وه خبرې زما په خيال قياس ته ډېرې نږدې دي: يوه دا چې د ده په هزارخوانې کې د ډېرخواخوږي خپل خپلوان لرل د هغوی کشش دی هلته بوتله او دويمه دا چې دی د علم حاصلولو د پاره هزارخوانې ته راغلی وي او بيا د همدې ځای شوی وي، بلکه دا د واړه قياسه يو ځای کولی هم شو چې د علم د تحصيل له پاره هزارخوانې ته راغلی وي. دلته يې خپل خپلوان وي. استوګنه يې د هغوی کړه وي. وروسته يې واده هم دلته کړی وي او بيا د همدې ځای شوی وي.[۳۳]

ښاغلي اثر له بهادرکلي نه هزارخانې ته د رحمان بابا لېږد په دلېل د قبايلي ولېش[۳۴] له مخې بولي او وايي چې د دې ولېش په سلسله کې د دوی کورهزارخانې ته راغی[۳۵] دا نکل ځکه سم نه برېښي چې که رحمان بابا د "ولېش" دوران ته لوېدلی وای نو بايد لس دوولس کاله وروسته په هزارخانې کې هم نه وای پاتې شوی او کومې بلې سيمې ته لېږدول شوی وای، سره له دې چې د ده ټول ژوند په هزارخانې کې تېرشوی او هم هورې مړ او خښ شوی دی.

زما عقيده دا ده چې ښايي د رحمان بابا د کورنۍ اصلي ځای هزارخانې وي او په موقتي ډول بهادرکلي ته تللي وي چې دا وخت دی هم هورې زېږېدلی او د ماشومتوب دوره يې تېره کړې وي. د دې يو دليل دا دی چې پښتانه خپل مړي په خپله اديره کې خښوي. نو که د دوی مېلي ځای بهادرکلي وای حتماً به يې د ده مړی بېرته بهادرکلي ته وړی و، سره له دې چې د ده مړستون (قبر) په هزارخانه کې دی او هم د مومندو

---

(۳۳) رحمان بابا. محکمهٔ نشر واشاعت، ۱۷ مخ.

(۳۴) د ولېش قوانين د پښتنو لوی منکر او مقنن شيخ ملي جوړ او په خپل دفتر کې يې وکښل د دې ولېش له مخې به په هر و لسو دوولسو کلونو کې د پښتنو د ټبرو. ټبرو کورنيو ترمنځ ځمکه اوکورونه سره بدل لېږدل او د پالغانو په سر به ولېش کېده. شيخ آدم ملي په نامه يوسفزي او خيل نام ملو مشر و چې د ۸۳۰ هـ.ق کال په حدودو کې يې ژوند کاوه[۱۰]. د تفصيل له پاره وګورئ: د پښتو ادبياتو تاريخ (دوم ټوک)، د استاد حبيبي تاليف له ۲۳۵ تر ۲۴۲ مخ پورې).

(۳۵) رحمان بابا شاعر انسانيت، سريزه، ۱۷ مخ.

Marfat.com

د ويزي په هزارخانۍ کې استوګن سبکاري خټک چې د رحمان بابا تر ژوند څو کاله وروسته د احمدشاه بابا په دوره کې يو ښه دويزي مومند چې رکن الدين نومېږي او شاعر دی هم په هزارخانه کې مېشته و ، دی وايي :

که ظاهر ليده ساکن هزارخانه کې ... زړه مې خاص دی ستا د دربار په دربالخه کې
په نسب کې ديوزي يا مهمندی يم ... ستا ... د دربندي يم (۳۶)

د رحمان بابا د استوګنې په باب که حقيقت هر څه وي خو دا منلې خبره ده چې دی په بهادرکلي کې زېږېدلی ، په هزارخانۍ کې استېدلی او هم هلته مړ شوی او خښ شوی دی.

اوس د رحمان بابا د زده کړې او د علومو تحصيل ته رسېږو ، پټه خزانه د ده د زده کړې په باب کاږي :

"رحمان بابا له ملا محمد يوسف يوسفزي څخه لوست وکا او له هغه څخه يې فقه او تصوف زده کړل ، بيا ولاړ کوهاټ ته ، هلته يې هم سبقونه ولوستل او ښه عالم شو . په ځوانۍ يې دنيا پرېښوده او اکثر به په عزلت کښېنی او کله به ولاړ د هندوستان پرخوا او د خدای عبادت به يې کاوه د دنيا په کار به نه مشغول کېدی ، عبدالرحمان بابا يو عالم رباني او عابد سړی و ".(۳۷)

ښاغلی عبدالحليم اثر يې له دې چې څېلې وينا له پاره کوم تاريخي سند ملاتړ ونه نيسي ، د ده د زده کړې په باب تر دې زيات معلومات وړاندې کوي او ليکي چې : رحمان بابا تر زېږېدو وروسته کاله وروسته په ۱۰۴۵ هـ.ق. کال په بهادرکلي کې له مولينا عبدالحق څخه قرآن مجيد او نور لومړني ديني علوم زده کړل ، په ۱۰۵۲ هـ.ق. کال يې له مولينا محمد يوسف د مولينا محمد يعقوب يوسفزي له زوی څخه د پېښور په سلطان پوره کې

---

(۳۶) شاهنامهٔ احمدشاه ابدالی ، پښتو اکېډمي ، پېښور ، ۱۹۶۵ ع ، ضميمې برخه ، ۲۰۹ مخ .
(۳۷) پټه خزانه ، عکسي چاپ - ۱۳۵۴ ش . د پښتو د پرمختيا او پياوړتيا آمريت ، ۴۴ - ۴۵ مخونه .

Marfat.com

زده کړه وکړه ، بيا حضرت محمد صديق پېښوري ته کوهاټ ته ورغی. څرنګه چې محمد صديق پېښوری د پښتو لوی شاعر و ، نو دا وخت رحمان بابا ته له ده نه د فيض موندلو موقع لاس ته ورغله ، هم دا وخت لې د شعر او شاعرۍ دوره پيل شوه . دخپل استاد په غزلونو لې د پرځوابي غزلونه جوړ کړل چې لمونځ لې په ديوان کې شته (۳۸).

په ۱۰۶۱ هـ.ق. کال کې بيا د کوهاټ په شېرکوټ کې داخوند محمد يوسف سره و ، په ۱۰۶٦ هـ.ق کال په پاس شېرکوټ کې و . په همدې کال لې د اخوند درويزه له زوی اخوند کريمداد سره وکتل او حاجي بهادر کوهاټي چې د اخوند کريمداد مخلص و د رحمان بابا استاد او د طريقې لارښود و . دی دوه کاله په پېښور کې د اخوند کريمداد په حضور کې و او د کبرويه سلسلې بيعت لې ترې وکړ او د شعر او ادب په دې خاص مکتب کې ورودل شو (۳۹).

دامنه ، د کار او د رحمان بابا دعلمي او ادبي زده کړې په باب ، په زړه پورې معلومات دي خو کاش چې سناغلي اثر خپل سند سره لي وای ، ځکه په داسې زړو پټا د کلونو او نېټو سره ل او په داسې قاطعيت د پښتو بيانول د تاريخي خبرتو په برخه کې د ټينګ سند ترسره دلو پورې هيڅ اعتبار نه لري ، تاريخي پېښې او نېټې په قاطعيت سره راوړل دا تکل او انکار نه دی دا کار يو سند او لا سوند غواړي . نو که د سناغلي اثر دا معلومات رښتينې وای او غوښتي لې چې خولک لي ورسره ومني سناي دخپلو خبرو ملاتړ لې په ټينګو سندونو کړی وای ، خو څرنګه چې سند نه راوړي نو هو د پيټې ځرانې د باورې سند په درلودلو سره د الې سنده خبرې نشو منلای .

---

(۳۸) رحمان بابا شاعر انسانيت ، داثر سريزه ۱۳-۱۴ مخونه
(۳۹) - هم دا اثر ، ۱۵-۱۷ مخونه

Marfat.com

محکلي مو وويل چې پښتي خزانې د محمد رسول کلاتوال د کښښتني له مخې د ده د زېږېدو کال ۱۰٤۲ هـ.ق. ښودلی او يل داسې سند ندلرو چې داسې غلطه وباسي نوځکه دا ترصاحب دا خبره چې تذکره ليکونکي د ده د زېږېدو کال ۱۰٤۰ هـ.ق ټولی او دده دا خبره چې زمادٔ معلوماتو له مخې رحمان بابا په ۱۰۳۸ هـ.ق کال زېږېدلی منلو وړ نه ده نو دده دا خبره هم دمنلو وړ نه ده، چې رحمان بابا په ۱۰٤۵ هـ.ق کال په زده کړه پيل کړې وي ځکه چې دی دا وخت درې کلن ؤ او په درې کلنۍ کې هېڅ ماشوم هم په منظمه زده کړه پيل نشي کولای. په همدې ډول يې نورکلونه هم دروغلي.

پاتې شوه له محمد صديق پښوری څخه دده د ادبي زده کړې موضوع، موږ په پښتو تذکرو کې د صديق په نامه يو شاعرلرو چې د لشپېر ديوان يې يې لا ترا وسه نشته خو دوېنا ؤ لمونې يې له دوو لارو موږ ته رارسېدلې، لومړی د چمن بې نظير په خطي نسخه کې[40] دده دا وولسو غزلو موجوديت دی چې يا درې هيوز په کليد افغانی[41] کې دوې غزلې ترې را اخيستي او بيا دا غزلې لوی استاد پوهاند عبدالحی حبيبي په لومړي ټوک پښتانه شعرا[42] کې راوړې دي. اويل د ملا بسا بسته خان په جونګ کې[43] دده يوه غزل او يو بيت دي چې ما په ادبي ستوري[44] کې ترې راخيستي. دا شاعر لوی استاد پوهاند حبيبي په متوسطه طبقه شعراؤ کې د رحمان بابا له پيروانو څخه ګڼلی[45]

---

(40) چمن بې نظير د پښتو شعر يو انتخاب اثر دی چې د پښتو د ۲۹ نومورکو او نامتو شاعرانو شعر ويدکې راغلي او په الفبايي ډول ترتيب شوي دي. (د برتانوی تاليوګانو په کتابتونو کې د پښتو قلمي نسخو کتلاګ، د ملو مهارت او ډاکټر مکينزي تاليف، لندن ۱۹٦۵ع ... دا اثر ګران ملګري ښاغلي عنايت الله ځواک رالته تر لاسه چې په دې وسيله مننه ترې کوم)

(41) کليد افغاني د پښتو د نثر او نظم د ليکو او مجموعه ده چې پادري هيوز ټوله کړې ده او معه مخه چې په ۱۸۷۲ ع. کال خپره شوي ۱۱). عزيزلري ادبيتو څواني تذکري. حبيب الله رفيع، د افغانستان اکاډمي، د ژبې او ادب ټولنه، ۱۳۵۰ ش، ۶۸-۶۹ مخونه).

(42) وګورئ پښتانه شعرا، لومړی ټوک ۳۰۲-۳۰۹ مخونه

(43) د ملا بسا بسته خان جونګ د دوولسمې پېړۍ په وروستيو برخو کې راټول شوی او يوه نسخه يې د ليکوال په کتابتون کې ده

(44) وګورئ ادبي ستوري، لومړی ټوک. حبيب الله رفيع، پښتو ټولنه ۱۳۵۳ - ۲٤۱-۲٤۱ مخونه

(45) پښتانه شعرا ۱ ۳۰۸

Marfat.com

او اغلب گمان دا دی چې تر رحمان بابا کښ او دوولسمې پېړۍ په دوهمه نیمایي کې به یې تر وند کړې وي . که له محمد صدیق پښنوري تخنه د ښاغلي اثر حمدالله صدیق مراد وي دا سېرې خو ظاهراً تر رحمان بابا را وروسته دی او که بل سړی وي نو ښاغلي ښاغلي اثر دده په باب مستند معلومات وړاندې کړي وای . هغه ځای یې ښو دلی وای چې دده دیوان یې ساتلی کېږي او دهغه اثر نوم یې اخیستی وای چې دده په باب معلومات لري ، حمدالله د صدیق په نامه نور شاعران هم تر ده را وروسته دی[*] د رحمان بابا کوم غزلونه او بیتونه چې اثر صاحب د محمد صدیق پښنوري د غزلونو او بیتونو په پیروۍ بللي ښکېدای شي چې دده له خوا دسند د نه ښودلو تر وخته پورې دا غزلونه او بیتونه د رحمان بابا د غزلونو او بیتونو په پیروۍ وبولو او صدیق د رحمان بابا شاګرد وګڼو نه رحمان بابا دده !

حمدالله له اخوند کریداد درویزه یې او حاجي بهادر کوهاټي تخنه دده علمي او ادبي زده کړه د کوم سند له خوا نه تأیید نه یې او خصوصاً دده په دیوان کې داسې اشارې او دلایل شته چې دی د فکر او شعر له مخې د روښانیانو پیرو ؤ او د روښان په هغه روښاندانه یې یون کاوه چې درویزه یې کلک مخالف وو او ددې لارې په وړاندې یې ټول تر وند صرف کړی ؤ . (٤٦)

په هر حال ، دینې خرابې صراحت او دده د حیلو ویناؤ شما دت ځرګندوي چې رحمان بابا دوخت دوددې علوم لوستي ووا د علم تر ښپېر تابه وروسته یې باطني تزکیې او تصوف ته لاس اوږد کړی ؤ او په سبب پوهه او بصارت یې مسایل خبرلاپې او تحلیلولاپې شوای . ده سبه علمي او ادبي مطالعه درلوده ، دیني مسالې یې په شعر ولو کې ځای په ځای بیان

---

* وګوری هیوادمل ، زلمی : فرهنګ زبان وادبیات پښتو ، د ص ردیف .

(٤٦) په دې موضوع ما په "رحمان بابا - دپښتو ژبې عالمګیر" نومې اثر کې داسې د و په ژباکې بشپړه بحث کړی چې ترېږ دا رب علاقمند او حرمټته وړاندې شي .

شوې چې په دیني علومو کې ده د سنو معلوماتو څرګند وي کوي اوهم ده په شعر ونو کې دا رزاني ، میرزا ، دولت او خوشال خان یادونه شوې چې ده د دې شاعرانو د یوانونه لوستي وو او ده په ادبي پیاوړتیا کې ددې شاعرانو دشعر ډېروند اغېز دی ، همدا ډول ده د دې شاعرانو دیوانونه هم په ژوره توګه کتلي وو او ځای په ځای یې ددوی له وینا او څخه لفظي او معنوي اخیستني کړې او د دیوان په هغو دو نسخو کې یې چې له ما سره شته د حکیم سنایي غزنوي لومړ صراحتاً اخیستی او ویلي یې دي :

په پښتو کې رحمان ووې
په فارسي کې سنایي

ده ادبي لمنون دومره پیاوړې وچې د پښتو او دري د هغو شاعرانو شعرونه یې هم لوستي وو چې له ده سره یې ډېروند وخت لږ واټن درلود د لموني په توګه میرزا عبدالقادر بېدل چې په ۱۰۵٤ ه.ق. کال[٤٧] یعني تر ده وروسته زېږېدلی یو بیت لري

هر که پا کج میگذارد خون دل ما میخوریم — شیشهٔ ناموس عالم در بغل داریم ما[٤٨]

او رحمان بابا وایي :

که سنبېسه د نام ونګ دې شي ترخنګه — ده چا په کږوړه په خیل ځیګر خوري

نو که په دې بیتو کې د توارد له موضوع نه ستر ګې پټې کړو ، یقیناً رحمان بابا ته د بېدل پورتني بیت ورسېدلی دی .

د رحمان بابا د سفر او چېرته تګ په باب یېته خزانه وایي : "... په ځوانۍ یې دنیا پرېښوده او اکثر به په عزو ګرځېدی او کله به ولاړ د هندوستان ته پرځوا ..." خو ښاغلي کامل مومند داوینا د رحمان بابا د ځینې بیتونو له مخې سمه نه بولي او وایي چې دی

---

(٤٧) احوال و آثار میرزا عبدالقادر بیدل ، دکتور عبدالغني ، د میر محمد آصف انصاري ژباړه ، کابل پوهنتون ، د ادبیاتو پوهنځی ، ١٣٥١ ه ش ، ٤٩ مخ

(٤٨) کلیات میرزا عبدالقادر بیدل ، توک

Marfat.com

چېرته نه دی خوږېدلی . په دې برخه کې په څو لوړو بیتو سرېږه دا بیتونه راوړي:

هم په دا چې نه له ځایه چېرته خوځم ... نه د هېڅ یوه مخلوق یم منت بار

نه مې سکته ملک لېږلی دی نه پورته ... خبر نه یم په یمین او په یسار

آب و خور لکه آسیا په ځای رارسي ... په خیال کور کې مې سکون دی هم رفتار (۴۹)

په سرسري نظر به د دې بیتونو په رڼا کې دېته خیال وي چې نا سمه دي او د
له لین غوږ نه ورسته که دوه لوڅرنګه چې د دې بیتونو د ویلو نېټه نه ده څرګنده
نو ښایي هغه ټول بیتونه به چې ښاغلي کامل راوړي رحمان بابا تر خپل سیر
او سیاحت وروسته ویلي وي ځکه موږ ته ثابته ده چې د ده شاعري له ځوانۍ څخه
پیل کړې او د یوه شاعر په دیوان کې یو د بل ما تو نکي شعرونه له هم دې کبله
مونده کېږي چې یو شعر یې د تروند د یوه وخت او بل یې د بل وخت وي . او
که په دې پسې د رحمان بابا دا بیتونه هم ولولو چې :

روښنایي مې په طلب کې شوه حاصله ... شپه او ورځ لکه آفتاب په لار روان یم

چې صفت د تورو زلفو د آشنا کړم ... یلی سر په لویه لار د هندوستان یم

داشنا زلفې مې وینوی په لاس کې ... بند په لار د هندوستان ولیدی دریغ

* * * *

نو نه یوازې د ده "سکون" ماتوي بلکه صراحتاً د هندوستان د سفر یادونه کوي او
ثابتوي چې دی هندوستان ته تللی دی . او که تر دې وروسته دا بیت هم وګورو :

ښنا په زلفو په رخسار پسې رحمان شوی طنز ... مسافر د هندوستان د خراسان دی زما روح

نو نه یوازې دا ترې زباد ېږي چې دی هندوستان ته تللی و ، دا هم ثابتوي چې دی خراسان
ته هم راغلی و ، ځکه چې پښتون د لرغونی خراسان په ساحه کې نه و . او دا بل بیت که

---

(۴۹) رحمان بابا ۱۷ مخ .

Marfat.com

دده وي[50] چې پرې ورېيات کړه :

دهغوله غمه ځلې شي ګور ګور ي  چې مېوې يې دکابل خوړلې نه وي

داتکلام په لاس راکوي چې دی کابل ته هم راغلی او دلته يې دومره وخت تېر کړی چې دکابل بېلابېلې مېوې يې خوړلې دي ځکه په هغه وخت کې دارتباط دعصري وسايلو دنشتوالي له کبله کابل او پېښور دېر سره لرې وو او دکابل مېوې په هغه ملک کې او کيف چې رحمان بابا يې ستايي پېښور ته نشوې رسېدلی.

په دی باب دده لوړ بېتونه هم شته چې دده له کوره وتل او په غزوکې اوسېدل ښکاره کوي.

عاشقي سري مجنون کاندي رحمانه

ګنه خولې په هوښياری وزی له کوره

* * *

که ليلی غواړې بايد دې دارحمانه

چې مجنون غوندې ساکن دکوه وکاړ شي

## خپلوان، اولاد ونه او مالي وضعه :

درحمان بابا يو بيت دی :

چېرته عزيز خان چېرته ملنګ عبدالرحمان  نه شي دخانانو دملنګو سره کلی

له دې بيت نه ځلکو افسانې جوړې کړې چا عزيز خان دده ورور ګڼلی، چا يې نژدې تربور بللی او ځينې بيا وايي چې عزيز خان دی بندې کړی و او څه ...

---

(50) ښکاره ګړی دابيت په لږ تغيير دخوشال خان ختک په ديوان کې هم شته نو ځکه دي ځای پيدا کېږي چې دابيت به کاتبانو دده په غزل کې ور زيات کړی او دخوشال بابا له ورته غزلې ځخه به يې راخيستی وی (دې موضوع ته لومړی ښاغلی مومند متوجه شوی او په حيل "رحمان بابا" نومې کتاب کې يې کړې ده).

Marfat.com

شپاړسم

خوله بیت نه تر دې زیات صراحت لاس ته نه راځي چې عزیز خان او رحمان بابا دیوه کلي وو هغه دکلي خان او دی یو ملنګ سړی وُ او به دې بیت کې رحمان بابا دخپلې استغنا له مخې اعلان کړی چې دی دخانانو فرمانبردار نه دی.

درحمان بابا له نورو بیتونو څخه داڅرګندېږي چې د ده دخپلوانو سلسله پراخه وه ، دیوه کور به ځای په کورونو کې او سېدل او ده له تولو سره رانشه درشه در لوده به درد کې دردمن او به خوښ ولې خوښ من وُ ، وایي :

په هر کور کې زخوران را ته پرانه دي | لاس مې نه رسې دهیچا په دوا

دده د واده کولو په باب دابیتونه پوره صراحت لري :

په مجنون باندې قلم راغلی نه دی | که حلال یې په مخ ورشي که حرام

حلال عشق دی په رحمان باندې راغلی | په حلالو کې مدام وي احترام

درحمان بابا دابیتونه دداسې وخت دي چې دده مینه بریالۍ شوې او شرعي واده یې کړی دی.

تر دې وروسته نو بیا داولاد په غوښتنه کې داشرطونه ږدي.

خدای له هسې زنګ زوړ ده امان اکړه | چې بې دین ، بې دیانت شي ، بې لمانځ

یو وخت یې چې اولاد مومندلی ، وروسته او خپلوان یې مطالعه کړې نو خپلې مطالعې نتیجه یې په خپل یوه بیت کې داسې ځای کړې ده :

که مې ورور ، که مې عزیز ، که مې فرزند دی | واړه غواړي خپله ـ خپله مدعا

درحمان بابا د دیوان په داخلي شهادت برسېره ځینې مؤرخین هم دده داولاد په باب روایتونه لري له دیو نه یو هم انګلیسي ځنیځ پوه میجر راورټي دی او وایي چې درحمان بابا دلور له طرفه دهغه اولاد او س هم دمومندو په بهادر کلي کې او سي خو دهغه دیکي یو نوی

Marfat.com

اولاد د پره موده وشوه چې ختم دي.[۵۱]

رحمان بابا د نور وخپلوانو په سلسله کې "حميد ګل" نومي شاعر دار مستتر دده خورني بولي او د "پښتو ښخوا د شعر په هار وبهار" کې يې دده يوه غزله راخيستې ده[۵۲]

رحمان بابا د مالي وضعې په باب هم دده په خپل ديوان کې داخلي شها د تونه شته دي په خپلو پارکو کې له ناداري او تش لاسۍ څخه سرټکوي ، د نار وغالو د در مل پيسې نه لري او د درهم او دينار مالك نه دی :

به هر کور کې رنځوران راته پراته دي — لاس مې نه رسي د هچا په دوا
د دنيا خبرې واره په دنيا شي — ما به څه کا خوك ، چې نه لرم دنيا

* * *

خوك دې را کاندې قسم په کردګار — که درم لرم په کور کې يا دينار

خو بيا هم غږنګه چې جانه يې لاس او پښ د نه و ، ګوزاره يې کېدله او ځای په ځای خواره وره سپيل نوځکه خلکو فکر کاوه چې دنيا دار دی :

نه درم او دينار نه لرم په کور کې — ولې نور عالم مې بولي دنيا دار
هم په دا چې نه له ځايه چېږمه خوځم — نه د هيچ يوه مخلوق يم منت بار
نه مې سنکته ملك ليدلی دی نه پورته — خبر نه يم په يمين او په يسار
آب وخور لکه آسيا په ځای را رسي — په خپل کور کې مې سکون دی هم رفتار

دده دوينا په رڼا کې دا ښکاره کولای شو چې رحمان بابا هم لکه د نورو پښتنو غونډي دومره مځکه درلوده چې د هغې په حاصل يې ګوزاره کېدله خو محصولات يې دومره نه کېدل چې خرڅ کړي يې وای او پيسې يې پرې ترلاسه کړې وای ، دده د مځکې درلودل د هغې بولې په ترځ کې چې د :

هر چې کښت يې په باران او په سيلاب وي
د هغو غم به واره په عذاب وي

(۵۱) ديوان عبدالرحمن ، د مولانا عبدالقادر سريزه ، ۲ ت ۲ خ ، رحمان بابا ، کال مومند ، ۲۸ مخ .
(۵۲) وګورئ : دارمستتر ، د پښتو نخوا د شعر هار و بهار ، ۱۸۸۸ ع ، د پاريس چاپ ، مطبعه ، پښتو متن او فرانسوي سريزه .

Marfat.com

په کسر پیل شوي، څرګندېږي. د لیستنو په کلیوالي ژوندکې لا تراوسه هم داچنا سوتبادلې تر ډېره حده د پیسو د رلو د لو ضرورت ترسره کړي، نو خلکه هغه وخت هم د درهم او دینار نه درلودل د مفلسي او غریبي نښه نه وه.

موږ ته د رحمان بابا وینا داهم راښيي چې دی که دنیادار و او که نه خو بیا هم لوړ همت یې درلود چې د دنیا ترلاسه کولوله پاره یې د زردار و خنګ ته نه پرېښود او به د جرأت یې په زرداریه او زردارو د وینا وار و نه کول او شعار یې ورکاوه چې:

آدمیت څه په دولت نه دی رحمانه

بت که جوړ شي د سرو زرو نه انسان شه

## سماع ، موسیقي او دميني پراوونه :

د رحمان بابا د فکري ارخ په څېړلو کې دده په تصوفي لاره او تصوفي منابعو د پرې خبرې کېدای شي خو دلته دده د ژوند دیوه ارخ په توګه دده په سماع، موسیقي او مینه لنډې خبرې کوو.

د رحمان بابا د تصوف په باب د پرې خبرې شوي خو دده د سماع (۵۳) په برخه کې څه نه دي ویل شوي دا ځکه چې دده تصوفي لار دده له شعر و نو څخه راوزي او دده د دیوان په خوړ ولنځو کې داسې کوم شعر نه و چې د رحمان بابا د سماع په برخه کې

(۵۳) سماع په تصوفي اصطلاح کې هغه غږ ته ویله کېږي چې داورېدونکی په حالت کې اوښتون راولي. په شرح تعرف کې وایي چې: «څوا سیو په جبل نفس د پر څرګېږه او د و مره ریاضت یې وکړ چې وبه و پرېږدل له کاره و نه لوېږي نو د نفس د بیاور تیا له پاره به یې څه وغوښتل او دوه بیتونه به یې اورېدل الستهٔ د حال سره سم بیت ... څو چې به په وجد راغلل او لګیا نه به یې خوځ شول او د مستۍ په حال کې به یې ځان نشو اداره کولی او په نڅا به راپلل» اسماع در سلسلهٔ هو، محلین جهان بګلو "تجدد" ، ایران، ۱۳۵۱ ش.) د مولانا جلال الدین بلخي تصوفي قصر لا تر اوسه هم پیروان لري او په ترکیه کې د کال په ټاکلې وخت کې د مولانا د ملا محمد الوله خوا ترسره کېږي. په چشتیه طریقه کې د سماع او موسیقي ستره برخه ده، چې تفصیل یې د تصوف په باب په لیکلو آثارو کې شته.

لاسوند شوی وای ، په دې برخه کې دده يکې پوازې غزل متعصبينو د بې ځوا دده له ديوان څخه غورځولې وه ، خو له نېکه مرغه دده د ديوان په يوه زړه نسخه کې دا غزل وموندل شو چې په دې چاپ کې هم نيول شوې او په صراحت راښيي چې رحمان بابا سماع او صوفيانه رقص کاوه د غزلې څو بيتونه دادي :

ساقي راکړه ته وما ته جام د رقص
زړه ارزو په زړه لرم مدام د رقص
ده وې اوس به د خوښې ساعت په تاشي
مغني راکړه ته وما پيغام د رقص
سرنې پاس ترنه فلک څرګند بې ږي
چې په چاوشي ارشاد اعلام د رقص
لياقت يې هر وګړې څخه نشته
په لا يقو باندې وې انعام د رقص
خو يې سا په وجود شته عبدالرحمانه
حقيقت به هو مړې نه کا تام د رقص

د رحمان بابا د موسيقي او خصوصاً د رباب د زده کړې په باب تر دې ځواهم خبرې شوې ، ميجر راورټي او عبدالمجيد افغاني د دواړو منې چې موسيقي د رحمان بابا په ژوند ژور اغېز درلود ، رحمان حساس او ژوندی زړه درلود او چې د رباب تار به وکړنګېده او دغه نه به خوږه نغمه راولړزېده نو د رحمان زړګی ـ زړګی به وړ پېده د ربابي ګوتو به لکه دده د زړه په تار لګېده ـ دی به اکثر د استغراق په حالت کې و ... عجب خان ـ والي چې د رحمان آشنا مجنون په هندوستان کې د بزرګانو د خدمت له کبله د برخې خاوند شو او چې څه وخت وطن ته رخصتېده نو د خيل پير شاه شرف قلندر

Marfat.com

سـلـم

نه یې د رحمان د یاره هم څه تحفه وغوښته - شاه شرف قلندر په رباب کې د رحمان برخه مقرره کړه او ورا وا لې ستولو - ولې شرط دې کې دا و چې مجنون به ترمخې راځي نه ګوتې نه وروړې ترڅو چې لې رحمان نه وي لیدلی او رحمان ته دې هغه ګوته ومې کومه چې د شاه شرف له لوري به مقرر شوې وه نو مجنون به مړشي او رحمان به تروندی شي هم دغه وشوه . مجنون چې هغه ګوته ووهله نو دی خو په ځای پر پووت مړ شو او رحمان د رې د رحې بهوښه شو او چې په خود شو نو حال یې بدل و ...(۵۴)

همدارنګه ښاغلی جعفر اخکری هم په دې برخه کې کاږي :

" وايي چې په رحمان به کله د آمد دوره راغله نو هغوی به خپل رباب په غېږ کې ونه کښېښوو او په تارو یې ګوتې پورې کړې ، د تار وڅه به یو پرسوزه ساز پیدا شو او بیا به یې په خپله خپل اشعار ویل شروع کړه ، پرسوزه آواز او دلکش ساز به په یوه آن کې د عقیدتمند واجتماع جوړه کړه ... " (۵۵) ځکه چې د دې خبرو له پاره کوم سند نه و نو دا تر اوسه د مغو فولکلوري خبرو له ډلې څخه ګڼل کېدې چې په رحمان بابا پسې کېدلې خو اوس د هغه د رقص په غزل کې یو داسې بیت موموچې د رحمان بابا د موسیقي په برده کړه دلالت کوي او ښیي چې ده موسیقي له استاد څخه زده کړې او په فني ډول یې په موسیقي کې لاس درلودلی دی ، وايي :

مستي علم خپل استاد رانه تعلیم کړ
رامالي کړه تار مقام د رقص

اوس موچې د رحمان بابا دا غزل ترلاسه شوې نو د ده د دې بلې غزلې خوبیونه یې هم په ملاتړکې وړاندې کولی شو :

(۵۴) دیوان عبدالرحمان ، دمولانا عبدالقادر سریزه ، دیوان عبدالرحمان د پروفیسر عبدالمجید سریزه ؛ سوانح عمری د ملاعبدالرحمان ، دعجب خان فولکلوري کیسه ، دلاهور چاپ .
(۵۵) اخکری ، محمدجعفر : " ونډر " ۱۴۵۴۰ع کوټه ، ۱۵۳ مخ .

88019

Marfat.com

هر مطرب چې غوږ ږي تاو کاږ باب — په دا تا وکې زمانږه کاندې کباب
چې سامع یې په نغمه په ترانه شم — دیوانه شم گریوان څیرې مستخراب
هم یې تا رحم یې گفتار هسې اثر کا — چې څوک یې نه طاقت لري نه تاب

تردې وروسته د رحمان بابا د مینې پړاوونو ته راسېږو ، دی د مجازي مینې په پوړیو د حقیقي مینې د معراج لوړ ته ورختلی ، ځینې کسان دده مینه یوازې حقیقي مینه بولي او له مجازي مینې نه یې منکر دی خو دده په دیوان کې داسې بیتونه مومو چې هېڅ منکر دانشي ویلی چې ده دې مجازي مینه نه وي کړې . موږ دده له یارکونه دا رابیسلی شو چې رحمان بابا په ښکلا او ښکلو مین وُ ، دږ وند د پړه برخه یې د مینې په یادونو او د بېلتون په یادونو کې تېره کړې ده ، کله هجران ځورولی ، کله د وصال ، کله یوه یې ځنې ښکار کړی او کله بل ، کله مینې کلی ورته اور کړی او کله یې په بېدیاکې یې تا به کړی دی ؛ دده د ژوند دا تولې پېښې دده په شعرونو کې نغښتلې ښوي او ترموږ پورې راسېدلې دي د رحمان بابا د ژوند د پړه برخه په مجازي مینه کې تېره شوې او د عشق په مدرسه کې یې نې له زلفو ، یې له خطه ، یې له خاله بل څه نه وو لوستي . په مینه کې یې له پېغور څخه عار نه درلود:

زه عار نه لرم په عشق کې له پېغوره — یې پروا یم دسته په خبر له اوره

دده شعرونه ښیي چې ده زیاتې مینې کړې او زیاتو ښکلو یې زړه وړی:

زه رحمان په زړه نوی کړم هغو ځوان
چې یې ملا وې د ولبنته په دود نرکه ؛

* *

په رحمان د ښایسته وُ قدر د پردی
د طبیب له قدره چا زده یې رنځوره

کړې پرې کړې پلوري چاره نشته
زه رحمان د ښایسته وُخانه زاړیم
* * *
گوښې گوښې ښایسته مې زړه وکاږي
زه وکوم یوه ته والم حجت تا یووړ

او یو وخت داسې هم پرې راغلی چې :

زه که یووې ما خوتالره درکړې
مگر یو ولره نور زړه نه پیدا کړم

رحمان بابا مینې داسې پوړ ته رسولی وُ چې د خپل او زړي له کوچني بند نه یې پستلی وُ او ویل به یې :

زه عاشق یم سروکار مې دی له عشقه
نه خلیل ، نه داوُدزی یم ، نه مومند

د نوخطو مینه د رحمان بابا بله مشغولا وه :

خط دې لو حرفو نرخ دې پاڼې د کتاب دې
شغل د کتاب دې بل کتاب را څخه یووړ
* * *
په رخسار چې دې د خط غبار گرند شو
سربلنده شوه فرقه د خاکسارانو
* * *
سیاهي د لوي خط دې هسې زیب کا
لکه کښلي واړه لوري د قرآن
* * *
څه شو که زه یم انگشت نما په مینه ستا کې
زیات له ما نه خوښ ته د قاضي هم د ملا یې

Marfat.com

ده ته عشق دومره ښښتیني ؤ چې د سرقرباني یې په دې لاره کې چمتو بللـه:
وهغو ته عاشق نه ویلی بویــه
چې یې فکر یا د سر یا د دستار وي

په هر حال دده مینه د حسن او ښکلا مینه وه له جنسي او نفسي غرضه پاکه
وه نو ځکه یې په جرأت سره ویل:

پیسران دې عار زما له عشقه نه کا
پاک عاشق، پیر او پلار دې واره لوی

* * *

پاک او منزه دی عشق نفس له خاصیته
چیرته چاه د ګیډې، چیرته چاه د زنخدان

او همدې مینې ده ته داسې استغنا او غرور ورښلی وو چې په لوړه غاړه به یې ویل:

دلبرانو ونه خاک ترتلی لا نه دې
د دې نوره جهان په سر لکه آسمان یم

* * *

نوکري د معشوقو کوم په عشق کې
عیني نه د بهلول، نه د اورنګ خورم

د رحمان بابا په نظر کې د مینې معراج ته رسیدل هغې مرحله ده چې:

که مین یې په خپل یار باندې ښښتیا | آواره کړه اول دین پسې دنیا
د جنت له حور و تیر شه که یار غواړې | خدای دې نقد د چا نه کا ندې نسیا

* * *

عاشقان د سپین څسار د تور و زلفو
خبر والري د کفر د اسـلام

Marfat.com

خو چې د اوپو دومره حسن دومره وا ښه چې دده دمینې ټکم پر او حقیقي او دخدای مینې ده . دا په وده ده دمینې معراج دی :

جهان حسن دیار ونیم په پرده کې
ښکاره چې نور شمعې په فانوس
* * *
دا حجاب چې لوه عالم یې حجاب بولي
دا زما دیار تر میانه حجاب نه دی
* * *
که څوک وایي هغه کوم دی؟ وایه دا دی
چې یې خدای په لوړه مینه په ځانګه

## ادبي شهرت او مقبولیت :

په وړاندې یا لوکې مو د پښتو خزانې په استناد وویل چې رحمان بابا په ۱۰۴۲ هـ . ق کال په بن بلک خوښا غلي اثر لیکی چې د کوم سند تر سبو د لو ده دغه بوده ده کال ۱۰۳۸ هـ . ق . سبو د لی د انظرم ورکړې چې دده تر خورلس کلنی ورو سته د محمد صدیق پېښوري نه ادبي زده کړه کړې او شعر یې ویلی دی . موږ دا تر خبرې څنګه هم نه وي منلي او دلته یې هم نه منو ؛ خو د رحمان بابا روانې طبعې ته چې ګورو یقیناً په خورلس کلنۍ او پنځلس کلنۍ کې به یې د شعر ویل پیل کړي وي لو زموږ په حساب به د ۱۰۵۶ یا ۵۷ - ۵۸ اوان تر ۱۰۶۰ کلو پورې دده د شعر پیلولو وخت وي دا وخت په هند او افغانستان کې د شاه جهان ګورګاني د واکمنۍ (۱۰۳۷-۱۰۶۷ هـ . ق) دوره ده . د رحمان بابا په دیوان کې داسې بیتونه مو ندل کیدای شي چې د شاه جهان

دواکمنۍ په دوره کې چې د وېلو وخت وا تکلو و لکه دا بیت :

د کاملې عقیدې له برکته
د دو لهي په غاړه ناست شاه جهان یم

نو په دې اساس تر ۱۰۵۶ هـ.ق. کال وروسته دده شاعري په اتکلې دول او تر ۱۰۹۷ هـ.ق کال وړاندې په باوري توګه پېل شوې ده او که د خان خوشحال خان خټک دا بیت :

سل سر پنې دي تر دا بو غزل ځاپېږه
من چې دا یېنو ده کرلاني خوشال ولې (۵۶)

دده په برخه کې ویل شوي بیا نو دا هم ویلی شو چې د رحمان بابا شاعري تر ۱۱۰۰ هـ. ق کال وړاندې چې د خوشال بابا د مړینې کال دی د ومره شهرت موندلی وُ چې خوشال خان غوندې قادر الکلام او بې جوړې شاعر لا هم دې ته اړ کړی وُ چې دده د شعر داغېز کمولو له پاره په تعلی لاس پورې کړي او خپل شعر تر ده ښه وبولي .

د خوشال خان خټک خوږ ژبي زوی اشرف خان هجري چې په ۱۱۰۶ هـ.ق کال لې له دنیا نه سترګې پټې کړې د خپل وخت د شاعرانو په ډله کې رحمان بابا ته په دې مقام قایل دی :

خوږ ژبان په زمانې منکرې نو لې — هغه واف چې مستقل لې ببلبنو ر دی (۵۷)
د رحمان په ویل ځای د لقب نشته — چې لې ما شعر منظور کړه معتبر دی (۵۸)

---

(۵۶) کلیات خوشال خان خټک ، ۴۶۸ ع .
(۵۷) واف بلبل .
(۵۸) رحمان بابا ، کامل مومند ، ۳۲۴ ع (د دا شعر د هجري له لوي دا سې قلمي نسخې څخه اخستی چې د حاجي لسحی په صل کې دی )

Marfat.com

درحمان بابا په شعر دا قضاوت دداسې شاعر له خوا شوی چې دخپل شعر په باب داسې نظر لري :

چې لې سحر بولي خولې شعر زما دی | نور د وار و شعر شعر سحر دا دی
که باور دې په دا نه شي يا څه گوره | زما هر غزل شاهد په دا دعوا دی [59]

پښتانه محققين درحمان بابا په شعر دهجري ددې قضاوت کولو وخت تر ۱۰۹۲ ه.ق. کال وړاندې بولي ځکه چې تردې کال وروسته هجري په هندوستان کې دکورگانيانو له خوا په بېلو - بېلو زندانو کې اچول شوی وُ نو ځکه ده دا قضاوت بايد داسې وخت کړي وي چې درحمان بابا داشعار وزياتې لمونې ورته رسېدلې وې [60] .

له دې خبرې نه څرگندېږي چې درحمان بابا شعر تر ۱۱۰۰ ه.ق. کال وړاندې سنه شهرت موندلې او په ادبي حلقو کې پېژندل شوی او منل شوی وُ .

همدا راز تر ۱۱۱۹ ه.ق کال وړاندې دده اشعار دديوان په بڼه په ټولو پښتنو کې خوار شوي او د پښتو نخوا گوټ - گوټ ته رسېدلي وو او ده دخپل دې ادبي او روحاني شهرت په بدل کې له پښتنو نه د "بابا" اعزازي لقب ترلاسه کړی وُ ځکه چې په يوه ټيني کال مير ويس نيکه په کندهار کې دخپل ملي غورځنگ د پيل لپاره دده په ديوان فال اچوی او له ده نه په دې الفاظو مشوره غواړي :

" راسئ چې عبدالرحمان بابا قدس سره هم ولوپښتو ، چې دده ديوان لې خلاص کا هسې شعر ونه وو . . . ." [61]

عبدالقادر خان ختک (۱۰۶۳ - ۱۱۲۵ ه.ق.) چې دده همځولی دی هم دده يادونه کوي :

(۵۹) ديوان هجري ، مرتب همېش خليل ، ۱۹۵۸ ع . ، ۵۰۱ ع .
(۶۰) رحمان بابا ، کامل مومند ، تر ۴۳۲ وروسته .
(۶۱) پټه خزانه (عکسي نسخه) ، ۴۶ ع .

Marfat.com

زه ختک دیان په غم تازه - تازه شم
غوړیه خپل رحمان که شو ورځنی سترګی (۶۲)

د رحمان بابا په ژوند دده ادبي شهرت دخوریدلو په باب دده په خپل دیوان کې هم ځای په ځای ځینې بېلګې شته چې ځینې یې سره له دې چې د شاعرانه غرور او تعلی زېږنده دي خو بیا هم دده ادبي شهرت دخوریدلو نماینده ګي کوي:

ستا دحسن د تعریف له برکته
د رحمن د شعر کوکې په عالم دي

* * *

چا پېژندم زه چې عاشق نه وم په جهان کې
اوس مې ستا له رویه لوم رسوا په درستجهان دی

* * *

خوشالا او دولتا مې غلامان دي
زه رحمان په پښتو ژبه عالمګیر یم

رحمان بابا دومره ادبي شهرت موندلی و چې د یوه ځانګړي ادبي سبک تهیه یې کېښوده او دده په ادبي مکتب کې د پښتو ډېرخوږ ژبي شاعران وروزل شول او هم دا سبب و چې را وروسته شاعرانو به یوه خوله دده ستاینه وکړه او یوه یو نیم ټبري تعصب له کبله دده په شعري مقام سترګې پټې کړې.

دده په مړینه دده شاګرد یونس خیبري چې په ۱۱۰۰ هـ. ق. کال زېږېدلی یوه له سوزه ډکه مرثیه وویله او دده ادبي مقام یې پکې وستایه:

چې بېل له اشنا یه سره هجران شه ‍ ‍ ‍ ‍ ځکه داغ مې په خاطر باندې ارمان شه

---

(۶۲) دیوان عبدالقادر خان ختک، مرتبه حبش خلیل، ۱۹۷۲ ع، ۲۱۶ مخ.

Marfat.com

انجمن دسنو یاران نوبهار دی — جدایی وریاندې پیر وکه خزان شه
چې په قدر کې درونه د دریاب وو — اوس صدف د معنو درو گورستان شه
چې په شرق داشنایي لکه لمر وخوت — په مغرب د جدایي کې نهان شه
دا چې باد د جدایي په جهان گرځي — له هیبته مې صورت بید لرزان شه
د سکوت قلف به یې خرنګ لیرې کړي — چې په مرګ یې درون بند کلید زبان شه
له رحمانه فیض یاب عبدالرحمان شه — چې له دې سرایه په نوي سرای مهمان شه
مرګ سخي د سنو خبرو هسې شوم کا — چې یې یو کلام زړه نه کړي پرې ګران شه
چې په ملك یې نام د نیکو شه مړ نه دی — څه شو دا که په حساب د مردګان شه
په پښتو شعر یې هسې نامه یو وړه — چې خبر یې په اشعار ایران توران شه

پر لذت شعر به څوك كاندې 'یونسه!'
چې په مرګ څنې خاموش عبدالرحمان شه (٦٣)

مصري خان ګګیانی د رحمان بابا د عصر یو بل شاعر دی چې دده د خوږه شعر ستاینه داسې کوي:

شعر د فارسي ونیم شیرین لکه شکره
شعر د پښتو کړ ترفارسه حمید رحمان لذیذ (٦٤)

معزالله مومند هم چې د رحمان بابا د پیر یې شاعر دی د رحمان بابا د ادبي قدرت او قوت ستاینه په دې ټکو کې کوي:

د ټامي پښتو غواله شاعرانو
معزالله عبدالرحمن دی منتخب

---

(٦٣) د یونس خیبري دیوان، د جمهوري ارګ د کتابتون نسخه، د دې غزل نقل ښاغلي خیبر ندوي عبدالله خدمتګار راسیالی چې په دې وسیله مننه ترې کوم.
(٦٤) د مصري خان ګګیاني دیوان، د پښتو ټولنې پښتو اکیډمۍ، ١٢ مخ

Marfat.com

* * *

که دشعر کرامت دچا نه غواړې
معزالله درحمان شعر کرامت دی [٦٥]

کاظم خان شیدا چې درحمان بابا ترمړینې وروسته زیږېدلی او دپښتو دېږ خوږ ژبی شاعر دی درحمان بابا دغزلو پیروي کوي :

درحمان په دا مصرع دشیدا زړه دی
"تد پری یې، که آهو یې، که جادو کری" [٦٦]

او هم په خپل یوه بل بیت کې دی او حمید بابا ددوومومندو په نامه دسنو اذلي حکیمانو په توګه پیژنی :

په دې وخت کې که شیدا دواړه محمند وې
ثناخوان به دوو هر دم ستا دو یلو [٦٧]

عجیب چې درحمان بابا دادبي مکتب شاګرد دی په ځای درحمان بابا د شعرونو په اقتفا او پیروید شعرونه وایي او دده په باب عقیده لري :

دشعراؤ سر حلقه عبدالرحمان دی
زه عجیب ددهٔ دشعر دامنګیر یم
چې یې شعر لامثل دی باندې سبا یي
که رحمان وایي په شعر عالمګیر یم [٦٨]

دپښتو خوږ ژبی بیدل چې دپښتو شاعرانو دیادونې په لړکې رحمان بابا

---

(٦٥) دیوان معزالله خان مومند، دخیال بخاري ترتیب او تدوین، ١٩٥٨ ع. پښتو اکیډمي، ١٦، ١٠٠ مخونه.
دیوان معزالله خان مومند، دهمیش خلیل ترتیب او تدوین، ١٩٦١ ع. دارالتصنیف، ٢٦، ١٣٩ مخونه
(٦٦) دیوان کاظم خان شیدا، دهمیش خلیل ترتیب او تدوین، ١٩٦٥ ع، ١٣٢ مخ. داسیت دکابل په چاپ کې نشته
(٦٧) دکاظم شیدا دیوان، داستاد بېنوا ترتیب او تدوین، ١٣٣١ ش، پښتو ټولنه، ٥٢ مخ. دیوان کاظم خان شیدا، دهمیش خلیل ترتیب، ٥٢ مخ.
(٦٨) دیوان عجیب، ١٥١ مخ.

Marfat.com

ته راسېږي نو د سلطان الشعراء لقب ورکوي او وايي :

چې مشهور یې په پښتو ږبه دیوان دی　　شعراؤ کې هغه عبدالرحمان دی
قال و حال تې سره سم زيات و کم نه دي　　مسلم ځکه د هر دانا نادان دی
په سلطان الشعراء دی ملقب دی　　چې یې بیت مصرع په هر ځای کې بېهان دی [69]

عبدالعظیم رانیزی د ده دېرې بل شاعر دی چې د ده ناوی سر داسې ورته نیسي :

د محمند عبدالرحمان صاحب په مثل　　هسې خوږ ږبان نه ماوی دریغه دریغه
زه عظیم به خاص غلام ددې محمند وم　　اوس شوندی که په دنیاوی دریغه دریغه [70]

ددې عصر په شاعرانو کې یوازینی شاعر چې له رحمان بابا سره یې د مومندیه او ختکي تعصب کړی لوانه ختک دی او منایي چې د هغې شاعرانه غرور کسات اخلي چې رحمان بابا د خان خوشالخان ختک په برخه کې کړی ، نو ځکه وايي :

چې په غوږ کا خوږ گوهر زما د نظم　　د رحمان دیوان به و منډي په جیب
برابري کړه غزل د ده له شعره　　چې د ووزی له خاطره شک او ریب

* * *

په لحد کې به توبه کاندي له شعره
داغزل کړي خوږ ولولي رحمان ته [71]

د پښتو خوږ ژبي او د ځانګړي ادبي مکتب د راوړونکي شاعر پیر محمد کاکړ چې په همعصر و کې تر خیل شعر لوړ نه وینې ، د رحمان بابا شعر معجز گڼي او وايي :

که هر څو وايي نازک شاعران شعر　　ولې دوی گڼي معجز د رحمان شعر

---

(69) دیوان بیدل ، د همیش خلیل ترتیب او تدوین ، ۱۹۵۷ ع . ، ۲۱۲ مخ .
(70) دیوان عظیم ، ۱۳۳۳ ق . ، لاهور ، ۶۳ مخ .
(71) ورکه خزانه ( لومړی ټوک ) ، همیش خلیل ، ۱۹۶۰ ع . ، ۳ ، ۵ عونه ( دیوان ختک برخه ) .

سوز ګداز د محبت یې مګر زیات ؤ — چې سوزان یې هسې شان کړ بیان شعر
جوړ په شعر کې رحمان غیب اللسان دی — په دا شېر نشته هرګز د انسان شعر
تر مصرع یې ځار شه لار د ملغلرو — په څه تار یې آوېخته کړ یکسان شعر
هیڅ تر شعره د رحمان به د پیر کم نه وي‌یا — و منصف نه د ختیک خوشحال خان شعر (۷۲)

رحمت داوي د دولسمې پېړۍ د اواخرو یو بل شاعر دی چې په کشمیر کې هستېده او د رحمان بابا تر شعر داسې قربانېده:

هر څوک شعر کا هم لاف د شاعرۍ کا
زه قربان تر شیرین شعر د محمند (۷۳)

شمس الدین کاکړ چې د پیر محمد کاکړ د ادبي مکتب پیرو دی، د خپل استاد په پیروۍ د رحمان بابا په باب وایي:

که څوک وینسي په لاس میزان د شعر — په عروض کا سنجیده بیان د شعر
و به نه رسي په شعر له رحمانه — که هر څو کړي هوس افغان د شعر
په تحقیق سره رښتیا لسان الغیب دی — لیاقت یې درلوده لسان د شعر (۷۴)

میرزا حنان بارکزی د رحمان بابا شعر یو تر بله سره ګڼي او وایي:

بل رحمان سربندی د پښتنو دی — په پښتو یې غزل به دی یو تر بل (۷۵)

عبدالله یوېلزی یو بل کندهاری شاعر دی چې د رحمان بابا شعر معجزه بولي او وایي:

د رحمان له شعره بوی د معجزې ځي
مرید نه کاندي له پیره برابر (۷۶)

---

(۷۲) د پیر محمد کاکړ دیوان، د استاد بېنوا ترتیب او تدوین، ۱۳۲۵، پښتو ټولنه، ۴۲ مخ.
(۷۳) ورکه خزانه، لومړی ټوک، ۱۵۳ مخ.
(۷۴) د شمس الدین کاکړ دیوان، پښتو ټولنه، ۱۳۳۳ ش.، ۴۱ مخ.
(۷۵) د حنان بارکزي دیوان، پښتو ټولنه، ۱۳۳۶ ش.، ۶۳ مخ.
(۷۶) د روهي ګلونه، د استاد خادم ټولونه، ۱۳۲۶ ش. پښتو ټولنه، ۱۲۱ مخ.

Marfat.com

عبدالغفار هوتک د کلات دسیوري شاعر چې د دیارلسمې پېړۍ په اوایلو کې یې ژوند کاوه د رحمان بابا د ادبي مکتب پیروي او رحمان د د د نایب بللی:

په افغان کې شاعران تر حساب تېر دي
عبدالغفار دی د رحمان شاعر نایب (۷۷)

د روانې پېړۍ دا اوایلو شاعر قاضي میراحمد شاه رضواني د رحمان بابا شعرونه له وجد او جذب څخه ډک ګڼي او وایي:

بیا په دور د شاه عالم په څرګنو کې | راښکاره شو په جهان عبدالرحمان
موسیقار غوندې یې هسې نغمې وکړې | چې یې یوړې کړ لواړه په کل جهان
تابه وې چې دشیراز خواجه حافظ دی | چې پیدا شو په اولس کې د افغان
که صوفي، که محتسب او که قاضي و | ټول یې لمانه تول یې ګډ کړه په میدان (۷۸)

په دې سربېره احمدي صاحبزاده (۷۹)، قنبرعلي خان اپریدی او قاسم علي خان اپریدی (۸۰) هم د رحمان بابا په پیروي شعرونه وایي او یادونه یې کوي.

د رحمان بابا شهرت او مقبولیت د ومره زیات وُ چې په ډېر لږ وخت کې یې شعر ټول پښتونخوا تسخیر کړه او د "روه" لوستي، نیم لوستي او نالوستي ټول خلقې یې خان ته د جلب او جذب کړې. صوفیانو یې په شعر کې د معنوي دنیا ورانګې ولیدې، سیاستمدارانو او ملي مشرانو د خپلو ملي غورځنګونو په لار وکې د د یوې کار ترې واخیست. مستانو او وجدوبانو د رباب په تارونو کې د د ه نغمې ونغوښلې، هر څوک یې په ژبه یو او هر چا د زړه تېرونو ته ملهم شو، خوک چې لوستي وو

---

(۷۷) د عبدالغفار هوتک قلمي دیوان.
(۷۸) رومي ګلونه، ۱۲۳ مخ.
(۷۹) تیر هیر شاعران، عبدالحلیم اثر، ۱۹۶۳ ع. پښتو اکېډمي، ۱۴۲ مخ.
(۸۰) وګورئ د قنبرعلي خان دیوان، د پېښور چاپ او د نې نوم د مؤلف "رحمان بابا".

Marfat.com

دده شعر ونه يې په خپله ولوستل ، دنيمه لوستوله پاره يې دلوستو شوق اوذوق ور و بامنه اود ېر داسې کسان پيدا شول چې يوازې د رحمان بابا دشعر دلوستو مينې دتوراوبو رزده کړې ته اړ کړل . چا چې په خپله نه شوی لوستی هغوی هغه کسان لوستلو ته مجبور کړل چې لوستای يې شول ، او دوی ته يې واورول ، مطلب تراوښځو تولوته دده شعرونه ور ورسېدل او هرچا دخپل زړه هيلې اومرادونه پکې ولټول اوپکې وموندل .

دده په ژوند دده دېوان په تولو پښتونخوا کې خور شو اوډېر ژر د رحمان بابا زلوی ادبي مکتب په ورځ دپښتونخوا دېر شاعران ورپسې تلل او له ده ې منبع څخه يې دشعر سوز اوالهام واخيست .

لوی استاد پوهاند عبدالحي حبيبي د رحمان بابا دادبي سبک ښېګړې او ځانګړنې داسې شمېري :

۱ - په دې سبک کې شاعر د روح الهام مني ، دمادې سره يې ډېرسروکار نه دی ، له هغې دنيا څخه خبرې کوي چې له دې خاکي دنيا څخه پرته بله دنيا ده او د معنوي فيوضاتو منبع هم دغه ځای دی .

۲ - په دې سبک کې شاعر له مادي کثافاتو څخه لېرې کېږي او هلته ځي چې صلح کل دی او دې خاورينې نړۍ غوغا او شور ماشور پکې نشته ، شاعران يې ددنيا پر بدو تنقيد کوي او ځان يې له ګکړو او کړکيچونو څخه ياکوي .

۳ - په اداد احساساتو په تصوير اونورو ښېګړو کې دا سبک ډېر اسېځلی اوسليس دی ، ابهام سره نه ګډيږي . دشعر الفاظ او عبارات ساده او سېځلي غوره کوي .

٤ - غزليات ، قصايد ، رباعيات ، تخميس او دشعر نور ټول اقسام په سېځلي روح والي اوډېرله ميني او اخلاقو څخه رغېږي .

Marfat.com

۵ - د عشق او مینې په دنیا کې هم د واقعیت خواته ځي او د خیال لن تابع کېږي.

۶ - ددې سبک شاعر عشق او الهام د ژوندون مدار گڼي، یقین او ایمان پې عقلیت باندې خوښوي.[۸۱]

هو! په دې لاره د بڼ شاعران روان شول او په سوونو وینا والو له رحماني غزنځه الهام واخیست.

د رحمان بابا ادبي لارې مشهور لار ووي دادي:

عبدالرحیم هوتک، احمد شاه بابا، اخوند گدا، عبدالعظیم سواتی، میانعیم متی زی ملاجمعه بارکزی، عبدالنبي ببتهی، شېر محمد هوتک، مطیع الله پیرخیل، قاسم علي ابریدی، یونس، غفور، صدیق، شمعوانز، دالیوری حافظ[۸۲] نیاز محمد، عبید، نصرت[۸۳]، ابن یمین، بازمحمد بنگښ، عبدالرسول ماشوری عبدالغفار هوتک، عجب، فضل شاه، گل محمد کاکړ، شیخ نامدار، معزالله خان مومند،[۸۴] عبدالوهاب اخکری[۸۵] او نور...

په پښتونخوا کې د رحمان بابا شهرت او محبوبیت دومره زیات شو چې د ده شعرونو د خلکو په ورځنیو خبرو کې د متلونو بڼه وموندله او د پاخه سند په توگه استنا د پرې وشو.

د پښتنو دیوه لوی روحاني شخصیت سوات صاحب څخه روایت کېږي چې ده به ویل: "چې که چېرې د کلام پاک نه علاوه بل کلام کې مونځ کول روا وي نو ما به یقیناً د رحمان صاحب کلام غوره کړی و."[۸۶]

---

(۸۱) پښتانه شعراء ۱/۳۱
(۸۲) ددې کسانو سوانح په لومړي او دوهم ټوک پښتانه شعرا کې ولولئ!
(۸۳) ددې شاعرانو سوانح په لومړي ټوک ادبي ستوري کې ولولئ!
(۸۴) دلنډې پېژندگلوي له پاره يې وگورئ: هیوادمل زلمی: فرهنگ زبان وادبیات پښتو.
(۸۵) وگورئ: رهبری. دلیکونکی مقاله، د ۱۳۵٦ کال، ۱۳ گڼه.
(۸٦) تاریخ ریاست سوات، محمد آصف خان. ۱۹۵۸ع، ۱۱۱ مخ.

Marfat.com

هغه مشاعرې چې لا تراوسه هم دلته او بهر پښتنو شاعرانو د بابا په مزار کوي دده محبوبیت او مقبولیت ښه ښکاروندوي کولای شي او خوږې پښتنو او پښتنو ورته "رحمان" نه "بابا" او وینا به هم دربه ونو دوي.

## مړینه او مزار:

"پټه خزانه" کاږي چې رحمان بابا "په سنه ۱۱۱۸ هجري وفات شو خلق ئې تراوسه د پېښور په هدیره کې زیارتونه کا." (۸۷) تو رچا دده د مړینې نېټه نده ضبط کړې خصوصاً درحمان بابا شاګرد یونس خیبري دده له سوزه ډکه مرثیه ویلې خوله بده مرغه دمړینې تاریخ ئې نه ښیي.

درحمان بابا په دیوان کې داسې داخلي شهادتونه شته چې دده ژوندتر دې کاله راوروسته هم ثابتوي، په دې شهادتونو کې یو هغه او بد نظم دی چې داورنګ زیب مړینه کې یاده شوې. اورنګ زیب د ۱۱۱۸ کال دمیاشې په ۲۸ نېټه مړشوی دی خو په دې نظم کې یو بیت دی:

اوس نوبت د شاه عالم دی
دوراولوړ ئې شو دګر

اوځکه چې شاه عالم د ۱۱۱۹ هـ. ق په عاشورا خیره کې خپله پاچاهي اعلان کړې نوځکه ښاغلی کامل داپاکې د ۱۱۱۹ هـ. ق. کال بولي (۸۸) او په دې وسیله دده ژوندتر ۱۱۱۹ هـ. ق کال پورې ثابتیږي. همدارنګه دبابا په دیوان کې دګل خان او جمال خان دمړینې په پېښه هم یو نظم شته چې د ا

(۸۷) پټه خزانه (عکسي نسخه)، ۴۵ مخ.
(۸۸) رحمان بابا، ۲۲ مخ.

Marfat.com

پښتنه د رحمان بابا ژوند خبرو ته وګو د راورټي دوينا له مخې له ۱۱۲۳ هـ.ق. کال سره مربوطه ګڼله او د راورټي دوينا په استثنا د چې دده ژوند تر دې کال پورې هم اټکلا وه[89]؛ خو څرنګه چې راورټي خپل سند نه دی ښودلی داسنه اټکلي بلل کیږي ، اوس چې د تاريخ مرصع متن د کامل مومند په همت خپور شو هلته په صراحت سره ددې پښتنې په باب ليکل شوي :

" پس له فوته داورنګ زيب بادشاه جمال مهمند او بعضی ظاهر بين کوتاه اندیش ورسره سر په شورش پورته کړی ؤ - په مهمند کې موسی زی وه او موسی زی په مهمندو کې کمزوري تيره ده - غرض يې داوه چې په دا شورش کې به د مانا مه ناموس وشي - اربابي به بيا موهم - په دامیان کې دیر افراط تفریط وشه - هرګاه چې په سن زرسل دوه ولیشت صوبه داري د دارالملك کابل په نامه د ناصرخان شوه - پښناور ته راغی ، اربابي يې ورکړه - امادده ناکر دې چې بچو د ناصرخان ترسر داري یا به صوبداری کې يې د ناصرخان کړې وې د ناصرخان په خاطر و بې په خپلې اربابځه کې يې کلي د عیسی مهمند هم وواهه - په تل يې ختنه وکړه - عیسی مهمند په خپل خپل کې زور دی - جوړه يې د ناصرخان سره وکړه - د مغل په ویراني کې پښتانه خپله مدعا ده.

مصرع : هر طرف که شود کشته سود اسلام است

په دامیان کې د جمال د زوی د واده کار پښتن شه - ناصرخان دوه زره روپۍ هم په طريق د انعام ورکړي - لو عیسی په قوم د مغل جر يې وراپیې کړ - هغه شپه چې يې د زوی واده ؤ دلسبکره سره وروان شه

---

(۸۹) رحمان بابا ، د دوست محمد کامل ، ۴۲۷ مخ . رحمان بابا ، د مجهول مؤلف ، ۱۲ مخ .

په کوږ یې ورنغی ـ جمال له دې هسې آفته غافل ؤ مخې ته ورووت ـ تاب یې د جنګ را نه ووړ ـ زخمي کوږ ته نږدې ووت ـ عیسی یې په کوږ او ږوړي کې پټې وسه ـ اتیا کسه زنځي وور کې هلکان دواده هم په هغه کوږکې ورسره وسول دا واقعه په سن زرسل درویشت وه ـ خدایې دې له دې هسې آفته امان وکا.»[۹۰]

مونږ وینو چې ددې پښې په باب تاریخ مرصع یو باوري او دهغه وخت سند دی چې راوړتي هم یې له دې چې خپل اخځ وښیي له همدې تاریخه ددې پښې کال ښودلی دی. له بله پلوه رحمان بابا دا تراث یدی په خپل یوه نظم کې په د پر سوز او درد انځور وې:

د پر یاران وو دګل خان او جمال خان
په کار نه شو یو په وخت د زړستان

د همه وار و یار الوځ دې تور شي
که به خولک وبله یاري کا په داستان

چې یو یار په سوري پروت وي بل په اور کې
وهغوته به څوک څه وایي یاران

هیڅ تعریف یې په داش به وایه نه شي
صد رحمت شه په یاري هم د ګل خان

په دا پوړ ته د یارۍ شرطونه څه ووی
چې په اور کې دواړه وسوځي یکسان

چې له آله او اولاده سره وسول
خدایې دې نه کا څوک د مسې مظلومان

تر پایه...

څرنګه چې داد هماغه پښې انځور دی او د پښې کال هم ۱۱۲۳ هـ.ق کال دی نو ددې باوري سند له مخې تر ۱۱۲۳ هـ.ق کال پورې د رحمان بابا ژوندلیقینی کېږي خو تر دې وروسته څرګند نه ده چې تر کوم کال پورې ژوندی و. اوس په دې برخه کې یو بل ۶. ـ هم رامنځ ته کېږي او هغه دا چې تاریخ مرصع

(۹۰) تاریخ مرصع، افضل خان خټک، ۱۹۷۴ ع. ، ۴۰۲ مخ.

Marfat.com

او پټه خزانه دواړه د پښتنو باوري سند ونه دي او په تاريخ مرصع کې د پېښې کال په تورو : "سن زر ګل دردوښت" کښل شوی او هم د تاريخ مرصع ټولې نسخې په دې برخې کې يوه خوله دي ، ځکه د دې کال د بابو ریتوب په باب د شک ځای نه پاتې کېږي ، خو په پټه خزانه کې د رحمان بابا د مړينې د کال (۱۱۱۸ هـ. ق.) په باب د اټکل ځای شته ځکه چې هلته دا کال په شمېر (۱۱۱۸) کښل شوی او له بلې خوا د پټې خزانې د تر لاس شوې نسخې په پای کې کاتب کښلي : "باستعجال تمام قلمی شد" نو د دې اټکل ځای پيدا کېږي چې سنا يې د پټې خزانې په بله نسخه کې به د ا سنه "۱۱۱۸" نه بلکه بل څه او هم احياناً "۱۱۲۸" وي چې د دې "استعجال" په سبب به "۲۸" ، "۱۸" کښل شوې وي . او که دا اټکل ومنو نو بيا به د رحمان بابا ژوند تر ۱۱۲۸ هـ. ق. کال پورې راوغزېږي .
په هر حال ، که رحمان بابا د ۱۱۲٤ هـ. ق. کال په شا او خوا کې مړ شوی وي نو وېلای شو چې ده "۸۲" کاله عمر کړی او که تر ۱۱۲۸ کال پورې يې ژوند اټکل کړو نو بيا يې ژوند "۸٦" کلونه اوږد دېږي او دا کوم غير عادي او ناشونی ژوند نه دی.
د رحمان بابا مزار د پېښور ښار نه د پړلنډ په هزارخانه کې دی او دا خون د وېږه په هدېره کې خښ دی چې خلک يې زيارت ته ورځي او کال په کال يې د پښتونستان شاعران په مزار غونډه کوي . د ده قبر څو کاله مخکې بنستو روغ و خو په ۱۹۵۸ ع . کال پښتو ټولنې د کابل د تجارت او نجارت په فابريکه کې د مرمرو له ډبرې تخته جوړه شوې ښکلې او نفيس تعويذ ورواستاوه او ده په قبر کښېښودل شو .
ښېښتيا هم چې : که لنظر که څوک په کار د درويشانو خود به ووينې د قار د درويشانو
هو مره خلق يې زيارت کا پس له مرګه چې بازار وي په مزار د درويشانو

زه رحمان په خپل اشعار شکر ګوزار یم
چې دا هسې رنګ دیوان مې د مومند شي

# [II]

# د رحمان بابا دیوان

د رحمان بابا د دیوان را ټولېدلو په باب هم لکه د ده د ژوند پېښو غوندې هر چا بېلې بېلې خبرې کړې او بېل بېل نظرونه پرې وړاندې شوي دي چې مونږ یې دلته بېل بېل څېړو:

## فولکلوري روایت:

زه چې ډېر کوچنی وم، د رحمان بابا شعرونه مې له خپلې خور څخه (چې به خوند به یې لوستل) اورېدلي وو خو په خپله یې لا د لوستلو نه وم، په همدې وخت کې مې له دې نه دا فولکلوري روایت هم اورېدلی وُ: "رحمان بابا یو ملنګ شاعر وُ، له خلکو نه به ګوښه د سیند په غاړه ناست وُ، شعرونه به یې ویل

او په هغو کوډو وړو به یې لیکل چې خیل خنګک ته یې راټول کړي وو، یو وخت خولک ورغی او دی یې د شعر په لیکلو بوخت ولید، رحمان بابا د بېرته لیکل شوې کوډو وړې سپند ته واچول، هغه کوډو وړې چې ترې پاتې وو هغه سرې سره راټول کړل او د رحمان بابا دا موجوده دیوان یې ترې جوړ کړ."

دا یو منلی روایت وُ چې د رحمان بابا دوینا دعاموعلاقمندانو قناعت یې حاصلاوه او اوس یې هم مني.

## له فولکلوره متأثر روایت : د رحمان بابا د دیوان لومړنی سریزه لیکونکی پروفیسر عبدالمجید

افغاني د رحمان بابا د دیوان د راټولېدو په باب لیکي:

"... څه وخت چې مجنون[91] ده ته هغه رباب د طریقهٔ چشتیه وغږاوه نو مجنون مرشه او عبدالرحمان درې ورځې بېهوشه پروت وُ چې څه وخت په هوش راغی نو حالت د ده تبدیل وخوړ او له ښکلو ښمار شه او ددې وځې نه به ده سرود اوریدلو او آخر پرې د ومره استغراق غالب شه چې لمونځ ترې نه هم پاتې شه او دلیبنتو په اصطلاح د ملا عبدالرحمان نه یو ملنګ جوړ شه، والي چې شپه او ورځ دی وُ او ژړاوه ترهسې چې لوړې چې او سنکو یې په مخ باندې لاړې جوړې کړې، خدای ورله یو څو دوستان هم ورکړې وه چې د ده به څه ویل هغوې به جمع کول او دا هغې یارانو برکت دی چې د عبدالرحمان د زړه قطرې په هره حجره کې په وېنو سرې پرتې دی..."

---

[91] مجنون په رحمان بابا پیر وې د ترل شوې فرضي معشوق نوم دی چې عجب خان یې په آب وتاب بیا نوی او یوه اوږده کیسه ورته توږي (وګورئ: سوانح عمري ملا عبدالرحمان، دلاهور چاپ.)

... بیا هم ددې قابل نه وُچې خپل اشعار یې جمع کړي وي دوستانو به جمع کول او دهغه د مرګ نه وروسته یې دادیوان جوړ کړ مګر بیا هم د عبدالرحمان ډېر اشعار ضایع شوي او اوس هم دهغه په دیوان کې ډېر اختلاف دی، ډېرې غزلې دي چې په موجوده دیوان کې نشته مګر دلېښتنو په مجلسونو کې ویلې کېږي ...»(۹۲)

تر ده وړاندې مېجر راورټي هم نظر ورکړی وُ چې رحمان بابا به چې شعر وته وویل نو دهغو نقل به یې خپلو خاصو دوستانو ته واستاوه، دده دوستانو به دغه دخان سره ټولول او ساتل خو دیو بل نه خبر نه وو هر اشنا به یې داخیال کړو چې دده د مرګ نه پس به دغه یو ځای کړي، دده دوستانو هم غسې وکړه، دده ځینې نیمګړو دوستانو په دې غرض د رحمان په کلام کې خپل کلام ګډ کړو چې دا معلومه شي چې له دوی څخه د رحمان د کلام ذخیره ترنورو زیاته ده، کلام به ددوی وُ او کسر به یې پرې د رحمان وویلو ددې نتیجه دا شوه چې دده د دیوان دوه دفترې یا حصې جوړې شوې. دا ټکی بر ګې په وخت معلوم شوه ځکه چې د رحمان ځینې دوستان لاژوندي وو او دهغه ویلي اشعار یې پېژندل هم، دوی بېرته جدا کړه او سوچه کلام یې پاتې شو خو بیا هم په ډېرو نسخو کې اختلاف موجود دی ...(۹۳)

د راورټي دا نظر هم تر ډېره حده په فولکلوري روایاتو ولاړ سکارې او دکوم باوري سند له مخې نه غږېږي.

**یوه بله رایه :** د رحمان بابا د دیوان غونډولو په باب یوه بله رایه د راوبناد مولانا عبدالقادر ده:

(۹۲) دیوان عبدالرحمان، د پروفیسر عبدالمجید په سرېزه، دلاهور چاپ.
(۹۳) دیوان عبدالرحمان، د مولانا عبدالقادر سرېزه، "خ" او "د" ."ح"

Marfat.com

چې د نورو رايو په نتيجه کې يې ورکړې ده ، دی وايي چې ، "داستغراق په دوره کې د رحمان کلام دده دوستانو جمع کړی دی او چې کوم وخت بيا رحمان د دنيا ژوند ته په راګرځېد و مجبور شو او دده کلام کې دا ولس او قوم په خلاف د رای زنځه کيفيت پيدا شوی دی - نو شايد ده ته دا خيال پيدا شوی وي چې راشه دا ديوان راغونډکړه دا بعيد از قياس نه ده ، دا هم ضروري نه ده چې شاعر چې څه وايي نو ګڼې تل دې هغه دده د حافظې په کتاب کې موجود وي ، د بېر ځله شاعر ته خپل کلام نه وي ياد ولې دوستانو شاګردانو يې يا د لرلي وي ، کېدی شي چې د ترتيب په وخت هغه ټول خلك دده شا او خوا موجود نه وو او ځکه دده د بېرې غزلې په ملکو کې خورې وي ، ولې د ديوان کې شاملې نه کړی شوې ... "(٩٤)

## مستند نظر :

لوی استاد پوهاند عبدالحي حبيبي (٣٦) کال پخوا په پښتانه شعراء کې وکښل :

" محققين مورخين دې خبرې ته اهميت نه ورکوي ( دده د ديوان وروسته ټول ول شي ) او وايي چې رحمان بابا خپل ديوان په خپل ژوند غونډ او مرتب کړی دی . لېکن دا موجوده ديوان د رحمان ټول اشعار نه دي ځکه چې د رحمان ډېر اشعار په دې ديوان کې نسته مګر د پښتنو په خولو کې جاري دي . . "(٩٥)

د دې نظر په ملاتړ کې مونږ دوه ډوله ملاتړي شواهد تونه لرو : يو په خپله هغه شواهد تونه دي چې ځای په ځای دده په خپل ديوان کې موندل کېږي .

---

(٩٤) ديوان عبدالرحمان ، د مولانا عبدالقادر سريزه ، "د" او "ذ" مخونه .
(٩٥) پښتانه شعراء ، ١٩٤/١

Marfat.com

اوبل هم دهغه وخت دمعاصرو متنونو شها دتونه دی .
موږ درحمان بابا په دیوان کې داسې بیتونه مومو چې نه یوازې دانسې
چې ده خپل دیوان په خپله ټول کړی بلکه دا هم ښرگندوي چې ده له خپلو شعرونو
سره ډیره مینه درلوده او په زیاته علاقه یې په غونډولو لوخت ډا وو دیوان
ترجوړېدلو مخکې دهغه بیاض هم راکوي چې ده به خپل شعرونه له ویلو سره
سم یکې ثبتول :

هسې زیب کا په بیاض درحمان شعر
لکه زلفې دخوبانو په رخسار

ده له خوا دخپلو شعرونو دلیکلو په برخه کې دا بیت هم نه ماځي :

درحمان ترقلم مشک او عنبراوري
چې آغاز یې کړه اشعار دتورو زلفو

له خپلو شعرونو سره دده مینه له دې بیتونو څخه ښکارېږي :

درگوهر به تله نه دي چیا تللي
درحمان شعر گوهر دی خدیې تولې

* * *

په غزل کې خو دوه بیته انتخاب وي
درحمان تمام غزل دی انتخاب

* * *

لکه زه چې سخندان او هنرمند یم
بل به نه وي سخندان او هنرمند

* * *

هم نغمې کاندي هم رقص کا، هم خاندې
درحمان په شعر ترکی د باگرام

Marfat.com

او دا بېلتونه خو ئې دهغه وخت دي چې دي د لښکې دېوان خاوند وُ :

یو کتاب په سر بن کې چا ونه کړ
لې رحمانه چې ئې جوړ کړو دا کتاب

* * *

د رحمان وسوزان شعر ته حیران یم
چې ئې اوربل شوې نه دي په دېوان

* * *

درست دېوان د رحمان زار تر دا غزل شه
چې بیان ئې کړو کردار د دروېشانو

* * *

زه رحمان په خپل اشعار شکر گوزار یم
چې داهسې رنگ دېوان مې دی مونډلی

د "کتاب جوړول" ، "درست دېوان" او "دېوان مونډل" په خپله ددې معنی لري چې ده خپل دېوان په خپل ژوند ترتیب کړې او جوړ کړې دی.

د رحمان بابا په ژوند دده د دېوان د ترتیبېدلو په باب یو بل دلیل دا هم دی چې دی لا ژوندی وُ چې دېوان ئې په ټولو پښتنو کې خور شوی وُ او پښتنو دده دې لوی ادبي قدرت په صله کې د "بابا" دروند لقب ورکړی وُ ، په ژوند کې ئې دده دېوان د پېښور او دخټیځ افغانستان ټولې سیمې فتحه کړې وې او دده په ژوند دده له لقب "بابا" سره د افغانستان لوېدیځو سیمو ته ان ترکندهاره پورې رسېدلی ، خور شوی او منل شوی وُ او ورسره ورسره ئې رحمان بابا د یوه لوی روحاني شخصیت په توگه خلکو ته ورپېژندلی وُ ، همدا سبب وُ چې د رحمان بابا تر مړینې خوکاله وړاندې ملي مشر میرویس نیکه ده ته دده پر عقیدت درلودلو

له مخې دده په دیوان پال نسي او په خپل ملي لوی اقدام کې دده روحاني ملاتړ تر لاسه کوي او دی لومړی ځل ورته وایي:

زه مکتوب غونډي په پټه خوله گو یا یم — خاموشي زما تېرې کاتر غوغا زما
کښت د عشق په توده زمکه امان چیرې — سمندر بو یه چې زیست کا په صحرا زما

خو بیا بل ځل داسې مشوره ورکوي:

چې آسمان یې مخ پټ کړی په سحاب ؤ — خدای و ماو ته ښکاره کړه هغه لمر بیا
چې رقیب را ته ترلی په زنځیر ؤ — خپل حبیب راباندې پرانست هغه ور بیا

په وصال یې منت بار او سه رحمانه
په صدف کې د خل نشته دگوهر بیا (96)

او مېرویس نیکه هم د رحمان بابا مشوره خلکو ته ابلاغوي او په خپل ملي غورځنګ په ۱۱۱۹ هـ. ق. کال کې پیل کوي.

په دې سربېره دوخت دود هم داسې وو چې شاعرانو به خپل دیوانونه په خپل ژوند ترتیبول، مثلاً د خوشال خان خټک هغه دیوان چې دده له مړینې نه یو کال مخکې لیکل شوی دې خبرې سند ثبوت دی (97) دا چې هر شاعر به هڅه کوله چې د تولو تولو ویناوو نه په خپل دیوان کې ولري په خپله ددې سند دی.

اکثرو شاعرانو چې خپل دیوانونه د "ې" تر ردیفه رسولي، بیا یې سره تول کړي د یوان کړي یې دي او په خلکو کې خواره شوي، د دیوان له ترتیب نه وروسته یې چې کوم غزلونه ویلي هغه بیا دده یا نورو کسانو له خوا به خپل خپل ځای د دیوان په خند وا ویا هم دورو ستیو نسخو په متن کې ورزیات شوي دي.

---

(96) پټه خزانه (عکسي نسخه)، ٤٦ - ٤٧ مخونه.
(97) د خوشال خان خټک د دیوان دا نسخه د پېښور پوهنتون په کتابتون کې خوندي ده.

Marfat.com

کله چې د رحمان بابا په ژوند دده د دیوان د ترتیبېدو او راغونډېدو په باب د ومره کلک اسناد او دلایل لرو نو بیا په دې کې د هیڅ شک ځای نشي پاتې کېدلای چې ده دې خپل دیوان په خپله نه وي ترتیب کړی.
نو ځکه په نتیجه کې ویلای شو چې رحمان بابا خپل دیوان په خپل ژوند په خپله ترتیب کړی دی.
داچې ځینې غزلې او بیتونه یې کم او زیات دی او یا یې دديوان نسخو ترمنځ زیات توپیرونه دي دا بېل - بېل عوامل دي یو دا چې ښایي ځینې غزلونه له ده نه د تدوین په وخت کې هېر شوي وي او یا یې نقل په لاس کې نه و، ځینې غزلونه یې ښایي تر تدوین وروسته ویلې وي، ځینې شعرونه یې متعصبینو د دیوان له نسخو څخه غورځولي لکه د "رقص" په ردیف غزل چې په یوازېنۍ نسخه کې را پاتې دی او د نسخو ترمنځ سره توپیرونه خو د خطاطانو او کاتبانو "خاصه لورېنه (!)" ده چې د هرچا او هر تالیف په حق کې یې لري او یوازې د رحمان بابا د دیوان یې لمونه نه دی.
یوه بله پوښتنه لا پاتې ده او هغه دا چې د رحمان بابا دیوان ولې په عنعنوي ډول په دوو دفترونو کې راپاتې دی؟
د لته یو اټکل دا سې هم کېدای شي چې ښایي په یوه دفتر کې د رحمان بابا د ژوند د لومړیو برخې او په بل دفتر کې یې د ژوند د بلې برخې شعرونه ترديف او تدوين شوي وي. نو که دا اټکل ومنو هم د لومړي دفتر شعرونه دده د ژوند د لومړۍ برخې نه دي ځکه په دې دفتر کې د رحمان بابا هغه نظمونه شته چې د ژوند له وروستۍ برخې سره یې اړه لري لکه د اورنګزیب مرثیه او د ګل خان او جمال خان کیسه؛ نو عجالتاً د خپل دې اټکل ماڼۍ داسې ودانولای شو چې ښایي رحمان بابا د خپل ژوند د لومړۍ برخې شعرونه په یوه دفتر کې سره ټول کړي

او تر دیف کړي او تر هغه وروسته شعرونه یې په بل دفتر کې راغونډ کړي او تدوین کړي وي؛ څرنګه چې د دوهم برخې شعرونه یې په حمد، نعت او د دنیا په بې وفایۍ پیلیږي نو ځکه دوهم دفتر تر لومړي دفتر وړاندې شوی او یو د بل ځای یې نیولی دی چې د امو ومنله نو باید دا هم ومنو چې په خلکو کې دده په ژوند باید دده د دیوان دوهم دفتر خور شوی وي او لومړی دفتر یې بیا وروسته خلکو ته رسیدلی وي. خو کله چې هغوفالونو ته راورسیږو چې میرویس نیکه د رحمان بابا په ژوند په ۱۱۱۹ هـ.ق. کال کې دده په دیوان اچولي نو بیا زمونږ دا تېکل دا ماتوي هم وړاندې یې ځکه هغه دواړې غزلې چې میرویس نیکه فال پرې نیولی دده د دیوان په موجوده لومړي دفتر کې دي او په همدې دفتر کې د ګل خان او جمال خان د پښتني نظم هم شته چې تر دې فال نیولو پنځه کاله وروسته په ۱۱۲۳ هـ.ق. کال ویل شوی دی.

ځکه چې له دې بحث نه هم نتیجه نه تر لاسه کیږي نو دده د دیوان د دوه دفترونه جوړیدل تر اوسه کوم تاریخي اصالت او روایت تر شا نه لري.

سنا غلی کامل د دوو دفترونو سره ګډ ونکی استاد بېنوا بولي[98]؛ خو دا کار د بریخوا شوی او له ما سره د رحمان بابا د دیوان یوه زړه قلمي او یوه زړه چاپي نسخه شته چې متاسفانه دواړې نیمګړې دي او د لیکلو او چاپ کال نه لري. دا دواړې دیوه دفتر په اساس دي او د دواړو دفترو شعرونه یې سره یو ځای کړي او په یو ځلي ترديف کړي دي. همدا راز د بمبئ د ۱۸۸۳ ع. کال چاپ نسخه هم په یو دفتري دول ده[99] چې سنا لي زما نیمګړې چاپي نسخه همدا نسخه وي.

(۹۸) رحمان بابا، ۷۰ مخ.
(۹۹) د برتانوي تاپوګانو په کتابتونو کې د پښتو قلمي نسخو کتلاګ، ډاکټر میکنزي. لندن، ۶۵ مخ.

## قلمي نسخې

: څرنګه چې رحمان بابا د پښتو ملي شاعر دی نو ځکه د ده د دیوان ډېرې نسخې لیکلې شوې

او خورې شوې دي . پټه خزانه کاږي : " چې ظل الله پادشاه جهان شاه حسین کتابان واستول اوله پېښوره چې د عبدالرحمان بابا علیه الرحمه د دیوان نقلونه را وړل او په قندهار کې علما او زهاد و وکښل او اوس ډېر دي . فقرا او د خدای دوستان د عبدالرحمان بابا شعرونه ډېر لولي او خوښوي او عام خلق فالونه پرګوري . حتی چې ښځمنې هم دا کتاب ډېر وایي او خدای تعالی د ده په وینا کې هسې برکت ایښی دی چې د هر خوږمن زړه دارو په کا او هر غریب او محتاج مستغني کا . "(100)

دا روایت ښیي چې له ډېر پخوا څخه د رحمان بابا د دیوان د تکثیر او ډېر ښت له پاره کار پیل شوی او په پښتونخوا کې یې زیاتې نسخې خورې شوي دي .

د مېجر راورټي دا خبر چې په نظر کې ولرو چې ده د رحمان بابا د وینا د انتخاب په وخت کې له شپېتو نسخو څخه استفاده کړې(101) نو بیا د پښتو تر هر کتاب نه د ده د دیوان د نسخو شمېره ډېره ده ان چې دا خون د وېنزه تر مځ ن الاسلام نه یې هم د نسخو شمېره اوږي خو په موجود وخت کې د رحمان بابا د دیوان د قلمي نسخو د شمېر له مخې تر مخزن الاسلام را وروسته دوهم کتاب دی(102) او د هېواد او نړۍ په بېلو - بېلو سیمو او شخصي کتابتونو کې یې نسخې شته .

د پښتو خطي نسخو په لاره کې زمالتون روان دی خو تر او سه نه یم بریالی شوی چې په ټوله نړۍ کې د پښتو خطي نسخو شمېره تر لاسه کړم ، په همدې توس

---

(100) پټه خزانه (عکسي چاپ) ، ٤٥ مخ .

(101) د یوان عبدالرحمن . د مولانا عبدالقادر سریزه ، " د " مخ . دوران " مجله ، پېښور ١٩٥٨ ع . (١٣ ، ١٤) ګڼه د نو مړي مولانا مقاله .

(102) مفتي حبیب الله ، " د پښتو قلمي نسخې " وږمه ، ١٩ کال ، ٤ ګڼه (١٣٥٤) ، ٨٣ مخ .

Marfat.com

## نه خلوېښتم

درحمان بابا د دېوان د ټولو نسخو شمېره هم زما په لاس کې نشته ، خو تر کومه ځایه چې یا دد ښتو نه راغونډه کړې درحمان بابا د دېوان دالاندې نسخې راته معلومې دي:

**الف :** د برتانوي تاړوګانو په ښېلو ښېلو کتابتونو کې درحمان بابا د دېوان ۹ پوره او نیمګړې نسخې شته په دې ډول :

۱ ـ برېټش موزیم : د سید غلام علي په قلم ، ۱۳٤ پاڼې . کال نه لري .

۲ ـ دلېنډ سیانا کتابتون : خطاط نلري ، ۱۳۳ پاڼې . بې تاریخه .

۳ ـ دهند دارې کتابتون : خطاط میاصدرالدین . ۱۵۳ پاڼې ، دخطاطي کال ۱۲۰۰ ه.ق.

٤ ـ برېټش موزیم : خطاط میرزا محمد اسماعیل ، ۱۹٤ پاڼې ، د ۱۲۷۷ ه.ق ، ۱۸٦۱ ع . کال لیک .

۵ ـ برېټش موزیم : خطاط غلام جیلاني پېښوری ، ۱۳۹ پاڼې ، د ۱۸۷۲ ع . کال لیک .

۶ ـ دهند داره : ۱۵۷ پاڼې ، خطاط او دخطاطي کال نه لري .

۷ ـ دهند داره : خطاط فاضل محمد د عبدالغني کاسي زوی ، ۱۱۸۷ ه.ق ، ۹۳ پاڼې .

۸ ـ برېټش موزیم : خطاط سراج الدین ، ۱۱۱ پاڼې ، د ۱۲۷۱ کال لیک .

۹ ـ بوډلیان : (د دېوان انتخاب) ، ۱۵ پاڼې ، د ۱۹۰۰ ع . کال شااو خوا لیک [۱۰۳] .

**ب :** دلېننګراد په آسیايي موزیم کې درحمان بابا د دېوان درې نسخې خوندي دي :

۱۰ ـ د ۱۸۱۰ ع . کال لیک .

۱۱ ـ د ۱۸۳۰ ع . کال لیک .

۱۲ ـ د ۱۸۳۷ ع . کال لیک [۱۰٤] .

**ج :** دهند په کتابتونو کې بنا لي درحمان بابا د دېوان ډېرې نسخې وي خو دا درې نسخې یې فهرست شوي :

۱۳ ـ درامپور رضالایبرېري : خطاط محمد شاه بلخي ، د ۱۲۱۹ کال لیک ، ٤۷۰ پاڼې مصورنسخه [۱۰۵]

۱٤ ـ دبنګال دا ایشیايي ټولنې کتابتون : دشاه ثناءالله په قلم .

---

دې مخ د متن پا یلیکونه په ۵۰۱ مخ کې وګورئ .

Marfat.com

۱۵ ـ د ډيلي د پوهنتون کتابتون : د حافظ عبيدالله په قلم[۱۰۶].

ل : د پښتونستان په شخصي او رسمي کتابتونو کې د رحمان بابا د ديوان ډيرې نسخې شته خو متاسفانه د ټولو فهرست لې لاس ته نه دی راغلی، يوازې دالاندې نسخې لېدا ته معلومې دي :

۱۶ ـ د پېښور د اسلاميه کالج کتابتون[۱۰۷]

۱۷ ـ د پروفيسر ولي محمد خان سيال کاکړ کتابتون : د ملا ولي په قلم ، ۹۰ پاڼې.

۱۸ ـ د سيال کاکړ کتابتون : د ملا ولي په قلم ، ۱۷۹ پاڼې[۱۰۸]

هـ : په فرانسه کې د رحمان بابا د ديوان د دوو نسخو پته شته :

۱۹ ـ د فرانسې د ګيمې موزيم : د ۱۲۰۹ ق. کال ليک د ولي محمد په قلم.

۲۰ ـ د فرانسې د ګيمې موزيم : د ۱۷۹٤ کال ليک[۱۰۹]

و : په امريکا کې د يوې نسخې پته شته :

۲۱ ـ د پرنسټن د پوهنتون کتابتون[۱۱۰]

ز : د کابل د خطي نسخو کتابتون کې د رحمان بابا د ديوان دا نسخې موجودې دي:

۲۲ ـ د ملا ولي په قلم چې ۳۲ انځورونه هم لري ، ۱۸٤ پاڼې.

۲۳ ـ په کشمير کې د ۱۲۲۷ کال ليک ، د ملا عبيدالله په قلم ، ۱۶۰ پاڼې.

۲٤ ـ بله نسخه ۱۱۹ پاڼې لري.

---

د ۹۹ مخ پاېلیکونه :

(۱۰۳) د برتانوي تاپوګانو په کتابتونو کې د پښتو قلمي نسخو کتلاګ . ډاکټر مکينزي ، ۱۹۶۵ع. له ۸۵ تر ۹۳ مخ.

(۱۰٤) هېواد او رحیانه ۱۳٤۶ کال وږى . د ښاغلي رښتين مقاله .

(۱۰۵) د خان غازي کابلي قلمي يادداشت . د اسناد ښوا د کتابتون .

(۱۰۶) هېواد . د ښاغلي رښتين مقاله .

(۱۰۷) همدا ورځپانه

(۱۰۸) سيال کاکړ . پروفيسر ولي محمد : "پښتو نسخې" قلمي .

(۱۰۹) هېواد ورځپانه . ياده شوې مقاله .

(۱۱۰) همدا اخځ .

Marfat.com

۲۵ ـ بله نسخه چې ۹۵ پاڼې لري.

۲۶ ـ بله نسخه چې ۱۷۴ پاڼې لري.

۲۷ ـ بله نسخه لې چې ۱۶۷ پاڼې لري او له حُسيني شعر و سره لې دري ژباړه هم شته[111]

ح : د جمهوري آرګ په کتابتون کې د رحمان بابا د ديوان دا نسخې شته:

۲۸ ـ يوه نفيسه نسخه ده چې ۱۲۰ پاڼې لري[112]

ط : د هرات په موزيم کې :

۲۹ ـ خوشخطه نسخه ده چې ۱۸۲ پاڼې لري[113]

ی : د کابل پوهنتون په کتابتون کې هم د رحمان بابا د ديوان دا لاندې نسخه ساتله کېږي:

۳۰ ـ د ملا ولي د زوی ملا کمال په ليک چې ۱٤٤ پاڼې لري[114]

ك : د پښتو ټولنې په کتابتون کې د بابا د ديوان دا لاندې نسخې شته:

۳۱ ـ د شاه زمان د سلطنت په وخت کې ليکل شوې نسخه ده چې ۲۵۱ پاڼې لري خطاط لې وجه الدين او د خطاطۍ کال لې ۱۲۳۰ هـ . ق . دی.

۳۲ ـ د سرله خوا نيمګړې نسخه ده چې ۱٤۲ پاڼې يې پاتې دی.

۳۳ ـ د سر او پای دواړو له خوا نيمګړې نسخه ده چې ۱۳۱ پاڼې يې پاتې دي.

۳٤ ـ د ملا اختر بياض دی چې د رحمان بابا د اشعارو چاپه يکې شته[115]

ل : د محترم استاد پوهاند عبدالشکور رشاد په کتابتون کې د رحمان بابا د ديوان نسخې شته چې يوه مهمه نسخه لې داده :

۳۵ ـ د ۱۱٤۵ هـ . ق . کال ليک ده او کامګار خان خټک د نامدار خان زوی

---

(111) "د پښتو قلمي نسخې" د ليکوال اثر ، خطي .
(112) د بورکوی د خطي نسخو فهرست ، ۱۹٦٤ ع . ۲۵ مخ .
(113) هماغه اثر ، ۳۲۹ مخ .
(114) ستوده ، محمد ابراهيم او عبدالرحمٰن : " د پښتو د ۱۰۸ قلمي نسخو لپاره پېژندنه ، ۱۳۵۴ ګستترې چاپ ۹۱۵ مخ
(115) " د پښتو قلمي نسخې " .

Marfat.com

داشرف خان لمسي او دخوشال خان ختک کړوسي یوه مثنوي په خپل قلم
پرې کښلې او مهر يې پرې لګولی دی.[116]

م: د ښاغلي عبدالقدوس نجیب په کتابتون کې یې دا نسخې شته:

۳۶ - د ۱۲۷۹ هـ.ق. کال لیک چې ۱۳۶ پاڼې یې پاتې دي او دپای پاڼې یې نشته.

۳۷ - یوه نیمګړې نسخه ده چې ۵۳ پاڼې یې پاتې دي[117].

ن: د ښاغلي محمد حلیم سلیمي په کتابتون کې هم د رحمان بابا د دیوان دوې نسخې خوندي دي:

۳۸ - خطاطي یې انعام لومبړي چې په ۱۱۷۶ هـ. ق. کال یې کښلې ده، د زاړه دفتر وندې ببل - ببل ګنډل شوې دي چې ټولې پاڼې یې ۱۳٤ دي.

۳۹ - د ۱۱۹۹ هـ. ق کال په ښاوخوالې کښل شوې، د پای لخوا نیمګړې ده او ۷۲ پاڼې یې پاتې دي[118]

س: د ښاغلي زلمی هیواد مل په کتابتون کې د رحمان بابا د دیوان لاندینۍ نسخې خوندي دي:

٤۰ - د ۱۲۱۲ هـ.ق کال لیک چې ۹٤ پاڼې لري.

٤۱ - یوه زړه بې تاریخه نسخه چې ۲۰۰ مخه لري.

٤۲ - د رحمان بابا د شعرونو یوه انتخابي مجموعه چې ۱٦ پاڼې لري[119]

ع: د لیکوال په کتابتون کې د رحمان بابا د دیوان دا لاندې نسخې خوندي دي:

٤۳ - د ملا قمردین په خط لیکل شوې نسخه ده چې د سرخو پاڼې یې لوېدلې

---

[116] د محترم استاد پوهاند عبدالشکور رشاد یادداشت چې په خاصه لورېینه یې راسپارلی دی.

[117] "د پښتو قلمي نسخې" ښاغلي نجیب صاحب په دې برخه کې د خپل کتابتون نسخې د معرفي په غرض راسولي چې په دې وسیله منته ترې کوم.

[118] "پښتو قلمي نسخې" ښاغلي سلیمي صاحب هغه یادداشتونه چې د خپل خاني کتابتون د نسخو په اړه یې راسولي وو یې کړي دې برخې ته ورده.

[119] "پښتو قلمي نسخې". د ګران ملګري ښاغلي زلمي هیوادمل لورېینه ترتعارف لوره ده چې د خپلو کتابونو موادو مې سره ګډ کړي دي داسې وخت چې هم پښتنې چې یو دېل کتاب نه سره بېل و..

Marfat.com

اودپای یو مخ يې نشته موجودې پاڼې يې ۹۱ دي .

٤٤ ـ بله نسخه ده چې ځينې پاڼې يې ضايع شوې ، دا نسخه په يوه دفتر کې ترتيب شوې خو لومړي غزلې هم لرې چې پاتې پاڼې يې ۸٤ دي .

٤٥ ـ ددې نسخې هم ځينې پاڼې لوېدلې او ۹۶ پاڼې يې راپاتې دي .

٤٦ ـ ددې نسخې زياتې پاڼې نيمه خواشوې او يوازې ٤٧ مخه ترې راپاتې دي .

٤٧ ـ دا يوه زړه نسخه ده چې پنځوس پاڼې يې راپاتې دي .

٤٨ ـ د ملا بنايسته خان جونګ چې د رحمان بابا زياتې غزلې پکې چاپ شوې او خوندي دي .[۱۲۰]

له دې سره ـ سره بيا هم دا يو ترټه احصائيه يوه ډېره لنډه ګڼنه او نيمګړې احصائيه ده ځکه د بابا د ديوان ډېرې نورې نسخې هم شته چې علاقمندانو يې ساتلې دي ، ما د راټولو احصائيو په هيله دا شمېره وړاندې کړه .

## چاپي نسخې :

لکه څرنګه چې د رحمان بابا د ديوان قلمي نسخې ډېرې دي همدا راز د دې ديوان چاپونه هم له ځانه راهيسې را ن

دي او په لسها وو ځله خپور شوی دی .

ددې ديوان ترټولو زړه چاپي نسخه چې مالبدلې ده په ۱۲۸۰ هـ.ق. کال کې د بمبي چاپ نسخه ده چې په سنه صحافت خپره شوې ده[۱۲۱]

او ترټولو ښه چاپي نسخه يې چې ډاکټر مکينزي او د "رحمان بابا" د کتاب يې نوم مولف د رحمان بابا د ديوان لومړۍ چاپي نسخه ګڼلې ، هغه نسخه ده چې مولوي احمد

---

(۱۲۰) د پښتو قلمي نسخې " په دې برخه کې د دې نسخې ګران ملګري ښاغلي احسان الله آرينزي رالېږلي چې کور ودان وي نو ډېر منندوی يم .

(۱۲۱) دا نسخه د ښاغلي بلحيوا رمل په کتابتون کې خوندي ده .

Marfat.com

د ننگي د څو نسخو له مخې ترتيب کړې او په ۱۸۷۷ ع. کال په لاهور کې پادري هيوز چاپ کړې ده[۱۲۲]

د دې ديوان يوه بله زړه چاپي نسخه د حيدري مطبعې چاپ ده چې د قاضي فتح محمد په اهتمام خپره شوې، په ۱۸۸۳ کال کې يو ځل په بمبې او دوه ځل په ډيلي کې چاپ شوې او تر هغه وروسته يې چاپونه له شمېره او ړي. يوه ډېره نفيسه نسخه يې چې په ښکلي خط کښل شوې په ۱۳۲۸ ش. کال پښتو ټولنې د استاد بېنوا په زيار خپره کړه او يو بل انتقادي متن يې د پېښور پښتو اکيډمۍ په ۱۹۶۳ ع. د ارواښاد مولانا عبدالقادر په سريزه خپور کړ او هم يې هم د دې اکيډمۍ له منظومې اردو ترجمې سره يو متن خپور کړ[۱۲۳]

**چاپي انتخاب:** د رحمان بابا د ديوان چاپي انتخاب د ده تر ټولو چاپي نسخو وړاندې دی ځکه لومړی ځل د ده غزلې آلماني ختيځ پوه ډورن په خپل "خرېستوماتيا" نومې کتاب کې چې د پښتو ادبياتو انتخابي مجموعه ده په ۱۸۴۷ ع. کال په پترزبورگ کې خپرې کړې[۱۲۴] بيا د ده غزلې انگرېزي ختيځ پوه ميجر راورټي په ۱۸۶۰ ع. کال په خپل "گلشن روه" نومې مجموعه کې نشر کړې[۱۲۵] او بيا پادري هيوز په "کليد افغاني" کې د رحمان بابا د ديوان غزلې انتخاب کړې چې يو چاپ يې د ۱۸۷۲ ع. کال دی[۱۲۶]

همدارنگه په "حسن وير وزي"، "گلشن نوروزي"، "لهار گلشن" او قاضي مير احمد شاه رضواني په "بهارستان" او "شکرستان" کې هم د ده د ديوان انتخابات شوي او په دې سربېره په ډېرو پاتو مجموعو کې د رحمان بابا ملکوتي وينا دې خپرنې شوي او خپرې شوې دي.

---

(۱۲۲) د قلمي نسخو کتلاګ. ډاکټر ميکنزي، ۸۵ مخ. رحمان بابا، ۲۲ مخ.
(۱۲۳) د رحمان بابا د يوشمېر چاپي نسخو د معرفي لپاره وگورئ: پښتو کتاب پېژندنه، د ليکونکي اثر.
(۱۲۴) وگورئ: خرېستوماتي.
(۱۲۵) وگورئ: گلشن روه ۱-۳۰ مخونه.
(۱۲۶) وگورئ: کليد افغاني.

Marfat.com

# اخځونه


۱ ـ افضل خان ختک : "تاریخ مرصع"، مقابله ـ تصحیح او نوټونه د دوست محمد خان کامل مومند
۱۹۷٤ ع. یونیورسټي بک ایجنسي ـ پېښور.

۲ ـ حافظ رحمت خان : "خلاصة الانساب" د محمد نواز طائر دیباچه او ترجمه، ۱۹۷۳ ع. پښتو اکېډمي ـ پېښور.

۳ ـ خواجه نعمت الله هروی : "تاریخ خان جهانی و مخزن افغانی"، تصحیح او تنقیح د سید محمد امام الدین، ۱۹۶۰-۶۲ ع. ایشیاټک سوسائټي ډاکه (په دوو ټوکونو کې).

٤ ـ محمد هوتک : "پټه خزانه"، استاد حبیبي سریزه او سمون، ۱۳۲۳ ش پښتو ټولنه کابل

۵ ـ محمد هوتک : "پټه خزانه" (عکسي چاپ)، د استاد حبیبي نوې سریزه، ۱۳۵٤،
د پښتو د پراختیا او پیاوړتیا آمریت، کابل.

۶ ـ سباسته خان : "د ملا بنایسته خان جونګ"، د دوو لسمې پېړۍ لیک، د لیکوال کتابتون

۷ ـ حبیبي، پوهاند عبدالحی : "پښتانه شعرا" (لومړی ټوک)، ۱۳۲۰ ش، پښتو ټولنه، کابل

۸ ـ حبیبي، پوهاند عبدالحی : "افغانستان در عصر گورگانی هند" ۱۳٤۱، تاریخ ټولنه.

۹ ـ حبیبي، پوهاند عبدالحی : "د پښتو ادبیاتو تاریخ" (دوهم ټوک)، ۱۳٤۲، پښتو ټولنه ـ کابل

۱۰ ـ حبیبي، پوهاند، عبدالحی : "د افغانستان پېبلیک"، د پوهنې کتاب خپرولو موسسه، ۱۳۵۲، کابل


Marfat.com

۱۱ - حافظ مرغزی : "شهنامهٔ احمدشاه ابدالی" پښتو اکېډمی ، ۱۹۶۵ ع. پېښور.

۱۲ - کامل مومند : "رحمان بابا" ، ادارهٔ اشاعت سرحد ، ۱۹۵۸ ع. پېښور.

۱۳ - عبدالصمد خان : "رحمان بابا شاعر انسانیت" ، داثر پسریزه ، ۱۹۷۴ ع. پېښور.

۱٤ - لې نومه مؤلف : "رحمان بابا" محکمهٔ نشر و اشاعت قبایل

۱۵ - ظفر کاکاخېل ، سید بهادر شاه : "پښتانه د تاریخ په رڼا کې" یونیورسټی بک اېجنسی ۱۹۶۵ ع. پېښور

۱۶ - حبیبی ، پوهاند عبدالحی (تصحیح او سریزه) : "د خوشال خان خټک مرغلرې" طلوع افغان ۱۳۱۷ کندهار

۱۷ - کامل ، دوست محمد (سریزه او سمون) : "کلیات خوشال خان خټک" ، ادارهٔ نشر و اشاعت سرحد ، ۱۹۶۰ (دوهم چاپ) پېښور.

۱۸ - رښتا ، سید رسول (سریزه او ترتیب) : "ارمغان خوشال" ، یونیورسټی بک اېجنسی ، پېښور.

۱۹ - بېنوا ، عبدالروف (سریزه او سمون) "د رحمان بابا دیوان" ، پښتو ټولنه ، ۱۳۲۸ کابل

۲۰ - عبدالقادر ، مولانا (سریزه) : "دیوان عبدالرحمن" ، پښتو اکېډمی" ۱۹۶۳ ، پېښور.

۲۱ - عبدالمجید ، پروفیسر (سریزه) : "دیوان عبدالرحمن مع رباعیات دیوان عبدالحمید" ، صابر الکټرک پریس - لاهور.

۲۲ - غروال ، شجر نیا محمد عارف (سمون) : "رحمان بابا دیوان" (همدا متن) لاسکښلی نسخه

۲۳ - خادم ، قیام الدین (ټولوونکی) "روهی ګلونه" ، پښتو ټولنه ۱۳۲۶ کابل

۲٤ - حبیبی ، پوهاند عبدالحی (سریزه او سمون) : "د عبدالقادر خان خټک دیوان" ، طلوع افغان ۱۳۱۸ کندهار.

۲۵ - عظیم : "دیوان عظیم" ، ۱۳۳۳ هـ.ق. ، مطبع اسلامیهٔ لاهور.

۲۶ - بخاری ، خیال (ترتیب او تدوین) : "دیوان نجیب" ، پښتو اکیډمی ، ۱۹۷۲ ، پېښور.

۲۷ - دارمستتر : "د پښتنخوا د شعر هار و بهار" ، د پاریس د خپلې ټولنه ، ۱۸۸۸ ع. پاریس.

۲۸ - همېش خلیل (ترتیب او سریزه) : "دیوان مجری" ۱۹۵۸ ع. پېښور.


Marfat.com

۲۹ - همیش خلیل (ترتیب او سریزه) : " دیوان عبدالقادر خان خټک " ، ۱۹۷۲ ع . پېښور .
۳۰ - دیونس خیبری دیوان ، دارګ دکتابتون قلمي نسخه .
۳۱ - عبدالقادر ، مولانا (سریزه) : " دیوان مصری خان ګګیاڼي " . پښتو اکېډمي پېښور
۳۲ - بخاری ، خیال (ترتیب او تدوین) : " دیوان معزالله خان مومند " ۱۹۵۹ ع . پښتو اکېډمي پېښور
۳۳ - همیش خلیل (سریزه او ترتیب) : دیوان معز الله خان مومند " ، ۱۹۶۱ پېښور .
۳۴ - همیش خلیل (سریزه او ترتیب) : " دیوان کاظم خان شیدا " . ۱۹۶۵ ع . پېښور
۳۵ - بېنوا ، عبدالرؤف (سریزه او ترتیب) : " د کاظم خان شیدا دیوان " ۱۳۳۱ کابل
۳۶ - همیش خلیل (سریزه او ترتیب) : " دیوان بېدل " ۱۹۵۷ ع . پېښور
۳۷ - همیش خلیل : " درکه غزانه " (لومړی ټوک) ، ۱۹۶۰ ع . پېښور
۳۸ - بېنوا . عبدالرؤف (ترتیب او سریزه) : " د پیر محمد کاکړ دیوان " ، ۱۳۲۵ ، پښتو ټولنه کابل
۳۹ - " د شمس الدین کاکړ دیوان " ۱۳۳۳ ، پښتو ټولنه کابل .
۴۰ - " د حنان بارکزی دیوان " ۱۳۳۶ ، پښتو ټولنه کابل .
۴۱ - " د عبدالغفار هوتک دیوان " ، قلمي نسخه .
۴۲ - اثر ، عبدالحلیم : " تېر جبر شعران " ، ۱۹۶۳ ع . پښتو اکېډمي ، پېښور .
۴۳ - همیش خلیل (سریزه او ترتیب) : " دیوان قنبر علي خان " .
۴۴ - دورن (ټولوونکی) : " خرېستو ماتیا " . پیترزبورګ ، ۱۸۴۷ ع .
۴۵ - راورټي ، میجر (ټولوونکی) : " ګلشن روه " ، ۱۸۶۰ هرتفورډ .
۴۶ - هیوز ، پادري (ټولوونکی) : " کلید افغاني " ، ۱۸۷۲ ع . لاهور .
۴۷ - محمد آصف خان : " تاریخ ریاست سوات " ۱۹۵۸ ع . سوات .
۴۸ - خان غازي کابل (قلمي یادداشت) : " کنا بځ نه رضا " ، د استاد بېنوا کتابتون .
۴۹ - سیال کاکړ ، پروفیسر ولي محمد خان : " پښتو نسخې " د سیال کاکړ خاني کتابتون د نخو مرۍ

Marfat.com

لاسکښلې نسخه .
٥٠ - بورکوی : " د افغانستان خطي نسخې " ، ١٩٦٤ ع .
٥١ - میکنزی ، ډاکټر : " د برتانوی د ایوګانو په کتابتونو کې د خطي نسخو کتلاګ " ( دري کتاب بشپړمتن ګران ملګری عنایت الله محرابی راته ژباړلی ) .
٥٢ - عبدالغنی ، دکتور : " احوال و آثار میرزا عبدالقادر بیدل " ژباړن میر محمد آصف انصاری ، کابل پوهنتون ، ١٣٥١ .
٥٣ - " کلیات بیدل " ، د پوهنې وزارت ، ، کابل .
٥٤ - تجدد ، مهین جهانگلو : " سماع در سلسلهٔ هو " ١٣٥١ ، تهران .
٥٥ - اڅکزی ، محمد جعفر ، " وندر " ١٩٥٩ ع . کوټه .
٥٦ - عجب خان د ځکګی : " سوانح عمری د ملا عبدالرحمن " ( فولکلور کیسه ) ، لاهور .
٥٧ - رښتین ، صدیق الله : " د پښتو نسخو فهرست " ، هیواد ( ورځپاڼه ) ، ١٣٥٦ ، اسد او سنبلې ګڼې .
٥٨ - ستوړ ، محمد ابراهیم او عبدالرحمن : " د پښتو د ١٠٨ قلمي نسخو لنډه پېژندنه " ١٣٥٤ ، ګستنري چاپ د کابل پوهنتون کتابتون .
٥٩ - هیوادمل ، زلمی : " فرهنګ زبان و ادبیات پښتو " ، لاسکښلې نسخه .
٦٠ - رفیع ، حبیب الله : " عبدالوهاب اڅکزی " زیری ، ١٣٥٦ ، د جوزا ١٣ ګڼه .
٦١ - رفیع ، حبیب الله : " د پښتو ځانګړې تذکرې " ، افغانستان اکاډمی ، د تاریخ اداره ، قولنه ١٣٥٠ کال
٦٢ - رفیع ، حبیب الله : " ادبي ستوري " ( لومړی ټوک ) ، پښتو ټولنه ، ١٣٥٣ ، کابل
٦٣ - رفیع ، حبیب الله : " د پښتو قلمي نسخې " ، وږمه ، نولسم کال ، لسمه ګڼه ، ١٣٥٤ ش .
٦٤ - رفیع ، حبیب الله : " د پښتو خطي نسخې " ( په نړۍ کې د پښتو خطي نسخو معرفي ) ، قلمي .
٦٥ - رفیع ، حبیب الله : " د پښتو کتاب منود " ، قلمي .

Marfat.com

# د متن نسخې

## د رحمان بابا د دیوان د انتقادي متن په برابرولو کې له دغو چاپي او خطي نسخو څخه کار اخیستل شوی دی:

رحمان بابا د دیوان د دغه انتقادي متن په تیارولو کې له څلورو چاپي نسخو، شپاړسو خطي نسخو، خرستوماتي یا د دوو مجموعو او د شوروي اتحاد څخه د راغوښتل شوي میکروفلم څخه کار اخیستل شوی دی. کوم څرګند توپیر چې په کومه نسخه کې په نظر راغلی یا کوم نوی غزل او نوی بیت موندل شوی دی په لمن لیک کې د هغې نسخې حواله ورکړل شوې ده. دغو نسخو ته مونږ مخفف نومونه ورکړي دي تر څو محققین او لوستونکي له زیاتو خنډونو سره مخامخ نه شي؛ مثلاً د پښتو ټولنې نسخې مو د "پ"، د اطلاعاتو او کلتور د خطي کتابخانې نسخې مو د "خ" نسخې په نامه او د پېښور چاپي نسخو ته مو د "پ،پ" یعنې پېښور کبیر چاپ، "ق،ک" یعنې قدیمي کتابخانې چاپ او "ق" یعنې قصه خوانی چاپ نومونه او د پښتو ټولنې د بېنوا صاحب له خوا چاپ شوي دیوان ته مو د "ب" چاپ نوم ورکړی دی. د دغه انتقادي متن مولکه د پښتو ټولنې له خوا چاپ شوي دیوان غوندې په یوه دفترچه ترتیب کړی او د پښتو ټولنې د مسلکي غړي او ځوان

Marfat.com

خطاط ښاغلي نصير "هنر" پښتون له خوا خطاطي شوی دی.

ددې د پاره چې رحمان بابا د ديوان د دغه انتقادي متن محترم لوستونکي له ټولو چاپي او خطي نسخو سره سم بلد شي هره نسخه به ځانګړې توګه معرفي کېږي:

**د کابل د پښتو ټولنې چاپ:** — دغې نسخې کچه ۱۵×۱۰ سانتي متره ده او په کوچنۍ قطع چاپ شوې ده دغې نسخې مصحح، مدون او مقابله کوونکي استاد بېنوا دی چې ښاغلي عزالدين کاتب له خوا خطاطي شوی او په ۱۳۲۸ کال کې د کابل د عمومي مطبعې په آفست کې چاپ شوی دی. مقدمه هم د استاد بېنوا له خوا پرې ليکل شوې چې د رحمان بابا د ژوند ګلونه په باب خورا په زړه پورې مواد لري.

د غه چاپي ديوان ټول "۲۶۰" مخونه دي چې (۱۳۰) پاڼې کېږي، په دغه ديوان کې (۳۳۸) پارچې راغلي دي او د ټولو بيتونو شمېر يې (۳۸۵۳) دی. دغه نسخه د رحمان بابا د نورو چاپي او خطي نسخو پر خلاف په يوه دفتر کې ترتيب او چاپ شوې ده.

**د پېښور د پښتو اکېډمۍ چاپ:** — کچه يې ۲۰×۱۴ سانتي متره ده. دغه چاپي ديوان د لومړي ځل له پاره د ۱۹۶۳ ع. کال د جولای د مياشتې په دېرشم نېټه د هغه وخت د پښتو اکېډمۍ د مشر مولانا عبدالقادر په تمهيد چې د ۱۳۶۸ هـ. کال د صفرالمظفر د مياشتې په ۱۸ نېټه يې چې د ۱۹۴۸ عيسوي کال د دسمبر له شلمې نېټې سره برابره ده کښلی، چاپ شوی دی د رحمان بابا دغه نسخه په دوو دفترونو کې چاپ شوې چې د مخونو شمېر يې (۲۸۵) ته رسېږي او مقدمه يې د الفبا په ترتيب ورسره چاپ شوې ده.

په دغه ديوان کې (۳٤٤) پارچې راغلي دي چې ټول (۳۷۰۰) بيته دي.

Marfat.com

**دپېښور قدیمې کتابخانې چاپ:-** درحمان بابا دغه چاپي دیوان کچه ۲۴×۱۵ سانتي متره ده، د پېښور د کالج د پروفیسر عبدالمجید او شاه افضل صاحب په سریزو په (۱۷۷) مخونو کې د پېښور د قصه خوانۍ د تاجرانو حاجي فضل احمد او حاجي عبدالرحیم له خوا چاپ شوی دی. دچاپ نېټه یې نه ده معلومه، د پاڼو شمېر یې (۳۴۷) او د بیتونو شمېر یې (۳۷۹٤) دی، دغه نسخه هم په دوو دفترونو کې ترتیب او چاپ شوې ده.

**دپېښور قصه خوانۍ چاپ:-** د دغې چاپي نسخې کچه هم ۲٤×۱۵ سانتي متره ده چې په ۱۹۲۰ عیسوي کال کې چاپ شوې او د مخونو شمېر یې (۱۸٤) دی. په دغه نسخه کې ټول (۳۲۱) پارچې راغلي او د بیتونو شمېر یې (۳۹۰۳) دی، دغه چاپي دیوان هم په دوو دفترونو کې ترتیب او چاپ شوی دی.

**دپښتو ټولنې د کتابتون خطي نسخې:-** د پښتو ټولنې په کتابتون کې درحمان بابا د دیوان دری خطي نسخې او یو قلمي جونګ چې درحمان بابا یو شمېر غزلې هم پکې دي شته چې په هره نسخه په بېلا بېل ډول خبرې کېږي.

**د "پ" لومړۍ نسخه:-** د "پ" د کتابتون د لومړۍ نسخې کچه ۲۲×۱۳ سانتي متره ده دا نسخه د سراو پای له خوا بشپړه ده، د مخونو شمېر یې (۲۵۱) او د پارچو شمېر یې (۳۱٤) دی، دغه نسخه د شاه زمان د سلطنت په مهال کې لیکل شوې ده.

Marfat.com

**د "پ" دویمه نسخه :-** د "پ" په کتابتون کې د رحمان بابا بله نسخه هم شته چې د دویمې نسخې په نامه نومول شوې ده، د دغې نسخې کچه ۲۲×۱۴ سانتي متره او د مخونو شمېر یې ۱۴۱ دی. د خطاطي کال او د خطاط نوم یې نه سکاري. دا نسخه نیمګړې ده او ټول ۲۴۹ پاڼې یې پکې راغلې دي.

**د "پ" دریمه نسخه :-** د "پ" د کتابتون دغه نسخه هم د سراو پای له خوا نیمګړې ده د مخونو شمېر یې ۱۳۱ او د پاڼو شمېر یې ۱۵۲ ته رسېږي او کچه یې ۱۶×۱۴ سانتي متره ده.

**د کابل پوهنتون د کتابتون نسخه :-** د کابل پوهنتون په لوی کتابتون کې هم د رحمان بابا د دیوان یوه قلمي نسخه شته چې د دغه انتقادي متن په تیارولو کې استفاده ترې شوې ده، د دغې نسخې کچه ۱۵×۷ انچه او د خطاطي کال یې نه دی معلوم خو ملا کمال د ملا ولي د زوی لخوا لیکل شوې ده ټول مخونه یې طلایي او سرجوکا نمونه لري. د پاڼو شمېر یې ۱۴۴ دی چې ټول له ۲۸۸ مخونه کېږي.

**د اطلاعاتو او کلتور د خطي کتابتون خطي نسخې :-** د اطلاعاتو او کلتور د وزارت په خطي کتابتون کې د رحمان بابا د دیوان پنځه قلمي نسخې شته چې د دغه انتقادي متن په تیارولو کې استفاده ترې شوې ده او په ترتیب سره خبرې پرې کېږي:

**د "خ" مصوره نسخه :-** د دغې نسخې کچه ۱۸×۱۲ سانتي متره ده دلیک د ډول یې نسخ دی د پاڼو شمېر یې ۱۸۳ ته رسېږي چې ټول ۳۶۶ مخونه کېږي ۲۹۸ غزلې او دوه مخمسه لري، پښتي یې کېږه، (۳۲) ښکلي عکسونه او یونیم مخ نقاشي لري، په کشمیر کې د ملا ولي په قلم لیکل شوې ده.

Marfat.com

د "خ" لومړی نسخه :- د "خ" ددغې نسخې کچه ۱۳X۱۹ سانتي متره او د لیک ډول یې نسخ دی ، دخرمنې پښتي لري.

دپانو شمیر یې (۱۶۰) دی چې (۳۲۰) مخونه کیږي (۳۵٤) غزلې او دوه مخمسه لري.

دغه نسخه په ۱۳۲۷ کال په کشمیر کې لیکل شوې ده.

د "خ" دویمه نسخه :- دخطي کتابتون ددغې نسخې کچه ۲۱X۳۳ سانتي متره او دلیک ډول یې نستعلیق دی

دپانو شمیر یې (۱۱۹) دی چې ټول ۳۳۸ مخه کیږي ۳۰۸ پارچې او دوه مخمسه لري.

پښتي نه لري او لیکونکی یې معلوم نه دی.

د "خ" دریمه نیمګړې نسخه :- دخطي کتابخانې ددغې نسخې لیکونکی نه دی معلوم. دسر او پای له خوا نیمګړې ده کچه یې ۱۷X۲٤ سانتي متره او کاغذي پښتي لري . دلیک ډول یې نسخ او ۵۶ پاڼې لري چې ۱۱۲ مخه کیږي او ټول (۱۸۰) پارچې پکې راغلې دي.

د "خ" څلورمه نسخه :- دخطي کتابتون ددغې نسخې لیکونکی هم نه دی معلوم. دلیک ډول یې نستعلیق

او کچه یې ۱۳X۲۱ سانتي متره ده ، پښتي یې کاغذي او دپانو شمیر یې ۱۷٤ دی چې ټول ۳٤۸ مخه کیږي ، ۳۲۹ پارچې پکې راغلې دي یو مینا تور لري او دهر غزل له پیل سره دبېرسنګلې او په زره پورې ګل کارۍ شوې ده .

دزلمي هیواد مل نسخې : له ښاغلي زلمي هیوادمل سره هم درحمان بابا دیوان دوې قلمي نسخې شته چې ددغه

انتقادي متن په تيارولو کې کار ترې اخيستل شوی دی او په لاندې توگه خبرې پرې کېږي:

لومړۍ نسخه :- د دغې نسخې کچه ۱۷ X ۱٤ سانتي متره ده، ټولې ۷٤ پاڼې لري چې ۱٤۸ مخه کېږي. خطاط يې ندی معلوم او په ۱۲۱۲ هـ.ق. کې ليکل شوې ده.

دويمه نسخه :- دغه نسخه ډېره زړه ده (۲۰۰) مخه لري او په هر مخ کې يې معمولاً (۱۸) بيته ليکل شوي دي چې په دغه حساب يې ټول بيتونه ۳٦۰۰ ته رسېږي.

د حبيب الله رفيع نسخې :- د ښاغلي حبيب الله رفيع په شخصي کتابتون کې هم د رحمان بابا د ديوان خلور خطي نسخې شته چې په دغه انتقادي متن کې استفاده ترې شوې ده چې دوې نسخې د ښاغلي احسان الله آرينزي له خوا ورکړل شوي دي او په لاندې توگه خبرې پرې کېږي:

لومړۍ نسخه :- يوه زړه نسخه ده سراوپای نه لري، د خطاط نوم او د ليکلو کال يې نه معلومېږي. د مخونو شمېر يې (۱۹۰) ته رسېږي، په هر مخ کې يې معمولاً پنځلس بيته راغلي دي د دوو دفترونو په وېش ليکل شوې ده او کچه يې ۱۷ X ۲۱ سانتي متره ده.

دويمه نسخه :- د ښاغلي رفيع د کتابتون دغه نسخه هم زړه ده. د سراوپاې پاڼې يې نشته. تر لاسه شوي مخونه يې ۱۷٤ دي. هر مخ يې ۱٤ بيتونه لري. ټول شعرونه يې په يوه دفتر کې راټول شوي

Marfat.com

او دوه دفترونه وېش نه لري. ترټولو نسخو زياتې غزلې لري او تقريباً يوه وتلې نسخه بلل کېدای شي. کچه يې ۱۷،۵×۲۱ سانتي متره ده.

**دريمه نسخه** :- د ښاغلي رفيع د کتابخانې د دغې نسخې د سر څو پاڼې لوېدلې دي. خطاط يې د ملاحسن زوی ملاقمرالدين دی. مخونه يې ۱۸۲ دي. او په هر مخ کې يې ۱۹ بيتونه راغلي دي. د غه نسخه په دوو دفترونو کې ترتيب شوې ده. ځينې رباعيات بيتونه هم لري او کچه يې ۱۵×۲۵ سانتي متره ده.

**د ملا شايسته خان جونګ** : د ښاغلي رفيع په کتابتون کې د ملا شايسته خان يو قلمي جونګ هم شته چې د رحمان بابا ځينې غزلې پکې راغلي دي او د غه انتقادي متن په برابرولو کې استفاده ترې شوې ده.

خيبرنيان محمد عارف غروال

Marfat.com

Marfat.com

اووه ټېيتم

# د پارکو لاربنود

## دلومړیو مسریو دلومړي توري له مخې

ترتیبوونکی: حبیب الله رفیع

دديّ لپاره چې د رحمان بابا د دیوان عنعنوي دود هم ساتل شوی وي، په دې لاربنود کې د هغو غزلو مسریو ته چې د دیوان په زړو چاپونو کې په دوم دفتر کې راغلي دستوري (*) نښه شوې او په دې ترتیب د لومړي او دوم دفتر وېش سره شوی او هغه غزلي چې نوي موندلي شوي له مسري سره یې کوچنۍ دایره (٥) کښلې شوې ده چې نوي موندل شوي غزلي په نښه کړي.

Marfat.com

اتہ شپېتم

# آ

مخ


آشنايي بده بلاده آشنا مه شي ٢٤٢

آفرين دعاشقانو په همت ٤٠


# ا


اعتماد به په دنيا کوې ترکومه ١٧٠

اورنګ زيب اوشاجهان غوندې اشراف ٧٩

* اورنګ زيب چې آرايش دتخت وتاج کا ١٩

اوښکې نه لري حساب زما دسترګو ١٢٢

اومه کله دي پاخه والي واعظ ٧٦

○ اې دنفس اودحرص په هوالبوه ٢٨٥

اې زما دزړه آرامه راشه راشه ١٥٥

ايښې مې په سر دې ستا دمخ دمينې ګل ٨٨


# ب


بادشاهانو که قمرونه کړل بنياد ٤٦

* بادشاهي لري هر يو غلام دستا ١٢

* باره وتره هله کښت، زراعت کړه ١٥٢

بداختر به نيك اختر نشي هرګز ٦٩

* بدلوې په دنيا دين اوايمان ولې؟ ٢٥٤

○ بلبلان که له ګلزاره مومي حظ ٧٧

* بوص تو مارا کجا ه ته هے ٢٧٦


Marfat.com

| | | |
|---|---|---|
| * | بیا دې مخ دی جار وتلی څه بلا شوه | ۱۷۷ |
| * | بیا دې نوې شراب څښلي دي پوهېږم | ۹۷ |
| | بیا مې زړه د تورو زلفو مسخر شه | ۱۵۸ |
| * | بېلتانه دې هسې خوار کړ زما دل | ۹۱ |


# پ


| | | |
|---|---|---|
| * | پاڅه یو ځله سېراب د عشق په جام شه | ۱۵۹ |
| o | پټ پناه مې په خاطر لگی او رونه | ۱۷۵ |
| * | پس له مرگه که څوک ارت غواړې خپل گور | ۹۵ |
| * | پورته بدن را ښکاره شو ښکته نمر | ۵۶ |
| * | په امید د گا ندهٔ ورځ زړور مه شه | ۱۶۰ |
| o | په اول کې تا د عشق وهلې لافې | ۲۴۵ |
| * | په بزرگه د څښتن پاک پروردگار | ۵۰ |
| | په پیرۍ کې چې هوس دی ناب کړې | ۲۱۷ |
| | په تنده چې آتش بل کړ مدام شمع | ۷۷ |
| * | په حالت د عاشقانو نظر بویه | ۱۷۹ |
| * | په ځوانۍ کې بد دماغه بدگمان یې | ۲۷۱ |
| * | په خاطر باندې مې ستا د غم غبار دی | ۱۸۸ |
| * | په خاطر مې غلبه شول ستا غمونه | ۱۷۴ |
| * | په دنیا کې که څه کار دی خود دین دی | ۲۰۰ |
| * | په دنیا کې که هر څو وبله پیوند وې | ۲۶۲ |
| * | په دنیا کې له دنیا گوښه کنار شه | ۱۵۷ |


Marfat.com

| | | |
|---|---|---|
| | په دنیا کې مخ د یار دی نور څه نشته | ١٣٦ |
| | په دوران مې هسې رنګ دلبر پیدا شه | ١٥٥ |
| | په ښادۍ ښاد شوی نه یم د هیڅیا | ١١ |
| | په ښایست زما د یار نه دي خبر څوک | ٨٥ |
| * | په ښه خوی له بدخواهانو بې پس وایم | ١٠١ |
| * | په طلب د هر ویانو سرګردان دي زما زړه | ٤٣ |
| | په ظاهر صورت چې ستا د در ګدای دی | ٢٠٩ |
| * | په لیمه کې مې مدام | ٩٣ |
| | په نامه د هغه خدای مې دا بیان دی | ١٩٥ |
| | په نظر د بې بصر | ٥٩ |
| * | په نور څه لیسې لې خدایه ژاړې ولې؟ | ٢٥٥ |
| * | په ورځ ناستې لې بې طلبه | ١٢٨ |
| * | په هر ځای چې ستا تماشې شیوه ګرې | ٢١٢ |
| * | په هر زړه چې د یار مینه شي غالبه | ١٣١ |
| | په یوه ذره به ورنه یا به مورې | ٢٧٠ |
| | په یوه غمزه د سترګو بې فنا شوم | ١٠٠ |


## ت


| | | |
|---|---|---|
| | تا چې په دا تورو سترګو وکاته وماته | ١٣١ |
| | تا چې رنګ د میو ورکړ ولبانو | ١٢٤ |
| | تا چې مخ دیرې سترګې د آهو کړې | ٢٢٤ |
| * | تا خوږ ده زما د زړه له احتیاجه | ١٣٧ |


Marfat.com

* تبسم مې د وګړي په روزګار شي ۲۳۰
* تر ابده وحې پوره به جفا کړي ۲۱۷
ترحد تېره شوه په يار پسې ژړا زما ۲٤
ترهغه حده پوره نه بد سړی شوم ۱۰۰
* تل به نه وي شګفته ګلزار د حُسن ۵۵
* تل دې ستا د خواب آلود وسترګو خواب وي ۲۵۹
ہ تل ژړا فرياد کړم د دلبر پر آستانه ۱۷۲
* تورلېمه مې د فراق په ژړا سپين شول ۹۲
ته په هره ګړۍ غم د سيم وزر خوړې ۲۱۵
ته چې خپله بې عقلي هوښياري بولې ۲۵۵
ته چې ما ته والې چې په چا باندې شيدا يې؟ ۲٦۷
* ته چې ما ته والې چې په خندا کوې ژړا ۱۰
* ته چې هسې ګاه يې ترش ګاه يې خندان ۱۱٤
* ته شها يې شکر لبه ۱۲۹
ته ناحق په ما کينه کړې کينه نا که ۱
هېر شو په دا طمع په در ستا عمر زما ۲۸۲
* تېر شو در ستا عمر زما په دا هوس ۷۱

## چ

چا چې کړې و دنيا و ته اسرې دي ۲۱۱
* چا چې لمرې وي په خپلو وېنو وللې ۲۲۷
* چې امېد په عمارت د دې جهان کا ۲۲

Marfat.com

* چې امید په عمارت د دې د نیا کا ١٧
چې بر هم کا عاشقي د چا مزاج ٤٢
چې پای بند شو د لیلی په اشتیاق ٨٠
* چې پخته شي آشنايي ٢٦٧
* چې په زړه مې تور لحد شي د خپل خاك ٨٢
چې په رود ورسره نه يې برابر ٥٧
چې په سترګو کې يې خار وي خضر به خوب کا ١٨
* چې په مخ باندې دا وسکو يو رقم وي ٢٦٥
چې په نورخه پورې زړه تړي يې خدايه ١٧٩
* چې په وخت د ځنکدن وکا رې نه ميره ١٤٦
چې پيدا شوه ستا چشمان دا هسې شوخ ٤٦
* چې تر سنګ او تر آهنه يې زړه سخت دی ١٨٦
چې خبر شوم د ساقي د جام له راحه ١٣٧
* چې خپه يې د سېلاب په مخ شوه لکه ١٦٧
* چې دار و د درد و غم دی هغه می ٢٧٤
* چې دا هسې لاس په لاس دنيا پرېښودي ٢٠٢
* چې د ځنګه مې دلبر په لاس کې جام دی ١٩٤
○ چې دوې سنځې وي د چا ٤
چې دې زړه دی پرې ترلی استوار ٥١
* چې رته د يار منو نه بې چې رته غم د دل وجان ١١٦
* چې سړی له بله بد والي بد ګوی شي ٢٤٤

Marfat.com

| | | |
|---|---|---|
| | چې شهید د تورو سترګو په خنجر شي | ۲۳۱ |
| ○ | چې ښکاره شو رانه راز د یار له پټه | ۱۹۳ |
| | چې علاج کولی نه شي د قسمت څوک | ۸٤ |
| * | چې غبار د ستا له لارې په خوا ورشي | ۲۳۲ |
| | چې غرقاب شي تر و چشمان په یم د زړه | ۱۵۰ |
| * | چې کوتلي وي په تیغ ستا د چشمانو | ۱۲٤ |
| | چې له تاسره په سر کاندې سودا | ۱۵ |
| * | چې له سترګو مې خوناب د زړه عیان شه | ۱۶۱ |
| * | چې له مرګه بې پروا یې په هر دم | ۹۸ |
| * | چې له نازه پوشیده لرې چشمان خپل | ۹۱ |
| * | چې مجنون غوندې یو موټی استخوان شي | ۲٤۱ |
| * | چې مدام د بل وعیب و ته نظر کړې | ۲۱۸ |
| | چې مشغول نه وي د ترکو په جمال څوک | ۸۶ |
| * | چې مې مینه خدای په تا باندې پیدا کړه | ۱۵۱ |
| * | چې مې یار ولید په سینه داغ اغیار ګله | ٤۹ |
| | چې نصیب یې سینه چاکه زړه افګار شه | ۱۵۶ |
| | چې نظر کړم په قسمت او په نصیب | ۳۸ |
| * | چې نظر کړم د خوبانو ورخسار ته | ۱۳۲ |
| | چې واده یې که په ډول او په سرنا | ۲۸ |
| | چې وصال د خپل جانان مې دې موندلی | ۲۵۳ |
| | چې ویلې مې له تا دی دا حدیث | ٤۲ |


Marfat.com

* ما ددهن غم وهلی دی په لته ۱۲۳
* ما دستا لمن ته اچولی داخپل ځان دی ۱۹٤
* ما سحر سبا لیدلی و د چپا مخ ٤٥
* ما وې زه به نه کړم په خوبانو باندې مینه ۱۷٦
* مخ ته که دې نمر والم د نمر زلفې تار تار نشته ۱۳٥
* مخ د یار شمس و قمر دی واړه یو دې ۲۰۱
* مدام ناست یم وچ ګوګل ستړګې په نم کې ۲٤۹
○ مست د هغه مخ یم چې مستانې لرې سترګې ۲۸۷
* مغرور مه اوسه دعشق په کاروبار کې ۲٤۸
مه غوږ باسه د نااهلو قیل وقال ۹۰


## ن


○ نن نګار وما ته راکړ د یارۍ خط ۷٦
* نه رسېږي ستا وحسن وته حوره ۱٤٥
* ندیم خوښ د سروګلونو په سایا زه ۱٥۳


## و


* وخت دعیش وطرب تېر شو خزان راغی ۲٤٥
* وخت د نوبهار دی زه جدا له خپله یاره ۱٤۲
* وخوبانو وته ولې نظر نه کړې ۲۲٦
ورځ چې بده شي عاقل ودانا خه کا ۲۱
* ورځ دې تېره په شومه کړه شپه له خوابه ۱۲۸
ورقونه لتوم د هر مکتوب ۲۸


Marfat.com

خو به وران شي د دنیا بازاره ناره ۱٤۹
* خوزما په ورمېږه ماتول شېږ لي ۲٦۹
* خوی که په داشان وي دل آزار ستا ۱۳

د

داچې مست په میو راغی یار دچا دی ۱۸٤
داخه مخ دی منور ٥٤
دادنیا ده بې وفا ۱۱
* داژوندي چې معلومېږي واره مړه دي ۲۰۸
* داشنا له لاسه ناست یم په زړه ستړې ۲۲۰
* دا بوخ نګه ژوندون بی نه پوهېږم ۹۷
* دبلبل له حاله زده کړه په خزان کې ۲٥۰
دبې درد و همدمي به دې لې درد کا ۱۹
○ دپېښور انغی دی زیب کا په لبانو ۱۲۹
دخپل ځان له خاکساري نه بلند شوم ۲۸٤
دد لبرو په درګاه ۱۲۷
* ددنیا د سود د پاره غمګین مه شه ۱٥۹
ددنیا کاروبنه واره غولول دي ۱۹۳
* دربغه ولبدی یو ځل هغه مخونه ۱۷٥
د زړه حال وتا ته څه وایم په ژبه ۲۸۸
دساقي په لاس کې جام د میو ناب دی ۱۸٥
* دستاد رد به په تمام جهان ورنه کړم ۹۷

Marfat.com

* دسکوت په تیغ چې ژبه بریده شي ۲۴۴
دعاشق بې خپاره یاره قرار نه شي ۲۴۳
دعاشق نظر په خوږو په خواب نه دی ۲۰۴
دعشق زخم څه دزخم په شان نه دی ۲۰۴
دغه یار دی دا اغیار ۵۳
دلربا که دخپل حسن مخ عیان کا ۲۸۳
دلرمخ چې ستا له مخه نه شرمېږي ۲۲۷
دل و دین مې هغې ترکې کړ رها ۲۹
دنیا دار دد نیا کار کا زه ددین ۱۱۳
دنیا دار که مستغني په سیم وزر دی ۱۹۰
دواړه سترګې مې کږې دستا په لوري ۱۹۱
* دوباره دې راتله نشته په دنیا ۲
* دوصال په هوا والوتې مرغه شوې ۲۶۴
* دوصال شپه مې بدله په ببلتون شوه الغیاث ۴۱
دهجران له ډېره غمه ولې نه مرم ۹۴
○ دهغو چې په هجران شي سینه داغه ۱۹۳
* دهغو چې وبله تهر ومحبت ویې ۲۹۰
* دهغې بنا چې لوم محنت آبادوي ۲۶۱

## ډ

* ډېر عمر مې تېر کړ بېهوده په زمانه ۱۷۱
ډېر یاران وو دګل خان او جمال خان ۱۱۰

Marfat.com

* د یرې خولې زما په یاد شکر خورې شوې ۲۷۵

## ر

راشه مه کوه له چا سره جفا ۷

* راکوی د بېلېدو که پیغورونه ۱۷۳

## ز

○ زړه مدام راته وېل چې ژاړه ژاړه ۱۴۸

* زړه مې بایلو ستا په مهر و محبت کې ۲۴۷

* زړه مې بې له خپل نگاره آرام نه کا ۲۲

زړه مې تراشي د بڼو په تېره نوك ۸۳

* زړه مې ډوب ډوب کېږي ستا د غم په غلبو کې ۲۵۱

* زړه مې ستا په ذکر و فکر گلستان دی ۱۹۸

* زړه مې ورکړ و خود رای ۱۸۰

زغره واغونده ملا وتړه په جنگ ۸۷

* زلفې دې له ډېرې درازه په پای تر سر دی ۱۸۹

* زما اوښکې چې داهسې شست و شو کا ۲۱

* زه بلبل ستا د وصال یم بوستان خو دی ۲۰۲

* زه په سل رنگه راغب ۳۹

* زه تېر شوی یم ترسر ۵۶

زه داهسې دېوانه او مجنون چا کړم ۹۶

* زه د ستا له غمه زارم واره وینې ۲۷۲

* زه د یار په درد و غم کې شادمان یم ۱۰۵


Marfat.com

* زه د يار په درد و غم کې غرقاب خونين يم ۱۰۴
زه عار نه لرم په عشق کې له پيغوره ۱٤٤
زه کړلافه د وفا کوم هر چند ٤۸
زه له دې جهانه تلونې په شتاب يم ۱۰۱
زه يو دم دستا له غمه بې غمه نه يم ۱۰۸

# ژ

ژوبل ژوبل د ترکانو په نگاه يم ۱۰۶
* ژوندي کاندې د دنيا کاروبار ونه ۱۷٤

# س

ساقي پورته شه د ميو جام تيار کړه ۱۵۰
○ ساقي راکړه ته و ما ته جام درقص ۷٤
* سپين رخسار و مشکين خال دې و بله ضم دي ۱۹٤
سپين مخونه تور کوري شي په پيرې کې ۲۵۲
ستا په خبر نه دي خوبان لېدلي ما ۲۷
* ستا په عشق کې د وغږن يم سرتر سره ۱٤۳
ستا په عشق کې هسې خلاص يم له شعوره ۱٤۷
* ستا په مخ کې چې حساب د جمال نشته ۱۳٤
* ستا جفا تر حده پهوړ ته ده صنمه ۲۷۸
ستا د تور و ستر گو په ياد داشتې اوبکې اوري ۲۱٤
ستا د عشق حرفونه تور نه دي گلگون دي ۱۹۹
* ستا د مينې گوهر نشته په هر آب کې ۲٤۶

Marfat.com

* ستادې خواب آلودو سترګو خواب راتخړیوړ — ۹۹
ستا له رحمه به زه ولې نا امیدی کړم — ۲۸۶
* ستا له غمه مې په سر کې هسې شور دی — ۱۹۱
* ستا له غمه مې په مخ باندې ولې دي — ۲۱۱
* ستا له لاسه په ما جور دی که داد دی — ۱۸۷
* ستا وصال دی را بښلی زما روح — ٤٤
* سر زما سامان زما، ځار شه تر جانان زما — ۲۶
o سرې په کار نه دي چې لې ستا تر سر قربان کړم — ۹۵
* سل ځله که وخورې ناصحان ځیګر زما — ۲۵

ش

o شمع د دلبر سترګې عاشق پرې پروانه — ۱۷۰

ښ

* ښخ مې ستا د ښو غشي په سینه دي — ۲۰۳
ښه ده ښه ده دا دنیا — ۵

ص

* صبحدم چې هغه یار را باندې راشي — ۲۲۸
* صبح وشام مې لاس ښولي دي دعا کړم — ۹۶

ط

طمع مه کړه په دنیا کې د نشاط — ۷۵

ع

* عاشقان د ناصحانو وینا نه کا — ۲۳

Marfat.com

* عاشقان دي په اور سوي دي که نه دی ۲۰۷
عاشقي را باندې سورې کړي مرنی ۲۱۳
عاشقۍ مې لې په زړه وکړ گوزر بيا ۳۰
عالمان دي روښنايي ددې د نيا ۱۰

# غ

* غمخواري دا هسې چېرې وې غمخوري ۲۱۵
* غم دې هسې غلبه شو په ما باندې ۲۰۰
غواصان که گوهر غواړي گوهر داري ۱۸٤

# ف

* فراموش مې دې دستا په مينه ځان ۱۱۹

# ک

* کرد گلو کړه چې سپمه دې گلزار شي ۲۲۸
* کشکې زه خاوره اېره دستاد دروازې ۱۸۱
* کله شولا کله خېدا ريم ستا د غم ۴۵
* کمينې يو نادر د کار دی ۱۸۹
که لې ځا يه زړکې نه وسکې آواز ۶۹
* که څوا تر آشنا لحه وی بېلتون ۱۲۰
که په بخت کم بختان نه وای خسته دل خوك ۲۸۳،۸۷
* که په سرد مغه يار له لاسه سنگ خورم ۹۵
* که په عقل پسې ولاړم په کار نه شم ۱۶۲
که په قطع د تمام جهان ملك يې ۲۸۷

Marfat.com

| | |
|---|---|
| كه په ګنج د شاهي فخر شهرياركا | ٢٠ |
| * كه په هجر كي خوك ما پوښتي له حاله | ١٦٨ |
| ٥ كه تر ستوني دې شي ګوټ له جام خاص | ٧٣ |
| * كه تري ولوښته شاهان او سلطانان | ١١٤ |
| كه ته نه كړې په بل چا باندې غرض | ٧٤ |
| كه خوك فخر كا په ننګ او په ناموس | ٧١ |
| كه خوك لاس له سوده و كا بې زيان شته | ١٣٥ |
| كه خوك يار په جهان غواړي يار دې دا | ١٤ |
| * كه خه وايم له هجرانه وايم خه | ١٣٩ |
| كه خپل زړه غواړې له چا | ١١ |
| * كه د خلقو و نظر ته آدمي دی | ٢١٠ |
| * كه د درستې دنيا غم مې په سر بار وي | ٢٦٢ |
| كه د زړو مېړو سروي خوځي مرشي | ٢٣٤ |
| * كه د زړه په وينو رنګ د چا ګو ګل شي | ٢٤٠ |
| * كه د ستا د خاطر مينه په اغيار وي | ٢٦٤ |
| كه د عشق خبر بې تېرې تر ګلو كړې | ٢٢٣ |
| كه د عشق لاره اغزنه ده هر ګوره | ٦٤ |
| * كه د عقل خه اثر لرې و سر ته | ١٣٢ |
| كه دلدار په دلدارۍ زما قدم ر دي | ١٩٢ |
| ٥ كه دې پرې كړه له وګړيو رښتيا طمع | ٧٨ |
| * كه دې غم د درست جهان ترزړه چا پرشي | ٢٣٢ |


Marfat.com

* که زما مینه په تا د ه خطا نه ده ۱٤۰
* که ستا خپله سیاه رولي نه وي دښمنه ۱۷۶
* که سري د خپلي پوهي تقصیر نه کا ۲۳
* که سل ځله هم کنار وهم بغل شي ۲۳۹
که صورت د محمد نه وی پید ا ۲
که قاصدي د مقصود ٤۷
○ که ګوهر د عشق په لاس راکړی غواص ۷۳
* که له تالي شرم نه کیدی مهریه ۲۱٤
* که له دبره غمه دم د چا ختی ۲۷٤
* که له مخه یوه خوا کا حجابونه ۱۷۲
* که ما بنام ترستوني ښکته کړي حلوا ۲۹
* که مطلب ومدعا د سري خدای دی ۲۰۹
که مي خوك په فقیري شمېري فقیر یم ۱۰۳
که مین یي په خپل یار باندي رښتیا ۳۰
که مي وشي له دلبره ملاقات ۳۱
که مي ونمانځي ساقي په یوه جام ۹٤
○ که مي یار په د یدن سرغاري عوض ۷۵
که نظر په ما توګو د و دروزګار کړي ۲۲۵
که نظر کا خوك په کار د درویشانو ۱۲۵
* که هزار ځله نژدي د زړه په یاد یم ۱۰۲
* که هرڅو په صحرا سرشوم هم په کلیو ۱۲۶

Marfat.com

* که یو ځل مې هغه یار ولیدی دریغه ۱۶۴
* که یې هم ومحبت که یې عناد دی ۱۸۷

گ

گاه په غاړه مې سوځګې رېږي په ساړه ۱۶۸
* ګوره بیا به خوك ادا په زړه کا غونډ ۱۴۱
ګوره څه بلند مقام دی د اخلاص ۷۲
ګوره هسې کردګار دی رب زما ۱
* ګېږه وتړه په پړی سره کلکه ۱۶۸

ل

* لاس مې وتړې د زلفو په طناب ۳۷
لګه کاندې په کوش ونظر باز ۶۸
* له اغیار سره خندا څه په کار نه ده ۱۴۰
o له چشمانو مې د غمه اوښې اورېږي ۲۱۶
له دې کته له یوزیه خوبه ولاړ شې ۲۳۳
* له هغو سره به څه فکر د یار وي ۲۶۳

م

* ما به ولې کړ فریاد او فغان دریغه ۱۶۴
ما په تا پسې د اسپینې جامې رنګ کړې ۲۲۲
* ماتو بې مې خوله په سوك ۸۳
ما چې جور وجفا بیا موندله له یاره ۱۴۲
* ما چې سترګې وکړلې نه وار ولې ۲۵۳


Marfat.com

* چې هرچا لبــــدلی نه وي يار زما ۲۹
○ چې هردم له خپله ځانه گرېزان يم ۱۰۶
* چې لې نقش په زړه خيال شي دا آشنا ۲۸
چې لې ولبر دستا حسن لې حسابه ۳۹


## خ


* خوبه شرم زه غمــونـه د هجـران ۱۱۷
* خوبه صبر په جفا د يار کوم ۹۹
○ خوبه هسې آزادي په دا جهان کړې ۲۲۱
* خو ترميانه ورانه نه کړې دتن پوله ۱۶۹
خو جفا قبوله نه کړې د اغيـــار ۵۲
خوك دې راکاندې قسم په کردگار ۵۳
* خو يو ځل دې تاراج په جفا نه کا ۲۱
خه شو که خاموش يم ستا دعشق له آه سره ۱۳۹


## خ


* خان سلطــان دي جهان ۱۱۸
خبر نه يم چې لې را وستم له کومه ۱۶۹
* خدای دې وژغوره له هرې پرېشـانی ۲۷۱
* خدا يه څه شوه هغه ښکلي ښکلي خلق ۸۲
خدايه زړه د رقيب نرم په احسان کړې ۲۲۱
* خدايه مه کړه ناامېد هغه وگړي ۲۱۹
* خراب زړه مې د دلبرو هـوا ليوور ۹۷


Marfat.com

وړاڼ شه وړاڼ شه بد کردار او بد سیري ۲۷۳
* ورکه عاشقي شه هم یې نوم هم یې نښان ۱۱۸
* ولې تللی یې له ما مدام په خه ۱۳۸
* ولې نه ګورې وما ته سم په خه ۱۳۸
* ولې ولې وعاشق ته نظر نه کړې ۲۲۶
ومحمود وته نظر کړه مدام ۹٤
* وبښته سپین سترګې تاریکې غاښ کند لاس ۷۰


## ه


○ هرچې خپلې میني خوار کړ خوار یې مه ګڼه ۲۸٤
هرچې ستا په ځان کې یې منزل شي ۲۳۹
* هرچې ستا ګوښه ما واکا ۱٦
هرچې کښت یې په باران او په سیلاب وي ۲۵۷
هرچې نه وي خوار و زار ٥٤
* هرچې وویني په سترګو روی دستا ۱۳
* هرساعت زما دغوږ په تا وولو ۱۲۳
* هرساعت که خه ګوزران دې یې مخلصه ۱٦۲
هرګفتار هر ویناچې خولګ عبس کا ۲۸۲
* هرمطرب چې غوږې تاوکا درباب ۳۷
هرنګار چې یې وفا دې نګار نه دی ۲۰٦
* هروګړی چې منصور غوندې په دار شي ۲۲۹
هریوګل دستا دباغ ، روښن تر دې تر چراغ ۷۸


Marfat.com

* هسې بې یاره خفه یم په جهان کې ۲۵۰
هسې تله کاندې وګوره یاران ژړژړ ۵۷
هسې تېز ده ومې د و ر ا ن ۱۰۹
هسې خوش یم ستا د ر په خاکسارۍ کې ۲۵۱
* هسې د وب یم ستا د غم په دریاب تللی ۲۵۶
* هسې رنګ نعمت راکړی خدای ومادی ۱۸۳
هسې مست یم ستا د شونډو په شراب ۳۵
هسې نه چې زما یار وار ه جفا که ۱۶۷
* هسې یاد لې همېشه مدام زما ۲۵
هسې یمه یاره ستا په غم تازه ۱۵۲
هغو بیامونډ سعادت په دا دنیا ۳۱
هغه دم چې زړه ملال شي ۲۳٤
هغه زړه چې خدای روښان کا جام د جم شي ۲٤۰
* هغه زړه چې ستا د عشق په اور کباب کې ۱۸۵
هغه ژوی چې بې خدایه محبت کا ۱۹
هغه ژوی چې مین وي خه بد خو کا ۱۷
هغه یار چې بې وفادی خه یار نه دی ۲۰۷
* هغه یار چې سنایسته دی تر آفتا به ۲۷۹
همېشه دې زما سرا و ستا قدم وې ۲٦٦
هوښیار مه ګڼه هوښیار د دې د نیا ۳۳
هومره اوښکې مې بهېږي په رخسار ۵۱


Marfat.com

* هيڅ ثابته نه کړه چا دي دنيا وفا ٤
هيڅ مي نه زده نه پوهيږم داخه پېښه ١٥٨
هيڅ مي نه کړه په دا عمر کي حاصل ٨٩
هيڅوک مه شه گرفتار د تور وزلفو ١٢١

# ی

○ يادا ستا چشم وابروويم په خواب کي ٢٤٦، ٢٨٦
يادوي په خوله مکه او مدينه ١٧٧
* يار ياري راسره نه کا الغياث ٤١
○ يو ځل ولبدى ديار پريشاني زلفي ٢٥٢
* يو بو داغ په تن ابسى دمرچا دى ١٨٢

Marfat.com

Marfat.com

بسم الله الرحمن الرحيم

وره هستي كردگار دى رب زما | چې صاحب د كل اختيار دى رب زما
هماي بزرگواران چې خوك يې وي | تر همه وُ بزرگوار دى رب زما
نه يې هيڅ حاجت په چا باندې موقوف دى | نه د هيچا منت بار دى رب زما
له نيستي يې د هستي صورت پيدا كا | هسي رنگ پروردگار دى رب زما
هم صانع دى د جمله وُ مصنوعاتو | هم سامع د هر گفتار دى رب زما
چې يې هيچ پري نه مثل نه مثال شته | د هغو عطر و عطار دى رب زما
هر نعمت چې د دنيا او د عقبى دى | د همه وار و معمار دى رب زما
خوانند ه د نانويسو صحيفو دى | دانند ه د هر اسرار دى رب زما
كه ظاهر دى كه باطن دى كه مابين دى | له همه وُ خبردار دى رب زما
كه پيدا كه پوشيده دى كه اوسط دى | په همه وُ وقوف دار دى رب زما (١)
شريك نه لري په خپله بادشاهي كې | بې شريكه شهريار دى رب زما
هسي نه چې واحد يې يه ده له عجزه | په واحد وجود بسيار دى رب زما
خه حاجت دى چې وبل خوانه يې غوارم (٢) | په خپل كور كې همكنار دى رب زما
حاجت نه لري د هيچا و يارى ته (٣) | له هغو سره چې يار دى رب زما

هيڅ تغير او تبديل نه لري ذاتي
تل تر تله برقرار دى رب زما



(١) دا بيت د "ب" ... په قلمي نسخه او د ظهور د وزارت په دوو قلمي نسخو كې نه دى راغلى.
(٢) قلمي نسخې: "خه حاجت دى چې يې بله خوا ته غوارم".
(٣) د "ب" په نسخه كې "حاجت نشته د نور چا و يارى ته"، د "خ" په اوله نسخه كې "حاجت نه لري د نورچا و يارى ته" او په دويمه نسخه كې "حاجت نه لري د نورو و يارى ته" راغلى دى.

Marfat.com

که صورت د محمد (صلعم) نه وی پیدا  پیدا کړې به خدای نه وه دا دنیا
کل جهان د محمد په مخ پیدا شو  محمد دی د تمام جهان آبا
نبوت په محمد باندې تمام شو  نشته پس له محمده انبیا
نور هاله د محمد و پیدا شوی  چې نه عرش و نه کرسي وه نه سما
بوی هاله د محمد و په جهان کې  چې بوی نه و د آدم او د حوا(۱)
که صورت یې آخرین دی پیدا شوی(۲)  په معنی کې اولین دی ترهر چا
که نبي دی که ولي دی که عاصي دی  محمد دی د همه واړو پیشوا
چې یې دین د محمد دی قبول کړی(۳)  جنتي دی که فاسق دی که پارسا
محمد د ګمراهانو رهنما دی  محمد دی د ړندو د لاس عصا
که زیاده پیروي د محمد ده  ګڼه نشته په جهان بله رڼا
محمد د بېچاره وو چاره ګر دی  محمد دی هر درد منده دوا
خدای یې مه ګڼه بېشکه چې بنده دی  نور یې کل واړه صفات دی په رښتیا(۴)

زه ناصح د محمد د در خاکروب یم
که مې نه کا خدای له دې دره جدا(۵)

۲  ۲۸

دوباره دې راتله نشته په دنیا  نن دې وخت دی که دروغ کړې که رښتیا(۶)
هر چا چې تېر وخت تېره شي عنقا شي  عنقا نه دی په دام نښتي د هېچا
تېر وخت تېرې اوبه بېرته نه چا روزي  نه چا روزي تېر ساعت په بېرته بیا
تېر ساعت په مثال مړي د لحد دی  مړي چا نه دي ژوندي کړي په ژړا(۷)
که مقصود لرې تلوار کړه وخت کوتاه دی(۸)  غره مه شه د دې عمر په بقا

---

(۱) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نه دی راغلی.
(۲) "ب" په نسخه کې: "خه شو که صورت یې آخرین دی پیدا شوي". د "خ" په لومړی نسخه کې: "که صورت یې آخرین و پیدا شوی"، په دوهمه نسخه کې: "په دا خه شو که صورت یې آخرین دی پیدا شوی"
"ب" چاپ: "په صورت که آخرین دی پیدا شوی  په معنی کې اولین دی له هر چا".
پېښور چاپ: "که صورت یې پیدا شوی آخرین دی  په معنی کې اولین دی تر هر چا".
(۳) "خ" په لومړی نسخه کې: "چې چا دین د محمد دی قبول کړی".
(۴) "ب" لومړی نسخه او "خ" په دوهمه نسخه کې: "نور محمد واړه صفات دی په رښتیا".
(۵) "ب" چاپ: "که مې خدای نه کا له دې دره جدا".
(۶) دا غزل په مصور نسخه او "ب" په دوهمه نسخه کې نشته، په چاپي دیوانونو کې د دوهمې مسرې د "وخت" پر ځای "وار" راغلی دی.
(۷) قلمي نسخې او "ب" چاپ: "مړي چا نه دي ژوندي کړي په دنیا".
(۸) "ب" او "ک" چاپ: "که مقصود لرې په زړه کې وخت کوتاه دی".

Marfat.com

هره نسبه چې صحیح کړې په ژړه کې
په غرور به دغه[1] نسبه کړې خطا

په امید امیدې خلق نا امید کړل
دا ایام له ملکه مه شه لې بیو وا

چې د مرګ په تما چه دې شي خوله ماته
تر وبه ماته خوله به څرنګ کړې ثنا[2]

وینډلي اتیني چې وینا والي[3]
تا ته والي که پوهیږې دا وینا

هلاك نه لې چې په زور دې خوك تعلیم کا
هم عاقل یې هم بالغ یې هم دانا

په حمل د نیك و بد و فهم[4] وکړه
چې په دا کې دې بهبود دی که په دا

سر د نه په ګریوان کړه سترګې روڼې
ډېر په پوره پوره ته مه ځه سر هوا

سر هوا سر هوا مه ځه و آسمان ته
ته په اصل کې له خاکې یې پیدا

د حمل په ځای به دا پوښتنه نه وي
چې ته زوی یې یا نمسی یې د فلانا[5]

په خپل ځان ښېګڼه وکړه غره مه شه
په ښېګڼه دادې او د بابا[6]

هغه ناوې چې په ځان ښایسته نه وي
خوك یې څه کاندې ښایست د مور و نیا[7]

دا خبره زه و ځان[8] ته کړم اې یاره
دلګیر مه شه کړې نوم واخیست د ستا

نوم د ستا او د بل اخلم ځان ته والم
دا عیبونه دي همه واړه زما[9]

هر چې والم همه واړه ځان ته وایم
نه مې کار نه مې غرض شته په نو چا[10]

هر چې والم همه واړه ځان ته وایم
دا عیبونه دي همه واړه زما[11]

که مې ځای د دې غونو وي په ژړه کې
ما به خدلن کوله دا انشا

چې د مرګ سختې خوارې دا ستا په خوا دې[12]
اې [illegible] ولې نه مرې لا پخوا

۳ — ۵۰

(۱) [illegible]
(۲) [illegible]
(۳) [illegible] وینډلي اتیني چې وینا والي
(۴) [illegible]
(۵) [illegible]
(۶) [illegible]
(۷) [illegible]
(۸) [illegible]
(۹) [illegible] نه مې کار نه مې غرض شته په بل چا
(۱۰) [illegible]
(۱۱) [illegible]
(۱۲) [illegible] چې د مرګ سختي خوارې دي په خوا دي [illegible] چې د مرګ سختي خوارې دي لا په خوا دي

Marfat.com

هیڅ ثابته نه کړه چا دی دنیا وفا — وایه میني کاندي بېهوده په دا دنیا[1]

هر څوک چې دعوی په دا دنیا کا دخپلو یه — وایه باطل وایي دنیا نه ده دهچا

دا فلک کلال دی سانول او ماتول کا — د بن چې ما وتا غوندي پیدا کړه هم فنا

هر سنګ و کلوخ چې څرګند بني دی د بې دم — وایه ګکړی دي څوک دشاه څوک دګدا[2]

دام دی هیڅوک نه بې دی د دنیا و هګلته — سنګان به و کړي نه شي د سیمرغ او د عنقا[3]

هر څوک چې له دې فاني نفس وابستګي کا — نه به شي ترلې په خنځیر سره هوا[4]

ماه دی که آفتاب دی عاقبت وایه خراب دی — ګاکه هميشه وي هسې نه تر ابدا[5]

مه د[illegible] مه [illegible] په خلاف د دا نایانو

مینه د دنیا یسندلې نه ده هیڅ دانا

٥٨ — ٤

چې دوی بنځې وي د چا — هم سنې وي هم پارسا[6]

خدمت کوونې دخښتن وي — په بند خوی وي اراستا

تفاوت یکې حرام دی — که شري وي که خاصا

لازم دا دی وخښتن ته — تفاوت دې نه کا بیا

په خولګه په پوښاک کې — که کښېني که حدوا[7]

او که داهسې به نه کا — خیل تحمل به کا بېدیا

یو دې په مجنون و مري — بل هورې به شي رسوا

دا حدیث دی وا[illegible] دشوی — که څوک فهم کړ په دا

هغه څوک چې تفاوت کا — زه ویزا[illegible] دی لرما

په مشکوة کې دی دا غلي — ورشه وپوښته علما

[illegible] زغوري یو خدایه

له عذابه له خطا

٦٩ — ٥

(١) [illegible] په دوهم نسخه [illegible] چاپي [illegible] د [illegible] په لومړي او مصر نسخې [illegible] بېهوده [illegible] بې وفا [illegible] غلط دی.

(٢) [illegible] وایه ګکړی دي څوک دشاه و دګدا:

(٣) [illegible] مصر نسخې [illegible]

(٤) [illegible] چاپ [illegible] کله شي ترلې په خنځیر سره هوا:

(٥) [illegible] لومړی [illegible] چاپ کې داسې دي: "ماه دی که آفتاب دی همګې وایه خرابېږي [illegible] همېشه وي هسې تر ابدا:" [illegible] تل که همېشه وي هسې نه تر ابدا:

(٦) [illegible] ١٩٤٧ کال [illegible] نقل شو او [illegible] د [illegible] نسخې [illegible] درسته [illegible].

(٧) [illegible] خدوا [illegible] معنی [illegible] حدوا [illegible] معنی [illegible] دی.

Marfat.com

ښه دې ښه دې دا دنیا — چې تو ښه دې د عقبا
مذمت د دنیا مه کړه — واوره پند کړه د اوینا
د دنیا په بازار کښې — ده هغه جهان سودا
په دنیا کې ډېر حکمت دی — پرې پوهېږي حکما[1]
که علم لره یې ورکړې — علیم دوست کا په هوا
که تر سر یې صدقه کړې — رفع دفع کا بلا
که په اور بانډي یې کښېږدي — بوی د عود و کا پیدا
که یې توبه په صحرا کړې[2] — بنایسته کاندي صحرا
که یې نذر کړې و پیر ته[3] — خوشحال دې روحي په خندا
خوږ وندې وي په جهان کې — یاد وي دې په دعا
د حاتم په خبر دې ستایي — خطاب درکا د سخا
سخي هر یو د خدای دوست دی — وَلَوْ کَانَ فَاسِقًا
هر بخیل د خدای دښمن دی — وَلَوْ کَانَ زَاهِدًا
دنیا کښت د آخرت دی — دا خبره ده د ښتیا
د دنیا طالبان ډېر دي — که یې مومي خوک لږ چا
ولې مرد یکې هغه دی — چې سخي وي هم پارسا
په دنیا کې بدي نشته — که بدي نه وي له تا[4]
په دنیا کې خطا نشته — که له تا نه وي خطا[5]
دنیا بحر دی ښېښه یې — اینه غوندې صفا
خپل خپل مخ پکې لیده شي — که خوک زښت وي که زیبا
هم خطر پکې د سر شته — هم ګوهر دی بې بها
وفادار لره وفا شوه[6] — جفاکار لره جفا
له یوه مخه یې درد وي — له بل مخه یې دوا[7]

---

1) پښتو چاپ او قلمي نسخې: [illegible] ښه وي [illegible] حکما. (2) [illegible]
2) [illegible] که یې ورکړې وفقیرته. (5) [illegible]
3) [illegible] نشته. (6) [illegible] وفادار لره وفا شو
4) [illegible] (7) [illegible] له یوه مخه دوا

چې ته خوند کاندې د زهد / چې ته خوند کا د حلوا
کار هم واړه موقوف دی / د سړي په مدعا
سالکان دې نن دا اچې شي / د خپل ځان په تماشا
هیڅ کار هغه به موم ي / دنیا ځای دی د جزا
لکه وي هسې به پاڅي / که نادان وي که دانا
فتوی و نیسه په مخ کې / پسې مه ته کړه په تقوا
دنیا نده هغه دین دی / چې له لمي وي سپوا
وطاعت و ته ولاړ وي / همیشه ترلې مسلا
لړامو لې پرهېز وي / هم مشغول په پنځ بنا (1)
کلمې وي قبول له / هم په جهر هم خفا (2)
د دنیا د کار د پاره / فرض لمونځ نه کاندي قضا (3)
هم صائم د رمضان وي (4) / هم زکوة کاندي ادا
کړي تول د حج سېړي / حج هم وکا پسې بیا
دا پنځه بنا د دین دي / چې بیان یې وکړ ما
چې یې یون په دا طریق وي / هغه کس دی اولیا
کړي مال د دنیا پېرې / هیڅ دې نه کاندي پروا
دنیا باره د هغو ده / چې یې کسب وي ریا
یا یې کسب د ریا وي / یا یې وګټي په غلا (5)
یا یې تولې کا په ظلم / یا د خمر (6) په سودا
یا یې وکا په شرابو / یا یې وکا په زنا

---

(1) د "خ" لومړي نسخه: "یای مشغول پنځه بنا"، او د "ب" احمد نسخه: "یای مشغول وي پنځ بنا".
(2) د "ب" چاپ کې: "هم په جهر په اخفا"، د پېښور چاپ کې "هم په جهر هم خفا"، د "ب" په لومړي نسخه کې: "هم په جهر هم خفیا" د "خ" په لومړي نسخه او د "ب" په احمد نسخه کې "هم په جهر هم په خفا" او د "خ" په دوهمه نسخه کې "فرض لمونځ نه کاندي قضا" راغلی دی.
(3) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.
(4) د پېښور چاپ کې "هم صائم وي د رمضان" او د "خ" لومړي نسخه "هم صایم به د رمضان وي" راغلی دی.
(5) دا بیت د "ب" چاپ کې نه دی راغلی.
(6) د چاپي دیوانونو کې او د "ب" په دوهمه نسخه کې "خمرو" راغلی دی.

Marfat.com

یا ناحق خونونه کا ندي — یا مالونه خوري د چا
عبادت کا په ځان فرض — د بادشاه د امرا (۱)
حق باطل کا، باطل حق کا — په سبب د روی ریا (۲)
نه یې ویره شي (۳) له خدایه — نه یې شرم نه حیا
دیوې ګیډې د پاره — هزار خوني کا بېدیا (۴)
همېشه یې له ستمه — خلقه وی په غوغا (۵)
ګوش او هوش یې هرګز نه دي — د مظلومو په ژړا
د فرعون په څېر په (۶) ناست وي — بې پروا او کبر یا
بتخانې وته یې مخ وي — و مسجد وته یې شا
اختلاط کا له بدانو — له نیکانو وي جلا (۷)
هېڅ یې نه وي په خاطر کې — تولا و تبرا

## ۱۲۴ — ته پښېمانه مه کېږه (۸) — ۶
## خدای په هسې رنګ بلا

راشه مه کوه له چا سره جفا — لر ژوندون دې ضایع کېږي بې وفا
په دنیا کې هیڅوک نه دي پاتې شوي — واړه تلوني دي که نن دي که سبا
د یاران چې نن وتا وته جلوه کا — په دوه ورځې پس به واړه شي فنا (۹)
که دیدن دې د دوی خوښ وي وته ګوره (۱۰) — چې فنا شي بیا به کله شي پیدا
د خزان پاڼې چې بېلې شي له ښاخه — په حکمت به یې پیوند نه کا حکما
چې په ځمکه څاڅکي پرېوځي له آسمانه — بیا له ځمکې ختی نه شي په سما
ګومان مه کړه چې بیا ستر ګوله ورشي (۱۱) — هغه اوښکې چې له ستر ګو شي جدا

(۱) د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلې ده: "د بادشاه او د ګدا". د "ب" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "د بادشاه و امراء". د "ب" لومړۍ نسخه: "د بادشاهانو د امرا".
(۲) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نه دی راغلی.
(۳) په چاپي دیوان کې د "شي" پر ځای "وي" راغلی دی.
(٤) د "ب" په دوهمه نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "بېدیا" پر ځای "پیدا" راغلی دی.
(۵) په چاپي دیوان کې "واړه خلګ وي په غوغا" او د "خ" په دواړو قلمي نسخو کې "خلقه وي په غوغا" او د "ب" په دوهمه نسخه کې "خلقې وي په غوغا" راغلي دي.
(۶) د "خ" په دواړو نسخو او د "ب" په دوهمه نسخه کې "په" نه دی راغلی.
(۷) د "ب" چاپ او د "خ" په دوهمه نسخه کې "سیوا" راغلی دی.
(۸) د پښتو چاپ: "ما ریحان ته پښېمانه مه کېږې".
(۹) د "ب" په لومړۍ او د "ب" په دوهمه نسخه کې "په دوه ورځې پس به واړه شي فنا". او د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "په دوه ورځو پس به واړه شي فنا".
(۱۰) دا مسرۍ د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې "که دیدن دې د چا خوښ وي ورته ګوره". او د "ب" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "که دیدن دې د حبیب خوښ وي ورته ګوره".
(۱۱) د "ب" لومړۍ نسخه "ګومان مه کړه چې به ستر ګو لره بیا ورشي". د "ب" په دوهمه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "ګومان مه کړه چې بیا ستر ګو لره ورشي". او د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلې ده: "ګومان مه کړه چې به ستر ګو ته ورشي".

Marfat.com

دا په هره ورځ چې خېژي بېل بېل نمر دی — هر چې په ر لوڅي هغه نه شي ځنتي بیا

که جنت په زهد نه دی بې کرمه (۱) — هر سړی دې خپله غاړه کا ادا

که د نفس (۲) دپاره سل محنته وکړي — یو محنت به دې په کار نه شي فردا

که تمام جهان په خپله ګېډه وخوري — یاد به نه شي په درود او په دعا

که یوه دانه (۳) دوډي په لاس ورکړې — هم دغه به دې توښه شي د عقبا (۴)

که یو ځاځکی اوبه تږي له ورکړې — د دوزخ او ستا تر میان به شي دریا

که یو ځله سر د خدای دپاره (۵) ټیټ کړې — په قیامت به سرپلند شې تر هر چا

بازار دا دی که خوك سودا و سودا کاندي — په هغه جهان نه سود شته نه سودا

آشنایان که خوك (۶) پوهیږي نن یې وخت دی — چې زاریږي یو آشنا تر بل آشنا

که ژوندون دی خو هم دادی په جهان کې — چې له چا سره تېرېږي په خندا (۷)

خدای امان راکړه له هسې ژوندګی (۸) — چې تېر به وایې له بله، بل له تا

زړه ښه دی که په صلح او په صلاح وي — نه شکرې په فتنه او په غوغا

نس په خاورو په خس ډك ښه دی بې ځغه (۹) — نه د غم په خار و خس پخه حلوا

ماته ملا په مشقت په محنت ښه ده (۱۰) — نه حرامه همیانه د چا تر ملا

ړوند بهتر دی چې څه نه ویني په سترګو — نه چې سترګي په پردي حرام کا وا (۱۱)

ګونګ بهتر دی چې بې کام بې زبان وي — نه چې ژبه شي په بد ویل ګویا (۱۲)

کوڼ بهتر دی چې څه نه اوري په غوږو — نه چې غوږ کاندي په بد ویل شنوا (۱۳)

دیوا وده که په خوا درشي خو بهتر دی — خدای دې بد سړی درنه ولي په خوا (۱۴)

---

(۱) په چاپي دیوانو کې "بې له فضله" راغلي دي. او د "خ" په دوهمه نسخه کې دا مسرۍ داسې راغلې ده: "که جنت په زاهدی نه دی چا موندلی".

(۲) په "پ" چاپ کې د "نفس" پر ځای "نس" راغلی دی.

(۳) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "یوه دانه" پر ځای "یو ذره" راغلی دی.

(۴) د "پ" په دوهمه او د "خ" په لومړی نسخه کې د "عقبا" پر ځای "بقا" راغلی دی.

(۵) په پېښور چاپ، د "پ" په دوهمه نسخه او د "خ" په لومړی نسخه کې د "دپاره" پر ځای "په لوری" راغلی دی.

(۶) د "پ" لومړی نسخه: "آشنایان که څوك پوهیږي نن یې وخت دی". او په پېښور چاپ کې مسره داغلې ده: "آشنا یان که څه پوهیږي دا یې وخت دی."

(۷) دا بیت د "پ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.

(۸) د "پ" په دوهمه نسخه او د "خ" په لومړی نسخه کې: "خدای امان وکړي له هسې زندګیه". د "خ" په دوهمه نسخه کې: "خدای امان دې کړي له هسې زندګیه".

(۹) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.

(۱۰) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.

(۱۱) دا مسرۍ د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "نه چې سترګي په پردي ګه دنیا نوا" او دا بیت د "پ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.

(۱۲) دا بیت په پېښور چاپ کې: "ګونګي ښه دي چې بې کامه بې زبان وي – نه چې ژبه شي په بد ویل ګویا". د "خ" په لومړی او دوهمه نسخه کې: "ګونګ بهتر دی چې بې کامه بې زبان دی – نه چې ژبه شي په بد ویل ګویا". او د "پ" په دوهمه نسخه کې: "ګونګ بهتر دی چې بې کامه بې زبانه دی – نه چې ژبه شي په بد ویل ګویا" راغلی.

(۱۳) دا بیت د "پ" په چاپ، د "پ" دوهمه نسخه او د "خ" په لومړی نسخه کې نه دی راغلی.

(۱۴) دا بیت د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "دیو دده که په خوا درشي بهتر دی – که له چا سره بد سړی دي اژدها". او د "خ" په دوهمه نسخه کې لومړی مسرۍ داسې راغلې ده: "دیو لېوه که په خوا درشي بهتر دی."

Marfat.com

دجاهل تر همدمې نه به بهتر وي | که له چا سره همدم وي اژدها (۱)
که مشکل دي خو دې پرونو پرغول دي | سهل کار دی سودا و زیان ددې دنیا
سودا و زیان ددنیا واړه سهل کار دی | خدای دې نه کا خوك په سهل کار رسوا (۲)
چې د ورورا و دعزیز زړه پرې آزار شي (۳) | حاصل مه شه هغه خپله مدعا
بنه خواړه چې یو پې خوري بل ورته گوري | خواړه نه دي هغه زهر دي گویا
گاه د نورو رضا بویه گهې خپله | په کار نه ده همیشه خپله رضا (٤)
چې بنا دي پې یو زمان وی یخم ترتله | دغه هسې چارې نه کا نه دي دانا (٥)
لکه ځان هسې و بل وته نظر کړه | لکه ستا دی هسې ځان دی د هر چا
منصفانو لره بویه چې انصاف کا | نه چې نغوته کا د حرص او د هوا
د سړي په خاطر هر څه هر څه کړ شي | هسې نه چې واړه وگني روا (٦)
دین داران دې و خپل دین وته نظر کا | خوك فکروند د صواب دي خوك خطا (٧)
خدای دې نه کا ندې خطا د چا له لاسه | څه نسبت دی د خطا و د عطا (٨)
هسې نه چې سړي واړه سره سم دي | خوك عالي (۹) دي خوك اوسط دي خوك ادنا
د هر چا حرمت په خپله اندازه دی | نه چې ځای مومي نفر د امرا (١٠)

زه له چا شکوه شکایت نکړم (۱۱)
نشته بل دوست او دښمن زما پې تا

٧ — ١٩٤

---

(۱) دا بیت د "پ" په دوهم نسخه کې نه دی راغلی.
(۲) دا بیت د "خ" په دوهم نسخه کې نه دی راغلی.
(۳) پېښور چاپ: "چې د ورورا د عزیز پرې زړه آزار شي". د "پ" دوهمه نسخه: "چې د ورور عزیز زړه پرې آزار یږي". د "خ" لمړۍ او دوهمه نسخه: اـ لومړۍ نسخه: "چې د ورور د عزیز زړه پرې آزاریږي". په دوهمه نسخه کې د "آزاریږي" پرځای "رهاریږي" راغلی دی.
(٤) دا بیت د "پ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.
(٥) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.
(٦) د "پ" لومړۍ نسخه: "نه چې همه واړه وگني روا". او د "خ" په دوهمه او د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلي دي: "نه چې وگني همه واړه روا".
(٧) دا مسرۍ په "پ" چاپ او د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "خوک فکروند د صواب خوك د خطا". په پېښور چاپ کې داسې راغلې ده: "خوك فکروند د ثواب کا خوك خطا". د "پ" په دوهمه نسخه کې "خوك فکروند د ثواب وي خوك خطا". او د "خ" په دوهمه نسخه کې "خوك پکروند د عطا دی خوك خطا" راغلی دی.
(٨) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.
(۹) د "پ" چاپ، پېښور چاپ، او د "خ" په دوهمه نسخه کې د "عالي" پرځای "اعلی" راغلی دی.
(١٠) دا مسرۍ په پېښور چاپ، "پ" چاپ، او د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "نه چې مومي کفر ځای د امرا".
(۱۱) د "خ" په لومړۍ نسخه کې: "رحمان شکر شکایت له هیچا نکړم — نشته بل دوست دښمن ځما پې تا".
د "خ" په دوهمه نسخه کې: "زه رحمان شکر شکایت له چا نه کړم — نشته په جهان کې بل دوست دښمن ځما".
او د "پ" په دوهمه نسخه کې: "رحمان شکوه شکایت له هیچا نکړم — نشته بل دوست دښمن ځما پې ما".

Marfat.com

نه چې ماته والې چې په څه کوې ژړا — نه دي معلومېږي دغه (۱) خپل جور و جفا
ته جور و جفا کړې زه ژړا کوم دلبره — ستا که دغه نه وي دا به هم نه وي زما (۲)
څه ښادي به کاندي طايفه د عاشقانو — رسم د بتانو (۳) که هم دا وي لکه ستا
دا خصلت چې ستا دی که هم تل په دغه شان وي — نه را معلومېږي د دردمنو زړو دوا (٤)
يو د ستا مانې شو بل غوږ چې (۵) د رقيبانو — وار په وار مې وژني کله هغه کله دا
هر چې عاشقي کا که په قطع افلاطون وي — زه خو يې مجنون ګڼم که نن وي که سبا
سپی هم په عذاب د جلی د دوزلو نه دی — زه خو ګوندې ستا د کوڅې سپی شوم په دنيا (۶)

هيڅ مې په کار نه دی تا غواړم دلبره (۷)
زه په دا راضي يم باقي هر څه ستا رضا

۸ — ۱۷۲

عالمان دي روښنايي د دې دنيا — عالمان دي د تمام جهان پېشوا
که څوک لار غواړي و خدای هم و رسول ته — عالمان دي د دې لارې رهنما
کيمياګر که د کيميا په طلب ګرځي — هم مې د عالمانو ده کيميا
په مجلس د عالمانو به سره زر شي — که څوک کاڼی وي که لوټه د صحرا (۸)
جاهلان دي په مثال د مړدګانو — عالمان دي په مثال د مسيحا (۹)
چې مړه يې له نفسه ژوندي کېږي — عالمان دي واره هسې اوليا (۱۰)
هر سړي چې رتبه نه لري د علم — سړی نه دی خالي نقش دی ګويا

زه حلقه بګوش د هر عالم يم (۱۱)
که اعلی دی که اوسط دی که ادنا

۹ — ۱۸۰

---

(۱) د "ب" په لومړي نسخه کې "هغه" راغلی دی.
(۲) د "خ" دوهم نسخه: ته جور و جفا کړې زه مدام افسوس ژړا کوم — ستا که دغه نه وای دا به هم نه وو زما . د "ق ک" چاپ او "ق" چاپ کې "له ما" راغلي او د "پ" په چاپ کې "دا به هم نه وو زما" راغلي دي.
(۳) د "خ" لومړي نسخه کې د "بتانو" پر ځای "خوبانو" راغلي دي.
(٤) چاپي ديوانونه: "نه را معلومېږي د دردمن د زړه دوا". مصور نسخه کې لومړی مسره: "دا خصلت چې ستا دی که تل هم په دغه شان دي".
د "خ" دوهمه نسخه: "که دې جور و ستم درست په دغه شان دي".
(۵) چاپي ديوانونه: "هر دور" او د "خ" لومړي نسخه کې "غوږ زنګ" راغلي دي.
(۶) دا بيت د "خ" په لومړي او دوهمه نسخه او مصوره نسخه کې نشته. "ق ک" چاپ کې راغلی دی:
سپی هم په عذاب سره دې خدای چېرې مه ندکا — زه خو ګوندې ستا د کوڅې سپی يم په دنيا
د "ق" چاپ: سپی هم په عذاب د خدای د دوزلو يار نه دی — زه خو ګوندې ستا د کوڅې سپی شوم په دنيا
(۷) چاپي ديوانونه: "هيڅ لې په کار نه دی رحمان تا غواړي دلبره — دا رضا ده باقي هر چې ستا رضا".
مصوره نسخه: "هيڅ لې په کار نه دی رحمان تا غواړي دلبره — زه به دا راضي يم باقي هر چې ستا رضا".
(۸) "ب، پ" چاپ: "که څوک کاڼي وي يا بوټي د صحرا". د "خ" لومړي نسخه: "که څوک کاڼي غوټ لوټي د صحرا".
د "پ" لومړي نسخه: "که څوک کاڼي وي که خوټ لوټه د صحرا".
(۹) د "ب" دوهمه نسخه: "عالمان دي واره هسې اوليا".
(۱۰) د "خ" دوهمه نسخه: "چې مړه يې په نفس شرع ژوندي کېږي — عالمان دي واره هسې اوليا".
(۱۱) د "ب" دوهمه نسخه: "زه رحمان د عالمانو خاک پای يم".

Marfat.com

که خپل زړه غواړې له چا
ځان صیاد کړه د عنقا
د حباب کلاه په سر کړه
سوړ په آس شه د هوا
لکه خضر هسې پا ځه
اوبه وڅښه د بقا
له زمینه قدم کېږده
په آسمان لکه عیسا
د هغه استاد شاګرد شه
چې دې وښیې کیمیا(۱)
دا چې ما درته بیان کړه
که حاصل کړې واړه دا

۱۰ — ۱۸۷

هاالطمع کم

له خوبانو د وفا

دا دنیا ده بې وفا
بې وفا ده بې بقا
نه یې مخ شته نه یې څټ شته
لکه لوته د صحرا
په یوه ګړي یې مخ وي
په یوه ګړي یې شا
په یوه ګړي د ستا شي
په یوه ګړي نړ ما
په یوه ګړي یې درد وي
په یوه ګړي د وا
په یوه ګړي یې خوف وي
په یوه ګړي رجا
په ساعت کې یې بقا وي
په ساعت کې یې فنا
په ساعت کې یې سکوت وي
په ساعت کې یې غوغا
په ساعت کې یې خنداوي
په ساعت کې یې ژړا
په ساعت کې یې وفا وي
په ساعت کې یې جفا
په ساعت کې یې افلاس وي
په ساعت کې یې غنا
چې نه شان لري نه شکل
کله دا شي کله دا

۱۱ — ۲۰۰

خدای څوك پېښ مه کړه

په دا هسې رنګ بلا

په سبا دې ښاد شوی نه یم د هیچا
تور تپ شوی یم په غم د هر آشنا(۲)
که زړه طمع توقع له بله نه کړم
د بل طمع توقع کېږي له ما

---

(۱) دا بیت د "پ ب" چاپ کړ نشته.
(۲) دا مسرۍ د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلې ده: "نه وریت شوی یم په غم د هر آشنا".

Marfat.com

که مې ورور که مې عزیز دی که مې یار دی[۱] — واړه غواړي خپله خپله مل ع...
په هر کور کې ځوان راته زګیروی کا (۲) — لاس مې نه رسي د هېچا په دو...
د دنیا خبرې واړه په دنیا شي — مابه څه کا څوك چې نه لرم دنیا...
که په کلي کې مې کور دی زه ګومان کم[۴] — چې کور نه دی دا مې کور دی په صحر...
چې څه کار بېرې یا نه پوره وي نه نیمګړی[۵] — څوك به څه کاله هغو سره خند...
چې یې بند توښه وبله سره نه شي (۶) — تر هغه آشنا بهتر دی نا آشنا

په تود ه ځمکه استوګنه د ه مشکله
څه به زیست شي له ...ج سره د چا

۱۲ — ۲۰۹

یا د شاهي لري هر یو غلام دستا — د خاصانو په ځای ناست وي عام دستا
پخته کله وي چې لاف د پختګۍ کا — پخګان دي په داخم کې خام دستا
خوهم هومره یې په ننګ ونام نظر وي[۷] — چا چې نه وي او ریدلی نام دستا
همیشه به له مقامه بې مقام وي — هغه څوك چې لټوي مقام دستا
څو په خپلو وېښو ګل غوندې غرق نه شي[۸] — و به نه وېني رخسار ګلفام دستا
صبح وشام په هغو خلقو باندې یو وي — چې آرزو لري هر صبح وشام دستا
بل کلام یې په زړه کله اثر کاندي[۹] — چې تر غوږ یې شي شیرین کلام دستا
فراموش کاندي همه[۱۰] لوري مستي — هر چې نوش کاندي باده په جام دستا
دام دستا د توروزلفو عالم ګیر دی (۱۱) — تنها نه یم نښتي زه په دام دستا

(۱) په چاپي دېوانونو کې دا مسرۍ داسې راغلې ده: "که مې ورور که مې عزیز که مې فرزند دی". د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلې ده: "که مې ورور... کمه مې عزیز دی که مې یار دی". د "خ" په دوهمه نسخه کې: "که مې ورور که مې عزیز که مې څه یار دی" راغلې ده.
(۲) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې د ...راغلی او په لومړي ټولو کې د "زګیروی کا" پر ځای "بواته دی" راغلی دی.
(۳) د "ب" لومړۍ نسخه: "مابه څوك څه ... نه دی چې نه لرم دنیا".
(۴) د "ب" په ... کې د "ګومان کمه" پر ځای "یو عزم" راغلی.
(۵) د "خ" لومړي نسخه کې: "چې دی نه بېرې څه پوره وي نه نیمګړی". په چاپ چاپ کې داسې راغلی: "چې برې نه دی څه پوره او نه نیمګړی". د "خ" په کومې نسخه کې: "چې دې نه بېر څه پوره وي که نه نیمګړی" او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "چې دې نه برې څه نیمګړی نه پوره".
(۶) د "ب" لومړۍ نسخه: "چې یې هیڅ سند توښه وبله نه شي".
(۷) چاپي دېوانونه: "خوهم هومره یې نظر په ننګ ونام دی".
(۸) چاپي دېوانونه: "چې په خپلو وېښو ګل غوندې غرق نه دی".
(۹) د "خ" دوهمه نسخه: "بل کلام به یې په زړه کله اثر کړه".
(۱۰) د "ق" چاپ او "ق.ک" چاپ: "هغه" او لومړۍ مسرۍ د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "فراموش که هغه نور چا مونه واړه".
(۱۱) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته. د "ب" په لومړي او دوهمه نسخه کې: "دام دستا د زلفو عالم ګیر دی". په "ق" او "ق.ک" چاپ کې داسې دی: "دام د زلفو دې د دنیا عالم ګیر دی". او د "خ" په لومړي نسخه کې داسې دی: "لوی دستا د تورو زلفو عالم ګیر ..."

Marfat.com

**۱۳ — ۳۱۹**

زه رحمان دعا سلام په هغه وایم (۱)
هرچې ما لره راوړي سلام (۲) دستا

هرچې وويني په سترګو روی دستا (۳) — مخ يې کوږ وي همېشه په سوی دستا
بې دماغه به تر سرو ماله تېر شي — چې يې تېر شي تر دماغه بوی دستا
که لوی کړي بخه بې ځايه خوبي نه کړي — چې په دا رنګه قامت دی لوی (۴) دستا
نوبهار شو عالم سير د بوستان کا (۵) — خدای وما ته بوستان کړ کوی دستا
د عيسی له دمه دم وهلی نه شم — چې خوله بار ته شي په ګفتګوی دستا (۶)
هم په دامی لچشانو نو (۷) ښه ږي — چې ياد ېږي مې قامت د لجوی دستا
همېشه يې زړه په اور باندې سپند وي — وهغه ته چې خرګند شي (۸) خوی دستا
دلم لاشه بې ماته وي په زړه کې — چې يې نقش وي په زړه ابروی دستا
وځنځير وته يې ځلم را کاږي — ليونيو لره بس وي موی دستا
وګړ نګ وته بخپله ځان پرې باسي — چې وزړه وته پرې باسي (۹) روی دستا
که ته سل ځله زمالي زه دستا یم (۱۰) — تلونی نه دی له ما جستجوی دستا

**۱۴ — ۳۲۱**

ګل لمبه شو د بلبل په آه رحمان (۱۱)
نه ګړ وهېږي يار په هاو هوی دستا

خوی که په دا شان وي دل آزار ستا — خه بنادی به کاندی طلبګار ستا
حيف چې اورېده شي ليلئ نه شي (۱۲) — حسن و لطافت دی پر لوار (۱۳) ستا

---

(۱) د "خ" لومړۍ نسخې او مصورې نسخې: "رحمان تل دوعا سلام په هغو وایم".
(۲) د "خ" لومړۍ نسخې: "پيغام".
(۳) د "خ" لومړۍ نسخې: "ياړ".
(۴) دا بيت د "خ" په لومړۍ نسخې کې نشته، په دوهمه نسخه کې "لوی" پر ځای "دلجوی" راغلی دی.
(۵) چاپي ديوانونه، د "خ" دوهمه او مصورې نسخې: "نوبهار دی عالم سيل د بوستان کا".
د "خ" لومړۍ نسخې: "نو بهار به عالم سير د بوستان کا".
(۶) دا بيت په مصورې نسخې کې نشته.
(۷) چاپي ديوانونه: "مردو" او د "خ" دري واړه نسخې: "جوی".
(۸) "خ" په دري واړو قلمي نسخو کې د "شي" پر ځای "وي" راغلی دی.
(۹) دا بيت په "ق، ب" کې نشته. د "خ" په لومړۍ نسخې کې د "روی" پر ځای "موی" راغلی دی. او د "خ" په دوهمه نسخه کې "لوی" او په "ق" چاپ کې د "ګړ نګ" پر ځای "ځنځير" او د "روی" پر ځای "موی" راغلی دی.
(۱۰) د "خ" دري واړه نسخې: "که سل ځله زه دستا يم ته څما يي".
(۱۱) د "خ" لومړۍ نسخې: "ګل که سره لنبه شي د بلبل په آه رحمانه".
(۱۲) د "خ" لومړۍ نسخې: "حيف چې اورېدی شي ليلی نه شي په جهان کې".
(۱۳) د "خ" دوهمه نسخې: "په هر لوري".

Marfat.com

بیادوباره نه ګوري وبل ته (١) ... هرچاچي لیدلی وي رخسار ستا
خدای زده چې ته یارد کوم یوه یې ... هرطرف یاران دي صدهزار ستا (٢)
ځای د پښوا یښودو مونده نه شي ... هومره عاشقان دي په دربار ستا (٣)
بل به هسې نه وي کډیې خدای کا (٤) ... ماغونډې خاکسار وهوادار ستا
بل ګومان په ما باندې ومه کړه ... عمر واړه زه او انتظار ستا (٥)
عشق له حسنه حسن دی له عشقه ... ته نګار زمایې زه نګار ستا
ته زما مطلوب یې زه طالب یم ... ته زما طبیب یې زه بیمار ستا (٦)
ته که تازه ګل د نوبهار یې ... زه یم عندلیب په لاله زار ستا
جور که جفا ده که ستم دی ... واړه مې منلي دي یکبار ستا
جور و جفا څوك په بها پاوري (٧) ... زه یم د جورونو خریدار ستا
یو تار که ضایع شي ستا د زلفو ... ځان به صدقه کړم تر (٨) هر تار ستا
سل ځله مې ښتو ته دې راو کړه ... حیف دی چې لا نه شي اعتبار ستا (٩)

١٥

تېر یم زه رحمٰن ترنوره (١٠) کاره
اوس مې ملا تړلې ده په کار ستا

٢٤٦

که څوك یار په جهان غواړي یار دی دا ... یار دی دا، که د جهان سینګار دی دا؟ (١١)
خیال د زلفو یې زما تر زړه چاپېر شو ... یا ترګنجه چاپېر شوی مار دی دا؟
دا جهان دی خدای له عشقه پیدا کړی (١٢) ... د جمله وو مخلوقاتو پلار دی دا

---

(١) د "خ" لومړی نسخه: "بیا به دوباره ونه ګوري بل مخ ته".
(٢) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته.
(٣) د "خ" لومړی نسخه: "په هغه ځای باندې چې تول دی عاشقان ستا".
(٤) د "خ" لومړی نسخه: "بل به هسې څوك نه وي که خدای کا".
(٥) ق ک" چاپ: "عمر واړه زه یم په انتظار ستا".
مصوره نسخه: "عمر واړه زه یم انتظار ستا". د "خ" لومړی نسخه: "عمر واړه او زه او انتظار ستا".
(٦) د "خ" لومړی نسخه: "ته زما نګار یې زه افګار ستا".
(٧) دا بیت په "ق ک" چاپ کې نشته. قلمي نسخه: "جورد چا څوك په بها پېري".
(٨) په چاپي دیوانونو او ټولو قلمي نسخو کې د "تر" پر ځای "په" راغلی دی.
(٩) د "خ" دوهمه نسخه: "یاری حیف دی چې لا نه شي اعتبار ستا".
(١٠) په چاپي دیوانونو کې "له هره کاره" راغلی دی.
(١١) دا مسری د "خ" په لومړی نسخه کې داسې راغلې ده: "یار دی دا که تمام جهان سینګار دی دا".
(١٢) دا مسری د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده:
"دا جهان دی خدای په عشق کې پیدا کړی".
او د "خ" په دوهمه نسخه کې دا بیت بیخي نه دی راغلی.

Marfat.com

ترعشق واړه کار بل په جهان نشته — ترهغه کاره نو واړه کار دی دا (۱)
بل بلبل به دګل نوم اخستی نه ؤ — که خبر وی چې ګل نه دی خار دی دا (۲)
بیا راتله دې جهان ته بل وار نشته — بل وار نشته بل وار نشته وار دی دا
دحباب عمر دې وګوري چې شو دی ؟ (۳) — که څوک شمار کاندي دعمر شمار دی دا
دمجنون صورت په زړه کړه انځور ګوره (٤)
ستا په عشق کې هسې خوار و زار دی دا

۱۶ — ۲٥٤

چې له تا سره په سر کاندي سودا — بل به نه وي هسې ماغوندې شیدا (۵)
نه به ماغوندې شیدا وي په جهان کې — نه به تا غوندې دلبر شي بل پیدا (۶)
ما دا ستا جور و جفا دې قبول کړې (۷) — ولې نه شي د زړه په ځای خندا
بې د ستا له مخه کوم وکه مکان دی — سنه تو سنه مې نه په دا شي نه په دا
جدایي به دې هیڅ رنګ قبوله نه کړم — خو مې نه دی روح کالبوت سره (۸) جلا
لکه ورستو مقتدیان وړاندې امام وي — ما په تا پسې ده کړې اقتدا (۹)
زه یې وینم درست جهان په تامین دی — که بادشاه دی دې دور که ګدا (۱۰)
کاشکې خط د امانې و ما ورکړې (۱۱) — چې له ما سره وعده کړې د فردا
زه بې له په تا نه یم مین شوی — ستا له لوري په ما شوې ده ندا
زه په تا باندې مین یم له ازله — نه چې کړې مې نن ورځ ده ابتدا

---

(۱) دابیت په "پ" چاپ کې داسې راغلی دی: "ترعشق غوره بل څه کار په جهان نشته — ترهغه کاره نو غوره کار دی دا." په "پ پ" چاپ کې: ترعشق غوره بل هیڅ کار په جهان نشته. د "غ" په لومړي نسخه کې: "ترعشق غوره کار بل په جهان نشته — ترهغه کاره نو غوره کار دی دا". د "غ" په دوهم نسخه کې "ترعشق غوره کار بل په جهان نشته" او د "پ" په دوهمه نسخه کې هم په همدې شکل راغلی دی.

(۲) په "پ پ" چاپ کې: "لو بلبل به دګل نوم اخستی نه ؤ"، د "غ" په دوهمه نسخه کې: "لو م دګل به بلبلان اخستی نه وو". او د "پ" په دوهمه نسخه کې ... راغلی.

(۳) دامسری په "پ پ" چاپ او "غ" په لومړي نسخه کې داسې راغلی ده: "دحباب عمر ته وګوره چې څه دی؟" په "پ" چاپ کې: "دحباب عمر دې وګوري چې څه دی". د "پ" په دوهمه نسخه کې: "دحباب عمر ته وګوره چې څوک دی" راغلی ده او دابیت د "غ" په دوهمه نسخه کې نشته.

(٤) دامسری د "غ" په دوهمه او د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی ده: "دمجنون صورت په زړه کړه اې رحمانه".

(۵) دامسری د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی ده: "بل به تا غوندې دلبر شي راپیدا".

(٦) د "پ" لومړي نسخه: "نه به تا غوندې دلبر شي پیدا"، د "پ" په دوهمه نسخه او "پ پ" چاپ کې "نه به تا غوندې بل دلبر پیدا" او د "غ" په دوهمه نسخه کې "نه به تا غوندې دلبر شي بیا پیدا" راغلی ده.

(۷) دامسری د "غ" په لومړي نسخه کې "ما به صبر ستا په جور وجفا وکړ" او د "غ" دوهمه او د "پ" په دوهمه نسخه کې "ما ده صبر ستا په جور وجفا کړ" راغلی ده.

(۸) د "غ" په لومړي نسخه کې "دبله" او په دوهمه نسخه کې "څبله" راغلی دی.

(۹) دامسری په "پ پ" چاپ کې داسې راغلی ده: "هسې ما تا پسې کړې اقتدا".

(۱۰) دابیت په "پ" او "پ پ" چاپ کې داسې راغلی دی: "زه لو نه یم درست جهان به تا مین دی — که بادشاه دی ددې دهر که ګدا." او وروستی مسری یې د "غ" په دوهمه نسخه کې "که بادشاه ددې دهر که ګدا" د "غ" په مصوره نسخه کې داسې راغلی ده: "که بادشاه دی که وزیر دی که ګدا".

(۱۱) دامسری په "پ" او "پ پ" چاپ کې: "کاشکې خط د امانې و ما له در کړې" راغلی ده.

چې د ستا د عاشقۍ په تېغ شهید شي — د رحمان غاړه به هاله تي ا د ا

۱۷ — ۲۶۶

د ناز وزېړي رنګ وته نظر کړه
چې مدام په تا پسې کاندي ژړا (۱)

هر چې ستا کوڅه ما وا کا — ځای یې برشي تر افلاکا (۲)
ځان هاله ورته بادشاه شي — چې یې ستا د دړ ګدا کا (۳)
چې د ستا د دړ ګدا شي (٤) — بادشاهي ورته نور شا کا
نظر یې د ستا له رویه — نه په ارض نه په سما کا
مینه یې د ستا له مخه — نه په دین نه په دنیا کا
ستا په مهر و محبت کې — ځان جهان واړه فنا کا
د دنیا کور و ګړي (٥) — ستا په مینه کې تا لا کا
رضا ستا په رضا (٦) کړي — ترک خپله مدعا کا
وهر خواته چې ستا مخ شي (۷) — دی هم مخ په هغه خوا کا
که له چا سره جفا کړي — له هغه سره جفا کا
که له چا سره وفا کړي — له هغه سره وفا کا
که په چا چېرې ژاړي — خو په تا پسې ژړا کا
که په چا چېرې خاندي — خوله تا سره خندا کا
که مطلب یې د دیدار وي — ستا د حسن تماشا کا
که مطلب یې د ګفتار وي — ستا په ذکر مشغولا کا
د رښتینو مقام دادی — که خوله مینه په رښتیا کا (۸)

۱۸ — ۲۸۳

عاشقان په عاشقۍ کې
چې ناز وایي هم دا کا

---

(۱) دا بیت د "خ" لومړی او د "پ" دوهمه نسخې کې نشته.
(۲) دا غول په مصور نسخه کې نشته او د "خ" په دوهمه نسخه کې د دوهم مسرې داسې ده: "ځای یې درسي تر افلاکه".
(۳) د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې: "چې ځان ستا د دړ ګدا کړ".
(٤) "ق. ک" چاپ: "خولګ چې ستا د دړ ګدا شي"، او دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(٥) د "خ" لومړۍ نسخه: "د دنیا کور و کوټ"، او د "خ" دیمګړي نسخه: "د دنیا کور او علونه".
(٦) د "پ" په چاپ کې "قضا" راغلی دی.
(۷) د "خ" قلمي نسخه: "هرې خوا ته چې ستا مخ وي"، د "پ" لومړۍ نسخه: "په هر اخوا چې د ستا مخ وي".
(۸) د "ق. ک" چاپ کې او هم د "ق" په چاپ کې د "رښتیا" پر ځای "رضا" راغلی دی.

Marfat.com

چې امید په عمارت د دې دنیا کا — د کاغذ په کشتۍ سیر د دریا کا (۱)
د اسمان توسن هیڅ چا نه دی تېز لی — خوك به څرنګه سورلي د باد په شان کا
نه لیوه په ادمیت اموخته کېږي — نه امید د مروت شي له افلاکا
له فلکه د وفا امید باطل دی — کله دیوله آدم زاد سره وفا کا
زمانه په اسلام کفر سره ګرځي — فرق د تور و د سپین کله نابینا کا
ما د دهر علامت په سترګو ولید — په هر دم هزار پیدا هزار فنا کا
هیڅ امید مې د ایام په ګردش نه شي — چې فرصت به په خپل دور و مدارا کا
په خپل عمر به هیچا ابدلی نه وي — هغه چارې چې دی هر ساعت په ما کا
که د ګلو غونچه کېږدم په دستار کې — شوم طالع مې هغه خار ځنې پیدا کا
که و زر ورته لاس کړم خاورې کېږي — که د خاورو په ارزو شم استغنا کا
جدايي د خدای بلا شوه نه توانېږم — خوشې ذره مې په دیدن پسې ژړا کا (۲)
هومره صبر دی عاشق سره لږ کومه — چې د من وعده موقوفه په سبا کا
که داور جامې را واغوندې دلبره — په نظر زما جلوه لکه دیبا کا
په خپل عشق کې (۳) که خوك بد را باندې وایي — زه ګومان کړم چې حمد زما ثنا کا
ملامت په عاشق ښایي دا دستور دی — چې روغ خلق په رنځور پورې خندا کا
عاشقي ننګ و ناموس دی و بله لرې — په روښانه ورځ به څرنګه خوك غلا کا
که زه طمعه کړم د ګلو له طالع نه — ما عاجز لره د ګل په ځای خار را کا (۴)
که زه ځان ژغورم په عشق کې له عالمه — زمانه مې په جهان باندې رسوا کا
همېشه به په عالم کې وي سرخرویه — چې ثنا لکه بلبل د خپل آشنا کا

۱۹ — ۳۰۳

دا ځواب رحمان هغه کا چې دولت وي
"که دلبر د دیدن مې پیالې را کا" (۵)

هغه ژوي چې مین وي څه به خوب کا — چې مجنون غوندې کړمن وي څه به خوب کا (۶)

---

(۱) دا غزل د "پ" په لومړي، دوهم او مصوره نسخو کې نشته. د "پ" چاپ کړ "سیر" پر ځای "سیل" راغلی دی.
(۲) د "غ" په لومړي او دوهمه قلمي نسخو کې د "ژړا" پر ځای "بلا" راغلی دی.
(۳) په "ق" چاپ او "ق.ك" چاپ کې "سنا په عشق کې" راغلی دی.
(۴) دا بیت او ورپسې دوه بیتونه په قلمي نسخو کې نشته. د دې بیت لومړی مسری په "ق.ك" چاپ کې داسې راغلی ده: "که زه طمع کوم د ګلو له خپل بخته"
(۵) د "غ" دوهمه نسخه: "که دلبر د دیدن مسته پیاله راکه". د دولت، دیوان: "که دلبر عبدین مې پیالې راکه" ۱۴۳ مخ، پښتو ټولنه، ۱۳۵۲.
(۶) دا مسری په چاپي دیوانونو کې داسې ده: "چې فرهاد غوندې کوهکن دی څه به خوب کا". په مصوره نسخه او د "غ" لومړۍ نسخه کې راغلی ده: "چې مجنون او کوهکن دی څه به خوب کا". د "غ" دوهمه نسخه کې راغلی ده: "چې مجنون او کوهکن دی څه به خوب کا" او د "پ" دوهمه نسخه کې راغلی ده: "چې مجنون او کوهکن دی څه به خوب کا"، او ورپسې په چاپي دیوانونو کې د "ژوي" پر ځای "ژوندي" راغلی دی.

Marfat.com

هر نفس د سرې تله دي له جهانه(۱)    چې يې هر نفس رفتن وي ځه به خوب کا

چې سبا له خپله ياره جدا کېږي    که د سلو شپو کړهن وي ځه به خوب کا

عاشقي ده خداى له اوره پيدا کړې    که په اور کې يې وطن وي ځه به خوب کا (۲)

داو بو تړى هم خوب کولى نه شي    څوک چې تړى د ديدن وي ځه به خوب کا (۳)

د رقيب له جوره خوب د عاشق نه شي    د هغو چې دلو(۴) دښمن وي ځه به خوب کا

د مجاز بندي خو خوب کولى نه شي    چې يې زلفې طوق رسن وي ځه به خوب کا(۵)

۲۰

خوب خندا له بېغمى ده شي خوشحاله(۶)
څوک چې ستا په ښار غمژن وي ځه به خوب کا

۳۱۱

چې په سترگو کې يې خار دي ځه به خوب کا    چې په زړه يې غم د يار وي ځه به خوب کا

خوب له ياره سره هم د عاشق نه شي    چې يې يار په بل ديار وي ځه به خوب کا

په دنيا کې خوب هغه کا چې نادان وي    هغه ژړي(۷) چې هوښيار وي ځه به خوب کا

کوم طالب مطلوب نيولى(۸) دى په خوب کې    هغه څوک چې طلبگار وي ځه به خوب کا

د ديدار نه دى چا په پټو سترگو کړې    چې مطلب د چا ديدار وي ځه به خوب کا

بله لاره د مرگ تر لارې گرانه نشته    چې په خوا يې جسې لار وي ځه به خوب کا

هر نگاه د دلبرانو ذوالفقار دى    هر چې غوڅ په ذوالفقار وي ځه به خوب کا

دلربا په چلې خوب کولى نه شي    چې خوږلې تور ښامار وي ځه به خوب کا

۲۱

زه خوشحال د يار بنده هم خدمتگار يم
چې بنده او خدمتگار وي ځه به خوب کا

۳۲۰

---

(۱) دا مسرې په مصوره نسخه کې داسې ده: "هر نفس سرې په تله دي له جهانه".

(۲) د "ب" دلوى نسخې په رته په نورو ټولو کې "چې" راغلى ده.

(۳) دا بيت په چاپي ديوانونو او مصوره نسخه کې نشته، د دغه مسرې يې د "غ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "چې په تړى د ديدن وي ځه به خوب کا".

(۴) په چاپي ديوانونو او د "ب" په دوهمه نسخه کې د "دلو" پر ځاى "يار" راغلى دى.

(۶) په "ب" او "ب.ب" چاپ کې: "خوب خندا په بې غمى کېږي رحمانه    هر چې تا غوندې غمجن وي ځه به خوب کا".
د ميسور "ق.ک" چاپ: "هر چې ما غوندې غمجن وي ځه به خوب کا". د "غ" لومړۍ نسخه: "څوک چې تا غوندې درد من وي ځه به خوب کا".
د "غ" دوهمه نسخه: "څوک چې ستا په ښار درد من وي ځه به خوب کا"، مصوره نسخه: "څوک چې ستا په ښار غمجن وي ځه به خوب کا".
او د "ب" دوهمه نسخه کې داسې ده: "څوک چې تا غوندې غمجن وي ځه به خوب کا".

(۵) دا بيت په چاپي ديوانونو او نورو قلمي نسخو کې نشته د "غ" له دوهمې قلمي نسخې نقل شو، چې دوهمه مسرې يې په اصل نسخه کې داسې ده: "چې يې زلفې گرانه گر طوق رسن وي ځه به خوب کا".

(۷) دا مسرې د "ق.ک" چاپ کې داسې ده: "هغه زړى چې دانا وي ځه به خوب کا". او په نورو چاپي ديوانونو کې د "ژړي" پر ځاى "زړى" راغلى دى.

(۸) د "ب" دلوى نسخې په رته په نورو ټولو کې "موندلى" راغلى دى. او همدغه نوموړى بيت د "ب" په دوهمه نسخه کې نشته.

يادونه: لاندې بيت يوازې په ديوانونو د "غ" په دوهمه نسخه کې راغلى دى، او د کاس لاندې نورو نسخو او ديوانونو کې نشته.

دلربا په چلې خوب کولى نه شي
چې خوږلې تور ښامار وي ځه به خوب کا

Marfat.com

هغه ژوې چې بې خدایه (۱) محبت کا
هغې واړه بې ځایه محبت کا
محبت بې خدایه واړه د زړه رنځ دی
که ملام له چنګ و نایه محبت کا
خرخاري ده چې بې بوخبله (۲) کاندي
هر خود رای چې له خود رایه محبت کا
نتیجه یې ریش کنده جامه پاره وي
آدم زاد چې له چارپایه محبت کا (۳)
هغه سرای لره به تله و ربانده ګران وي
هر سړی چې له دې سرایه محبت کا (۴)
بوالهوس به نه پتنګ نه پروانه شي
د مګس په څېر له ورایه محبت کا (۵)
چې د تورو زلفو سیوري په بیا وشي
هغه کاله له همایه محبت کا
نسخ ځکه دریسار متابعت کړم (۶)
چې هر وله رهنمایه محبت کا

۲۲ — ۳۲۸

اورنګ زیب چې آرایش د تخت و تاج کا
تخت و تاج به یې مرګی تا (تخت) و تاراج کا (۷)
په جهان کې به یې پاتې بنه بد نوم شي
دی که چارې د کسرئ که د حجاج کا
او به سترګو له لاړې اور د زړه شو
څوک به څه شکل ژوندون په دا مزاج کا
جدا یې زما په زړه کا هسې چارې
لکه بازې په تارو او په دراج کا
زما او سکې چې پیدا د زړه له یم شوې
لکه اوږې له کبابه نم اخراج کا
زه غمجن د عید په جشن خبر نه شوم
که نور خلق هوی و های تم احتیاج کا

۲۳ — ۳۲۵

هر ناوک چې د قضا له شسته خېژي
زمانه د نسخ زړه ورته آماج کا (۸)
دې دې دردو هڅې مې (۹) به دې بې درد کا
د نامرد و هڅې مې به دې نامرد کا
صحبت بې تاثیره نه دی دا حدیث دی
ګنګو نمر یې هم په څېر د ګنګو زرد کا (۱۰)

---

(۱) د "پ پ" چاپ کړ د "بې خدایه" پر ځای "بې یاره" راغلی دی.
(۲) په چاپي دیوانونو کې "بولهبله" راغلی دی، او دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(۳) دا بیت د "غ" په دواړو نسخو کې نشته او د لومړي مسرې د "ریش کنده کلمه" د "غ" په لومړۍ نسخه کې "ریش کندن" په شکل راغلی ده.
(۴) دا بیت په مصوره نسخه او د "غ" په دواړو نسخو کې نشته.
(۵) دا بیت د "پ" په دواړو نسخو کې نشته، د "پ" چاپ او "پ.پ" چاپ کې یې لومړۍ مسره داسې ده: "بلهوس به نه پتنګ و پروانه شي".
(۶) دا مسره په چاپي دیوانونو کې داسې ده: "ځکه دریسار متابعت کا"، د "غ" لومړۍ نسخه: "زه د جهان څکه دیاره محبت کړم".
(۷) دا غزل په مصوره نسخه، د "غ" په لومړۍ نسخه او "ق.ک" چاپ کې نشته.
(۸) د "غ" د دواړو نسخو لکه "امواج" راغلی دی.
(۹) په مصوره نسخه د "غ" لومړۍ او "پ" په دواړو نسخو کې "هڅې" او د "ق.ک" چاپ کې "هڅې" راغلی دی.
(۱۰) دا مسره د "پ" نسخې او په "غ" نسخو کې داسې ده: "ګنګو نمر ی د ګنګو په څېر د زرد کا".

Marfat.com

هر کالي چې ښوك په ځمکه باندې کیږدي — هغه ځمکه یې له جنسه دخپل گرد کا
په مجلس د ویرژلیو(۱) ښوك ورمه شه — که صحیح وسلامت وي آه یې سرد کا
چې دوي(۲) له میانه لرې شي رحمانه(۳)
معشوقې عاشق بخپله ناز پرورد کا

۲٤ — ۳٤۰

که په گنج د شاهي فخر شهریار کا — عاشقان یې د دلبرو په رخسار کا
خرقه پوشو په خرقه کې دی موندلی — هغه حظ(۳) چې په دنیا کې دنیادار کا
پتنگانو لره ورکړ خدای په اور کې — هغه عیش چې بلبله په گلزار کا(٤)
نیك ساعت(۵) په بد بدل دې چا مه شه — په وصال کې غم د هجر ورد و خار کا
نس(۶) دگورا و دمور یو دی په معنی کې — خو په چا یې تو لحد په چابازار کا
دبېرې په دوسیله چې خدای راضي شي — یگانگي د زړونو هلته کله کار کا(۷)
هغه مخ چې مادرزاد ښایسته نه وي — مشقت د مشاطې واړه مردار کا
یار د ناز له خوبه پاڅي پسې گرځي — چې فلك د عاشقانو بخت بیدار کا(۸)
بې له تا نه مدام سوزي دا یې حال دی — لکه شمع چې ښوك بله په مزار کا(۹)
د مستۍ د هوښیارۍ یون څرګند وي — په هر چا کې چې خدوي هغه رفتار کا(۱۰)
دبلبلو نغمه زاغ کولی نه شي — هر سرود آواز په طور دخپل تار کا(۱۱)

۲۵ — ۲۵۲

هسې بې وقوف سوداگر نه دی
چې د دین متاع بدله په دینار کا(۱۲)

---

(۱) په قلمي نسخو کې "ویرژ لیو" راغلی دی.
(۲) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته، د "خ" په دوهمه نسخه کې "دوي" پرځای "دوهم" او په مصوره نسخه کې "دودی" راغلی دی.
(۳) د "خ" په دوهمه نسخه کې "خوند" راغلی دی.
(٤) د "پ" لومړۍ نسخه او د "خ" لومړۍ نسخه: "هغه عیش چې بلبلې په گلزار کا".
(۵) په مصوره نسخه کې "نیك محل" راغلی دی.
(۶) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته، په قلمي نسخو کې "نس" پرځای "نفس" راغلی دی، په "ق.ك" چاپ کې د "بازاد" پرځای "گلزار" راغلی دی.
(۷) دا مسرۍ په چاپي دیوانو کې داسې ده: "بې اصلاح د زړونو کله هلته کار کا". په مصوره نسخه کې داسې ده: "یگانگي د ملحانو کله کار کا".
(۸) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی دی: "یار زما له خوبه پاڅي پسې گرځي چې فلك د عاشقانو بخت بیدار کا".
(۹) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته، لومړۍ مسرۍ یې د "پ" او "پ پ" چاپ کې داسې ده: "شپې شپې یې یاد تر سره پورې کیني". د "ق.ك" چاپ د "یې" پرځای "مې" راغلی دی. په مصوره نسخه کې دا مسرۍ داسې ده: "شپې شپې مې تر سره پورې دې پورې کیني".
(۱۰) دا بیت په "پ" نسخو او د "خ" نسخو کې داسې دی: "د مستۍ د هوښیارۍ یون څرګند وي په هر چا کې چې خدوي هسې رفتار کا". "ق.ك" کې لومړۍ مسرۍ داسې ده: "د مستۍ د هوښیارۍ یون سره څرګند دی" او د "خ" په لومړۍ نسخه کې دا بیت داسې دی: "د مستۍ د هوښیارۍ یون سره څرګند دی په هر چا کې چې خدای یون هسې رفتار کا".
(۱۱) د "پ" چاپ کې د "تار" پرځای "کار" راغلی دی.
(۱۲) د "پ" په دوهمه نسخه کې "دنیا" راغلی دی.

Marfat.com

وړخ چې بده شي عاقل و دانا څه کا — چې قضا شي ورد و ښاره حکما څه کا (۱)
مور و پلار خوښيږي فرزند له خدايه غواړي — چې بدبخت شي ادې څه کا بابا څه کا (۲)
يار له يار په لوې لاس کله بېلېږي (۳) — چې لاس نه رسي يار څه کا آشنا څه کا
په ښېرو په دعا څه شي کړ وني خداى دي — چې خداى نه کا ښېرې څه کا دعا څه کا
بخت په زور او په زر نه دي چا خپل کړي (٤) — په دا کار کې ناتوان څه کا توانا څه کا
اې رحمان پتنګ ولې شه چې وسو (۵)
نور د شمع خندا څه کا ژړا څه کا

۲۶ — ۳۵۸

زما اوښکې چې دا هسې شست و شو کا — دا محنت وار د زما د مخ په ولو کا (٦)
تل يې مخ وي تر خوبانو لوړې ولې — عاشقي چې د چا اوښکې په شبو کا
د عاشق د سينې چاک به ورڅرګند شي — که خوک سر خپل ګرېوان و ته فرو کا
د عشق اور چې شمع خود په سر قبول کړي — پروانه به څه حجت د ځان په سو کا
ګل څه نه وايي چې غرق په و ينو ناست وي — بلبل څه لره بې ځايه ګفتګو کا
زه که مرګ غواړم بې ياره ګرم خو نه يم — جدايي سړي په ځان پورې پيکو کا
معشوقې په محنت نه دي چا موندلي
مګر خداى يې په رحمان با ندې پېرزو کا

۲۷ — ۳٦۵

خو لو ځله يې تاراج په جفا نه کا — يار له هيچا (۷) سره مهر و وفا نه کا
که يې سر په بوسه ورکړم زه پوهېږم — چې قبول به دغه عجز زما نه کا
چې په خپله رضا تللي مادرزاد وي — هغه هيڅ بېرې د نورو رضا نه کا
خو يې خپله مدعا حاصله نه شي — مهرويان په خوله د خضر سودا نه کا
که يې سل ځله دعا کوم په عمر — ګوش و هوش د دعاګوي په دعا نه کا
که آهونه آتشين پسې وکاږم — لکه سرو له خزانه پروا نه کا

---

(۱) دا غزل د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.
(۲) د "ب، پ" چاپ کړو امسرى دا کړ ده: "چې بخت بد شي ادې څه کا بابا څه کا".
(۳) د "خ" په دوهمه نسخه کې "خپلېږي" راغلي دي.
(٤) امسرى په مصوره نسخه او د "خ" دوهمه نسخه کې داسې ده: "بخت په زور و زاري نه دي چا خپل کړي". د "ب" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "بخت په زور و په زر نه دي چا موندلى" او د "پښتو ق. ک." چاپ کړى ده: "محبت په زور چا نه دي حاصل کړي".
(۵) د "ب" او "پ پ" چاپ کې "علاج شه" او د "ق. ک." چاپ کې "او شو" راغلي دي.
(٦) په چاپي ديوانونو کې "د مخ ابرو کا" راغلي دي.
(۷) په چاپي ديوانونو کې "کله يار ..." راغلي دي.

Marfat.com

۲۸ — ۳۷۲

که آرام غواړي ناصح په عاشقۍ کې
دغه واړه ناروا کا روانه کا

ذره مې بې له خپل نګاره (۱) آرام نه کا
کامراني راڅخه غواړي ناکام نه کا

بې ناکامه زیست محال دی په دنیا کې
د کوم آس په خوله کې دخل لګام نه کا (۲)

داسمان ماني به هم په قرار نه وي
سالک څله قصد د قصر و د بام نه کا (۳)

ګاه یې کښېنوي په تخت کله په خاورو
زمانه رضا د هیچا مدام نه کا

بې له سروي چې آزاده خدای پیدا کړه
ترکې څله و هیچا ته سلام نه کا (٤)

کوه و دشت هم د خزان له غمه ریږدي
څله زرګه و چمن ته خرام نه کا

چا چې سر دی په سجدهٔ و یار ته ایښی
دوباره له دې سجوده قیام نه کا (۵)

چې یې کښېږده د یار په لورې لوښتي (۶)
لکه بحر هسې دروې مقام نه کا

نشستن د عاشق نشته لکه شمع
خو صورت د عشق په اور کې تمام نه کا

چې محظوظ وي په تش بوی د مهرویانو
هغه فکر د بوسې د پیغام نه کا

چې لذت یې د سرو شونډو وي مونډلی
نوره مینه د شرابو په جام نه کا

په هغو د لعل و لبو مې حرام دی
خو د انور لذت په خپسر حرام نه کا

۲۹ — ۳۸۵

ناصح هسې و خپل یار ته بې حجت دی (۷)
لکه عذر چې صاحب ته غلام نه کا

چې امید په عمارت د دې جهان کا
لکه کږ بنه په اوبو هسې بنیان کا

د اوبو په مخ د کرښې بقا نشته
په نابود باندې ناحق د بود ګومان کا (۸)

نادانانو هسې دین په دنیا بایلود
لکه و ودرکي دُر بدل په پارچه نان کا

د دنیا د دین نسبت (۹) و بل ته نه شي
اور او اوبو سره استوګه په څه شان کا

---

(۱) په "ب" چاپ او "ق" چاپ کې "یار" راغلی دی.
(۲) د "ب" په لومړي نسخه او د "خ" په لومړي نسخه کې "نعام" راغلی دی.
(۳) له دې بیت نه وروسته بیتونه او ځینې دا بیت د "ب" په لومړي نسخه کې نشته.
(٤) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.
(۵) د "خ" دوهمه نسخه: "دوباره یې له سجوده قیام نه کا"
(۶) د "خ" دوهمه نسخه: "چې یې ذره دې تل د یار په لورې تللی" د "خ" په لومړي نسخه کې د "لوښتي" پر ځای "ایښی" راغلی دی.
(۷) د "خ" په دوهمه نسخه کې "لاجواب دی" راغلی دی.
(۸) دا بیت په مصور نسخه کې نشته.
(۹) د "خ" په لومړي نسخه کې "نښسته" راغلی دی.

Marfat.com

عشق د نفس له خاصیته منـزه دی — کار د ستر گو به خولك غرنګ په دهان کا
لکه چشم و گوش په کار کې وبله بیل وي(۱) — هسې دین و دنیا حکم ځان په ځان کا
په پیرۍ کې د ځوانۍ خیال دی هسې — لکه خولك چې د باغ سیر په خزان کا

۳۰ — ۳۹۲

بې درګاه یې بل ځای د رحمٰن نشته
په سفر استوګه خو مسافران کا

عاشقان د ناصحانو وینا نه کا — مست هاتي د مهوتانو پروا نه کا
وار په جور د دې دور(۲) مې قبول دی — که خدای مال خپله یاره جدا نه کا
چې د ګلو پریشانۍ شوه ورځ ګنده — غوټۍ چې سر په زانو کښېنو خندا نه کا
وسیلاب ته د ړند وکي څه استاد(۳) وي — زړه چې ژاړي ستر ګې څرنګ ژړا نه کا
دنیا کل په احمقانو ده ودانه — دانا ځکه وابستګي د دنیا نه کا
چې بې زړه دی په هوا لوري ترلي — د حباب عمارت ځکه بقا نه کا
بې هنر دی چې خولك دین په دنیا پلوري — هنرمند سړی دا هسې سودا نه کا
که خولك والي هوښیار کوم دی وایه دادی — چې بې خدای په نوره مینه په چا نه کا
ګدایي که ورپښېږي د الې ځای دی — هر بادشاه چې دلجوئي د ګدا نه کا (٤)
چې بې دل یې په یوه نګاه رغېږي — څه انصاف دی چې دلبرې دوانه کا
هر چې زړه یې وي په یار باندې بایللی — نوره مینه په چا بې له آشنا نه کا(٥)
چې تر غوږ یې وي وینا د آشنا شوې — هغه غوږ هرګز په نوره وینا نه کا
و به نه رسي د یار تر بلند بام — چې د زړه غولي روښن په ژړا(٦) نه کا

۳۱ — ٤۰۷

زه رحمٰن د هغه یار په جفا خوښ یم
که اغیار مې خدای له میانه بیل نه کا(۷)

که سړی د خپلې پوهې تقصیر نه کا — د خدای کړه به خولك په پوهه تغیر نه کا
خواه ناخواه به د تقدیر شوي(۸) ورپېښ شي — که خولك هیڅ نظر په تقدیر نه کا

---

(۱) ب چاپ او د پېښور لور چاپي دیوانونه: "لکه کار د ګوش وچشم سره بیل دی."
(۲) په چاپي دیوانونو او د "خ" په دوه نسخو کې "دهر" راغلی دی.
(۳) په چاپي دیوانونو کې "حاجت" راغلی دی.
(٤) دا بیت د "خ" په دوه نسخو کې نشته.
(٥) دا بیت او ورپسې دوه نور بیتونه په قلمي نسخو کې نشته.
(٦) په "ق، ک" چاپ کې "رڼا" راغلی دی.
(۷) "ق" چاپ او "ل، ک" چاپ: "چې اغیار مې خدای له میانه جدا نه کا" د "خ" لومړنۍ نسخه او مصوره نسخه: "که اغیار مې تر دامیانه بیل نه کا."
(۸) د پېښور په چاپي دیوانونو کې "کښلي" راغلی دی.

Marfat.com

دهغو چې بخت بېدار شو غم يې نشته ... که هيڅېږي بېداري و شپګيږ نه کا
دا لږ خپلي کم فهمۍ مونږ څه وايو ... چې فلاني سړی تالاش و تدبير نه کا (۱)
دلګيري او خوشحالي که په خپل لاس وي ... په خپل لاس به خپل سر هيڅوك دلګير نه کا
معرفت د خدای څرګند دی په هر څه کې ... ستر ګې وخوره چې څوك هومره نظير نه کا
دا نفس په مثال برق صورت فانوس دی ... برق به هيڅوك په فانوس کې اسير نه کا
د دنيا سړي هم واره دي ماند دی ... کوم بادشاه دی چې منت دوزير نه کا
کوم واده کوم د کوږدن ده په جهان کې ... چې فلك يې وآخرته په وير نه کا
په خوله هر يو سړی اسم د پير اخلي ... باري څه په کار چې نغوته د پير نه کا
څه نسبې د قيامت نه دي لور څه دي ... چې د پلار و پيل په زوليو تأثير نه کا
هسې چاري له ناصحو واقع کېږي ... چې له شره دې يې هيڅ غل وکاسير نه کا
په مرده پسې تکبير و کاروان شي ... هيڅ ګومان په ځان د هسې تکبير نه کا
په دنيا پسې درست عمر زهيږي ... ځان يو دم د خدای د پاره زهير نه کا
د عيال د پاره تېر تر سر و مال شي ... د لجري په لوه تهوك د فقير نه کا

۳۲ ... ٤٢٣

ګرم دی چې نا ری د هجران اوري
واشنا وته کا نه په ځير ځير نه کا

ترحد تېره شوه په يار پسې ژړا زما ... نه ګروهېږي په ژړا سره آشنا زما (۲)
که مې هره وينا ډېره يا مرغلره شي ... لا د غوږ لايقه نه ګڼي وينا زما (۳)
په نار و به ما بېدار کړه اوده وي ... باري ولېښ را ته اوده شو دلربا زما (٤)
زه مکتوب غوندې په پټه خوله ګويا يم ... خاموشي زما تېرې کا تر غوغا زما (۵)
کښت د عشق په توده ځمکه آسان نه دي ... سمندر لويه چې زيست کا په صحرا زما (٦)

(۱) دا بيت په مصر چاپ کښې نشته.
(۲) دا بيت د "ب" چاپ کې داسې راغلی دی: "ډېره شوه په يار پسې ژړا زما نه ګروهېږي په ژړا آشنا زما". او په هم چاپ د "خ" په دوهمه او "ب" په دوهم مصرع کې نه پوره دا بيت ملك دوي رديف تول ميتوني ... راغلي
(۳) دا بيت د "خ" لومړي کې داسې راغلی دی: "که مې هره وينا ډېره شي مرغلري لا ليقت د غوږ و نه کړي وينا زما". او د "ب" چاپ کې داسې راغلی دی: "که مې هره وينا ډېره شي ياګوهر شي ستا د غوږ نه ده لايق وينا زما".
(٤) د "خ" په لومړي نسخه کې: "په نارو به ما بېدار که خوب دی وړی ولې ولېښي را ته اوده شه دلرباګا".
(۵) "ب" چاپ: "زه مکتوب غوندې په پټه خوله ګويا يم لاندې کړله خاموشي غوغا زما".
(٦) د "خ" لومړي نسخه: "کښت د عشق په توده ځمکه آسمان نکه سمندر لو به چې زيست کا په صحرا زما". او "ب" چاپ کې: "کښت د عشق په توده ځمکه آسان نه دی سمندر لويه به دې صحرا زما".

Marfat.com

دا یار نه دی چې هجران له مانه بېل کړ … روح زما دی چې له تنه دی جدا زما (۱)

زه رحمان بې خپله یاره هېڅ نه غوارم (۲)

۳۳ — ۴۳۰

که قبوله وي د خدای په دربار دعا زما

سل ځله که وخوري نا څرګنده ځيګر زما … بېل به ځله نه کا درد ستا او سر زما (۳)

صبر ستا په عشق کې دا خبره غوګ اوره … نشته د دې چارې توان یو موی قدر زما (۴)

ستا له محبته جار واته وماته عار دي (۵) … ولې خاورې نه شي په دا لار بشر زما

واره معشوقې د عاشقانو خبر اخلي … بې له تا چې نه اخلي یو دم خبر زما

هېڅ اندوه مې نشته بې د ستا له جدائه … نور اندوه به خړه وي تر دغه بتر زما

خوب د کور و کلي په نار و زما بر هم شو … خه چل دی (۶) چې نه شي ستا په زړه اثر زما

درست جهان که واره ما رحمان له زړه دلبر شي (۷)

۳۴ — ۴۳۱

چېرې دی دلبره بې تا بل دلبر زما

هسې یادې همېشه مدام زما … چې اوراد مې په هر صبح وشام زما

هر کلام چې بې د ستا له یاده وکړم … سل توبې دي په هغه کلام زما

زه که بې له تا له زړه آرام کړم په سل رنګه … نه شي نه شي په هېڅ رنګ آرام زما (۸)

ننګ و نام که ستا په مینه له ما درومي … زار شه ستا تر مینې ننګ و نام زما

چې قایم شوم په مقام د عاشقۍ … هېر شو دلته واره بل مقام زما (۹)

خو د عشق په خم خانه مې داخل نه کړم … پخته نه شو دغه عقل خام زما (۱۰)

نن دې وخت دی که مې آه و فریاد اوري … خو چې خاورې نه دی هر اندام زما (۱۱)

---

(۱) د «غ» لومړی نسخه: «دا یاران چې دی هجران له ما بېل کړی … روح زما دی چې له تنه دی جدا زما».
«ب» چاپ: «دا یار نه دی چې هجران له ما نه بېل کړ … دغه روح له تنه شه جدا زما».

(۲) «ب» چاپ: «زه رحمان بې خپله یاره هېڅ نه غوارم … که قبوله خدای ته وي دعا زما».

(۳) دا غزل د «غ» په دوهمه نسخه کې نشته.

(۴) په «ق» او «ق ک» چاپ کې د «موی» پر ځای «جو» راغلی دی.

(۵) چاپي دیوانونه او د «غ» لومړی نسخه: «جار واته زما د دروغ دی». مصوره نسخه: «جار واته زما غلط دی».

(۶) قلمي نسخې «خه چاره».

(۷) چاپي دیوانونه: «کل واره جهان که ما رحمان لره دلبر شي».

(۸) د «ب» نسخې: «بې له تا که ذره آرام کړم په سل رنګه … نه شي نه شي په هېڅ رنګ آرام زما».
د «غ» لومړی نسخه او مصوره نسخه: «که بې تا ذره آرام کړم په سل رنګه … نه شي نه شي په هېڅ رنګ آرام زما».

(۹) قلمي نسخې: «هېر شو دلې وته بل مقام زما».

(۱۰) چاپي دیوانونه: «خو د عشق په خم خانه بې داخل نه کړم … پخته نه دی دغه عقل خام زما».

(۱۱) د «ب» لومړی نسخه: «خو تر خاورو نه دی لاندې هر اندام زما». د «غ» لومړی نسخه: «خو چې لاندې نه شي تر خاورو هر اندام زما».
د «غ» دوهمه نسخه: «بیا به غوګ درسوی پیغام زما». مصوره نسخه: «خو لاندې تر خاورو هر اندام زما».

Marfat.com

هزارجام د صراحي دي فلك مات كړل — خو به ګرځي په دا دور جام زما

زه [illegible] به دانا کام کوم تر کومه
۳۵ — ۴۴۶
وایه (۱) کله به حاصل کړي (۲) کام زما

چې هرچا ليدلى نه وي يار زما — خبر دى داکه والي بل په کار زما (۳)

هرهغه چې وي دلبر زما ليدلى (۴) — نه به کا انشاء الله انکار زما

سر زما دركاه د هغه يار عزيز وي — بې له دې لار نشته بله لار زما (۵)

ما بې عشقه بل هغه خبر زده کړى نه دى — چې څه دى هم دا دى واړه کار زما (۶)

خداى دې هيڅوك يو ځل بلد ازارنه كا — اې دلبره مداخله ته ازار زما (۷)

ياره ستا په جدايي او په ډېر غم کې (۸) — سينه داوسکوه ومي په خسار زما

لوى دى كه هلاك دي واړه ستا خبري كا نه دي — بل ګفتګوى نشته په ديار زما (۹)

زه [illegible] به لاف په عشق کې څه وهم
۳۶ — ۴۵۴
خود به ځان خرګند کا انتظار زما

سر زما سامان زما زار شه تر جانان زما — زار شه تر جانان زما سر زما سامان زما

زيان زما نقصان زما واړه د يار هجر دى — واړه د يار هجر دى زيان زما نقصان زما

ګل زما ريحان زما ستا رخسار و زلفې دي — ستا رخسار و زلفې دي ګل زما ريحان زما (۱۰)

مشك زما زعفران زما ستا د کوڅې خاورې دي — ستا د کوڅې خاورې دي مشك زما زعفران زما

فکر زما توان زما ستا په غم کې نه رسي — ستا په غم کې نه رسي فکر زما توان زما

آه زما فغان زما هيڅ په تا اثر نه کا — هيڅ په تا اثر نه کا آه زما فغان زما (۱۱)

---

(۱) د "خ" لومړى نسخه : "خدايه".

(۲) "با" چاپ، "ق" چاپ، او "ق ک" چاپ : "شي".

(۳) قلمي نسخه : "چې هرچا ليدلى نه دى يار زما — خبر دى داکه والي بد به کار زما".
د "خ" دوهمه نسخه : "چا ليدلى نه دى په جهان کې يار زما — خه شوه که بد والي په کار و بار زما".

(۴) قلمي نسخه : "هرچا چې زما دلبر ليدلى وي". د "خ" دوهمه نسخه : "هرچا چې بې ليدلى مخ د دلبري وي — نه به که انشاء الله انکار به کار زما".

(۵) جالي ديوانونه : "سر زما دركاه د هغه يار عزيز وي — بې له دې نه نشته بله لار زما".

(۶) قلمي نسخه : "مالې عشقه هيڅ نه دى نور زده کړي — هرچې دى هم هغه دي واړه کار زما".
د "خ" لومړى نسخه : "خود به ځان خرګند کا انتظار زما" دوهمه نسخه : "ما به عاشقي کې نور څه نه زده که باور کړي — هرچې دى دغه دى واړه کار [...]"

(۷) قلمي نسخه : "هيڅوك دې خداى يو له بلد ازار نه کا — اې دلبره مداخله هرګز ازار زما".

(۸) قلمي نسخه : "ياره ستا د جدايي په غمونو کې". او دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

(۹) "با" چاپ او "پ" "با" چاپ : "لوى هلاك کړى هم واړه ستا خبرى — ګفتګوى نشته بل په ديار زما".
"ق" چاپ او "ق ک" چاپ : "لوى واړه کړى هم واړه ستا خبرى — ګفتګو نشته بل څه په ديار زما".
مصوره نسخه : "لوى هلاك واړه ستا خبرى که". د "خ" دوهمه نسخه : "لوى هلاك هم واړه ستا خبرى که د لره". او دا بيت د "خ" په لومړى نسخه کې [...]

(۱۰) د مشهور "پ" "با" چاپ او د "خ" قلمي نسخه : "ګل زما ريحان زما ستا د رخسار زلفې دى — ستا د رخسار زلفې دى ګل زما ريحان زما".

(۱۱) دا بيت په مصوره نسخه کې نشته.

Marfat.com

دا پیران شیخان زما ستا په غم کې نه رسي — ستا په غم کې نه رسي دا پیران شیخان زما (١)

زړه زما چشمان زما بې تا هیڅ حال نه لري — بې تا هیڅ حال نه لري زړه زما چشمان زما

باغ زما بوستان زما بې تا میوه نه نیسي — بې تا میوه نه نیسي باغ زما بوستان زما

٣٧ — ٤٦٤

وصال هم هجران زما ای نازنینه خیر دی

ای نازنینه خیر دی وصال هم هجران زما (٢)

ستا په څېر نه دي خوبان لېدلي ما — نه په غوږ و څېرې اورېدلي ما (٣)

هیڅ وفا له عاشقانو سره نه کا — دلبران دي واره ازمایلي ما (٤)

چې مې ستا و ښکلي مخ ته دي کتلي — بل یو مخ ته نه دي بیا کتلي ما (٥)

د زړه غولي مې نیولي ستا غمونو — نور غمونه دي له زړه ویستلي ما (٦)

چې مې کار د عاشقۍ په لاس کې واخیست — دي له دله کاره لاس وکښلي ما (٧)

نور غمونه مې له زړه نه دي وتلي — ستا غمونه دي پکې کړلي ما (٨)

که جفا کوې که جور واړه ځای لري — د ستا جور و جفا واړه دي منلي ما (٩)

٣٨ — ٤٧٢

زه رحمان بې یاره خوب و خندا نه کړم

بې ده نه دي خوب خندا اپسنالي ما (١٠)

---

(١) په نورو قلمي نسخو کې دا بیت نشته او د "پ" په قلمي نسخه کې داسې دی:
"پیران شیخان زما ستا په غم کې نه رسي — ستا په غم کې نه رسي پیران شیخان زما."

(٢) قلمي نسخه: "وصال زما هجران زما رحمانه واړه خیر دی — رحمانه واړه خیر دی وصال هم هجران زما."

(٣) دا بیت په قلمي نسخو کې داسې راغلی دی: "نور خوبان د ستا په څېر نه دي لېدلي ما — د لېدلي نه په غوږ و اورېدلي ما."

(٤) قلمي نسخه: "دلبران دي ما [illegible] ازمایلي ما."

(٥) د "ب" کوټي نسخه: "چې مې ستا ښکلي مخ ته کتلي دي — نور کاروند دي له لاسه غور خولي ما."
په "پ" چاپي کې: "چې مې ستا دي ښکلي مخ ته دي کتلي — بل یو مخ ته نه دي بیا کتلي ما."
د "خ" نورو نسخو: "چې مې ستا و ښکلي مخ ته کتلي دي — نور بیا نه دي وړل مخونو ته کتلي ما."
د "ب" په دوهمه نسخه کې دا بیت [illegible]

(٦) قلمي نسخه: "د زړه غولي مې نیولي ستا غمونو دي — نور غمونه دي له خاطره [illegible] ما."

(٧) قلمي نسخه: "چې مې کار د عاشقۍ په لاس اخیستی دی — نور کاروند دي له لاسه [illegible] ما."

(٨) قلمي نسخه: "هم په دا مې نور غمونه له زړه وواته — چې په زړه کې ستا غمونه دي کړي ما."

(٩) دا بیت په چاپي دیوانو کې نشته.

(١٠) قلمي نسخه: "زه رحمان بې یاره خوب و خندا نه کړم — خوب خندا بې یاره کله دي [illegible] ما."
د "خ" قلمي نسخې:
"زه رحمان بې یاره خوب و خندا نه کړم — خوب خندا بې یاره کاله [illegible] ما."

Marfat.com

چې واده یې کا په ډول او په سرنا[1] — بیا پرې والي زما نه دوېر وینا
که مې هر څو دلبري او دلجوئي کا — زه پوهېږم دخپل یار په استغنا[2]
په یوه ګړۍ مې یار هم مې آشنا شي[3] — بیا مې بله ګړۍ نه ګڼي آشنا
دا زه خپله تسلي کوم بیار بولم[4] — څه یاري ده د ناتوان او د توانا
یو زمان یو دم او بې خپله صنمه[5] — زه لهتره تر بقا ګڼم فنا
هر سړی په یوې چارې خدای مشغول کړ — زه مشغول کړم خدای د ترکو په ثنا
مالې عشقه بل هنر نه زده ناصحه — په خندا[6] شه که نادان یې که دانا
چې مې غوږ په نارو نه باسي حیران یم — پروانه لرې که وور وي که برنا[7]

## ۳۹

## ۴۸۱

بې د یار له سینه د بد نه دې خدای نه کا
د رباب پرزړه کې بله تمنا

چې یې نقش په زړه خیال شي د آشنا — صدقه یې سر و مال شي د آشنا
پس له مرګه یې تیغ هسې مخ روڼ وي — چې آشنا په تیغ حلال شي د آشنا[8]
په آسمان د آشنایه به یې مکان وي — چې زمین غوندې پایمال شي د آشنا[9]
خوشحالي زما د زړه په هغه دم وي — په هر دم چې زړه خوشحال شي د آشنا
روح هغه ساعت داخل ګڼم په تن کې — چې مې[10] دخل په وصال شي د آشنا
هم هغه یوه ګړۍ را باندې کال وي[11] — چې یوه ګړۍ محال شي د آشنا
نور د هیچا قیل و قال مې په کار نه وي — چې تر غوږ مې قیل و قال شي د آشنا
زر غونه کاندې دانه زما د عشق[12] — چې په زړه مې زرغون خال شي د آشنا

---

(۱) د "خ" لوېرۍ نسخه: "چې واده وي په ډول په سرنا بیا پرې زمانه دوېروینا". د "خ" دوهمه نسخه: "چې واده یې وي په ډول او په سرنا بیا پرې والي زمانه دوېروینا".
(۲) دا بیت د "خ" په لوېرۍ نسخه کې داسې راغلی دی: "که یې هر څو دلبري او دلجوئي کړم زه پوهېږم دخپل یار په استغنا".
(۳) د "خ" په لوېرۍ نسخه کې د "شي" پر ځای "وي" راغلی دی.
(٤) د "ب" او "ب ب" چاپ: "دا زه خپلې تسلي کوم یار یې بولم".
(۵) د "خ" لوېرۍ نسخه "یو زمان یو دم بې خپله دلبره". او دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۶) په نورو ټولو نسخو او دیوانونو کې د "په خندا" پر ځای "بخښنده" راغلی دی.
(۷) په چاپي دیوانونو کې دا مصرۍ داسې راغلې ده: "پروانه لرې وار په دی که برنا". د "خ" په لوېرۍ نسخه کې داسې راغلې دی: "پروانه لرې که زوړ وي که برنا". او د "خ" په دوهمه نسخه کې دا بیت نه دی راغلی.
(۸) مصوره نسخه: "چې زمین غوندې پایمال شي د آشنا".
(۹) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(۱۰) چاپي دیوانونه: "چې یې دخل په وصال شي د آشنا".
(۱۱) د "خ" لوېرۍ نسخه: "هم یوه ګړۍ وریځ را باندې کال وي".
(۱۲) مصوره نسخه: "عشق".

Marfat.com

نه بل څوك زما طبيب لې آشنا شته دي[1] — نه بل څوك به په مثال شي د آشنا

د زاهد نظر په هيڅ باندې نه وي
چې نظر يې په جمال شي د آشنا

٤٠ — ٤٩١

که ما بنا م تر ستوني بنکته کړې حلوا — سبا خواست کوې له خدايه د سنور وا
په هيڅ حال کې دې قرار و صبر نه شي — لېوني کړې د بر حرص ډېرې هوا
تمامي عمر تر يار ترعزيز پورې — لوې گېډې[2] مختورن کړې هم رسوا
چې په خپله رسوائي دې پروا نه شي — نور به خه کړې به جهان د چا پروا
چې د نفس د پاره لاس وخدائ ته نيسې[3] — د ازحمت له خدايه غواړې که دوا
نفس لې شماره عالم پر پوست وکوهي ته — خداي دې نه کا نابينا د چا پيشوا[4]
په روا په ناروا کله پوهېږي — وچارپاي ته خه روا خه ناروا
چارپايان که غوږ وسترگې لري خه شو — په معنی کې نابينا دي ناشنوا

زه زاهد له هغه علمه[5] پناه غواړم
چې له دينه له مذهبه وي سيوا

٤١ — ٥٠٠

دل و دين مې هغې ترکې کړ رها[6] — لا يې نه حسابوي د ځان بها
د بنايست صفت لې څوك و حيران يم — په هيڅ رنگ لې مونده نه شي انتها
د صورت له عيبه هسې پاکيزه دی — لکه ذات د وبېته نشته دی په ها[7]
که لې مخ په زلفو پټ وي باك لې نشته — تل په گنج باندې پراته وي اژدها
لکه نمر هسې جلوه کا په شفق کې — چې په سر کاندې اوږنې د سوها[8]
نه پوهېږم چې په کوم لاره درومم — چپ و راست مې رقيبان دي هزارها
خداي دې هسې تنها نه کا څوك په غم کې — لکه زه يم سنا په غم کې يك تنها (۹)

---

(۱) د "خ" لومړي او دوهم او مصور نسخو: "نه بل څوك زما طبيب نه مې اشنا شته".
"ق" چاپ او "ن ک" چاپ: "نه بل څوك زما طبيب او اشنا شته دی".

(۲) چاپي ديوانونه: "لوې گېډې".

(۳) " " : "د حيانه نيسې".

(٤) "ق" چاپ: "اشنا".

(٥) مصور نسخه: "زه رحمان له هغه حلکه پناه غواړم".

(٦) چاپي ديوانونه: "دل و دين مې په هغه ترك كړ فدا".

(۷) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه او مصوره نسخه کې نشته.

(۸) دا بيت د "خ" " " " کې نشته.

(۹) د "خ" لومړۍ نسخه: "خداي هسې رنگ تنها په غم څوك نه کا لکه زه ديار په غم کې يم تنها".

Marfat.com

٤٢ — ٥٠١

همیشه دبلبلتانه په غم کې لولم
زه رحمان نعوذ بالله منها (۱)

که مېن یې په خپل یار باندې رښتیا — اواره کړه ا ول دین ، لېسې دنیا
په وفا د دلبرانو غلط مه شه — دغه قوم دی بې وفا او کبریا
دخوبانو طایفه ده هسې شوخه — چې خوږ نه باسي دچا په واویلا (۲)
ددبر ناز او د دبر کبر له سببه — عمل نه کا په گفتار د اولیا
ملـ ودین په نیم نگاه دسرې یوسي — نه یې وېره له چا لېږي نه حیا
بل په هسې سرگردان په جهان نه وي — یا عاشق دی یا آسمان دی یا آسیا
نه چې تر غوږې سر و مال په عاشقی کې — عاشقي دا هسې چېرې وي وېړیا (۳)
دجنت ترحور و تېر شه که یار غواړې — خدای دې نقل دچا نه کاندې نسیان
د ساقي له لاسه هسې باده نوش کړه — چې دې غوږ کا د زړه خیرې دریا
چې یې کسب عاشقي شي د دلبرو (۵) — نظر نه کاندې په کسب د کیمیا

٤٣ — ٥١٩

یو گفتار ورلره بس کاندې رحمان
خدای په هر ساعت پوښتنه کړي بیا بیا

عاشقي مې یې په زړه وکړ گډ بیا (۶) — بلبلتانه مې لمبې بلې کړې په سر بیا
که دفتر دخپل قسمت مې په خپل لاس وي — ما به ستا له غمه (۷) وران کا د ا دفتر بیا
مالانو مې د آشنایي اخستې نه و — جدایي یې راته جمع کړ لښکر بیا (۸)
پس له مرگه به یې بیا تر تا قربان کړم (۹) — که صورت مې خدای پیدا کړ په محشر بیا
دهجران محنت مې واړه له زړه هېر شو — چې مې ولیده په ستر گو ستا بشر بیا

---

(۱) د "خ" اړې وارد نسخه : "زه رحمان اعوذ بالله منها".
(۲) دا بیت د "ب" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی : "دخوبانو طایفې دې هسې شوخې چې غوږ نه باسي دچا په واویلا" او د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "واویلا" پر ځای "انگولا" راغلی دی.
(۳) دا مسرۍ په مصوره نسخه کې او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده : "عاشقي دا هسې چېرې ده وېړیا".
(۴) دا مسرۍ په "پ" نسخه کې داسې راغلې ده : "خدای دې نقل دچا ونه کاندې نسیا".
(۵) دا مسرۍ په چاپي دیوانونو کې او هم د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده : "چې یې کسب عاشقي شوه د دلبرو". او د "ب" په دوهمه او د "خ" په مصوره نسخه کې د "شوه" پر ځای "ده" راغلی دی.
(۶) د "ب" په لومړۍ : "عاشقي مې یې په زړه وکړ اختر بیا". د "پ" او "چاپ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده : "عاشقي مې په زړه او کړ لوگډ بیا".
(۷) د "خ" په لومړۍ او مصوره نسخه کې د "له غمه" پر ځای "له لاسه" راغلی دی.
(۸) دا مسرۍ په چاپي دیوانو کې داسې راغلې ده : "جدایي دې راته جمع کړ لښکر بیا" او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده : "بېلتانه یې راته جمع کړ لښکر بیا".
(۹) د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "کړم" پر ځای "شوم" راغلی دی.

Marfat.com

چې آسمان يې مخ پټ کړي په سحاب وُ(۱) — خدای وماوته څرګند کړ هغه نمر بیا
چې رقیب راته ترلې په ځنځیر وُ — خپل حبیب راباندې پرانت هغه ور بیا(۲)
په یوه نظر یې زړه راڅخه یو وړ — خدای دې خیر کا چې لا وکا بل نظر بیا(۳)

۴۴ — ۵۲۸

په وصال یې منت بار او سه

په صدف کې دخل نه وي د ګوهر بیا

هغو بیامونده سعادت په دا دنیا — چې یې وکړه قناعت په دا دنیا(۴)
نه ملکونه د سلیمان په هزار کاله — نه یوه ګړۍ طاعت په دا دنیا
یو نفس د خدای په یاد وا ولې تر دي — نه د درست جهان دولت په دا دنیا
په دنیا کې لوټ هغو عالمو وکړ(۵) — چې یې وکړه عبادت په دا دنیا
که نعمت دی خو طاعت او عبادت دی — ګنه نشته بل نعمت په دا دنیا
که محنت که مشقت دی خو د دین دی — په کار نه دی بل محنت په دا دنیا
بې له خدایه هر چې دي هم فاني دي(۶) — که لذت دی که زینت په دا دنیا
که بادشاه دی آخر خاورو لره د رومي — څه عزت دی څه قربت په دا دنیا
تر هغه به بل نادان په جهان نه وي(۷) — هر چې غواړي فراغت په دا دنیا
نه چې څو وخته فرصت په دنیا غواړي(۸) — چا مونده لې دی فرصت په دا دنیا
عمارت په سر د ریګو روان کاندي(۹) — هر چې کاندي عمارت په دا دنیا
د مستانو تر لغزش څه کم نه دی — د سړي استقامت په دا دنیا
هر ژوندی چې د مړده په قبر ور شي — بس دی هومره نصیحت په دا دنیا(۱۰)
په روانو او بو ور شه عمر ګوره — د پر دی هومره اشارت په دا دنیا

---

(۱) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کښې نه دی راغلی.
(۲) دا بیت د "خ" په لومړۍ او "ب" په دوهمه نسخه کښې داسې راغلی دی: "خپل حبیب راباندې پرانت هغه در بیا".
(۳) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کښې نه دی راغلی، د "پ" چاپ کښې ... داسې راغلی دی: "خدای دې خیر کا چې لا بل وکړي نظر بیا".
اود "خ" په لومړۍ نسخه او د "ب" په دوهمه نسخه کښې داسې راغلی دی: "نږدې دی ګوره که لا د کا نظر بیا".
(۴) د "خ" په لومړۍ قلمي نسخه کښې دا غزل نه دی راغلی.
(۵) د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کښې "په دنیا کې لوټ هغو زلمیو وکړ".
(۶) دا مسرۍ د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کښې او هم د "پ" چاپ کښې داسې راغلی ده: "بې له خدایه هر چې دي دا به فاني دي".
(۷) دا مسرۍ په "پ" چاپ کښې داسې راغلی ده: "له هغه به زیات نادان په جهان نه دي".
(۸) دا مسرۍ په قلمي نسخو کښې داسې راغلی ده: "نه چې څو ځله فرصت په دنیا غواړي".
(۹) دا مسرۍ په "ب" چاپ کښې "عمارت په سر د ریګ روان کاندي". او په "پ" چاپ کښې "عمارت په سر د ریګ به روان کاندي".
(۱۰) قلمي نسخو کښې "بسکه ..." راغلی دی.

Marfat.com

دا یا خدا یا خدا سرایونه محلونه　　خو به وران شي عاقبت په دا دنیا
ورې ستړګي د آسمان څه هسې نه دي(۱)　　چې خوك پرېږدي سلامت په دا دنیا
هر چې راشي همه واړه ځني درومي　　مسافر دی هر صورت په دا دنیا
ریاضت په قیامت نه شي مرد هغه دی　　چې یې وکړ ریاضت په دا دنیا
هم په دا خوی وخصلت به سبا پاخي(۲)　　خدای خوك مکړه بد خصلت په دا دنیا
هم هغه به یې خرمن وي پس له مرګه　　هر چې کاندي زراعت په دا دنیا
که هغه جهان په دا کې لیده نه شي　　زه یې وینم علامت په دا دنیا
په قیامت به ښه توښه ځبله نه شي　　مال بدلی دی قیامت په دا دنیا
امانت به د لحد په میان کې پروت وي　　هر چې اوسي امانت په دا دنیا
نیك عمل حضور جنت دی طاعت بویه(۳)　　چې حاصل کا خوك جنت په دا دنیا
نیك کردار هم نیك عمل هم نیك خوی بویه　　هم جنت دی هم راحت په دا دنیا(٤)
ضدیت د سړي عمر په عذاب کا　　په کار نه دی ضدیت په دا دنیا
لاس په سر په سینه ایښی وه چا ته　　هم دغه دی شرافت په دا دنیا
که بلند مرتبه د چا په کار وي　　اوی مقام دی عدالت په دا دنیا
بال ارمان به له جهانه یو وړ نه شي (۵)　　مګر مهر محبت په دا دنیا
د هغه جهان سودا واړه دلې ده (٦)　　که خوك کاندي تجارت په دا دنیا
که طالع د سړي نه وي چار و تلي　　هیڅ پټ نه دی حقیقت په دا دنیا
نیك له نیکو سره بویه بد له بدو　　که خوك غواړي ولایت په دا دنیا
ولایت دی خدای هغه له ورکړي　　چې یې ورك کړ سکونت په دا دنیا
که تمام دنیا واړه سره یو شي　　نور به نه کا خپل قسمت په دا دنیا
که خواك(۷) مرد دی خو هغه دی په دنیا کا　　هر چې نه لري حاجت په دا دنیا

---

(۱) د "ب" نسخه او د "خ" او نسخه: "ورې ستړګي د آسمان څه هومره نه دي."
(۲) قلمي نسخه: "هم په دا خوی وخصلت به پاڅا وه شي."
(۳) قلمي نسخه کې "طالع" دی. القلم
(٤) دا بیت د "ب" په نسخه کې نشته. د "خ" په ... قلمي نسخه کې: "نیك کردار له نیك عملو سره بویه." القلم
(۵) "ب" په "چاپ" "بل ارمان به له جهانه یوړ نه شي."
(٦) "پ" "چاپ" "د هغه جهان سودا واړه دلې شي."
(۷) په قلمي نسخه کې "که خوك" القلم

چې رغبت يې د جملو بلاؤ سر دی　　څوک به څه کاندي رغبت په دا دنيا (۱)

(۴۵)　　(۵٦۵)

په ردیف باندې دا غزل هسې تېر شو
لکه تېر شو يو ساعت په دا دنيا

هوښيار مه ګڼه هوښيار د دې دنيا　　بې وقوف دی وقوف دار د دې دنيا

روښنايي په هغو زړونو ده حرامه (۲)　　چې پرې کېښې ګرد غبار د دې دنيا

پوچ ګويي ده چې يې اهل د دنيا کا (۳)　　هر کلام او هر ګفتار د دې دنيا

د طفلانو په څېر واړه خاکبازي کا　　هر چې کاندي کاروبار د دې دنيا

واړه ړکې خولې د پېو هلکان دي　　کار دیده او پخته کار د دې دنيا

همېشه به بې وقوف او بې شعور وي　　چې مخمور وي په خمار د دې دنيا

د شرابو هم لا هومره مستي نه وي　　لکه مست وي خمخوار د دې دنيا

هر بيمار لره دارو په جهان شته دی　　دارو نه لري بيمار د دې دنيا

د هر سوي علاج وشي په جهان کې　　مګر سوی په شرار د دې دنيا

هر چې اچوي واورته واړه سوځي　　مور به نه شي طلبګار د دې دنيا

ګرفتار به همېشه په غم کې ډوب وي　　هيڅوک مه شه ګرفتار د دې دنيا

تل به پروت وي په ظلمت او په تورتم کې　　چې اسير وي په کفار (۴) د دې دنيا

په مسلمو کې خاص مسلم هغه دی　　چې يې وشلاوه زنار د دې دنيا

څه وېت وته سجده څه و دنيا ته　　بت پرست دی پرستار د دې دنيا

تن يې پاتو شي بې سره، سر يې لاړ شي　　سردار کله دی سردار د دې دنيا (۵)

زوی او لور به يتيمان کا څني درومي (۶)　　بې وفا دي مور او پلار د دې دنيا

همېشه به يې پوښتو د غم په سر وي　　چې په سر يې وي دستار د دې دنيا (۷)

واړه غم دی که يې پېرې که يې (۸) پلوري　　نور څه نشته په بازار د دې دنيا

(۱) دا بيت په "ب" چاپ کې نشته.
(۲) د "خ" په دواړو نسخو کې "روښنايي ده په هغو زړونو حرامه" راغلی دی.
(۳) د "خ" په دواړو نسخو او "ب" چاپ کې "پوچ ګويي ده چې يې اهل د دنيا کاندي" راغلي دي.
(۴) د "خ" په لومړۍ قلمي نسخه کې "ګفتار" راغلی دی.
(۵) دا بيت د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې نه دی راغلی.
(۶) په "ب" چاپ کې: "زامن لونه يتيمان که څني درومي".
(۷) دا بيت د "خ" په لومړۍ قلمي نسخه کې نه دی راغلی.
(۸) د "ب" په نسخه کې "پالي" راغلی دی.

Marfat.com

همګي واړه نېکان دي تېګي کاندي ... فروشنده او خريدار دي دنيا(1)

په دنيا به مينه نه کاندي هيڅېري ... چې خبر وي په اضرار(2) دې دنيا

چې نظر د چا په دين او په ايمان وي ... هغه نه کا انتظار د دې دنيا(3)

چې وېرېږي له کومي او له ګرېنګه(4) ... هغه نه دره وي په لار د دې دنيا

آشنايان يې همه واړه مکاران دي ... خه وېساده په مکار د دې دنيا

لوی، هلاک يې، همه واړه اغيار دي ... يار دی چېرې په ديار د دې دنيا

چې پيدا شي همګي واړه فنا شي ... راشه وګوره ناتار د دې دنيا

هر سړي لره چې ورشي څني دره وي ... ماليده لي دی رفتار د دې دنيا

په يوه ګړی بهار وي بيا خزان شي ... بقا نه لري بهار د دې دنيا

که هزار هزار پښتي ورته ته کېږدي(5) ... بې بنياده دی ديوار د دې دنيا

که د اوسپنو حصار ترځان چاپېر کړي ... سنبسه وګڼه حصار د دې دنيا(6)

لکه سيوري د آفتاب به مخ کې ګرځي ... نشته هيڅېر ته قرار د دې دنيا

هېڅ ګومان د بهتري وربانډې مه کړه(7) ... کمتري ده واړه په وار د دې دنيا

بې مقراضه غوځوي د سړي عمر ... هم د ليل او هم نهار د دې دنيا

پس له مرګه به حساب له سړي غوښتن شي ... پانداز او په مقدار د دې دنيا

عاقبت خوېيه يو موټی شي د خاورو ... ګلعذار او ګل رخسار د دې دنيا

برابر به له ګدايه سره پيا څي ... شهزاده او شهريار د دې دنيا(8)

پاس به داغ وي د لئيم په سينه باندې ... هر درهم او هر دينار د دې دنيا(9)

د قانع ترقناعت صدقه شه ... هم دنيا او هم دينار د دې دنيا(10)

پس له مرګه به همه واړه مظلوم وي ... ظالمان او ستمګار د دې دنيا

ترقيامت به د غه شل او د غه لس وي(11) ... پوره نه کړه هيڅ چا شمار د دې دنيا

---

(1) دا بيت د "خ" په لومړي نسخه کښې نه دی راغلی او "ب ب" چاپ کښې داسې راغلی دی: "همه واړه لې نېکان دي تېګي کاندي".

(2) په چاپي نسخه کښې "اسرار" راغلی دی.

(3) د "ب" نسخه: "هغه نه لري نظر په کار د دې دنيا". د "خ" دوهمه نسخه: "هغه نه لري هيڅ کار د دې دنيا".

(4) د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کښې: "چې لې وېرېږي له کوهه له ګرېنګه".

(5) قلمي نسخه: "که هزار هزار پښتي ورته کېږدي".

(6) د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کښې: "لې سپي وګڼه حصار د دې دنيا". د "ب ب" چاپ کښې: "سنبسه وګڼه ديوار د دې دنيا".

(7) قلمي نسخه: "هيڅ ګومان د بهتري پرې مه کړه".

(8) دا مسرۍ د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کښې داسې راغلې ده: "شهزاده او شهسوار د دې دنيا". (9) دا بيت د "خ" په نسخه کې نه دی راغلی.

(10) دا بيت په "ب ب" چاپ کښې نه دی راغلی.

(11) دا مسرۍ په چاپي ديوانو کښې داسې راغلې ده: "ترقيامته د غه لس او د غه شل دی".

Marfat.com

چي ايام پري د کفن او غسل ور شي — بې پردې شي پرده دار ددې دنيا
په تخته باندې بيرون شي له حجابه — شرمناك او شرمسار ددې دنيا (۱)
تو هر چا به پيغمبر خندوه د پيره — که خه قرب وي يا وقار ددې دنيا

۴۶

يو فساد به يې بيان په زلمي نه شي (۲)
فساد ونه دي بسيار ددې دنيا

۶۰۸

سې مست يم ستا د شونډو په شراب (۳) — چې به نه وي بل داهسې مست خراب
لاس دستا په مينه اچوم وگل ته — لکه بوټي ته لاس اچوي غرقاب
داسرخي او سپينې دستا مخ ده — که زما په مخ باران دی د خوناب (۴)
خداثر به زما او ښکي په تا کاندي — لا تازه شي او ريپا او ښکو د کباب
عاشقان دې سترگې رونې کا په عشق کې — دا خواب نه دی دا منزل دی د سيلاب (۵)
ماچې خال دستا د ورځو په ميان وليد — نه بل هسې رنگ امام شته نه محراب (۶)
ښاپيرې چې لپاره نه شي سبب دا دی — مخ دستا له شرمه نغاړي په حجاب (۷)

---

(۱) دامسري او ... يو ... شرمناك وشرمدار ددې دنيا.
(۲) د ... يو فساد به يې بيان تر رحمان نه شي.
(۳) دامسري ... هسې مست ... د شونډو ونه شراب
(۴) ... دا سرخي او سپينې ده ستا مخ کې — که زما په مخ باران دی د سيلاب.
... دا سرخي او سپينې چې ستا د مخ ده — دا زما په مخ باران دی که سيلاب
... دا سرخي او سپينې حوښا د مخ ده — که زما په مخ باران دی د خوناب.
... دا سرخي او سپينې چې ستا د مخ ده — که زما د مخ باران دی د خوناب
(۵) دامسري ... دا خواب نه دی منزل گاه دی د سيلاب.
(۶) دامسري ... نه بل هسې رنگ امام شته د محراب.
... نه بل هسې رنگ امام شته نه محراب
(۷) دامسري ... مخ دستا له غمه نغاړي په حجاب.

Marfat.com

چې سبا شي ستا تر مخ پورې شرمیږي — ځکه زیست په توره شپه کاندي مهتاب
حجاب واخله مخ کړه تورو هغو خلقو — چې تحسین کا ستا په دور د آفتاب
هسې نه چې زه دلبر وایم وتا ته — خدای دې تا لره درکړې دا خطاب
ستا د مخ په ورق باندې خط و خال دي — د مصحف په صحیفو باندې اعراب
ستا د حسن حساب هیڅ په رحمان نه شي — هم په دا چې بې حساب دی بې حساب

٩٢١

۴۷

یو کتاب په سر بن کې چا ونه کړ (۱)
بې رحمانه چې یې وکړ دا کتاب

چې یې ولید د ستا حسن بې حساب — لړدې قصه تا و پېل شوله آفتاب (۲)
ستا له غمه مې سترګې سرې ناخې شوې — یا خیمې د سیاه پوش سره طناب (۳)
په ارزو دې د نرګس سترګې خلور شوې — غوټۍ سره د زړه په وینو شوه غرقاب (۴)
که دې زلفې په مخ پېچ و تاب شوې بنایي (۵) — وسپنه څه طاقت لري د اور له تاب
زه چې خدای د ستا له غم سره آشنا کړم — خوشحالي مې نوره نایابه شوه نایاب
سترګې مې د فراق په ژړا سره شوې — د سرې اترې پاخېده له آب (۶)
مه و خورشید چې دې ښایست پورې شرمیږي — ځکه مې پناه کوي تر کوه قاف (۷)
زه دې پېژنم په اصل کې خاکي یې — ځان به خوشخنې په ګوتې له تراب (۸)
خو دې خیال د آشنا ګرځي په لیمه کې — خبر زده کړه ته د اوښکو له سېلاب (۹)

٩٣١

۴۸

د رحمان بخت به هاله خوب وین شي
که ته سترګې ورته پورته کړې له خواب (۱۰)

---

(۱) دا مسری په "ب" په چاپ کې داسې راغلې ده: "بې رحمانه چې یې جوړ کړو دا کتاب". او د دغه بیت لومړۍ مسری د "خ" په دواړو قلمي نسخو کې داسې راغلې ده: "یو کتاب په سر بند کې چا ونه کړ".
(۲) دغه بیت ... راغلی او دا بیت د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: "چې یې ولید ستا حسن بې حساب لړدې قصه تاو پېل شو د آفتاب".
(۳) دا بیت په "ب" په چاپ کې داسې راغلی دی: "ستا په غم مې سترګې سرې ناخې شوې یا خیمې دی سیه پوش سره طناب". خو په لومړۍ قلمي نسخه او "پ" چاپ کې دا بیت نه دی راغلی.
(۴) دا بیت په "ب" چاپ کې داسې راغلی دی: "په ارزو دې د نرګس سترګې خلور شوې غنچه سره د زړه په وینو شوه غرقاب".
د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: "په ارزو د نرګس دوې سترګې خلور شوې غنچه سره د زړه په وینو شوه غرقاب".
د "خ" په لومړۍ قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: "په ارزو دې د نرګس سترګې خلور شوې غنچه شوه د زړه په وینو کې غرقاب".
د "پ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: "په ارزو د نرګس سترګې خلور شوې غنچه سره د زړه په وینو کې غرقاب".
(۵) دا مسری د "خ" په لومړۍ نسخه کې (قلمي نسخه کې) داسې راغلې: "که دې زلفې په مخ پېچ و پېچ دي بنایي".
(۶) دا مسری د "خ" په دواړو قلمي نسخو کې داسې راغلې ده: "سترګې مې د فراق په ژړا سپینې شوې". او د "پ" په دوهمه نسخه کې د "سپینې" پر ځای "شنه" راغلي دي.
(۷) دا بیت د "خ" په دواړو قلمي نسخو او د "پ" په دواړو قلمي نسخو کې نه دی راغلی.
(۸) د دغه بیت دوهمه مسری د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلې ده: "ځان به خوشخنې په ګوتو له تراب". خو په لومړۍ قلمي نسخه او "پ" چاپ کې نه دی راغلی.
(۹) دا بیت پرته له "پ" چاپ څخه په لومړۍ نسخه کې نه دی راغلی.
(۱۰) دا مسری د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلې ده: "که ته سترګې ورته پورته کړې له خواب".

Marfat.com

لاس مې وتړي د زلفو په طناب — بيا مې وپلوري د سترګو په قصاب (۱)
هسې آب يې دی د دوو سترګو په تيغ کې — چې يې سره په سر نه لري حباب
چې توسن د فلك زين کاندي له نازه — داهلال يې په ځای راوشي د رکاب (۲)
په درګاه يې د روبزه کاندي د حسن — کنه ولې په لاس سپوږمۍ هم آفتاب (۳)
چې رايادې يې سرې شونډې سورې پرزوان کړم (۴) — تر چشمانو مې بهيږي سره شهاب
چې د مخ و آب وتاب ته يې نظر کړم — راته هيڅ شي د ګلونو آب وتاب (۵)
چې نسيم يې د زلفينو راپيدا شي — درست مې بوی کاندې په مشکو په ګلاب
چې دسپي اوازيې واورم هسې خوښ شم — لکه څوك په نغمه خوښ وي د رباب
ماوې ګوندې مخ يې ووينم په خوب کې — باري چيرې شي لې ياره د چا خواب (۶)

په غزل کې خو دوه بيته انتخاب وي (۷)

۴۹ — د رحمان تمام غزل دی انتخاب — ۹۴۱

هر مطرب چې غوږی تاو کا د رباب — په دانا وکې زما زړه کاندې خراب (۸)
چې سامع يې په نغمه په ترانه شم — د ديوانه شم ګرلوان خيرې مستخراب
هم يې تار هم يې ګفتار هسې اثر کا — چې هيڅوك يې نه طاقت لري نه تاب
يو يې ساز بل يې اواز دی د لبستيو — درېيم شعر پرې آغاز کا انتخاب
خلورم يې يوساقي د څنګ ناست وي (۹) — چې مخې يې نه افتاب وي نه مهتاب
داخلور واړه فتنې په خلور کنجه — او پنځم يې صراحي د ميو ناب
شپږم وخت د نوبهار او وم ځواني د مې — اتم شغل د کتاب هم رباب (۱۰)
چې داهوم مې آفتونه سره تول شي — تر وڅوك څرنګ څني کاندي اجتناب

---

(۱) ددې غزل نخست بيت په مصوره نسخه کې نشته. په چاپي ديوانونو کې د "وپلوري" پرځای "وسپاري" راغلی دی.
(۲) قلمي نسخې: "داهلال په ځای راوپيچي د رکاب". د "ع" ددغه نسخه: "دهلال پرځای لی ونسلي رکاب"
(۳) "ق ك" چاپ او "ق" چاپ: "کنه ولی په لاس نيولی دی مهتاب". د "ع" ددغه نسخه: "کنه ولې په لاس سپوږمۍ هم د آفتاب"
(۴) چاپي ديوانونه: "چې په يادکې مې سرې شونډې سپين څسار دی"
(۵) "ق" او "ق ك" چاپ: "راته هيڅ شي د ګلونو آب وتاب"
(۶) چاپي ديوانونه: "ماوې مخ يې ګوندې ووينم په خوب کې باري چيرې شي لې ياره خوړي د خواب"
(۷) د "ع" لومړی نسخه: "په غزل کې يو دوه بيته انتخاب دي"
(۸) په چاپي ديوانونو او د "ع" په لومړۍ او ددغه نسخه کې د "خراب" پرځای "کباب" راغلی دی.
(۹) چاپي ديوانونه او د "ع" لومړی نسخه: "خلورم يې يوساقي تر څنګه کښيني"
(۱۰) قلمي نسخې: "شپږم وخت د نوبهار او د ځوانۍ اووم شغل د بياض ود کتاب"

Marfat.com

چې دا هسې دلبران پرې اثر نه کا — یا به دیو وي یا د پوال وي یا دواب (۱)
راځه ګند به شي پرهېز د پرهېزګارو — که قادر شي په شاهان او په شراب (۱)

۵۰

زه رحمان له ریا زهده (۲) پناه غواړم
د ریا زهد عذاب دی هم عتاب

۶۵۲

ورقونه لټوم د هر مکتوب — پکې غواړم خال وخط د خپل مطلوب (۳)
یا تنور دی یا دکان د آهنګرو — چې په عشق کې تصور کړم د خپل قلوب
په خندا خندا ځان اچوي واورته — خدای څوک مه کړه په جذبه د عشق مجذوب (۴)
زه چې غم د هجر و یانو راپېژره کړم — له دې غمه ولاړ شي زړه راڅخه ډوب
ګوره څرنګ عشق آسان کړه و عاشق ته — دا مشکل مشقتونه د ایوب (۵)
په ژړا ژړا تر هسې حده راغی — چې ځان ړوند کړ په یوسف پسې یعقوب
عشق دے دا چې معشوقه شوه و عاشق ته — نه د رخسار د هر و یانو په اسلوب (۶)
هغه څه یو بېنتي له هجره له وصاله — چې په خپله هم محب شي هم محبوب

۵۱

چې نظر یې له صورته په معنو کړم (۷)
و رحمان ته یکسان شو زشت و خوب

۶۶۱

چې نظر کړم په قسمت او په نصیب — راته هیڅ شي خپل تلاش و خپل ترتیب (۸)
مګر خود په خپله خلق دے د چا طبیب شي — ګنه نشته په جهان کې بل طبیب
راځه ګند دی په سود او زیان د رقیبانو — که خدای نه کاندې خپل یار د چا رقیب (۹)
چې خپل یار د چا رقیب شي دلیل دا دی — لکه څوک چې په وطن کې شي غریب (۱۰)
چې غریب شي په وطن کې فرق یې نه وي — که فرسنګ یې وي تر میانه که جریب
ما په عشق کې هیڅ حاصل نه کړه بې غمه — هر چې والي واړه (۱۱) بنه والي ادیب

(۱) مصری نسخه: "که قادر شي څوک په شهد و په شراب" (۲) په "ق" چاپ او د "ع" لومړي نسخه کې "پرهېز" او په "ق ک" چاپ کې "امان" راغلی دی.
(۳) دا مسری په چاپي دیوانونو او د "ع" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: "پکې غواړم خال وخط د خپل محبوب". د "ع" لومړۍ نسخه: "او پکې غواړم خط و خال د هر مطلوب".
(۴) دا بیت د "ع" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "په خندا خندا ځان اچوم واورته — خدای څوک مه کړه په جذبه د عشق مجذوب". خو په لومړۍ قلمي نسخه کې د "مجذوب" پر ځای "میزوب" راغلی دی. په "نیا ب" چاپ کې داسې راغلی دی: "په خندا خندا ځان اچوي بل اور ته — خدای چې څوک کړي په جذبه د عشق مجذوب".
(۵) چاپي دیوانونه: "ګوره عشق څرنګ آسان کړه و عاشق ته — دا مشکل مشقتونه د ایوب". د "ع" په لومړۍ نسخه کې د "ایوب" پر ځای "و عیوب" راغلی دی.
(۶) دا بیت د "ع" په دوهمه قلمي نسخه کې نشته، او دا بیت چې لومړۍ مسرې کې د "شو" پر ځای، په "پ" چاپ کې "شته"، په "پټ" چاپ کې "شوه"، د "ع" په لومړۍ قلمي نسخه کې "شي" او د "ب" په دوهمه نسخه کې "واه" راغلی دی.
(۷) دا بیت د "ع" په لومړۍ قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: "چې نظر یې له صورته په معنو کړي — ورحمان وته یکسان شي زشت و خوب".
(۸) د دې ردیف اول بیتونه د "ع" په دوهمه قلمي نسخه کې نه دي راغلي. (۹) دا بیت په "پ" چاپ کې داسې دی: "راځه ګند دی سود و زیان د رقیبانو — که خدای دې نه کاندې خپل یار د چا رقیب". په "پټ" چاپ کې: "راځه ګند دی سود و زیان د رقیبانو — که خدای نه کاندې خپل یار د چا طبیب". د "ع" لومړۍ قلمي نسخه کې: "راځه ګند دی په سود او زیان د رقیبانو — که خدای نه کاندې خپل یار د چا رقیب".
(۱۰) دا بیت په "ب" چاپ کې داسې راغلی دی: "چې خپل یار د چا طبیب شي مثال دا دی — لکه څوک چې په وطن کې شي غریب". مګر د "ع" لومړۍ نسخه کې یې دوهمه مسره داسې راغلې ده: "لکه څوک چې خپل وطن کې شي غریب".
(۱۱) په "پټ" چاپ کې د "واره" پر ځای "هغه" راغلی دی او دوهمه مسره یې د "ب" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلې ده: "هر چې والي واره بد والي ادیب".

Marfat.com

۵۲ دښمن هم د سري کله کله دوست شي
دوستي نه کا له ناصح سره حبیب ۶۶۸

زه په سل رنګه راغب | ته په سل رنګه غایب
دا به څرنګ شي دلبره | چې زه مست یم ته تایب
کله جوره دې فریاد کړم | دا هم نه دی مناسب
که خدای وایم نه مې رسي | زه مغلوب یم ته غالب
څه سیالي برابري ده | د مطلوب او د طالب[1]
دا ستا مهر و محبت کړو | خدای په ما باندې واجب
درد و غم دې هومره نه دی | چې یې وکښم په کاتب
جدايي ده ډېره سخته | دا رواح او د قالب
چې مجنون په ځنکدن شو[2] | زه یې پرېښودم نایب
وصیت یې راته وکړو | په څو رنګه[3] عجایب

۵۳ چې روزي دې شه ناصح
زما وا په مراتب ۶۷۹

---

که مې وشي له دلبره ملاقات | بیا به نه ځم له دې دره په حیات (٤)
پس له دې مې دا استوګنه خدای نصیب کا | په دا در کې که حیات وي که ممات

---

(۱) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۲) د "خ" دوهمه نسخه: "چې مجنون له دې جهان ته".
(۳) "ق" او "ق.ک" چاپ: "په سل رنګه".
(٤) دا مسرۍ د "پ ب" چاپ کې داسې راغلې ده: "بیا به نه ځم له دې دره په حیات".

Marfat.com

خای لری که زه و یار وته سجده کړم (۱) هغه یار زما قبله دی دحاجات (۲)
دخپل یار نر لعلو لبو به یې زار کړم که شکرې وي که قند وي که نبات
دا زما دیار جلوه ده چې لیده شي لکه لمر په صومعه د سومنات (۳)
زما لا په دلبرانو د بر مین دي چې خبرې کا د کشف او کرامات
د پیاله زاهدی زما توبه ده چې یې کاندې خوك په رسم او په عادات
په دوزخ پناه او نصیحت والي وبل ته په شپه ناست وي د مغان په خرابات
دین یې دام وي ددنیا په لار کې ایښی پرې رالړوي وحشیان د مخلوقات (٤)
د هغو په لورې سترگې وي ختلي چې په لاس یې سر سایه وي یا زکات
زه رحمان له هسې اهله پناه غواړم (۵)
هر چې لاف کا په خلاف د مقامات

۵۴

۶۸۸

آفرین د عاشقانو په همت چې په عشق کې یك اندازوي یك جهت
نه یې هیڅ یې تغیر نه یې تبدیل وي که تمام جهان پرې والي ملامت
که خوك سل نصیحتونه ورته کاندي غوږ یې نه وي د هیچا په نصیحت
چې په یار پسې ترځان ترجهان تېر شي خوك کولی شي داهسې مشقت
که تمام عمر یې یار په سترگو ناست وي (۶) تمام عمر ور بسکار بېړې یو ساعت
که یو دم شي هغه یار ور څخه لرې هغه دم شي ورته عمر دقیامت
که دوزخ لره د یار په مینه دروي دوزخ هم ورته جلوه (۷) کا د جنت
د عشق لار د توکل په پښو غوځبرې نه په پښو د ریاضت او دیانت (۸)
په تدبیر او په تلاش کله مونده شي چې موقوف وي هغه کار په عنایت

---

(۱) ... نوره کې د "خای لری" پر ځای "ښایي دا" راغلی دی.
(۲) ... قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: "هغه یار که قبول که دعاحاجات". د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی: "هغه یار زما قبله دی هم حاجات".
(۳) ... "چاپ" کې داسې راغلی دی: "لکه لمر په صومعه او په سومنات". په "ب" چاپ کې داسې راغلی دی: "لکه لمر په صومعه وسومنات".
(٤) ... قلمي نسخه کې داسې راغلي دي: "ایښی دام وي د دنیا په لار کې ایښی پرې رالړوي وحشیان او مخلوقات".
(۵) ... دوهمه نسخه کې داسې راغلي دي: "زه رحمان له هسې خلکو پناه غواړم هر چې لاف کا په خلاف د مقامات".
(۶) ... قلمي نسخه کې داسې راغلي دي: "زه رحمان حال به غواړم وخدای ته هر چې لاف کا په خلاف د مقامات".
(۷) ... دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلي دي: "که تمام عمر یې یار په ستر گو ناست وي".
(۸) ... دوهمه قلمي نسخه کې ... دی.
... هم ورته دوزخ کا د جنت ...
... قلمي نسخه کې ... دی: "... پښو د ریاضت دوست".

Marfat.com

ددریاب په مخ کې نه وي نجاست — دعاشق خاطرله غیرو پاکېزه دی

٦٩٩ — ٥٠

خدای چې زړه د مطلوب کاني کړي جانانه[1]
کاني پروت د طالب په عمارت

وصال شپه بدله په بېلتون شوه الغیاث — دقیامت خوارۍ راپېښه په ژوندون شوه الغیاث
مالاطمع دوصال نعمتونوتری کوله — ناګهان کاسه[2] نسکوره د ګردون شوه الغیاث
هغه چار چې مې په لاس وه زه پرې نه وم پوهېدلی[3] — اوس چې پوه شوم له اختیاره مې بېرون شوه الغیاث
دوصال په طمع طوق د جدایۍ شو راپه غاړه — هغه طمع چې زما وه اوس طاعون شوه الغیاث[4]
په حکمت په عقل بېچې د عشق اخستې خلاص نه شې[5] — په دا کار کې مې ملا د افلاطون شوه الغیاث

٥٦ — ١٠٥

ما رحمان دیار وصال په اسانۍ موندلی نه دی[6]
زرد روي مې سرخ روي په جګرخون شوه الغیاث

یار یاري راسره ندکه الغیاث — نه یې ترس شي نه یې کرکه الغیاث
سروما ل وار ه زما ود لارام ته — نه ارزېږي په ګنجکه الغیاث
په چلو چلو مې زړه وړي نه پوهېږم[7] — افریدی ده که ختکه الغیاث
بېلتانه لې پېښور راته تنور کړ د — له خیبره ترا ټکه الغیاث

---

(۱) دابیت د "خ" په قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: " چې خدای زړه د مطلوب ترمرکږ رحمانه کاني بوتې پروت طالب په عمارت".
او ورپسې بیت د محمد ... "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: " کاني پروت وي د طالب په عمارت".
(۲) په چاپي دیوانونو کې "پیاله" راغلی ده.
(۳) د "خ" دوهمه نسخه: " زه پرې هېڅ نه پوهېدلم".
(٤) دابیت په مصوره نسخه کې نشته.
(٥) مصوره نسخه: " په حکمت په عقل کله خلاص په عشق پوهېږي".
(٦) "خ" لومړی نسخه: "ما رحمان مثال په اسانۍ موندلی نه دی." ... "پ" کې د "اسانۍ" پرځای "اسانه" راغلی ده.
(۷) "خ" لومړی نسخه: " په چلو چلو یې زړه راڅخه یووړ".

Marfat.com

خوچې راکاږي چوګان په مخ د زلفو — ګوی زما د اخراب زړه که الغیاث
هیڅ سبب مې لیده نه شي جفا کاندې — نه پوهیږم چې پښه که الغیاث
په اخلاص وپه راستي ورته ولاړیم — یار جفا هومره په خه که الغیاث (۱)
سل خبرې که له صدقه ورته وکړم — یار یوه راسره نه که الغیاث
چې مې ویني له رقیب سره خاندي — په ژړا مې لیمه سره که الغیاث

۵۷ — ۷۱۵

زه تاج خان مدام دیار په رضا درومم
یار په خپله رضا تله که (۲) الغیاث

چې ولې مې له تا دی داحدیث — سرنامه دهر انشاء (۳) دی داحدیث
چې آغازې کړه په مدحه دخوبانو (۴) — خلکه ګنج بې بهادی داحدیث
په ثنا د دل پسند و دلربا و (۵) — دل پسند او دلربادی داحدیث
لکه باد د صبحدم چې غوټۍ واکا — هسې رنګه دلکشادی داحدیث
چې اوصاف مې د سرو شونډو ګړي راوړه — خوږ ترقند و تر حلوا دی داحدیث
نه پوهیږم چې او به دي د حیاتو — که نفس د مسیحا دی داحدیث
دغونډې ژبوشاعرانو خولې نه دي — خلکه هسې رنګ صفادی داحدیث
ستا دمخ نه که خوک شمس و قمر اوایي — دروغ نه دی په رښتیا دی داحدیث

۵۸ — ۷۲٤

که خوک والي چې چاګړی داحدیث دی
تاج خان والي چې زما دی داحدیث

بې برهم کا عاشقي د چا مزاج — حکیمان یې درمانده شي په علاج
په آشنا پسې تل ژاړي په دوه سترګو (۶) — داوبو په ځای خوناب کاندي اخراج

(۱) دا بیت او ورپسې دوه نور بیتونه په قلمي نسخو کې نشته . "ق، ک" چاپ ، " یار د وفا راسره نه کا الغیاث "
(۲) د "خ" لومړۍ نسخې کې د " تله که " پر ځای " نه کړه " راغلي دي.
(۳) د "خ" دواړو قلمي نسخو او د "ب" په دوهمه نسخه کې : " سرنامه دهر اشنا دی داحدیث ".
(۴) د "خ" دوهمه قلمي نسخه : " چې آغازه یې کړه مدح دخوبانو ".
(۵) د "ب" دوهمه او د "خ" لومړۍ قلمي نسخه : " په ثنا د دل پسند و دلبرانو ".
(۶) دا مسرۍ د "خ" په لومړۍ قلمي نسخه کې داسې راغلې ده : " په اشنا پسې تل ژړي د دواړو سترګو ".

Marfat.com

دواړه لاس یې وي له دواړو کونو وللي
دوب وي تل د عاشقۍ په لوی امواج (۱)

په هغو کې چې څه بوی د عاشقۍ وي
پکې نه وي بوی د رسم او د رواج

ابراهیم ادهم څه هسې نادان نه ؤ
چې نظر یې یا په تخت ؤ یا په تاج (۲)

مجنون هسې رنګ مین په لیلی نه ؤ
چې په نورو یې موقوف وي احتیاج (۳)

لېونتوب له لېونیو تلونی نه دی
کړې یې راج په خونه وژې که تاراج

۵۹

کړې یې سر لکه منصور غونډې په دار شي
دغه دار دی د رانح وته معراج

۷۳۲

به طلب د هر ویانو سرګردان دی زما روح
لکه باد د ګل په بوی پسې پرېشان دی زما روح

ستا د حسن و آفتاب ته ځان سپاری په تبسم کې (۴)
لکه صبح د ژړا په ځای خندان دی زما روح

چې مې ولیده د ستا جمال عکس په خپل ځان کې
هم په داد آیینې په څېر روښان دی زما روح (۵)

ستا د مخ د آیینې له برکته زما جانه
همېشه لکه توتي هسې ګویان دی زما روح

---

(۱) دا مصرع په "ب" چاپ او د "خ" په لومړي قلمي نسخه کې داسې راغلې ده: "دوب وي تل د عاشقۍ په امواج".

(۲) دا بیت د "ب" په دوهم او د "خ" په لومړي قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: "ابراهیم ادهم هسې نادان نه دی چې نظر یې یا په تخت وي یا په تاج".

(۳) دا بیت د "ب" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: "مجنون هسې رنګ مین په لیلی نه دی چې په نورو یې موقوف دی احتیاج".
د "خ" په لومړي قلمي نسخه کې دا بیت داسې راغلی دی: "مجنون هسې رنګ مین په لیلی نه دی چې له نورو یې موقوف دی احتیاج".

(۴) چاپي دیوانونه: "ستا د حسن و آفتاب ته چې سپارلی ځان شبنم دی". د "خ" لومړۍ نسخه: "ستا د حسن آفتاب ته ځان سپارلی د شبنم کې".
مصوره نسخه: "ستا د حسن و آفتاب ته ځان سپارلی په شبنم کې".

(۵) چاپي دیوانونه: "چې مې ستا د جمال عکس دی لیدلی په خپل ځان کې هم په داد آیینې په څېر حیران دی زما روح".
د "خ" لومړۍ نسخه کې لومړۍ مصرع داسې ده: "چې یې ولید د ستا د جمال عکس په خپله".

Marfat.com

لکه رنگ د میونا بو چې لیده شي په شیشه کې
هسې رنګ په ضعیف تن کې نمایان دی زما روح

منتظر دی د وصال د ګلستان یم تل تر تله
سرتر پایه د شبنم په څېر چشمان (۱) دی زما روح

چې حاصله مې له حسنه روښنایي شوه په طلب کې
شپه او ورځ لکه آفتاب په لار روان دی زما روح (۲)

ستا په زلفو په رخسار پسې رحمان (۳) یم بې وطنه
مسافر د هندوستان خراسان دی زما روح

٦٠ — ٧٤٠

ستا وصال دی رابیلی زما روح — ستا هجران دی رانولی (٤) زما روح
ستا په مخ پسې بې مخ وینو راهي شو (٥) — له صورته دی وتلی زما روح
چې هرګز ملك الموت پرې نه پوهېږي — هسې شان دی تا وکښلی زما روح
ځان بې هسې ستا په مینه پسې ورك کړ — چې هیچا نه دی لیدلی (٦) زما روح
که وي هم به نا څخه وي کړي بې خدای کا — نه دی بلې خواته تللی زما روح
بلبل نه دی دا چې الوځي په ګلو — ستا په لوردی الوتلی زما روح
چې بې خاورې کما صورت د ستا په در کې — سرتر عرشه دی وکښلی زما روح
نه یې پېژنې چې څه دی یا څه نه دی — نور چا نه دی پېژندلی زما روح (۷)

٦١ — ٧٤٩

زه رحمان له خپله ځانه خبر نه یم (۸)
چې په څه رنګ دی وکښلی زما روح

---

(۱) ق، ک، چاپ کې "ګریبان" راغلی دی.
(۲) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(۳) په چاپي دیوانونو کې د "یم" پرځای "شو" راغلی دی.
(۴) په چاپي دیوانونو او د "خ" په لومړۍ او مصوره نسخه کې "بېلو دلی" راغلی دی.
(۵) چاپي دیوانونه: "ستا په مخ پسې مې درست وجود رهي شو". د "خ" لومړۍ نسخه: "ستا په مخ پسې مې وینې رهي شوې".
د "خ" دوهمه نسخه: "ستا په مخ پسې مجنون غوندې رهي شو" او مصوره نسخه: "ستا په مخ پسې مخ وینو چې رهي شو".
(۶) په چاپي دیوانونو کې "موندلی" راغلی دی.
(۷) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۸) چاپي دیوانونه: "زه رحمان له خپله یاره خبر نه یم چې بې څه شان دی کوتلی زما روح".
د "خ" دوهمه نسخه: "چې په څه رنګ دی وتلی زما روح".

Marfat.com

یا سحر سبا الیدلی ؤ د چا مخ — چې مې د رسته ورځ ونه لیدهٔ د استا مخ
دا خو مخ زما او تا و ته ځلا هېڅ کړ — گنه هر یو آشنا گوري د آشنا مخ
په مخونه د جفا دې راڅرگند کمال — لا به کله راڅرگند کړې د وفا مخ
خو د مرګ په تما چه اوښتی نه دی — اوښتونی له تا نه دی د زما مخ (۱)
زه په تا پسې راغلی په داغ یم — کړه نه وی ما به څه کول په داغ مخ
ما به څه لره په تا پسې ژړا کړه — که مونده شوی بهٔ د ستا په خبر زیبا مخ
د رقیب طمع مې نه وه ستا په در کې — رادې وښود په جنت کې د بلا مخ (۲)
زه به څرنګ د رقیب و مخ ته گورم — کله اهل سنت گوري د ترسا مخ
د چکنا چکنی ببلتون په نیمه شپه وي — ستا زما په حال غماز شو د سبا مخ (۳)

رحمان ستا په مخ د اورانه دنیا گوري
خدای بې تا راڅرگند مه کړه د دنیا مخ (٤)

٦٢ — ١٥٩

کله شولا کله خریدار یم ستا د مخ — تېر تر سر و ماله په بازار یم ستا د مخ (۵)
بې د ستا له مخه نور مې هېڅ په مخ کې نشته — هسې رنګ نتلی په ناتار یم ستا د مخ (۶)
هېڅ په ستر گو نه یم دا خپل صورت چې گورم دی — په وب تر هسې حد په انوار یم ستا د مخ (۷)
درد و آه و کا نږم بهانه د تماکوم (۸) — سوی لوغرن مدام په نار یم ستا د مخ
نور وګړي واره هګي د دنیا کار کا — زه همېشه غرق په انتظار یم ستا د مخ

---

(۱) چاپي دیوانونو او د "خ" لومړي او دوهم نسخو: "اوښتونی له تا مه گنه زما مخ".
(۲) ق، ک، چاپ: "په جنت کې خدای را وښود د بلا مخ". نور چاپي دیوانونو او د "خ" دوهم نسخو کې: "په جنت کې دې را وښود د بلا مخ".
(۳) دا بیت په قلمي نسخو کې نشته.
(٤) چاپي دیوانونه: "خدای بې تا د و څرگند مه کړه د دنیا مخ".
(۵) دا غزل د "خ" په لومړۍ نسخو کې نشته.
(۶) په مصوره نسخو کې د "ناتار" پر ځای "انتظار" راغلی دی.
(۷) د "خ" دوهمه نسخه: "سوی لوغرن یم زه په نار دا ستا د مخ".
(۸) قلمي نسخې: "درد و آه و کا بلا بهانه د تماکو". او دا بیت د "خ" په دوهمه نسخو کې نشته.

Marfat.com

شکر چې يې خلاص کړم د نور خلقو له منته — سر په سجده ايښې منت بار يم ستا د مخ

هره خواچې درومم زه رواڼ د زړه په سيل (۱)
بل مطلب مې نشته طلبګار يم ستا د مخ

٦٣ — ٧٦٦

چې پيدا شوه ستا چشمان داهسې شوخ — نور به نه وي مردمان داهسې شوخ

کږې زلفې کږ ابرو لکه چې ستا دي (۲) — نه لړم شته نه ماران داهسې شوخ

د برغمونه شوخ شوخ شته په دا دنيا کې (۳) — ولې نه لکه هجران داهسې شوخ

مګر ديو وي چې يې غم وي په هجران کې — ګنهم نه به وي انسان داهسې شوخ

دا فتنې او فسادونه به وو چيرې — چې پيدا نه وي آسمان داهسې شوخ

دا شناله غمه زړه د آشنا نه چوي — آفريده کړه خداى جهان داهسې شوخ (٤)

چې يوسف يې د دنيا په مطاع ورکړ (۵) — پيدا مه شه بل کاروان داهسې شوخ

چې بوسه له ياره غواړي بې ادبه
خداى دې نه کاندې رواڼ داهسې شوخ

٦٤ — ٧٧٤

---

بادشاهانو که قصرونه کړل بنياد — ما د عشق عمارتونه کړل آباد (۶)

نوم د کوم يو بادشاهسې يادېږي — لکه نوم چې د مجنون او د فرهاد (۷)

---

(۱) "ق ک" چاپ کې د (سيل) پر ځاى "مينه" راغلي ده.
(۲) دا مسرى په "ب" چاپ کې داسې راغلې ده: "کږ زلفان کږ ابروان لکه چې ستا دي". د "پ" لومړى نسخه: "لکه کږه زلف کږ ابرو دستار کج دي". او د "پ" په دوهم قلمي نسخه او "خ" په دوارو قلمي نسخو کې دا مسرى داسې راغلې ده: "لکه کږې زلف کږ ابروې ستا دي".
(۳) دا مسرى په "ب" چاپ کې داسې راغلې ده: "د برغمونه شوخ شوخ شته په جهان کې". په "پ پ" چاپ او د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلې ده: "د برغمونه شوخ شوخ شته دي په جهان کې". د "ب" په دوهم نسخه کې: "د برغمونه شوخ شوخ شته په دا جهان کې". او د "خ" په دوهم قلمي نسخه کې داسې راغلې ده: "د برغمونه شوخ شوخ شته په دنيا کې".
(٤) دا بيت د "خ" په دوهم قلمي نسخه کې نه دی راغلی او د "خ" په لومړي قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: "دا شناله هجره زړه دا شنا چوي — آفريده کا خداى جهان داهسې شوخ".
(۵) دا مسرى د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلې ده: "چې يوسف غوندې د دنيا په مطاع پلوري". د "ب" دوهم نسخه کې: "چې يوسف د دنيا په متاع پلوري" راغلې دی.
(۶) دا بيت په چاپي ديوانونو او د "ب" په دوهم قلمي نسخه او د "خ" په لومړي قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: "بادشاهانو که قصرونه کړل آباد — ما د عشق عمارتونه کړل بنياد". او د "خ" په دوهم قلمي نسخه کې دا بيت داسې راغلی دی: "بادشاهانو خو قصرونه کړه آباد — ما د عشق عمارتونه کړه آباد".
(۷) دا مسرى په "ب" چاپ او د "خ" په قلمي لومړي نسخه کې داسې راغلې ده: "لکه نوم دی د مجنون او د فرهاد".

Marfat.com

عشق عاشق لره یو هسې پیر استاد دی — چې به نه دوي بل داهسې پیر استاد (۱)
دغه واړه کرامات دعاشقۍ دي — چې څوك قطب کا څوك غوث کا څوك اوتاد (۲)
د دنیا چارې همه واړه فاني دي — څوك په خدکا په داچارو اعتماد (۳)
لکه سیورې چې دلر په مخ کې ګرځي — نه استو ګنه چېرته کاندي نه استاد
هیڅ وفایې له هیچا سره و نه کړه — که جمشید وُکه بهمن وُکه قُباد
که جمشید وُکه بهمن وُکه قُباد وُ — که نمرود وُکه فرعون وُکه شداد (۴)
رسولي یې ترمراده هیڅوك نه دي — همه واړه هسې پاتې شو نامراد
نه چا ختم نه دعا ورپسې وکړه — که یې آل که یې عیال وُکه اولاد (۵)

٩٥ — زه رحمان د زمانې له جوره دی ومم
خپل صاحب لره په داد او په فریاد — ٧٨٥

که قاصد یې د مقصود — اواره کړه زیان او (۶) سود
هر چې در شي ستا په مخ کې (۷) — واړه وګڼه بهبود
هر چې وي سبوا له خدایه — واړه وګڼه نابود (۸)
رضا پاسله وقضا ته (۹) — مدام خوښ اوسه خوشنود
وهستۍ وته جلوه کا (۱۰) — لکه ابر هسې دود
ته وځان وته نظر کړه — چې قبول یې که مردود
ننداره چې دخپل صورت شه — چې مسلم یې که جهود

---

(۱) دا بیت د "خ" په لومړي قلمي نسخه کې نه دی راغلی.
(۲) دا بیت د "ج" په لومړي قلمي نسخه کې نه دی راغلی او په چاپي دیوانونو او د "خ" په دوهم قلمي نسخه کې یې لومړی مسری داسې راغلی ده: "دغه واړه کرامت دعاشقۍ دی"
(۳) دا مسری په چاپي دیوانونو او د "خ" په دواړو قلمي نسخو کې داسې راغلی ده: "څوك دغه کا په داچارو اعتماد".
(۴) دا بیت د "خ" په لومړي قلمي نسخه کې نه دی راغلی او لومړی مسری یې په چاپي دیوانونو کې داسې راغلی ده: "که جمشید وُکه بهمن که کې فساد وُ".
(۵) دا بیت د "خ" په لومړي قلمي نسخه کې نه دی راغلی.
(۶) په دې "ب ب" چاپ کې "او" راغلی دی په نورو ټولو قلمي نسخو او "ب" چاپ کې "و" راغلی دی.
(۷) دا مسری په چاپي دیوانونو کې داسې راغلی ده: "ب" "چاپ" ـ هر چې وچشي ستا په وړاندې. د "پ" لومړۍ نسخه "هر چې د ښې ... " او "خ" په دوهمه نسخه کې "هر چې در به شي په مخ کې".
(۸) دا بیت په "ب ب" چاپ کې داسې راغلی دی: "هر چې دی بغیر له خدایه همه وشمېره نابود". لومړی مسری یې د "ج" په لومړي نسخه کې داسې راغلی ده: "هر چې در شي له خدایه" په "ب" چاپ او د "ب" په دوهمه نسخه کې د دې مسرۍ د "هر چې وي" پر ځای "هر چه دی" راغلی دی.
(۹) دا مسری په "ب ب" چاپ کې داسې راغلی ده: "رضا وسپاره قضا ته". او د "خ" په لومړي قلمي نسخه کې داسې راغلی ده: "رضا پاسوله قضات".
(۱۰) د "خ" په دوهمه نسخه کې "جلوه کا" پر ځای "نظر کړه" راغلی دی. او دا مسری د "ج" په لومړي قلمي نسخه کې داسې راغلی ده: "وهستۍ وه جلوه کړه".

Marfat.com

امتي د ابراهيم شه ۔۔۔ تابع مه شه د نمرود
د غفلت له خوبه پا خه ۔۔۔ خوبه اوسې خواب آلود
مُقتدي (۱) او مشغول اوسه ۔۔۔ په دعا او په درود
... طوره په رکوع شه ۔۔۔ زمين طوره په سجود
هر (۲) اشياء د حق ثنا كا ۔۔۔ په نغمه لكه داود
كه بيدار شي خود به اوري ۔۔۔ په هر لوري د اسرود (۳)
كه اياز شي بندگي كي (٤) ۔۔۔ نور به ناز كړي په محمود
هر (۵) اسباب د بنود بند و ۔۔۔ محيط دى هم موجود
كه دانايي وبند بيل كړه ۔۔۔ فرموده ونا فرمود (۶)
چي سپند نه شي په اور كي (۷) ۔۔۔ نه وي خوند د بوى دعود (۸)
ځان له غشه (۹) پاك بيزه كړه ۔۔۔ لكه بحر نا معدود
هلاك ځكه شو رحمانه ۔۔۔ چي بې پاك نه شو وجود (۱۰)

٦٦ ۔۔۔ طرح: تبي د يار له ذكره / نه زده بل گفت وشنود ۔۔۔ ٨٠٥

زه كه لافه د وفا كوم هر چند (۱۱) ۔۔۔ هغه يار مي باور نه كا په سوگند
زه بي ياره هسې زيست كم (۱۲) په جهان كي ۔۔۔ لكه زيست وي (۱۲) په مجمر كي د سپند

---

(۱) پوازي د "پ" په لومړي نسخه كي "منتقد" راغلي دى. په نورو ټولو كي "مقتد" راغلي دى.
(۲) په "ب" چاپ كي د "هر" پر ځاى "تول" راغلي دى.
(۳) دا بيت د "ح" په لومړي قلمي نسخه كي نه دى راغلى او لومړى مسرى يې په چاپي ديوانونو كي داسې راغلې ده: "كه بيدار شي خود به داوري".
او د "ح" په دوهمه قلمي نسخه كي دا مسرى داسې راغلې ده: "كه بيدار شي دا به اوري".
(٤) دا مسرى په "ب" چاپ كي داسې راغلې ده: "كه اياز خوندي بنده شي". په "پ" لومړي نسخه كي داسې راغلې ده: "كه ايازشي بندگي كي".
او د "ح" په دوهمه قلمي نسخه كي دا ټول بيت داسې راغلى دى: "له ايازشه په بندگي كي نور به ناز كړه په محمود".
(۵) په "ب" چاپ كي د "هر" پر ځاى "تول" راغلى دى. او دا بيت د "ح" په لومړي نسخه كي نه دى راغلى.
(۶) دا بيت د "ح" په لومړي او د "ب" په دوهمه نسخه كي نه دى راغلى او لومړى مسرى يې په "پ" او "ب" چاپ كي داسې راغلې ده: "هر دانايي د بله بيل كړه".
(۷) په "ب" چاپ كي د "چي" پر ځاى "خو" راغلى دى.
(۸) دا مسرى د "ح" په دواړو قلمي نسخو كي داسې راغلې ده: "نوى خوند بوى دعود". د "ب" په دوهمه نسخه كي: "نوى خوند ولوى دعود".
او د "ب" چاپ كي داسې راغلې ده: "نه وي خوند او بوى دعود".
(۹) په "پ" او "ب" چاپ، "ب" چاپ او "ب" په دوهمه نسخه او "ح" په لومړي نسخه كي د "غشه" پر ځاى "خشه" او د "ح" په دوهمه نسخه كي "غلوغشه" راغلى دى.
(۱۰) دا بيت د "ح" په دواړو قلمي نسخو كي نه دى راغلى. په "ب" چاپ كي داسې راغلى دى: "هلاك ځكه شي رحمانه چي پاك نه شي دا وجود".
په "پ" او "ب" چاپ كي دا بيت داسې دى: "هلاك ځكه شه رحمانه چي پاك نه شه دا وجود".
د "ب" په دوهمه نسخه كي دا بيت داسې راغلى دى: "هلاك ځكه شه رحمانه چي پاك نه شه دا وجود".
(۱۱) مسرى په چاپي ديوانونو كي داسې راغلې ده: "زه كه لافي د وفا كړم هر چند". د "ح" په لومړي نسخه كي د "كوم" پر ځاى "كړم" او د "ح" په دوهمه نسخه كي "وهم" راغلى دى.
(۱۲) د "ح" په لومړي نسخه كي د "وي" پر ځاى "دى" راغلى دى.

آبروېي دطالبانو خپل مطلب[1] وي — آبروېي د غلامانو خپل خاوند
لکه يار مې سربلند دی په جهان کې — په تأثير يې هسې زه شوم[2] سربلند
چې مې مدحه دخوبانو کړه آغازه — هر کلام مې دل پذير شو[3] دل پسند
لکه خوند لري زما خوږې خبرې — په شکر و کې هم نشته هسې خوند
هغه قند چې خدای زما په خوله کې کېښود — حلوايانو څخه نشته هسې قند
لکه زه چې سخندان وهنرمند يم — بل به نه وي سخندان وهنرمند[4]
په اشعار کې قوت ناك لکه مزرې يم — ولې نه يم د مزري په څېر ګزند
هم په مدح ښه پوهېږم هم په هجوه — ولې نه يم په داچارو دېر خورسند[5]
بې له عشقه که مې عيب که مې هنر دی — ماغوږ کړی دی له ځانه بل پيوند
زه عاشق يم سروکار مې دی له درده[6] — نه خليل نه داود زی يم نه مهمند
چې وماته نصيحت کا خوك په عشق کې — ګويا پلار ته نصيحت کاندې فرزند
هر سړی چې آيينه په لاس کې خاندي — ګويا کاندې په خپل ځان پورې ريشخند

٩٧ — رنګ دېزان دی اول خپلې دېر رنګ کا — ٨٢٠
بيا هاله دې ورانځ ته وايي پند[7]

ې مې يار و ليد په سېمه د اغيار ګلې — له غېرته مې لېمه شوه په خونبار ګلې[8]
دغه حق دبلبلانو په جانب دی — خدای دې نه کا مبتګيرك په لاله زار ګلې[9]

---

(1) د "خ" په لومړي نسخه کې د "مطلب دی" پرځای "مطلب دی" راغلی او د "خ" په دوهم نسخه کې "محبوب دی" او د "پ" په دوهم نسخه کې "مطلوب دی" راغلی دی.
(2) په چاپي ديوانونو، د "خ" په لومړي نسخه او د "پ" په دوهم نسخه کې د "شوم" پرځای "يم" راغلی دی.
(3) په "ښکا" چاپ کې د "شو" پرځای "دی" راغلی دی.
(4) دا بيت د "خ" په لومړي قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: "لکه زه چې سخندان هنرمند يم — بل به نه وي سخندان هنرمند".
(5) دا بيت د "خ" په لومړي قلمي نسخه کې نه دی راغلی او په چاپي ديوانونو او د "پ" په دوهم نسخه کې يې لومړی مسرې داسې راغلې ده: "هم په مدح هم په هجو ښه پوهېږم". او د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې دا مسرې داسې راغلې ده: "هم په مدح ښه پوهېږم هم په پوهجو".
(6) دا مسرې په چاپي ديوانونو کې داسې راغلې ده: "زه عاشق يم سروکار مې دی له عشقه". د "خ" په دواړو او د "پ" په قلمي نسخه کې د "سروکار" پرځای "سربيکار" راغلی دی.
(7) دا مسرې په "پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "بيا هاله دې د ځان ته وايي پند".
(8) مصحف نسخه: "خدای دی نه کا مبتګيرك په لاله زار ګلې".
(9) دا بيت په مصوره نسخه کې نشته.

Marfat.com

زه په وصل کې هجران هسې پېژنم (۱) — لکه شوک چې خالي لاس وي په بازار ګډ
زړه مې بې خپله نګاره آرام نه کا — که هر څو یې کړم په نقش و په نګار ګډ (۲)
په امید د زلفو ونښتم په دام کې — روهیلي وم ساده دل په هندوبار ګډ
د دیدن په ګدائي کې مې ننګ نه شي — دروېزه کړم د ښتانو په دیار ګډ (۳)
د وفا د ګلو پاڼې پکې نشته — کاشکې مه وی ددې هم په ګلزار ګډ
که څو اتر آشنائي به بېلتون لیدی شوی — هېڅ بنده به د خدای نه وُ په دا کار ګډ

۶۸ — زه ځان یې د فردوس له غمه خلاص کړم
چې په کلي په کوڅه شوم د خپل یار ګډ — ۸۲۹

پـه بزرګۍ (۴) هغه پاک پروردګار — موقوف مه شه په سړي د سړي کار
په سړي چې د سړي غرض موقوف شي — نور یې آب د رحمت شي روزګار
احتیاج هسې بلا دی په جهان کې — چې پلار زوی کا د زوی زاري او زوی د پلار
که د پیر په خپل مرید باندې غرض وي — هېڅ یې نه وي په مرید باندې وقار (۵)
زمانه هسې په مخ د ه یې رویه — چې غالب کا په اسلام باندې کفار (۶)
په ساعت کې شاه ګدای کا ګدای شاه کا — د افلاک څکه بالا شي کج رفتار (۷)
چې هم هغه یې تاج وي په سر ایښی — ورپه سر کاندې ګېډۍ د خس و خار (۸)

---

(۱) د "خ" په دوهمه نسخه کې "خراب کړم" راغلی دی.
(۲) دا بیت په مصور نسخه کې نشته.
(۳) چاپي دیوانونه، د "خ" لومړۍ نسخه او مصوره نسخه: "دروېزه کړم د ښتانو په بازار ګډ".
(۴) د "خ" په لومړۍ نسخه کې "په پاکۍ" راغلی دی.
(۵) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نشته.
(۶) دا بیت په "پ" چاپ او "ق" چاپ کې نشته.
(۷) د "خ" دوهمه نسخه: "د افلاک څکه پیدا شو کج رفتار".
(۸) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.

چې قادر نه په درهم و په دینار وي　　　په هغو باندې ګنجونه کا انبار

۶۹　　　۸۲۸

زمانې د (رحمان) زړه دې کباب کړې
له احواله يې څوک نه دي خبردار

هومره اوښکې مې بهېږي په رخسار (۱)　　　چې غرقاب مې هم ګرېوان دی هم کنار
هغه یار مې هسې ناست د زړه په سر دی　　　لکه اېښې چې (۲) چا ګل وي په دستار
که څوک والي چې مار کله په کټ خېژي　　　زه خوړلې یم په کټ د زلفو مار (۳)
خو د یار بیمارې سترګې خدای خوني کړې　　　ګنه خون کله کولی شي بیمار (۴)
که په دار شم زه د یار له لاسه خوښ یم　　　سروقد دی زما یار او زما دار (۵)
بسکه (۶) دا چې زه په یار پسې غوښ غوښ یم　　　خدای دې نه کا لکه زه یم هسې یار
هومره جور لکه یار له ما سره کا (۷)　　　یاد مې نه دی هومره جور د اغیار
دلبران کوډې جادو کړي زړونه اخلي　　　هغه وایه چې بې کوډو وي دلدار (۸)
چې د زړونو له نماځلو بې پروا دي (۹)　　　تر وکه زړه د سړي یوسي څه په کار

۷۰　　　۸۴۸

په ګرېوان يې تل د اوښکو باران اوري (۱۰)
نه وو کېږي د (رحمان) د زړه غبار

چې دې زړه پورې تړلې استوار　　　دا جهان دې د نیکه دی که د پلار (۱۱)
ته خیل پلار او نیکه وګوره چې څه شول　　　هسې ستا دې په هغو پسې رفتار (۱۲)

---

(۱) د "ب" لومړی نسخه او د "خ" لومړی نسخه: "هسې سرې اوښکې مې بهېږي په رخسار".
(۲) په "ب" چاپ، د "ب" په دوهمه نسخه او د "خ" په لومړی نسخه کې د "چې" پرځای "د" راغلی دی.
(۳) دا مسرۍ د "خ" په لومړی او د "ب" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "زه خوړو خوړم په کټ د زلفو مار".
(۴) دا مسرۍ د "خ" په لومړی نسخه کې داسې راغلې ده: "ګنه خون کله کولی شي په بیمار".
(۵) دا مسرۍ په "ب" چاپ کې داسې راغلې ده: "سروقد دی زما یار زما دلدار". د "خ" په لومړی نسخه کې: "سروقد دی زما یار هم زما یار". په دوهمه نسخه کې "سروقد دی زما یار دی دغه دار". او د "ب" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "سروقد دی زما یار هم زما دار".
(۶) په "ب" چاپ کې د "بسکه" پرځای "بس کړه" راغلی دی.
(۷) دا مسرۍ په "ب" چاپ کې داسې راغلې ده: "هومره جور لکه یار چې ما سره کا". په "ب" "چاپ کې "هومره جور لکه چې یار ما سره وکړه". د "خ" په لومړی نسخه کې "هومره جور لکه یار راسره کاندی". په دوهمه نسخه کې "هومره جور لکه یار چې له ما سره کړ". او د "ب" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "هومره جور لکه یار سره وکړ".
(۸) د "ب" په لومړی او د "خ" په دوهمه نسخه کې: "دلبری او دلجویي خو کوډګرکړي ده دکوډګرو　هغه وایه چې دلبرشي هم دلدار".
د "ب" په دوهمه نسخه کې: "دلبری خو کوډګرهم په کوډو وکا　هغه وایې چې دلبرشي هم دلدار".
د "خ" په لومړی نسخه کې: "دلبری خو کوډګرهم په کوډو وکا　هغه وایې چې دلبرشي هم دلدار".
(۹) د "ب" لومړی نسخه: "چې د زړونو له نا غلو لې پروا بې".
(۱۰) دا بیت د "خ" په لومړی قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: "په ګرېوان مې تل د اوښو باران ووري　نه وو بېږي د رحمان د زړه غبار".
(۱۱) دوی غزل د "خ" په مصورې نسخه کې لومړی نخښه ... دی نقل او هم لومړی غزل د "خ" لومړی قلمي نسخه کې لیکل.
(۱۲) دا مسرۍ په چاپي دیوانونو کې داسې راغلې ده: "هسې ستا دې هم په دوی پسې رفتار".

Marfat.com

تل د مینې د وروستي پل دی پرې تېرېږي ـــ کړی نه دی چا په پل باندې قرار

هسې نه چې زه تنها[1] وتا ته وایم ـــ راغله لاړه ستا په طور صد هزار

دعوه مه کړه په ناحق بدې خپل نه کړې ـــ پردی ښهر، پردی ملك، پردی دیار[2]

چې استوګه په پردي وطن کې کاندي ـــ هغه نه لري د هېڅ واك واختیار[3]

که هزار قسمه خوري په یو کار کې ـــ نه کا خوك په مسافر و اعتبار[4]

چې په صبح شګفته شي په شام رژي ـــ خدا امید دی د ګلونو په ګلزار[5]

که دې ورور که دې عزیز دی که دې یار[6] ـــ مه یې ورور مه یې عزیز ګڼه مه یار

۷۱ ـــ چې پیدا شي هګې واړه فنا شي ـــ ای رحمانه دا جهان دی دا یې کار ـــ ۸۵۸

خو جفا قبوله نه کړې د اغیار ـــ وبه نه وینې په سترګو مخ د یار

چې اول یې خار زرغون شي په پهلو کې[7] ـــ غوټۍ هاله شګفته شي په ګلزار

جنت چا په ریاضت موندلی نه دی ـــ ولې بویه هر بنده لره خپل کار[8]

که مونده شوې خوشخوئي په خوشبوئي ـــ پروت به نه وو په چندن باندې ښامار[9]

آب تر لعلو د لاله ګلونو[10] ډېر دی ـــ بخت دی دا چې خوك عزیز کاندې خوك خوار

۷۲ ـــ هسې زیب کا په بیاض د رحمان شعر ـــ لکه زلفې د خوبانو په رخسار ـــ ۸۶۴

---

(۱) په چاپي دیوانونو کې د "تنها" پر ځای "یوازې" راغلی دی.

(۲) د "پ" لومړۍ نسخه او د "خ" نسخې: "دعوه مه کړه په ناحق په خپل نه کړې ـــ پردی ملک، پردی ښهر، پردی دیار".
د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "دعوی مه کړه په تحقیق بېل خپل نه کړې ـــ پردی ښهر، پردی ملک، پردی دیار".

(۳) د "پ" په لومړۍ نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه: "هغه نه لري هېڅ واك واختیار" او د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: "هغه نه کړي هېڅ ـ واك د خپل اختیار". د "پ" په ګډه نسخه کې د دې بیت د لومړۍ مسرې د "استوګنه" پر ځای "استوزه" راغلی دی.

(۴) د "پ" لومړۍ نسخه او د "خ" نسخې: "که هزار قسمه خوري په معامله کې ـــ نه کا خوك په مسافر و اعتبار".
د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "که هزار قسمه خوري په مال کې ـــ نه کا خوك په مسافر و اعتبار". او دا بیت په مصوره نسخه کې نه دی راغلی.

(۵) دا بیت په "پ" چاپ کې داسې راغلی دی: "چې سبا شګفته کېږي ماښام رژي ـــ خدا امید دی په ګلونو د ګلزار".
د "پ" په دوهمه نسخه کې یې لومړۍ مسرې داسې راغلې ده: "چې په صبح شګفته کېږي په شام رژي".

(۶) دا مسرې په "پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "که دې ورور که دې عزیز وي که دې یار دی".
په "پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "که دې ورور که دې عزیز او که دې یار دی".

(۷) دا مسرې د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "چې اول د خار زرغون په ښکار کې".

(۸) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "جنت چا په زاهد که موندلی نه دی ـــ ګنه بویه هر بنده لره اختیار".

(۹) دا بیت د "پ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی دی: "که مونده شوې خوشبوئي په خوشبوئي ـــ پروت به نه وو په چندن د ښامار".
په "پ" چاپ کې داسې راغلی دی: "که موندی شوې سوشبوئي په خوشحالۍ کې ـــ پروت به نه وو په چندن باندې ښامار".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی دی: "که موندی شوې خوشخوئي له خوشبوئي ـــ پروت به نه وو د چندن د ښامار".
د "پ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "که موندی شوې خوشخوئي له خوشبوئي ـــ پروت به نه وو په چندن د ښامار".
په مصوره نسخه کې داسې راغلی دی: "که مونده شوې خوشبوئي له خوشبوئي ـــ پروت به نه وو په چندن باندې ښامار".

(۱۰) د پېښور په چاپي دیوانونو، د "خ" په لومړۍ، دوهمه نسخو او د "پ" په نسخو کې د "ګلونو" پر ځای "ګلونه" راغلی دی.

Marfat.com

خوك دې راكاندې قسم په كردگار — كه درم لرم په كوركې يا دينار (۱)

نه دينار او درم نه لرم په كوركې — ولې نور عالم مې بولي د دنيادار

هم په داچې نه لرځايه چېرته خوځم (۲) — نه د هيڅ يوه مخلوق يم منت بار

نه مې ښكته ملك ليدلې دى نه پورته — خبر نه يم په يمين او په يسار

آب وخور لكه آسيا په ځاى رارسي — په خپل كوركې مې سكون دى هم رفتار (۳)

لكه ونه مستقيم په خپل مكان (۴) يم — كه خزان راباندې راشي كه بهار

توكل مې لاس پښې سره كړل په تكړېزو — چې په ځاى لې كښولي يم قرار (۵)

چې زما په باب دې ښكلې دي رارسي — كه راحت دى كه زحمت دى وار په وار (۶)

چې هر د ه هزار قومونه لې پيدا كړل — مربي مې دى هغه پروردگار (۷)

كار هر ه په اراده د خداى موقوف دى — هيڅ موقوف نه دى د چا په اختيار (۸)

۷۳ — ۸۷۵

غم به هيڅېږي ونه كا په دنيا كې
كه څه كېږي د رحمان په اختيار (۹)

دغه يار دى دا اغيار — دغه گل دى دغه خار (۱۰)

دغه گل دى دغه خار دى (۱۱) — دا منصور دى دغه دار (۱۲)

---

(۱) دا بيت د "ب" په دوهمه نسخه كې نه دى راغلى او لومړى مسرى يې په مصوره نسخه او د "غ" په دوهمه نسخه كې داسې راغلى ده: "كه خوك راكاندې قسم په كردگار".

(۲) د "ب" په لومړۍ نسخه او د "غ" په دوهمه نسخه كې "درومم" راغلى دى.

(۳) دا بيت د "ب" په لومړۍ نسخه او د "غ" په لومړۍ نسخه كې داسې دى: "آب و خور لكه آسيا په ځاى رارسي — په خپل كور لې هم سكون دى هم رفتار".
د "غ" په لومړۍ نسخه كې داسې راغلى دى: "آب خوراك مې هم په ځاى رارسېږي — په خپل كوركې مې سكون دى هم رفتار".

(۴) د "ب" په چاپي ديوانونو، د "غ" په نسخو او د "ب" په لومړۍ نسخه كې "مقام" راغلى دى.

(۵) د "ب" لومړۍ نسخه: "توكل مې لاس او پښې كړه په تكړېزو — چې په ځاى كې لې ښولي يم قرار".

(۶) دا بيت په مصوره نسخه كې نه دى راغلى، په "ب" چاپ كې داسې راغلى دى:
"چې څما په باب كې كښلى دى رارسي — كه رحمت دى كه زحمت دى وار په وار".
"ب" چاپ: "چې زما په باب څه ښكلي دي رارسي — كه رحمت دى كه زحمت دى وار په وار".
د "غ" لومړۍ نسخه: "چې زما په باب كې دي هغه رسېږي — كه راحت دى كه زحمت دى وار په وار".
د "ب" دوهمه نسخه: "چې زما په باب لې ښكلي وما رسي — كه راحت وى كه زحمت وي وار په وار".

(۷) د "ب" لومړۍ نسخه: "مربي لې دى هغه پروردگار".
د "غ" لومړۍ نسخه: "مربي مې وه لې هغه پروردگار".
د "غ" دوهمه نسخه: "منزه دى هغه پاك پروردگار". لومړى بيت په مصوره نسخه كې نه دى راغلى.

(۸) دا بيت په مصوره نسخه كې نه دى راغلى، د "غ" په لومړۍ نسخه كې داسې راغلى دى: "كار هغه په اراده د خداى موقوف دى — هيڅ موقوف نه دى زما په انتظار".
د "ب" دوهمه نسخه: "كار كاهم په اراده لې موقوف دى — هيڅ موقوف نه دى د چا په انتظار". د "ب" په لومړۍ نسخه كې يې دوهمه مسرى داسې راغلې ده: "هيڅ موقوف نه دى زما په اختيار". د "غ" په دوهمه نسخه كې دا مسرى داسې راغلې ده: "هيڅ موقوف نه دى زما په اختيار".

(۹) دا بيت په مصوره نسخه كې نه دى راغلى او د "غ" په لومړۍ نسخه كې دا بيت داسې دى: "غم لې هيڅېږي ونه كړه په دنيا كې — كه څه كېږي د رحمان په اختيار".
د "ب" لومړۍ، دوهمه او د "غ" دوهمه نسخه: "كه خوك كېږي د رحمان په اختيار".

(۱۰) دا غزل په مصوره نسخه او د "غ" په لومړۍ نسخه كې نه دى راغلى. د دې بيت دوهمه مسرى د "غ" په دوهمه نسخه كې داسې راغلې ده: "دغه گنج دى دغه مار".

(۱۱) په چاپي ديوانونو او د "ب" په دوهمه نسخه كې د "دى" كلمه نه ده راغلې.

(۱۲) دا مسرى د "غ" په دوهمه نسخه كې داسې راغلې ده: "دغه [illegible] ...".

Marfat.com

دا رقیب دی دا حبیب دی — دغه گنج دی دغه مار (۱)
دغه عشق دی دغه عقل — دغه غم دی دا غمخوار
دا هجران دی دا وصال دی — دا خزان دی دا بهار (۲)
دا طاعت دا معصیت دی — دغه نور دی دغه نار
دا عالم دی دا جاهل دی (۳) — دا خفته دی دا بیدار
دا رحمان دی دا جانان دی (٤)
دا طبیب دی دا بیمار

۸۸۳ — ۷۴

هر چې نه وي خوار و زار — په طلب د خپل دلدار (۵)
ترې پروني بې صدقه شه — د هغه عاشق دستار
هزار حیف دی هزار حیف دی — هزار ځله لا صد هزار
چې عاشق په عاشقۍ کې — نه حلال وي نه مردار
نه پتنګ د خپل چراغ وي — نه بلبل د خپل ګلزار
نه مجنون غوندې رسوا وي — نه منصور غوندې په دار
دواړه نه کړې رحمانه
یا به یار شې یا بېزار

۸۹۰ — ۷۵

دا څه مخ دی منور — چې هم شمس دی هم قمر (۶)
دا څه زلفې دي مُشکيني — چې هم مشک دي هم عنبر
دا څه پیوسته ابرودي (۷) — چې هم نیش دي هم نشتر
دا څه سترګې دي قاتلې — چې هم سیف دي هم خنجر
دا څه شونډې دي مې ګوني — چې هم مې دي هم شکر

---

(۱) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "دا رقیب دی دا حبیب — دا طبیب دی دا بیمار"
او دا بیت لومړی مسرې په "ب" چاپ کې داسې راغلې ده: "دا رقیب دی دا حبیب".
(۲) دا بیت اول دی نه دروسته بیتونه د "ب" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی او دا بیت لومړی مسرې په "ب" چاپ کې داسې راغلې ده: "دا هجران دی دا وصال".
(۳) په "ب" چاپ کې د "دی" کلمه نه ده راغلې.
(٤) په "ب" چاپ کې "دی" نه دی راغلی.
(۵) دا غزل په مصوره نسخه د "خ" په لومړی نسخه او د "ب" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.
(۶) دا غزل د "خ" په لومړی قلمی نسخه او مصوره نسخه کې نه دی راغلی.
(۷) دا مسرې په "ب" چاپ کې داسې راغلې ده: "دا ابرو څه سوسته دی".

Marfat.com

داخه سپین سپېځلي غـــابن دي | چې هم دُر دی هم گـــوهر
داخه سیب زنخـــدان دی | چې هم سیم دی هم ثمـــر
داخه قد او ځه قـــامت دی | چې هم گل دی هم عـــرعر
داخه ملا ده باریك وضـــع | چې هم موی دی هم کمـــر
داخه زړه دی د خوبـــانو | چې هم موم دی هم حجـــر
داخه یار دی نه پوهـــېږم | چې هم دل دی هم دلـــبر
داخه بت دی زمـــانه(۱) | چې هم بت دی هم بشـــر

۷۶ داخــه شعر د رحمـــان دی(۲) ۹۰۳
چې هـــم گنج دی هـــم هنر

تل به نه وي شگفته گلزار د عمر | نه به جوړ وي همیشه بازار د عمر(۳)
لکه سیند دا باسیند په غورځې(۴) درومي | هسې یون دی په تلوار تلوار د عمر
لکه برق چې مخ ځرگند کاندي بیا نه وي | هسې تېز دی بې سکون رفتار د عمر(۵)
سرکشي لري تر هسې حده لېوري(۶) | چې نېوی نه شي هیڅوك(۷) مهار د عمر
چې سمند یې نه جلب لري نه واگې | خود به پرېوځي عاقبت شهسوار د عمر(۸)
په ساعت د سلو کالو یاري پرېکا | بې وفا دی هسې رنگه یار د عمر(۹)
خپل صورت به د حباب په سترگو گوري(۱۰) | که څوك وکاندي په زړه کې شمار د عمر
نه لکوره چېرته محمد نه سفر کړم(۱۱) | بې سفره مې غوښتې لار د عمر
عاقبت به د اجل په مقراض غوځ شي | پیوسته به مدام نه وي تار د عمر

۷۷ بیا یې وار په دا دنیا نشته رحمانه(۱۲) ۹۱۳
په هر چا باندې چې تېر شو وار د عمر

---

(۱) د "ب" په دوهمه نسخه کې دا مسرۍ داسې راغلې ده: "داخه یار دی نه پوهېږم".
(۲) دا مسرۍ په چاپي دیوانونو او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "داخه شعر دی رحمانه".
(۳) "ق" چاپ: "تل به نه وي شگفته بهار د عمر نه به جوړ وي همیشه گلزار د عمر".
د "ب پ" چاپ: "تل به نه وي شگفته بازار د عمر نه به جوړ وي همیشه بهار د عمر".
(۴) پېښور په چاپي دیوانونو کې "غورځنگ" راغلی دی. (۵) قلمي نسخې: "هسې تېز دی په سکون رفتار د عمر".
(۶) د "خ" لومړۍ نسخه: "سرکشي نه وي تر هسې حده لېوري". (۷) په "ق، ک" چاپ کې "هرگز" راغلی دی.
(۸) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته. (۹) چاپي دیوانونه: "بې وفا په هسې رنگ دی یار د عمر".
(۱۰) پېښور په چاپي دیوانونو کې "به خبر وگوري" راغلي دي.
(۱۱) د "پ" نسخه او د "خ" او دوهمه او مصوره نسخه: "نه وځم چېرته لکوره نه سفر کوم". د "خ" لومړۍ نسخه: "نه سفر کړم نه لکوره چېرته ځم".
(۱۲) د "ب پ" چاپ او د "خ" دوهمه نسخه: "بیا یې وار په دنیا نشته دی رحمانه".

Marfat.com

زه تېر شوی یم ترسره — په طلب د خپل دلبر

خوږ ژوندی یم په دنیا کې — پرې به نه ږدم دغه در

د آشنا په طلب ګرځم — وچې شونډې لېمه تر(1)

یو قدم مې دی په بحر — بل قدم مې دی په بر

دواړه لاس مې دي نیولي — هم په شام هم په سحر

مناجات مې دی وخدای ته — که یې ووینم بشر

همېشه له خپله بخته — ګله من یم مرور

چې په ما یې پېرزوند کړ(2) — د خوبانو یو نظر

هم یې ونه سود وما ته — بې له عشقه بل هنر

عاشقي مې خدای رسوا کړه — په جهان کې لکه نمر

نصیحت را باندې نه کا — لکه موی هومره اثر

واوره غوږ باسه ناصحه — کوتاه وایم مختصر

په مولا مې دي سوګند وي — هم په روح د پیغمبر

جار وانه مې بېرته نشته — چې عالم(3) شو راخبر

ترمینه به یې زار کړم — که مې سیم دی که مې زر

که مې سیم دی که مې زر دی — که مې دُر دی که ګوهر(4)

## ٧٨ — ٩٣٠

زه رحمان تر هغه تېر یم — تېر به نه شم تر دلبر

پورته به د راښکاره شو ښکته نمر — ښکته پورته واړه مخ دی د دلبر

نمر سپوږمۍ مې د پالنګ د پاسه رغړي(5) — چې مې یار په بالښت ولګوي سر

په سرو سپینو درو لعلو یې غوږ ډک شي — چې مې غوږ کاندي داو ښکلو په در در(6)

---

(1) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(2) د "ب" لومړۍ نسخه: "چې په ما یې پېرزوونه کړ".
(3) د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې د "عالم" پر ځای "جهان" راغلی دی.
(4) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته په چاپي دیوانونو او د "خ" لومړۍ نسخه کې دوهمه مسرۍ داسې ده: "که مې دُر دی که مې ګوهر".
(5) د "خ" دوهمه نسخه: "نمر سپوږمۍ مې یې پر پالنګ د پاسه رغړي".
(6) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.

Marfat.com

چې دې ووینم[۱] په مخ مې اوښکې دې وي — لکه مومړچې په آفتاب شي برابر
بل مذکور د سخنګو بوستر ګونه زده — بې له دې ذکره چې (الله اکبر)
ضد دې اور و اوبه بې دیار له شونډو — چې هم اور دی هم اوبه دې د کوثر[۲]
په شرابو چې خوند نشته د شکرو — د یار شونډې چې هم شراب دي هم شکر
که سل ځله پټ تر شونډو لاندې خاندې — نه پټیږي آب د لعل و د ګوهر
د اخو مال د خدای د ذکره ګنه نشته — هسې بت په بتخانه کې د آذر
پس له دې به بې په نام د ملک[۳] بولم — هم په دا چې نشته دا رنګه بشر

که رحمان صاحب نظر بالله شي بنایي
چې مدام دیار په مخ لري نظر

۷۹ — ۹٤١

هسې تله کاندې وګورته یاران ژر ژر — لکه تله کا وخپل کورته کاروان ژر ژر[٤]
هسې ژر ژر مرګ په موږ ه شتابي کا — لکه لو د پاخه کښت کا دهقان ژر ژر[۵]
هسې ژر ژر دا دنیا و بله اوړي[۶] — لکه اوړي و بله ریګ روان ژر ژر[۷]
هسې ژر ژر صورتونه دې نړیږي[۸] — لکه رژي لاله زار په خزان ژر ژر
هسې ژر ژر دا شیرین عمر تیریږي — لکه بحر چې بهیږي روان ژر ژر

هسې ژر ژر ځنبول د بنو نه وي[۹]
لکه درومي له جهانه رحمان ژر ژر

۸۰ — ۹٤٧

چې په زور ورسره نه بې برابر — د هغو تر ځنګه مه کښېنه زرور[۱۰]
زور ورا اور او اوبه دې فهم وکړه — چې دوب نه شي یا ونه سېزې بشر[۱۱]

---

(۱) په "ق، ک" چاپ، "ق" چاپ او قلمي نسخو کې "چې بې ووینم" راغلي دي.
(۲) دا بیت په "ب" چاپ، "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې نشته.
(۳) د "خ" په لومړي او دوهمه نسخو کې د "ملک" پر ځای "فرښتو" راغلي دي.
(٤) دا غزل په مصوره نسخه او "ب" په دوهمه نسخو کې نشته، دوهم مسرې بې په "ب" چاپ کې داسې راغلې ده: "لکه تله کاندې خپل کورته کاروان ژر ژر" په "ب" چاپ کې "لکه درومي چې خپل کورته کاروان ژر ژر". په مخلط نسخو کې "لکه تله کاندې وکورته کاروان ژر ژر" او د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلې ده: "لکه درومي وخپل کورته کاروان ژر ژر".
(۵) دا مسرې د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلې ده: "لکه لو چې په کښت کړي کا دهقان ژر ژر" او په "ب" چاپ کې د "پاخه" پر ځای "پاسه" راغلي دي.
(۶) دا مسرې د "خ" په دوهمه نسخه او "ب" په مخلط نسخو کې داسې راغلې ده: "هسې ژر ژر دا دنیا و بله نه اوړي".
(۷) دا مسرې د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلې ده: "لکه اوړي و بله ریګ د بیابان ژر ژر".
(۸) دا مسرې د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلې ده: "هسې ژر ژر صورتونه و بله د نړیږي".
(۹) په "ب" چاپ کې داسې راغلې ده: "د بنو ځنبل هم هسې ژر ژر نه وي". د "خ" په لومړي نسخه کې "د بنو و بله وار هم هسې ژر ژر نه وي" د "خ" په دوهمه نسخه کې "دا د بنو ځنبول هم هسې ژر ژر نه وي" او د "ب" په مخلط نسخو کې [illegible] د "ب" لومړي نسخه: "د بنو ځنبول هم هسې ژر ژر نه وي".
(۱۰) دا غزل په مصوره نسخه او "ب" په دوهمه نسخو کې نه دی راغلی.
(۱۱) دا بیت په "ب" چاپ کې داسې راغلی دی: "زور، اور خو اور او اوبه دې فهم وکړه چې دوب نه شي یا ورېت نه شي په ستا ما".

Marfat.com

زندګي که يې اوبولې اوره نه شي — تا هم اېښي چېچانه دي په تبر (۱)
خدای ورمه وله سېلاب دچا په خونه (۲) — که په قطع (۳) هم اوبه وي د کوثر
ودې نه ګلبرېږي اور په کور د هېچا (۴) — که رڼا يې وي د شمس او د قمر
چې يې درست صورت غلبل شي په اغزيو (۵) — وخوړمه شه دهغې ونې ثمر
دهغه دېوال په سيوري څوك کېنمه (۶) — چې ولاړ وي لکه زوړند چاود ګمر
چې په ګېډې دې خوشبري غږ يې ورك شه (۷) — که د سرو زرو چاړه وي يا خنجر
ودرياب ته اچاوه نه شي ځان خوږ وي (۸) — ګنه ډېر دي په درياب کې دُر ګوهر
ناکړده سود ونه ډېر دي په جهان کې — سود هغه دی چې دخېر وي نه د شر (۹)
چې له آبه له رحمته سره نه وي — خدای ورمه کړه وچاهسې سيم و زر (۱۰)
زورور که رسوي وچاته فيض — له دې فيضه سره وګڼه ضرر
په ياري د زورورو غلط مه شه — مګر دا چې ترده، نه چې زورور
په هر ګاه چې دی مغلوب وي ته غالب يې (۱۱) — تروهاله يې قدمونه ږده په سر
يا خو دا چې که قدم يې په دړنه ږدې — دغه پسه يې ځان وګڼه پدر (۱۲)

۹۶۳ — چې هنر ګڼي ياري د زورورو
بول وکړمه رحمان په دا هنر (۱۳) — ۸۱

---

(۱) د ارت په "ب" چاپ کې داسې راغلی دی: "زندګي که يې له اوره اوبونه شي تل هم نه دي چېچا اېښې پرې تبر". د "خ" په لومړي نسخه کې: "تا هم اېښې چېچانه دي په تبر". او د "خ" په دويمه نسخه کې داسې راغلی دی: "تل هم اېښې چېچا نه دي پرې تبر".

(۲) دا مسرۍ د "خ" په دويمه نسخه کې داسې راغلې ده: "خدای دې ورنه ولي سېلاب دچا په خونه".

(۳) په قلمي نسخه کې د "هم" پر ځای "يې" راغلی دی.

(۴) دا مسرۍ په "ب" چاپ، د "خ" په لومړۍ او دويمه نسخه کې داسې راغلې ده: "ودې نه ګلبرېږي اور دچا په خونه". او د "ب" په لومړۍ نسخه کې دا مسرۍ داسې راغلې ده: "ودې نه ګلبرېږي اور په کور دچا".

(۵) دا مسرۍ د "ب" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "چې درست صورت غلبل کا په اغزيو". په "ب ب" چاپ کې داسې راغلې ده: "چې يې ټول صورت غلبل شي په اغزيو". د "خ" په لومړۍ نسخه کې: "چې دې درست صورت غرخېږي په اغزيو". او د "خ" په دويمه نسخه کې داسې راغلې ده: "چې يې درست صورت زخمي شي په اغزيو".

(۶) د "خ" په لومړۍ نسخه کې: "دهغې دېوال په سوري څوك مه کښېنه" او د "خ" په دويمه نسخه کې داسې راغلې ده: "دهغه دېوال په سوري کېناست مه شې".

(۷) دا مسرۍ د "ب" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "چې په ګېډه دې خوشبري غږ يې تورېته". په "ب ب" چاپ کې: "چې په ګېډه دې خوشبري غږ يې ورك شه". د "خ" په لومړۍ نسخه کې "چې په ګېډه کې خرخېږي رنګ يې ورك شه". او د "خ" په دويمه نسخه کې داسې راغلې ده: "چې په ګېډه دې خرخېږي غږ يې ورك شه".

(۸) د "ب" لومړۍ نسخه: "وادريا ته اچاوه نه شي ځان خوږ وي". د "خ" په لومړۍ نسخه کې "وادريا اچاوه نه شي ځان خوږ دی". او د "خ" په دويمه نسخه کې داسې راغلې ده: "ځان شيرين دی ودرياب ته اچول نه شي".

(۹) دا مسرۍ د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "سود هغه دی چې يې خير وي له شر".

(۱۰) "ب ب" چاپ: "خدای ورمه کړه چاته هسې سيم و زر".

(۱۱) دا مسرۍ په "ب" چاپ کې داسې راغلې ده: "په هر وقت چې ته غالب وي دی مغلوب وي". د "خ" په لومړۍ نسخه کې: "په هر ګاه چې دی غالب وي ته مغلوب يې" او د "خ" په دويمه نسخه کې دا بيت داسې راغلی دی: "په هر کار چې ته غالب يې دی مغلوب وي تروهاله يې قدمونه ږده په سر".

(۱۲) چاپي ديوانونه: "يا خو دا چې ته قدم يې په دړنه ږدې دغه پسه يې ځان وګڼه پيدر".

(۱۳) دا مسرۍ په چاپي ديوانو کې داسې راغلې ده: "ده رحمان کو مه بول په دا هنر". او د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "بول وکړم د رحمان په دا هنر".

Marfat.com

په نظر دې بصر — لکه شام هسې سحر [1]
لکه شام هسې سحر — لکه سنګ هسې ګوهر [2]
لکه سنګ هسې ګوهر — لکه خاوري هسې زر
لکه خاورې هسې زر — لکه خير هسې شر
په نظر يې معلوميږي — هر واړه برابر
که څوك ښه ورسره وکا — تربدې يې وي بتر [3]
که څوك بد ورسره وکا — ترنېکۍ يې وي بهتر [4]
نه په بد ويل زهيري — نه پرېښه وي دچا زبر [5]
په ثواب او په خطا يې [6] — نه دليل وي نه نظر
نه آګاه په خپل بهبودي — نه آګاه په خپل ضرر
نه په عيب څه پوهيږي [7] — نه پوهيږي په هنر
لکه روند او کوڼ چې ګوړي [8] — هسې چېته نه وي خبر
له طاعته له ګناهه — څه خبر وي څناور [9]
څناور و نور څه نه زده — يا يې رغبت [10] وي يا يې خور
دا خو ته يې زما نفسه — چې دې زه کړم کوز و کر
تمام ووتې [11] له عقله — په دنيا پسې اوتر

---

(۱) دا غزل په مصور نسخه کې نه دی راغلی او همدا شان د "ب" په دوهمه نسخه کې یې هم ... نه دی راغلی.
(۲) دا بیت د "غ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "لکه سنګ هسې ګوهر — لکه شام هسې سحر".
(۳) دا بیت د "ب" چاپ کې داسې راغلی دی: "که څوك ښه ورسره کاندي — تربدکه یې وي بتر".
په "ب" چاپ کې داسې راغلی دی: "که څوك ښه ورسره کاندي — تربدکه وي لا بتر".
(۴) دا بیت په "ب" چاپ کې داسې راغلی دی: "که څوك بد ورسره کاندي — ترنېکۍ یې وي بهتر".
په "ب" چاپ کې داسې راغلی دی: "که څوك بد ورسره کاندي — ترنېکۍ وي لا بهتر".
(۵) دا بیت په "ب" چاپ کې داسې راغلی دی: "نه په بد ویل زهیریږي — نه پرېښه وي د چا زبر".
په "ب" چاپ کې داسې راغلی دی: "نه په بد ویل زهیریږي — نه په ښو د چا زبر".
د "غ" په لمړي نسخه کې: "نه په بد ویل زهیریږي — نه پرېښه وي د چا زبر".
او د "غ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "نه په بد ویل زهیر وي — نه پرېښه یې د چا زبر".
(۶) دا مسره په "ب" چاپ کې داسې راغلې ده: "په ثواب او په خطا یې".
(۷) دا مسره په چاپي دیوان کې داسې راغلې ده: "نه په عیب باندې پوهیږي" او د "غ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "نه په عیبو څه پوهیږي".
(۸) د "غ" په دوهمه نسخه کې د "ګوړي" پر ځای "ګوڼې" راغلی دی.
(۹) د "غ" په لومړۍ نسخه کې د "څناور" پر ځای "ښناور" راغلی دی.
(۱۰) په چاپي دیوان او قلمي نسخو کې، پرته د "ب" له لومړۍ نسخې څخه، د "رغبت" پر ځای "خوب" راغلی دی.
(۱۱) د "غ" په دوهمه نسخه کې د "ووتې" پر ځای "ووتم" راغلی دی.

Marfat.com

نـــــــــه دې فرض د خدای اداکړه — نه سنت د پیغمـــــــبر

نـــــــــه دې مرګ په زړه کې یادو(۱) — نه خواږې دې د محشـــــــر

اوده پـــــــــروت بې داده نه زده — چې په خوا الرم سفـــــــر

پـــــــــه هر مرد برخنه ده وړمي — که پوهېږې دا بشـــــــر

هغــــــــه تور و بښته دې څه شول؟ — چې هم مشک و وهم عنـــــبر

هغــــــــه قد دې مجنون بید شو(۲) — چې چنار و هم(۳) نښـــــتر

تــــــن دې درست زیر و زبر شو — زړه دې نه شو لړزوبـــــر

تــــــر پنجا وشسته تېر شوې — تر لاځان بولې پســـــر(۴)

نــــــه دې ترشې نه دې وېره — نه په زړه باندې اثــــر(۵)

بـــــــل به نه وې لکه ته لې — هسې شوخ او خیـــــــره سر

پـــــــه غفلت دې عمر تېر کـــــر — نه رهرو شوې نه رهـــــبر

عبـــــــادت دې په ریا شو — لکه دک په لاکـــــوزر

لکــــــــه قلب(۶) ناسره ځــــــر — پټ په زړو کې حجــــــر(۷)

لکـــــــه زړې په مېوه کې — درون سنګ بېرون ثمــــــر

لکـــــــه پټ وې په دانه کې — سل افزیه د شجـــــــر(۸)

لکـــــــه سحر چې بر پای کا — سحر ګرا و جا دوګــــــر

لکـــــــه تش صورت بې روح(۹) — چې تصویر کا مصـــــو

لکـــــــه تش کډو بې مغزه — میان خالي وي تن پـــــرد

(۱) دا مسری په چاپي دیوانونو کې داسې راغلی ده: "نه دې مرګ په زړه یادېږي". اود "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلی ده: "نه دې مرګ په زړه کې یاد دې".

(۲) دا مسری په "ب" چاپ او "ب ب" چاپ کې داسې راغلی ده: "هغه قد دې مجنون بید شه". د "خ" په لومړي نسخه کې "هغه قد دې مجنون څه شو". اود "ب" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی ده: "هغه قد دې مجنون بید شي".

(۳) په "ب" چاپ کې د "هم" پر ځای "میا" راغلی دی.

(۴) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نه دی راغلی لومړی مسری یې په "ب ب" چاپ کې "تر پنجاه و ښکله تېر شوې"، په "ب" چاپ کې "تر پنځوس ـ تر پنځه تېر شوې"، د "خ" په دوهمه نسخه کې: "تر پنجاه تر پنجاه تېر شوې". اود "ب" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی ده: "تر پنجه تر پنجاه تېر شوې".

(۵) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.

(۶) په "ب ب" چاپ کې د "قلب" پر ځای "کلپ" راغلی دی.

(۷) د "ب" په دوهمه نسخه کې د "حجر" پر ځای "خنجر" راغلی دی.

(۸) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.

(۹) دا مسری د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی ده: "لکه تش صورت په دوح کې".

Marfat.com

لکه بې لاسه لستوڼي — سر تر پایه پای ترس
لکه تګ او د غه بازوي — په مرغانو کې د ګر (1)
لکه بې ثمره ونې — چې په سر کاندي میزر (2)
ترمیز رالاندې چاڅه زده — دختر دي که مادر (3)
نه يې حسن نه جمال وي — غولوي خلق په زېور
هسې له هسې فریبانو (4) — لکه زورند چاودګر
نیم په مځکه کې د ننه — نیم په سروي لکه نغر (5)
په دستار کې يې مسواک وي — تر بغال لاندې يې خنجر
په ایرو کې پټ بخري — په وښو کې پټ ژور (6)
په شپه وینې د مظلوم خوري (7) — سباکېني په ممبر
په زړه تور لکه تبۍ (8) وي — په مخ سپین لکه قمر
د دنیا په طلب ګرځي — خپل ځان ابولي قلندر (9)
کلیمه په ژبه وايي — په زړه نه لري باور
په مثال د منافقو (10) — نه مسلم وي نه کافر
نه مسلم وي نه کافر وي — نه بچلا نه مسر
پریشان ګرځي سر وهلي — کوی په کوی او در په در
همیشه رفت و آمد کا (11) — د زردارو په ګذر
په کوڅه د دنیادارو — ګوخورګي کا لکه خر
اورنګ زیب هم یو فقیر و — چې تولي يې وه په سر
وتلو چه وته يې شالره — چې قادر شو په افسر (12)

---

(1) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "دګر" پر ځای "دیګر" راغلی دی. (2) په "ب ب" چاپ کې "ځادر" راغلی دی.
(3) په "ب" چاپ او د "ب" په دوهمه نسخه کې "دی" راغلی دی. (4) د "ب" په لومړۍ نسخه کې "هې څې له هسې فریبانو"، په "ب ب" چاپ کې "هې توبه له فریبانو"، او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "هې توبه له هسې فریبه".
(5) دا بیت په چاپي دیوانونو کې داسې راغلی دی: "نیم په زمکه کې د ننه نیم بر سبزه لکه". د "خ" په لومړۍ نسخه او د "ب" په دوهمه نسخه کې یې دوهمه مسرۍ داسې راغلې ده: "نیم بر سبزه لکه نغر" او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "نیم په سروي لکه نغر".
(6) دا بیت د "خ" په لومړۍ قلمي نسخه کې نه دی راغلی او د "ب" په دوهمه نسخه کې د "ژور" پر ځای "ژاور" راغلی دی.
(7) دا مسرۍ د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "په شپه مال د مظلوم وخوري". (8) د "خ" په لومړۍ نسخه کې "تودی" راغلی دی.
(9) په "ب ب" چاپ کې "بولي ځان په قلندر"، د "خ" په لومړۍ نسخه کې "خسرو بولي قلندر"، د "خ" په دوهمه نسخه کې "ځان سر بولي قلندر" او د "ب" لومړۍ نسخه کې "ځان بولي قلندر" راغلی دی.
(10) په قلمي نسخو کې "منافقانو" راغلی دی.
(11) دا مسرۍ د "ب" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "همیشه لي رفت امد دی". (12) دا بیت د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې نه دی راغلی.

Marfat.com

خوبي هومره فقيري وه ... چې خدنه وو ميسر

چې فلك يې ياري وكړه ... نور يې ملك كړ مسخر

گوره خه چاري يې وكړې ... په عيال د خپل(1) پدر

وار په واري تريغ تېر كړ ... دخوږم تمام تبر

يو تېر دخوږم خه وُ ... د بر عالم يې كړه بر

تمامي جهان يې ونغړد(2) ... چې يې لاس شو باندې بر

په فريب فريب يې خپل كړ ... بيجاپور او بهانگر(3)

بيجاپور او بهانگر خه وو ... لاجنجي او جنجاور(4)

هم يې هند په دكه واخيست(5) ... هم كابل هم(6) پښور

بيا يې ذكر شو په ذره كي ... بادشاهي د هفت كشور(7)

له حصه ورته هېڅ شوه ... هم دارا هم سكندر(8)

خيال يې دا و په خاطر كي ... چې به خپل كړم بحر و بر

باري ورځ ورځنه(9) لاره ... وخت پرې راغى مازديگر(11)

نه يې مراد د زړه حاصل شو ... نه يې نخ كړ خپل تهتر

همگي شوه خښي پاتي ... كه يې ملك وكه لښكر

خالي لاړه دنيا ووت ... لكه عين درويزگر

---

(1) د "خ" په لوړي نسخه كي د "د" پر ځاى "په" راغلى دى.

(2) د "ب" لوړي، دوهمه او د "خ" لوړي نسخه: "تمامي جهان يې ونغړد" او د "خ" په لوړي نسخه كي داسي راغلي ده: "تمامي عالم يې ونغښت".

(3) د مسري په "ب" چاپ كي داسي راغلي ده: "بيجاپور او بهاك نگر".

د "خ" په لوړي نسخه كي: "بيجاب پور او بهاك نگر".

د "خ" په دوهمه نسخه كي: "بيجاپور بها نه گر".

او د "ب" په دوهمه نسخه كي: "بيجاپور و بهاك نگر".

او په مصوره نسخه كي: "بيجاپوره و بهاك نگر". راغلى دى.

(4) دا بيت په "ب" چاپ كي داسي راغلى دى: "بيجاپور بهان گرخه وو لاچينچا و چينجاور".

"بيا بيا" چاپ: "بيجاپور بهاگ نگر خه وو لاجنجي او جنجاور".

لوړي مسري لي په مصوره نسخه كي: "بيجاپور و بهاك نگر خه وو". د "خ" لوړي نسخه كي دا بيت داسي راغلى دى: "بيجاب پور بهان نگر خه وو لاجنجي چنجاور".

د "خ" په دوهمه نسخه كي: "بيجاپور بهان گر خه وو لاچنجا و چنجاور". او نو لوړى بيت د "ب" په دوهمه نسخه كي نه دى راغلى.

(5) په "ب" "بيا" چاپ او د "خ" دوهمه نسخه كي دا مسري داسي راغلي ده: "هم يې هند په دكه واخست"

او د "خ" په لوړي نسخه كي داسي راغلي ده: "هسې هند په دكه واخست".

(6) په چاپي ديوانونو كي د "هم" پر ځاى "او" راغلى دى.

(7) دا بيت د "خ" په لوړي نسخه كي داسي راغلى دى: "بيا يې ذكر شو په ذره كي هم دارا هم سكندر".

(8) دا بيت اوله دي نه وروسته چيوته په مصوره نسخه كي نه دى راغلى او هم نو لوړى بيت د "خ" په لوړي نسخه كي نشته.

(9) په چاپي ديوانونو كي د "ورځنه" پر ځاى "ورځني" راغلى دى. (11) په قلمي نسخه كي "نماز ديگر" راغلى دى.

Marfat.com

لـــــه دنیا ېي هیڅ یو نه وړه ... مگر شو ېي یو خـــــاده[1]
خـــــوار حیران په ځمکه پر بووت ... بې بالین او بې بســـــتر[2]
نـــــه پوزې شو تېرې دلاندې[3] ... نه ترلاندې شو تېغـــــر
د بېـــــنې په خبر خفیف شو[4] ... چې ثقیل وُ لکه غـــــر
د سېـــــلاب په مخ کې لاړ شو[5] ... لکه خس او[6] یـــــاوزر
حـــــق یې پاتې په گردن شو ... د سیاهي او د چاکـــــر
اوس یـــــې زه په روح دعا کړم ... که یې خدای کا بهـــــرور
حـــــق تعالی یې په نصیب کړه ... شیرین حوض د کوثـــــر[7]
د جنـــــت په خوشبو لېږي[8] ... خدای دماغ کړه معطـــــر
پـــــه درست هند باندې یې حق وُ[9] ... هند یو شپه وه دی یو لمـــــر[10]
ددې لمـــــر په روښنا یې[11] ... تمام هند وُ منـــــور
پـــــه رڼا یې خلقو[12] زیست کړ ... نه څه خوف وُ نه خطـــــر
خو چـــــې مخ یې په غروب کړ ... نور پیدا شو شور و شـــــر[13]
چـــــې په نام[14] د اورنگ زېب ؤ ... وخوړ گاوه غـــــه دفتـــــر
اوس نـــــوبت د شاه عالم دی ... د ور طور شو دیگـــــر[15]

---

(۱) دا مسرۍ په "پ پ" چاپ کې داسې راغلې ده: "مگر شیرې یو خادم" او د "خ" په دوهمه نسخه کې د مسرۍ داسې راغلې ده: "مگر شو یو خادم".
(۲) په چاپي دیوانونو کې دا بیت داسې راغلی دی: "خوار حیران په ځمکه پر بووت بې بالینه و بې بستر".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې: "خوار حیران په ځمکه پروت وُ بې بالینه بې بستر".
د "خ" په دوهمه نسخه کې یې دوهمه مسرۍ داسې راغلې ده: "بې بالینه بې بستر".
(۳) دا مسرۍ په "پ پ" چاپ او د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "نه ... شو تر ده لاندې ..."
(۴) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "بخې" پر ځای "بېنو" راغلی دی.
(۵) په "پ پ" چاپ کې "لاړو" راغلی دی.
(۶) په چاپي دیوانونو، د "خ" په لومړۍ نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې د "او" پر ځای "وې" راغلي دي.
(۷) په "پ پ" چاپ کې: "حق تعالی که یې نصیب کا ... شیرین حوض کوثر" راغلی دی.
په "پ" چاپ کې داسې راغلی دی: "حق تعالی که یې نصیب کا ... شیرین حوض کوثر".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې یې لومړۍ مسرۍ داسې راغلې ده: "حق تعالی یې برخې نصیب کړه".
(۸) دا مسرۍ په قلمي نسخو کې داسې راغلې ده: "د جنت په خوشبو لېږه".
(۹) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "وُ" پر ځای "دی" راغلی دی.
(۱۰) دا مسرۍ په چاپي دیوانونو کې داسې راغلې ده: "هند یو شپه وه دی وُ لمر". د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "هند شپه وه دی لمر".
(۱۱) دا مسرۍ د "پ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "د ده لمر په روښنا یې"
او د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "ددې لمر تر روښنا یې".
(۱۲) په چاپي دیوانونو، د "خ" په دوهمه نسخه او د "پ" په دوهمه نسخه کې د "خلق" پر ځای "خلکو" راغلی دی.
(۱۳) دا بیت په "پ پ" چاپ کې نه دی راغلی.
(۱۴) په چاپي دیوانونو کې "نوم" راغلی دی.
(۱۵) دا مسرۍ په "پ پ" ... کې ... راغلې ده: "دور او طور یې شو دیگر". او د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "دور طور دې شو دیگر".

Marfat.com

خــــــلای زده څه باندی شي پسنه | چې عاشو شي که اختــــــر (۱)
رنــــــگارنگه بازي کاندي (۲) | دا آسمان دی بازیگــــــر
گهــــــي تلخ شي لکه زهر | گاه شیرین لکه شکــــــر (۳)
چــــــي څي شوه هغه وشوه | لا به کېږي مقــــــدار (۴)
مــــــا خو نوم د او رنگ وا خست | دا احوال دی دهر ــــــ
هــــــر سړی د خپلي خوني | هم بادشاه دی هم ســــــرور
هــــــر چي اهل د دنیا دي | واړه هسې دي اکثــــــر
دابیــــــان دور و دراز وُ (۵)
رحمان وکر مختصــــــر

۸۲ | ۱۰۵۶

که د عشق لاره اغزنه ده هر گور | دعاشق په پښو خپلې دي داور (۶)
که دیدن د گلعذار په انتظار شي (۷) | زما سترگي دی شبنم غوندي خلور
تیغ داو سپني محتاج د نرم آب دی | قهر و حلم یو په سل دی زیات تر زور (۸)
لد لوبي له سرکښي زما توبه ده (۹) | خدای خوك مه کړه د آسمان په څیر نسکور
خدای زده څه سودا به پیښه په بازار شي | د بازار خبري نه شي په خپل کور (۱۰)
داهمه واړه عاشق له پیدا شوه (۱۱) | که تهمت که ملامت دی که پیغور
جفا جور ناز و کبر د خوبانو (۱۲) | ما په ځان دي قبول کړي لکه پور

---

(۱) دابیت د "خ" په دوهم نسخه کی داسی راغلی دی: "خدای زده څه چاري شي پېښي — چې عاشو رشي که اختر".
د "خ" په لومړی نسخه کی داسی راغلی دی: "خدای زده څه بازي پېښه — چې عاشو رشي یا اختر".
او په چاپي دیوانونو کی دوهمه مسری داسی راغلې: "عاشورا شي که اختر".
(۲) دا مسری په "پ" چاپ کی داسی راغلی ده: "رنگارنگ بازي کاندي". "پ، پ" چاپ: "رنگارنگي بازي کاندي".
د "خ" په لومړی او دوهم نسخه کی او د "پ" په دوهم نسخه کی داسی راغلی ده: "رنگارنگ بازي کاندي".
(۳) دابیت په "پ" چاپ کی داسی راغلی دی: "گهي تلخ شي لکه زهر — گه شیرین لکه شکر".
په "پ پ" چاپ کی: "گاهي تلخ شي لکه زهر — گاه شیرین لکه شکر".
د "خ" په لومړی نسخه کی داسی راغلی دی: "گهي تلخ شي گاهي زهر — گاه شیرین لکه شکر".
د "خ" په دوهمه نسخه کی داسی راغلی دی: "گهي ترېخ شي لکه زهر — گاهي شیرین لکه شکر".
او د "پ" په دوهمه نسخه کی داسی راغلی دی: "گاه ترېخ شته لکه زهر — گاه شیرین لکه شکر".
(٤) دابیت د "خ" په لومړی نسخه کی نه دی راغلی. لومړی مسری یې په قلمي نسخو کی داسی راغلی ده: "چې وشو هغه وشو".
(۵) د "پ" دوهمه نسخه: "دابیان دور و دراز ده".
(۶) دا غزل په مصور نسخه کی نه دی راغلی او د دی بیت دوهمه مسری په "پ پ" چاپ کی داسی راغلی ده: "د عاشق په پښو کې دی خپله داور".
(۷) دا مسری په چاپي دیوانونو کی داسی راغلی ده: "که دیدن د یار موندنه په انتظار شي".
(۸) دابیت د "خ" په لومړی او د "پ" په دوهمه نسخه کی نه دی راغلی او د دی بیت دوهمه مسری د "پ" په لومړی نسخه کی داسی راغلی ده: "قهر حلم یو په سل دی تر زور".
(۹) دا مسری د "خ" په لومړی نسخه کی داسی راغلی ده: "که لوی ده که سرکښي زما توبه ده". او د "خ" په دوهمه نسخه کی داسی راغلی ده: "له لوئي له سرکښي مې توبه ده".
(۱۰) دابیت په قلمي نسخو کی نه دی راغلی.
(۱۱) په "پ" چاپ کی د "شوه" پر ځای "دی" راغلی دی.
(۱۲) دا مسری په "پ پ" چاپ کی داسی راغلی ده: "ناز و جور و کبر د خوبانو". او په "پ" چاپ کی داسی راغلی ده: "جفا ناز و جور و کبر د خوبانو".

Marfat.com

راحت بې زحمته نه دی چا موندلی (۱) غم بنا دي دې د دې دهر خورا و ورور

۸۳ طرح زمان هسې په خپل یار پسې غوخ غوخ یم (۲) ۱۰۶۵
لکه غوخ په خپل اولاد د وي پلار او مور

پس له مرګه که خولګ ارت غواړي خپل ګور — که حق وایم هومره ارت دې بویه کور (۳)

تر ځان زیاته که چارڅه په کاڼه ده — ځان په لوېښت کړه چې دې خودي او د سور

چې جامه د چا کوتاهه یا اوږده شي — ورکا وه شي هنرمندله بېغور

هر سړي چې په حساب کې تېر و بېر شي — ملامت پرې وایه کړي اسور د سور

چې لایق د ملامت او د تهمت شي — ځای لري که بې عزت شي هم سر تور

چې عزت حرمت یې نه وي په جهان کې — هغه هسې ژوندون وسوزه په اور

بې عزت سړی په خوښ د هیچا نه وي — مګر هسې بې عزت وي ځیني نور (۴)

خپل مجلس یې تر جمله مجلسه خوښ وي — په هر ځای چې سره جمع شي ځمسور (۵)

(۶) هر همجنس له خپله جنسه سره خوښ وي — زیبکاره کښېده په خپل اخور

نابینا په خپله سیمه کې بینا وي — بینایان په پردي ملک شي کړ و کور

که ته نه یې بدکرداره بد مه لمسه — کښېنیاسته منه بدکردار سړي په غور (۷)

درست صورت دیوه نولګ په درد درد منده شي (۸) — وران شي ښهر د یوه سړي په تور

چې یو غاښ په خوله کې زوړند شي یا وخي — درسته خوله پرې بد نمایه شي هر ګور (۹)

---

(۱) مسری د "ح" په لومړي نسخه کې داسې نقل دی: "راحت نه دی بې زحمته چا موندلی"
"ب" په دوهمه نسخه کې لومړی مسری داسې نقل دی: "راحت نه دی چا موندلی بې زحمته"

(۲) مسری په "ب" چاپ، د "ح" په لومړۍ نسخه او د "ب" په دوهمه نسخه کې داسې نقل دی: "چې هسې په خپل یار پسې غوخ غوخ دی"
د "ح" په دوهمه نسخه کې داسې نقل دی: "... چې هسې په خپل یار پسې غوخ غوخ یم"
د "ب" لومړۍ نسخه: "... هسې په خپل یار پسې غوخ غوخ یم"

(۳) "ب" دوهمه نسخه: "پس له مرګه که ارت غواړي خپل ګور — که حق وایم هومره ارت دې بویه کور"
په مصوره نسخه کې لومړی مسری داسې دی: "پس له مرګه که غواړې ارت خپل ګور"

(۴) "ق" چاپ: "بې غیرت سړی په خوښ د هیچا نه دی — مګر هسې بې عزت وي ځیني نور"
د "ح" په لومړۍ نسخه کې "ځیني نور" پر ځای "خم خور" نقل دی.

(۵) د "ح" لومړۍ نسخه: "په هر ځای چې سره وربېښي خلور" — د "ب" لومړۍ نسخه: "په هر ځای چې ولد ... "

(۶) دا بیت او دوه نور بیتونه په مصوره نسخه کې نشته. چاپي دیوان او د لومړۍ نسخې ... "هر همجنس په خپل همجنس ..."
د "ح" لومړۍ او دوهمه نسخه: "هر همجنس له خپله جنسه سره خوښ وي"

(۷) دا بیت په "ب" چاپ، "ق" چاپ او "ح" په لومړۍ نسخه کې نشته ... "که ته نه یې بدکردار ..."
سړي په غور" او د "ح" په دوهمه نسخه کې داسې: "که ته نه یې بدکرداره بد ملګه ..."

(۸) مسری د "ح" په لومړۍ نسخه کې نشته.

(۹) دا بیت د "ح" په لومړۍ نسخه کې نشته.

Marfat.com

یو سړی چې په کور مه کې د چا کرم شي — واړه ګرم کا که پنځه دي که شلور[1]
بد کړ دارم زوی پیدا مشه له مور ه — ابتر کاندي ناموس د پلار و مور
هر څوك خپله خوشحالي له خدایه غواړي — باري[2] نه شي دغه کار په زر و زور
خدای په خپل قدرت څوك لوی و څوك هلاك کړه — نه چې هر ښهر د پیلی شي یا لاهور
د ټنګو پور ونه هر څوك و بېله کاندي — بخت هیڅ ورکړی نه دی څپله پور
د چا تاج په سر زرین خنجر تر ملا وي — د چا پنډ په سر په ملا تومبلی لوړ
څوك په آس د پاسه سور وی توغ دوړاندې — څوك زیر کلی ګرځاوه شي په خر سور

۸۴

ای رحمانه د خدای نوم به چا وانخست
که د خدای چارې په پلار شوې یا په مور

۱۰۸۶

ب

تادې خوابآلود و ستر ګو خواب راښخه یو وړ — لبو[3] دې لذت د میوناب راښخه یو وړ
نه مې اوښکې پاتې شوې نه صبر په صورت کې — د برې بې صبرۍ د مخ آب راښخه یو وړ[4]
زړه مې په نغمو نغمو سوری کړ مطربانو — عقل ساقیانو په شراب راښخه یو وړ[5]
یو ساقي بل یار د یم مطرب سره یو ځای شول — زړه یې له ګوګله په شتاب راښخه یو وړ
څه شو که یې یو وړ خراب[6] دل مې ترې قربان شه — نور چا وړی نه دی خپل احباب راښخه یو وړ[7]

(۱) چاپي دیوانونه: "یو سړی چې په کورمه کې د چا بد شي . واړه بد شي که پنځه وي که شلور".
(۲) د "خ" د محمد نسخه کې "موندهٔ نه شي" راغلي دي.
(۳) په چاپي دیوانونو کې "شونډو د" راغلي دي.
(۴) "ق" ـ "ك" چاپ: "د برې بې صبرۍ مې د زړه آب راښخه یو وړ".
"ق" چاپ: "د برې بې صبرۍ مې د مخ آب راښخه یو وړ".
"پیا" ـ "پا" چاپ: "د برې بې صبرۍ دې د مخ آب راښخه یو وړ".
(۵) دا بیت د "خ" د محمد نسخه کې نشته. "پ" ـ "پ" چاپ کې لومړی مسری داسې ده: "زړه مې په نغمو سره سوری کړ مطربانو". "ق" چاپ: "زړه مې په نغمو سوری سوری کړ مطربانو".
(۶) په چاپي دیوانونو کې "خسته" راغلي دي. (۷) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه او مصوره نسخه کې نشته.

خط دې تورحرفونه مخ دې پاڼې دکتاب کړې[۱] شغل دکتاب دې بل کتاب راڅخه یوړ[۲]

هراسباب چې ما څخه د زهد د پرهېز وُ[۳] واړه تا د حسن په اسباب راڅخه یوړ[٤]

٨٥ کړی ما رحمان په زړه کې نقش د محراب وُ ١٠٩٤

ستا آبرو یو نقش د محراب راڅخه یوړ

خراب زړه[٥] مې د دلبرو هوا یوړ د هواله وره یوچا زده چې چا یوړ

گوښې گوښې ښایسته مې زړه وکاږي زه وکوم یوه ته وایم چې تا یوړ[٦]

چې مې زړه لره د تورو زلفو ځای خوښ ت[٧] هغه زړه راڅخه دېرې ژړا یوړ

د سیلاب په مخ کې کله د چا خوب شي شیرین خواب راڅخه دېرې ژړا یوړ

هغه رخت چې مې د صبر د سکون وُ هېڅ را نه کړ هوشانو وېړیا یوړ

هغه عقل چې یې لاف د خود رایۍ کړې په یوه پیاله د میو مینا یوړ[٨]

کله یې یوړ خسته دل مې ترې قربان شه ناآشنا وُ وړی نه دی آشنا یوړ[٩]

٨٦ هېڅ ناحق پرې شوی نه دی که حق وایم ١١٠٢

معشوقې د رحمان زړه په رضا یوړ

---

(۱) په چاپي دیوانونو کې "دی" او د "خ" په درېې واړو نسخو کې "شوی" راغلی دی.

(۲) "ق" چاپ او "ق،ک" چاپ:

"شغل دکتاب دې خوړ د خواب راڅخه یوړ".

(۳) د "خ" لومړی نسخه: "د شرم یاد ننگ وُ"

او د "خ" په دوهمه او مصوره نسخه کې د "زهد و تقوی" راغلی دی.

(٤) "ق،ک" چاپ: "واړه ستا د حسن دې سیلاب راڅخه یوړ".

(۵) په قلمي نسخو کې "دل" راغلی دی.

(٦) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.

(۷) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته، په "ق،ک" چاپ کې لومړی مسرۍ داسې ده:

"چې مې زړه مینه په تورو زلفو کړله".

(۸) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته، په چاپي دیوانونو کې داسې دی:

"هغه عقل چې یې لاف د خودرایۍ کړې په یوه پیاله یې واړه لما یوړ".

د "خ" لومړی نسخه: "هغه عقل چې یې لافې د خودۍ کړې".

(۹) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته.

Marfat.com

# ن

لکه کاندي په کوترو نظرباز — هسې زه يم د دلبرو نظرباز

زه ونور چانه خبري د راز نه کړم[1] — بې هغو چې موی[2] مژګان لري دراز

بلا پادشاه لره محال دي د ملك د زرينو — مګر مخ د چا محمود شي خال اياز[3]

ستا تر[4] زنې ترسيب پوري ابنکاريږي — نوري زني د خوبانو لکه پياز[5]

د تصوير له ګلو طمع د بوی مه کړه — بې وفا دي واړه ترکي د مجاز[6]

هغه يار که په خپل ناز خوښ وخرم دی[7] — زه هم خوښ يم همېشه ديار په ناز

همېشه مې لاس نيولی دی دعا[8] کړم — چې مدام دې دې يار ناز وي زما نياز

که خولګ آه وفرياد بنه کړي په عشق کې[9] — زه په عشق کې د غه کار ګڼم غماز

بنادي هرچېري د غم په اندازه وي — هسې غم دی د بنادي په انداز[10]

نيستي واړه[11] د هستي په دنبال ګرځي — نه په وبېري په اوبو کې تش جهاز

داقاعده ده لکه لوړ هومره ژور وي[12] — پوصورت دی هم نشيب شي هم فراز

چې يکسان ګوري هم شاه وهم ګداته[13]

هسې يار دی درحمان غريب نواز

٨٧ — ١١١٤

---

(١) په چاپي ديوانونو کې امسری داسې راغلی ده: "زه ونورچا وته د راز خبري نه کړم." (٢) د "ب" په دوهمه نسخه کې "دوی" راغلی دی.

(٣) د "خ" لوړې نسخه کې دا مسری داسې راغلی ده: "مګر مخ د چا محمود حال د اياز" او په همدې مسری کې د "شي" پرځای د "بنو" په چاپي ديوانو، مصوره نسخه او د "ب" په دوهمه نسخه کې "وي" راغلی دی.

(٤) د "ب" په لوړې نسخې او مصوري نسخې سربېره په ټولو نورو کې د "تر" پرځای "د" راغلی دی.

(٥) دا بيت د "خ" په لوړې نسخه کې داسې راغلی دی: "ستا د زنې ترسيب پورې بنکاريږي نورې ترکې او خوبانې لکه پياز".

(٦) دا مسری په "ب" چاپ کې داسې راغلی ده: "له منقوشو مرغو نه خبرې آواز". (٧) د "ب" د لوړې نسخې نه برته په ټولو نورو کې د "وي" پرځای "دی" راغلی دی.

(٨) په مصوره نسخه، د "خ" لوړې نسخه، د "ب" دوهمه نسخه، د "پ" چاپ او د "بېب" چاپ کې د "دوعا" پرځای "خواست" او "ق ک" چاپ کې "سوال" راغلی دی.

(٩) دا مسری د "خ" په لوړې نسخه کې داسې راغلی ده: "که خولګ آه وفرياد ونه کړي په عشق کې". (١٠) دا مسری په چاپي ديوانونو کې داسې ده: "هسې غم د دې دنيا دی په انداز".

(١١) د "ب" په لوړې نسخه کې د "واړه" پرځای "هرچېري" راغلی دی. (١٢) دا مسری د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "داقاعده ده لکه لوړ هومره په ځوړ وي".

(١٣) دا مسری د "ب" په لوړې نسخه کې داسې راغلې ده: "چې يکسان ګوري وشاه ووهم ګدای ته". په چاپي ديوانو کې داسې راغلې ده: "چې يکسان ګوري هم شاه ته هم ګدا ته".

Marfat.com

که بې خایه زرګې نه وسکی آواز — نه صیاد ځني خبر وُ نه شهباز (۱)

سکه له دې خبرې هسې معلومېږي — خپیل صورت دی هر سړي له ره ځماز (۲)

د منصور و حال ته ګوره حال بې خه شو (۳) — خدای دې فاش د هیچا نه کاندي پټ راز

د هغه د ربغه که ورسېږي عقل پوهې وي — د انجام خبرې نه شي به آغاز

نېك عمل دعلمائو (۴) نېك فرزند دی — خدای خوك مه کړه شراب خوار و قمارباز

چې فرزند یې شراب خوار و قمارباز شي (۵) — نور یې کالی شي د پلار به خونه ساز

خدای له هسې زاهو زاده امان راکړه (۶) — چې بې دین بې دیانت شي بې نماز

۸۸ — چې منکر پرې اعتراض کولی نه شي
دا دې شعر دی رحمان کړه اعجاز — ۱۱۲۲

بد اختر به نېك اختر نه شي هرګز — مرغ جوچه به درګوهر نه شي هرګز (۷)

که مکان یې په آسمان دی (۸) غزا و شوه — ستاره به شمس و قمر نه شي هرګز

که یې اصل لیو بې ځمکې وي خه شو — بېد به سرو صنوبر نه شي هرګز

که هم عمر باران ور باندې و وړي — خس به ګل د پېغمبر نه شي هرګز (۹)

له نا اهلو د وفا طمع و مه کړه (۱۰) — ګنده نل به نیشکر نه شي هرګز

که تورغر له ځایه خوزي و به خوزي (۱۱) — ولې نور به مقدار نه شي هرګز

۸۹ — د رحمان په باب چې وشوه هغه وشوه
مکرر (۱۲) به دا دفتر نه شي هرګز — ۱۱۲۹

---

(۱) ... په مصور نسخه کې ... نشته

(۲) دا بیت په چاپي ... نسخه کې ... : هم له دې خبرې هسې معلومېږي — خپل آواز دی هر سړي ته ... اود «ج» په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی دی: «څکه له دې خبرې هسې معلومېږي — چې خپل صورت دی هر سړي ته ...»

(۳) د «ب» په چاپ کې د «خه شو» پر ځای «خه دی» راغلی دی.

(۴) په چاپي دواوینو ... په لومړۍ نسخه کې د «علمائو» پر ځای «عاملانو» راغلی دی.

(۵) په چاپي دیوانو او د «ج» په لومړۍ نسخه کې د «شي» پر ځای «دی» راغلی دی.

(۶) دا مسرۍ ... «ب» په چاپ کې داسې ده: «خدای له هسې زاو زاده امان وکړه».

(۷) د الف په مصوره نسخه کې ... دا ... بیت د دوهمې مسرۍ «مرغ جوچه» ... چاپي دیوانونو کې «مرغ بچه» ... لومړۍ نسخه کې «مرغچه» ... او د دوهمې نسخې ... «مرغ بچه» او «ب» په دوهمه نسخه کې هم «مرغ بچه» راغلی دی.

(۸) په «ب» چاپ او «ق» ... چاپ کې د «دی» پر ځای «وی» راغلی دی.

(۹) دا بیت د «ج» په لومړۍ نسخه کې ... راغلی ... دوهمه مسرۍ یې د «ج» په دوهمه نسخه کې داسې ده: «خس به ګل صنوبر نه شي هرګز» ... او دوهمه مسرۍ یې د «ب» په چاپ کې داسې راغلې ده: «که هم عمر باران ور باندې وشي».

(۱۰) په ... «ونه کړې» راغلی دی.

(۱۱) دا مسرۍ د «ب» په لومړۍ، دوهمه او د «ج» په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: «که تورغر له ځایه کوزي و به کوزي». د الف ... بیت د «خ» په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی دی: «که تورغر له ځایه ګرځي و به ګرځي — ولې نور به مقدار نه شي هرګز».

(۱۲) د «ب» په دواړو نسخو کې د «مکرر» پر ځای «مکدر» راغلی دی.

Marfat.com

پښتنه سپين سترګي تاريکي غابن کنډاس — نه وکاږي د دنيا له چارو لاس

په هر طوري (۱) چې يې مومي پسې درومي — نه په چپ لوري صرفه کړي نه په راس

يو وپښته د عقيدې دي په تن نشته — سر تر پايه هسې ډوب (۲) يې په وسواس

خدای رازق بولي او رزق بولي له کسبه — په دا شناخت وځان ته والي حق شناس

هسې رنګ په بد صفت يې موصوف شوی — چې هيڅ نه پوهېږم ناس يې که خناس (۳)

په دوی لېکي به ورنه شي تر توحيده — که پېښوا کړي هم تر خضر هم تر الياس (۴)

واړه زهر وقاتل نغري که پوهېږي — که سيوال له خدايه نغري هر انفاس

امر دادی چې له لمې لاس کوتاه کړي — او که نه وي خپسر وګڼه مواس (۵)

خير دادی چې له شره وچار وځي — په دا چارو کې هيڅ نشته کوز و پاس (۶)

که زما ويل دروغ يا کوز و پاس وي — ته يخپله په خپل زړه وکړه قياس (۷)

له سريه غرض واړه سري توب دی — نه چې پټ وي د سرو زرو په لباس (۸)

څه په دا به عراقي او ترکي نه شي — که په خره باندې څوك سوړ شي که په آس (۹)

---

(۱) په قلمي نسخو کې "په هرطور" راغلی دی.

(۲) د "ب" په لوړی نسخه کې "ډوب يم" راغلی دی.

(۳) دا بيت په "ق ، ک" چاپ ، او د "خ" په لوړی نسخه کې نشته ، په نورو چاپي ديوانونو کې داسې دی:

"هسې رنګ په مذ بذب صفت موصوف شوي — نه پوهېږم چې ناس يې که خناس".

د "ب" په لوړی نسخه کې يې دوهم مسرۍ داسې ده: "چې هيڅ نه پوهېږم ناس يې که خناس"

(٤) دا بيت د درسته پښتو په "ق ، ک" چاپ کې نشته

(٥) د "خ" په لوړی نسخه کې دا بيت نشته .

(۶) د "خ" لوړی نسخه : "امر دادی چې له لمې وچار وزي — په دا چارې کې هيڅ نشته کوز و پاس".

(۷) د پېښور چاپي ديوانونه او قلمي نسخې : " ته يخپله په خپل زړه کې وکړه قياس".

(۸) د "خ" لوړی نسخه : "له سريه غرض واړه سري خوی دی — نه چې پټ وي زر د مسو په لباس".

د "ب" لوړی نسخه : "له سريه غرض واړه سري هوښ دی — نه چې پټ وي مس د زرو په لباس".

د "ب" چاپ : "که سري يې غرض واړه سري هوښ کا — نه چې پټ وي د سرو زرو په لباس".

(۹) د "خ" لوړی نسخه : "که د خره په سر سوري وي که د آس".

د "ب" په لوړی نسخه او "خ" په دوهمه نسخه کې : "که د خره په سر سورله کړي د آس".

مصوره نسخه : "که د خره په سر سوري سور شي که د آس".

Marfat.com

دتښنه خوله او بو سره مطلب وي　　نه تش اېښي بې او بو د زر و طاس (۱)
هر زاهد چې په ریا زهد نا زېږي　　د خربېنت گومان يې کېږي په اماس
دا زما عاجز امید دی که رب کاندي　　په قیامت به مې شفیع شي خیر الناس (۲)

۱۱٤٥　　۹۰

اې رحمانه که څه کار دی خو د دین دی (۳)
نور کارونه بې وفا دي بې اساس

تېر شو د رست عمر زما په داهوس　　که مې و پوښتي چې څوک يې يا څه کس (٤)
يو پرسش د هغه يار ما لره بس کا　　چې څه کس وي خوږ يوه وېناوي بس (۵)
هزار حیف دی چې په هر نفس تري تښتم　　هغه لور ته چې مې تله دي هر نفس
چې يې زه په هر نفس له خدايه غواړم　　هغه کله وینم په د بر پس (٦)
که يو خس وي په محتاجو لکه کرور شي (۷)　　خدای دې نه کا څوک محتاج د يوه خس
هر مرغه په خپله جاله کې همای دی　　که کارغه که مېنگیرک دی که ققنس
که شهباز لره سينه ده د تنزري　　عنکبوت لره سينه ده د مگس (۸)
خو چې خاورو لره ورشي برابر شي　　که چا غوندۍ وي اغوستي که اطلس (۹)

۱۱۵٤　　۹۱

هم هغه يې ژړوي چې خندوي يې (۱۰)
نور څوک نشته د رحمان فریاد رس

که څوک فخر کا په ننگ او په ناموس　　دا په عشق کې نه ارزېږي يو فلوس (۱۱)
که اغوستي يې زري جامې وي څه شو　　گنه يا مرغ زرين دی يا طاوس (۱۲)

---

(۱) د "ب" لومړی نسخه : "نه تش بې او بو د سیمو زر و طاس".
مصوره نسخه : "نه چې تش کټوری د سیم و زر و طاس".
(۲) دا بیت د "ق" چاپ نه نقل شو.
(۳) د "خ" په نسخه کې د "دین" پر ځای "خدای" راغلی دی.
(٤) دا غزل په "ق ، ک" چاپ کې نشته.
(۵) "ب" چاپ : "که څه کس وي خوږ بو ولې ورلره بس".
د "ب ب" چاپ : "که څه کس دي خوږ بو واروی ورله بس".
"ق" چاپ : "که څه کس دی خوږ بو حرف ورلره بس".
د "خ" لومړی نسخه او مصوره نسخه : "چې څه کس دي خوږم بو دی دی بس".
د "خ" دوهمه نسخه : "چې څه کس دي خوږې بو ولې وی بس".
(٦) د "خ" لومړی نسخه : "هغه کله وینمه په د بر پس".
(۷) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته ، په چاپي دیوانونو کې لومړی مسرۍ داسې ده : "که یو خس وي په محتاجو لکه غرېشي".
(۸) د "خ" لومړی نسخه : "که شهباز لره تا به ده د تنزري　عنکبوت لره تا به ده د مگس".
(۹) په "ب" چاپ کې "چا اطلس" ، او د "پ" په لومړی نسخه کې "یا اطلس" راغلي دي.
(۱۰) چاپي دیوانونه : "هم هغه يې خندوي چې ژړوي يې　بل څوک نشته د رحمان فریاد رس" او د "پ" په لومړی نسخه کې "نور څه نشته" راغلي دي.
(۱۱) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(۱۲) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته ، او لومړی مسرۍ يې د بېشوره په چاپي دیوانونو کې داسې راغلې ده : "که اغوستي يې د زرین لباس وي څه شو".

Marfat.com

کہ یې تاج وي پہ سر ابنی غزا وشوہ — پہ نظر زما هدهد دی یا خروس (۱)
نہ یې فهم او فراست وي نہ یې علم — خالي نقش لکہ عکس د معکوس (۲)
نہ یې مغز نہ دانہ وي پہ خرمن کې — عبث هسې پہ سر لوني وارہ بوس (۳)
د مجاز لہ اهلہ طمع د خیر مہ کړہ — تمامي شر او شدت دی دا لوس (۴)
ودانۍ یې همہ وارہ ویراني دہ — راشہ وګورہ ماڼۍ د کیکاوس (۵)
کہ زما پہ ګفتګوی کې زیات و کم وي — خولہ دې ګلہ کا پہ دا ښهر کې جاسوس (۶)
ساقي جام او بادہ راوړہ چې بې خود شم — خدای خولہ مہ کړہ پہ خودۍ کې محبوس (۷)
کہ خوله وغواړي تمامہ د نیا وارہ — زما یار غوندې بہ نہ وي بل عروس (۸)

۱۱۹۵ — تاج حسن د یار وینم پہ پردہ کې (۹)
نہ پټېږي نور د شمع پہ فانوس — ۹۲

---

ص

رالګ ورہ خہ بلند مقام دی داخلاص — چې جهان وارہ غلام دی داخلاص (۱۰)
کہ لہ ځمکې و آسمان تہ خانہ ګران دی (۱۱) — دا سفر پہ یوہ ګام دی داخلاص

---

(۱) ... بیت ... مصور نسخې کی نشتہ. (۲) دا بیت پہ مصور نسخہ اور "ب" ... مخطوط نسخې کی نشتہ. لومړی مسری پہ "پ" چاپ کی داسې ... "نہ یې فهم فراست دی نہ یې عقل" او د "ب ب" چاپ کی داسې ... "نہ یې نقش او فراست دی نہ یې عقل".

(۳) دا بیت ... مصور نسخې کی نشتہ، دوهمہ مسری یې ... "پ" چاپ کی داسې دہ: "عبث هسې خالي لوني پہ سر بوس".

(۴) دا بیت ... مصور نسخہ او "ب" ... مخطوط نسخې کی نشتہ، د "پ پ" چاپ کی دا بیت داسې راغلی دی:

"د مجاز لہ یارہ طمع د خیر مہ کړہ — تمامي شر او شدت دی یا سالوس"

... نسخې د مجاز لہ یارہ طمع د خیر مہ کړہ — تمامي شر او شدت د ... او الوس".

او د "خ" پہ لومړی نسخې کی لومړی مسری داسې راغلې دہ: "د مجاز لہ اهل دلہ طمع مہ کړہ".

(۵) ... چاپي دیوانونو ... "کیکاوس" پر ځای "قیانوس" راغلی دی. او دا بیت پہ مصور نسخہ او د "ب" ... مخطوط نسخې کی ... دی راغلی.

(۶) دا بیت پہ مصور نسخہ او د "ب" ... مخطوط نسخې کی نشتہ او دوهمہ مسری یې د "خ" پہ لومړی نسخې کی داسې راغلې دہ: "خولہ دې وکہ پہ دا ښهر کی جاسوس".

(۷) دا بیت د "ب" ... مخطوط نسخې ... دی راغلی، دا بیت پہ "پ" چاپ او مصور نسخې کی داسې راغلی دی: "ساقي جام د بادہ راوړہ چې بېخود شم — خدای خولہ مہ کړہ پہ خودۍ کی ... "ساقي جام د میو راکړہ چې بېخود شم — خدای خولہ مہ کړہ پہ خودۍ کی محبوس". پہ "پ پ" چاپ کی: "ساقي جام د میو راکړہ چې بې خود شم، خدای ... پہ خودۍ کی محبوس ...". د "خ" پہ لومړی نسخې کی لومړی مسری داسې راغلې دہ: "ساقي جام د بادې راوړہ چې پہ خود شم".

(۸) ... مخطوط نسخې کی ... "بل عروس" پر ځای "یک عروس" راغلی دی (۹) ... چاپي دیوانونو او د "خ" ... دواړو قلمي نسخو کی دا مسری ... "رجمان حسن د یار ... پہ پردہ کې".

(۱۰) ... مصورې ... نسخې ... چاپ او د "ب" ... لومړی نسخې کی دا بیت داسې راغلی دی: "خہ عجب بلند مقام دی داخلاص — چې جهان وارہ امام دی داخلاص".

او د "پ" ... دوهمہ نسخې کی "مقام" پر ځای "مقام" راغلی دی. (۱۱) دا مسری د "خ" پہ دوهمہ نسخې کی داسې دہ: "لہ دې ځمکې و آسمان تہ خانہ ګران دی".

Marfat.com

چې خبر کا مخلصان له غیبه علمه[1] — داهمه واړه الهام[2] دی د اخلاص

د رواج او رسم عمر مدام نه وي — لکه عمر[3] چې مدام دی د اخلاص

بې اخلاصه د اسلام حلاوت نشته — که اسلام دی خو اسلام دی د اخلاص[4]

څه عجب دی که مستان ترې چاپېر ناوي — هر ساقي څخه چې جام دی د اخلاص[5]

څه عجب دی که هما ئې په دام نښلي — هر صیاد څخه چې دام دی د اخلاص

پس له مرګه به داهم واخلاص نه وي — که اخلاص کړې نن هنګام دی د اخلاص[6]

۹۳ — ۱۱۷٤

د رحمان کلام په دا سبب شیرین دی

چې پېیم کلام کلام دی د اخلاص

که ترستوني دې شي ګوټ له جام خاص — هغه دم به شي د غم له شېبو خلاص[7]

تل په سپینه جامه تکې بدلېدہ شي — نه د اعامي چارې مکره خاص الخاص

که دوري لهنګ خان ته بو لقمه کړي — زر به راوړي په تحقیق سره غواص

په لباس به دې آسان په صورت ګران شي — مشکلات به دې آسان شي له اخلاص

که نغمه د محبت په غوږو واورې — په فلک به شي زهره غونډې رقاص

معنوي صورت پیدا کړه که مېړه يې — فایده څه ده د بوتانو له اشخاص

د بل خیر په خاصیت به هغه ګوري — چې خبر نه وي د مینې له خواص

۹۴ — ۱۱۸۲

چې نارچه ور ځیني رخت د مینې تکه

فهم دا را وسه ځانه له رصاص

که ګوهر د عشق په لاس راکړي غواص — بیا هاله بې دی له ماسره اخلاص[8]

په کاله به د رقیب څه مونه زور شي — که مې یار کاندي حساب له خاص الخاص

---

(۱) د امسری په چاپي دیوانونو او د "ب" په دوهمه نسخه کې راغلی دی: چې خبر کا مخلصان له علم غیبه

(۲) د "ب" په لومړۍ نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې "اعلام" راغلی دی.

(۳) په قلمي نسخو کې "لکه" راغلی دی.

(٤) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته. په چاپي دیوانونو کې په لومړي مسرۍ کې راغلی دی: بې اخلاصه حلاوت د اسلام نشته. او د "خ" په لومړي نسخه کې راغلی دی: [illegible] بې اسلامه د اخلاص حلاوت نشته

(۵) دا بیت د "ب" په دواړو نسخو او د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته او لومړی مسرۍ [illegible] کې راغلی ده: څه عجب دی که مستان [illegible] په لومړۍ نسخه کې راغلی ده: څه عجب دی که مستي [illegible]

(٦) دا بیت د "ق" په چاپ او د "ب" په دوهمه نسخه کې نشته. او لومړی مسرۍ [illegible] د "خ" په لومړۍ نسخه کې راغلی ده: پس له مرګه به د اهم اخلاص نه وي.

(۷) دا غزل په دواړو د "خ" په دوهمه نسخه کې نقل دی. [illegible] قلمي نسخو او چاپي دیوانونو کې نشته.

(۸) دا [illegible] دواړو د "خ" په دوهمه نسخه کې نقل دی. [illegible] چاپي دیوانونو کې نشته

Marfat.com

پہ کمند دمستي میني دخوبانو — بندي مه کړې خدای دې شره پورې خلاص

۹۵ پہ رحمان باندې نظر دکرم وکړې — اې چې بې دپاک الله په دربار خاص ۱۱۸۶

ساقي راکړه ته وما ته جام درقص — زه آرزو په زړه لرم مدام درقص

ده وې اوس به دخوښې ساعت په تاشي — مغني راکړ وما پیغام درقص

مسقي(١) علم خپل استاد را ته تعلیم کړ — رانمایي کړ هر تار مقام درقص

سه يې پاس تر نهه فلکه خرگندیږي — چې په چاوشي ارشاد اعلام درقص

چې جلوه پرې دمحبوب له لورې کیږي — هرگز نشته په هغه اشام درقص

لیاقت یې هر وګړې څخه نشته — په لایقو باندې وې انعام درقص

۹۶ خوږې سا په وجود شته عبدالرحمانه — حقیقت به هومره نه که تام درقص ۱۱۹۳

# ض

که ته نه کړې په باچایانو غرض — بل به هم نه کا په تا باندې غرض(٢)

که گدای دبل په غولې غرض(٣) نه کړې — سپې به نه کا په گدا باندې غرض

په ساحل کشتۍ دهیچا نه دوبیږي — که څوک نه کا په دریا باندې غرض

خلوتیان په خپل خلوت کې فراغت دي — د رسوا دي په رسوا باندې غرض

دا دنیا په احمقانو ده ودانه — دا خانه کا په دنیا باندې غرض

۹۷ زه رحمان دعشق په درد کې هسې خوښ یم(٤) — چې مې نشته په دوا باندې غرض(٥) ۱۱۹۹

(١) [illegible] (٢) [illegible] "بل به نه کا که به تا باندې غرض"
(٣) [illegible] (٤) [illegible] (٥) [illegible]
[illegible] باندې غرض

Marfat.com

په دربار کو مرد ښکلي دلبر عرض | په هر دم په هر ساعت مقرر عرض
که قبول شي د مولا په پاک دربار کې | دا په روی د شاه نبي پیغمبر عرض
په مانند د ګریال په پنځه وخته | په شورش د غرور خوف د سفر عرض
بې خاوند د کاروان که خه کېږي | خه که کار ته همېشه که قلندر عرض

۹۸ دا ﷺ بې نبي کار د رحمت ته | ۲۰۴
شوی کولی د بال کار سراسر عرض

که مې یار په دیدن سر غواړي عوض | ور قربان شه چې دلبر غواړي عوض
چې هستي وار په نیستي کاندي واصل شي | ګنده کچکول دی قلندر غواړي عوض
د دوهي په اور به خه حاجت موقوف وي | عاشقي ترې خاکستر غواړي عوض
خپل صورت ورته مافه کړه ته د مشکو | یار مجمر لره عمبر غواړي عوض
د لباس له ښکلیو طمع بوسه مه کړه | د بوسې په دا کړه زر غواړي عوض
د دې دهر له تېګه وبره وکړه | د کم ترې په ځای ګهر غواړي عوض
د عشق درخه په اسانه لوسته نه شي | په دا ځای کې زر و زور غواړي عوض

۹۹ په لوخله به ترې خلاص نه شي رحمان دا | ۲۱۲
سر و مال دې مقرر غواړي عوض

---

طمع مه کړه په نیکي د نشه | [illegible] موږي سه [illegible]
لکه راغله به هسې ځی د روي | د رحمن دی د هر [illegible]
ترهګر ملاند کوهي دی دی دا | [illegible] هر [illegible]

---

(۱) [illegible]
(۲) [illegible]
(۳) [illegible]

Marfat.com

ودانا وته په دا جهان سندا ربري — هم جنت او هم دوزخ او هم صراط

په عاشق به هيڅ دهشت د رقيب نه وُ — که يې نه کړي له خوبانو اختلاط

له کمه ذات يې ديانته بې نمازه — طمعه مه کړه د نيکۍ د يو قيراط[1]

۱۲۱۱ — ۱۰۰

غم د ترکو تر رحمان هسې چاپېر شو[2] — لکه وسکني جامه په چا خياط

---

ن نګار و ما ته راکړ د ياري خط — وچې يې واخله دا مې دی د دلدار ديا خط[3]

د غماز له دوراهي تراهي وکړه — ځای به بابای د مکار په جواري خط

چېرې نه وي چې يې خبري په غفلت کړي — تل يې لوله په تميز په هوښياري خط

په مات سره به ستا انجام ته رسي — اسان کله دی د استاد د يارۍ خط

د غفلت له خوبه پاخه بيله يې کړه — تل وتا ته سپارلی د سبايي خط

برابر د خط په حکم قدم کېږده — که ته غواړې په عقبی د نامايي خط

۱۲۲۶ — ۱۰۱

له مېزانه که امان غواړې رحمانه — تل خو لوله په ډېر عجز په زاري خط

---

د مه کله دي پاخه والي واعظ — هرچې والي واره سره والي واعظ[4]

چې دی ماله خپله ياره لرې باسي — نور به څه ورته اومه والي واعظ[5]

جاروا ته زماله ياره ډېر مشکل دي — زياتي څله د وباره والي واعظ

---

(۱) دا بيت د "ب" د دوارو نسخو او د "ح" په لومړۍ نسخه کې نشته او لومړۍ مسرې يې د پېښور په چاپي ديوانونو کې داسې راغلې ده:
"له کمه اصله لې ديانته لې نماره" او د "ح" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "له کمه اصلو لې ديانتو لې نمازه"

(۲) دا مسرې په "ق، ک" چاپ کې داسې ده "غم د ترکو د رحمان هسې چاپېر دی". (۳) دا غزل د "ح" له دواړو نسخو نه نقل شو. (۴) دا غزل په مصوره نسخه، د "ب" په دواړو نسخو او د "ح" په لومړۍ نسخه کې نشته. (۵) دا بيت په "ب" "چاپ او "ق، ک" چاپ کې داسې راغلی دی. "دی چې ماله خپله ياره لرې باسي — نور به څه راته اومه والي واعظ" د "ح" په دوهمه نسخه کې داسې دی. "چې ته ماله خپله ياره لرې باسې — زه به څه درته دايم والي واعظ".

Marfat.com

په خوبو لپستو خبرو يې غلط شوي* | د خوږې خولې نه تراخه والي واعظ
خولې به ځه باور ورکړي په نصيحت کې | چې نه يې دا ژوند ته وايي واعظ
زه يې عشقه بل يو کار کولی نه شم | په [illegible] عشقه تسبند ته وايي واعظ
اعتبار يې په نرمۍ په ګرمۍ مه کړه | دا تا ورته تاوده ته سړه وايي واعظ

١٠٢ — اوريدونکی يې [illegible] د [illegible] نه[۲] / نه تر دې چې نور نه وايي واعظ — ١١٣٤

بلبلان که له ګلزاره مومي حظ | مشتاقان د [illegible] مومي حظ
زه د عشق له تاوده اوره خبره مند يم | سمندر له [illegible] مومي حظ
د چمن غوټۍ واز سحر باد کا | عاشقان خوږه [illegible] مومي حظ
په طلب يې نفع مند شوم له هر چا نه | تل سکاري [illegible] سکاره مومي حظ
مجنون بيا موند خوښي په بيابان کې | هر منصور له [illegible] داره مومي حظ
خو چې ملک د جهان زير و قدم نه کا | په [illegible] ځای [illegible] مومي حظ
شګفته چې د غوټۍ غوندې سحر وي | هغه [illegible] مومي حظ
په سنبل د سر مي سر د وصل بيا موند | و[illegible] مومي حظ

١٠٣ — چې نولي يې خيل ځان د خم واوړنه / رحمان خلک له انواره مومي حظ — ١١٤٣

---

به تنديچې آتش بل کړم ملام شمع | خلک بيا موند له خلقو اکرام[۱] شمع[۷]
په انوار يې منور اهل ابصار شو[۷] | لا به کله شي سکاره د انعام شمع

---

* دوي مخ د متن پابليکونه دی په (۷۸) مخ کی ولوستل شي.

Marfat.com

پتنګان بې لوره لوړ ترمخ خبر بې(۱) څکه(۲) نه کوي په سول کې آرام شمع
وسېزه ته ځان زما په شعله باندې کړه پتنګ ته په رموز کې کلام شمع(۳)

۱۰۴ ستا مجلس د خاصو خاصو(۴) سرفراز و
۱۲۴۸ د رحمان په خبر نه مومي هر عام شمع

ځان دې پرې کړه له وګړیو رښتیا طمع نور پادشاهي هرګز مه کړه له چا طمع(۵)
زهر رنګ د آشنایي مبدل شي پیدا مه شه د آشنا له آشنا طمع
چې له سکلیو دي د هر وفا غواړي د نادان په خبر بې شي د کیمیا طمع
چې مراد غواړي د زړه له مهرویانو ستا په دام کې نیولی شي د عنقا طمع
خدای د عقل جواهر ورته بخښلي له نادانو به څه شان کا د انا طمع
ځکه سپی د فقیر یبني اولمن نیسي چې د خدای له دره پرې کا ګدا طمع

۱۰۵ له دغه رنځ بې طاعون، تبه بهتر دی
۱۲۵۵ ای رحمانه خدای دې مه کړه پیدا طمع

---

هر یوګل د ستا د باغ روښن تر دی تر چراغ روښن تر دی تر چراغ هر یوګل د ستا د باغ(۶)
ستا د باغ ودبن زاغ په نظر زما هما دی په نظر زما هما دی ستا د باغ ودبن زاغ(۷)

---

(۱) د جیوړ چاپي دیوانونو او "ب" لومړی نسخه: "پتنګان دي لوړ په لوړ ترمخ خبر بې". د "خ" د دوهمه نسخه: "پتنګان بې لوره لوړ ترمخ خبر بې". (۲) "ق" "ک" چاپ کې "هغه نه کوي" راغلی دی. (۳) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی په عوض یې دا بیت راغلی دی: "لوړ د لوړه جهان وایه که روښانه چې شي بله په هر ځای په مقام شمع".
(۴) د "خ" په دوهمه نسخه، "پ" چاپ او "ق" "ک" چاپ کې د "خاصو خاصو" پر ځای "خاص الخاصو" راغلی دی.
(۵) دا غزل د "خ" له دوهمې قلمي نسخې نه نقل شو.
(۶) دا غزل په مصوره نسخه کې نشته (۷) دا بیت په قلمي نسخه کې داسې راغلی دی: "ستا د باغ د بنوزاغ په نظر زما هما دی په نظر زما هما دی ستا د باغ د بنوزاغ". او د "ب" چاپ کې د "هما دی" پر ځای "هما ده" راغلی دی.

د (۷۷) مخ د متن مربوط پاملیکونه:
(۱) دا مسره د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "په خوږه د پښتو خبره خلط مه شه". (۲) دا مسره په چاپي دیوانونو او "ب" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: "اعتبار یې د بنده والي په ګرګه مه کړه". او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "اعتبار د بنده په ګرګه مه کړه". (۳) دا مسره د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "او پیدونې یې رانغی دوبل نه دی".
(۴) دا غزل د "خ" له دوهمې قلمي نسخې نه نقل شو. (۵) په "پ" چاپ کې "آرام" راغلی دی (۶) دا غزل په مصوره نسخه، د "پ" په دواړو نسخو او د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۷) دا مسره د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "په اقوال د کې مېوې اهل انصاب شوه".

Marfat.com

د درد منو په دماغ ستا د رخاوري عنبر دي | ستا د رخاوري عنبر دي د درد منو په دماغ

دعاشق د تندر داغ په آسمان دعشق آفتاب دی | په آسمان دعشق آفتاب دی دعاشق د تندر داغ (۱)

۱۰۶

در رحمان دزړه فراخ نه شي نه شي بې خوبانو (۲)

نه شي نه شي بې خوبانو د رحمان دزړه فراخ

۱۲۶۰

ق

و رنګ زیب او شاهجهان غوندي اشراف | صدقه شه تر منصور غوندي ندّاف (۳)

که دې تن په لویې لوی دی بې خه کړي (٤) | مه کړه خدای چې کوه طور شي کوه قاف

بوالهوس دي عاشقي ته هوس نه کا | دار دروغ دی چې زر د ورشي بوریا باف (۵)

دمکي په بزرګي کې هېڅ شك نشته (۶) | ولې خر به حاجي نشي په طواف (۷)

که په سل دریابه غسل دخان وکا (۸) | ګومان مه کړه چې به سپي شي پاك وصاف

کشتي هم چې ډېره ډکه شي ډوبېږي | د مسرف بلا په خان شي خپل اسراف (۹)

صابرانو صبر پرېښود حیران شول | نه خه عدل شته په خان کې نه انصاف (۱۰)

---

(۱) دا بیت د "ب" په دوهمه نسخه کې داسې دی: "دعاشق د تندر په اسمان باندې افتاب دی په اسمان باندې افتاب دی مل دعاشق د تندر داغ".

(۲) د "خ" لومړۍ نسخه: "د رحمان دزړه فراخ نه به شي بې خوبانو - نه به شي بې خوبانو د رحمان دزړه فراخ".
د "خ" دوهمه نسخه: "د رحمان دزړه فراخ نه شي بې خوبانو - نه شي بې خوبانو د رحمان دزړه فراخ".

(۳) دا غزل په مصوره نسخه کې نه دی راغلی.

(٤) په چاپي دیوانو کې: "که دې تن په لویې لوی دی ته به بې خه کړي".
په "ب" چاپ کې داسې دی: "که دې تن په لویې لوی دی ته بې خه کړي".
د "خ" لومړۍ نسخه: "که دې تن په لویه وه دی نه بې خه کړي".
د "خ" دوهمه نسخه: "که دې تن په لویې لوی دی نه بې خه کړي".

(۵) د "خ" لومړۍ نسخه: "بوالهوس دي عاشقي ته نظر نه کا دار دروغ چې زر د ورشي بوریا باف".

(۶) د "خ" لومړۍ نسخه کې داسې دی: "دمکي په بزرګۍ کې شك نشته".

(۷) د "ب" لومړۍ قلمي نسخه: "ولې خر به حاجي نشي د طواف".

(۸) د "ب" په نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې: "که په سل دریابه غسل دخان وکا".

(۹) د "پ" لومړۍ قلمي نسخه په نورو نسخو کې داسې دی: "د مسرف به خان بلا شي خپل اسراف".

(۱۰) د "پ" لومړۍ نسخه په نورو نسخو کې داسې دی: "نه څه عدل شته په خلکو نه انصاف".

Marfat.com

داخلو مذهب واړه سره لیو دي (۱) ماوتا پکې پیدا کړ اختلاف
دهغه واړه ملکونو خستن یو دی (۲) که دوزخ دی که جنت دی که اعراف
شهیدان ... خون فروشان دي (۳) که (٤) خولي ته خون بها نه کا معاف
... خولې چې وچه نه ده لکه توره دلرګیو په غلاف (۵)
... په خوشحالي ترکومه دروغژن چې په دروغ کاندي لاف (۶)
... د ... مهر وي خومره خونظر پرې شوی نه دی دصراف (۷)
دنیا په دولت ناز مکړه رحمانه دا یوموی دی په نظر دموی شګاف (۸)

مدحه او هجوه د حبیب او د رقیب کړي (۹)

۱۰۷ — ۱۲۷۵

ح نه رده بله هجوه بله لاف

---

ق

ځي پای بند شو دلیلې په اشتیاق مجنون واچاوه (۱۰) ونوروته طلاق
چې دمیو دمطرب په خونه خبر شو (۱۱) فراموش کړه صوفي نفل داشراق
جام دمیودی یا رقص دخوبانو په هرځای چې وی بیله جمع شي عشاق (۱۲)
په نسیا ونظر نه کاندي بې نقده (۱۳) که خوک حوري ورته ستایي که براق
چې حصه د دلبرګانګي شي (۱٤) د دولې خبرې نه کاندي مشتاق

---

(۱) په چاپي دیوانو او د "ح" په ... نسخه کې دا مسری داسې ده: "داخلو واړه مذهب سره یو دی".
(۲) دا مسری د "ح" په لوړ نسخه کې داسې ده: "دا هم واړه ملکونه د خښتن دی. او په دري واړو چاپي دیوانو کې د "یودی" پرځای "خدای دی" راغلی.
(۳) د "ب" په لوړي نسخه: "شهیدان نه دی هغه خود فروشان دی". د "ح" لوړي نسخه: "شهیدان نه دي هغه خو خون فروشان دي" او د "ح" دوهمه نسخه: "شهیدان نه دی هغه واړه خون فروشان دی".
(٤) د "ب" په لوړي نسخه ... په نورو ټولو کې د "که" پرځای "چې" راغلی دی.
(۵) په چاپي دیوانو کې داسې ده: "که توره دلرګي دی په غلاف". (۶) د "ب" چاپ کې دا مسری داسې ده: "دروغژن چې په دروغو وهلي لاف".
د "ق" ... چاپ او د "ح" په لوړي نسخه کې دا مسری داسې ده: "دروغژن به په دروغو کاندي لاف" (۷) دا بیت د "ح" په دوهمه نسخه کې نشته دی.
بیت لوړی مسری د "ب" په لوړي نسخه کې داسې ده: "آب وتاب د ناسره هم وي خومره" د "ب" چاپ کې داسې راغلی ده: "آب وتاب د ناکرده مهر وي خومره". او د "ح" په لوړي نسخه کې داسې ده "آب وتاب د ناسره مهر وي خومره". (دیاداښت پاتې په ۸۱ مخ کې)

حرکت له ځایه نه کا لکه شمع ‌‌ ‌‌ ‌‌ کړي اور د عشق(۱) بلېږي په تاراق(۲)
هسي خوښ وي چي ښکلي یار په درغم کي ‌‌ ‌‌ ‌‌ نه په والي چي باد شاه دی د آفاق
هسي محوه وي د عشق په میوناب کي(۳) ‌‌ ‌‌ ‌‌ چي خبر نه وي په وصل(۴) په فراق
لاظاهر په صورت وي په معنی نه وي ‌‌ ‌‌ ‌‌ لکه کښلی د "لا" لفظ وي په اوراق(۵)
خولې تن په کارو(۶) زارکي فنا نه شي ‌‌ ‌‌ ‌‌ نه جاریاسي مخ آسونه د عراق
د عراق آسونه کار په اشارت کا ‌‌ ‌‌ ‌‌ په کوتل په وهل کار کوي اولاق(۷)
چي خدای پوه کړ(۸) د بنو په ښکلي پوه شو ‌‌ ‌‌ ‌‌ چي پوه نه شو نه پوهېږي په شلاق
که یې سر ځي کړي مال ځي خدای دي نه کا(۹) ‌‌ ‌‌ ‌‌ د طالب او د مطلوب ترمېنځ نفاق
د قسمت یاسي(۱۰) په لاس نیولی ناست یم ‌‌ ‌‌ ‌‌ نه پوهېږم چي به جفت شي که به طاق

۱۰۸ ‌‌ ‌‌ ‌‌ نه چي پند والي ناصحه و رواځ نه
کاشکي نور کړي هغه کښلی د میثاق(۱۱) ‌‌ ‌‌ ‌‌ ۱۲۹۰

---

د (۸۱) مخ د پاڼلیک پاتي:

(۸) د دې بیت لومړی مسری د "خ" په لومړي نسخه کي داسي ده: "په دنیا او په دولت نازمه کړه رحمانه" په "ب" چاپ او "ق.ک" چاپ او د "پ" په دوهمه نسخه کي "موشګاف" راغلی دی.

(۹) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کي لتشخو دا بیت په "ب" چاپ او "ق.ک" چاپ کي داسي دی: { "مدح وهجو د حبیب ود رقیب کړمه ‌‌ ‌‌ مرحمان نه رده مدح مو نورا وصاف."
د "پ" چاپ کي دوهمه مسره داسي ده: "د رحمان نه ده د مدحمو مال اوصاف."
د "خ" په لومړي نسخه کي دا بیت داسي راغلی دی: "مدح خو مه د رقیب و د حبیب کړمه ‌‌ ‌‌ چي نه رده بل سخن د بل اوصاف."

(۱۰) دا مسری په "ق.ک" چاپ کي داسي ده: "محبوب واچوه لوړ د خو ته طلاق." د "ب" په نسخه او د "خ" په لومړي نسخه کي "واحول" راغلی دی.

(۱۱) "ب" چاپ: "چي د مه ود طرب په خوند خبر شه." د "خ" لومړي نسخه: "چي د میو د مطرب له خوند خبر شه."

(۱۲) دا بیت په مصوره نسخه کي لتشته د دوهمي مسري "و مله" پرځای په "ق.ک" چاپ کي "مسره" او د "خ" په لومړي نسخه کي "حنبله" راغلی دی.

(۱۳) د "خ" په دواړو نسخو کي "لقد و" راغلی دی.

(۱۴) "ب" لومړي نسخه: "چي حاصلیږي د دلبرو یکانګي شي." په "ق.ک" چاپ او د "خ" په دوهمه نسخه کي داسي ده: "چي حاصلیږي د دلبر یکانګي شي." د "خ" لومړي نسخه کي داسي ده: "چي حاصل یکانګي شي د دلبرو" او د "ب" په دوهمه نسخه کي داسي ده: "چي حاصل یې یکایکي شي د دلبر و."

---

(۱) په چاپي دېوانونو کي د "عشق" پرځای "په سر" راغلی دی.

(۲) په "ق.ک" چاپ کي "مراق" د "خ" په دوهمه نسخه کي "په تاراق" او د "ب" په دوهمه نسخه کي "ابلاق" راغلی دی.

(۳) د "خ" لومړي او د "ب" په دوهمه نسخه کي دا مسری داسي ده: "هسي محوه دی د عشق په میوناب."

(۴) د "خ" په لومړي نسخه کي "وی" راغلی دی.

(۵) دا بیت په "ب" چاپ "ق.ک" چاپ او د "پ" په دوهمه نسخه کي داسي دی: "که ظاهر په صورت وي په معنی نه وي ‌‌ ‌‌ لکه کښلی د "لا" نقطه وي د اوراق" په هم دې ترتیب لومړی مسری په "ق.ک" چاپ او د "خ" لومړي نسخه د مصوره نسخه کي په لوته زوال راغلی دی. لومړی مسری یې د "خ" په دوهمه نسخه کي داسي ده: "د ظاهر په صورت وي په معنی نه وي." او په "ق.ک" چاپ کي یې دوهمه مسری داسي راغلی ده: "لکه کښلی وي د "لا" لفظ په اوراق."

(۶) د "ب" په دوهمه نسخه کي "کاروبار" راغلی دی. (۷) دا بیت په مصوره نسخه کي نه دی راغلی [illegible] "په کوتل کار کوي د ابلاق." په "ق.ک" چاپ کي داسي دی: "په وهل په مشکل کار کوي د ابلاق" [illegible] "کوتل وي د الاق." او لومړی بیت د "خ" په دوهمه نسخه کي داسي راغلی دی: "د عراق کار [illegible] په اشارت کا په وهل په کوتل کار کوي اولاق"

(۸) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کي نشته په لومړي مسری کي یې د "پوه کړه" او په چاپي دېوانونو کي [illegible] راغلی دی [illegible] "که یې سر ځي کړي مال وي خدای دي نه کا." په چاپي دېوانونو کي دا بیت د دوهمي مسري [illegible] "مېنځ" راغلی دی [illegible] "یاسي" او "ق.ک" چاپ کي "بانسي" راغلی دی. (۱۱) [illegible] "کاشکي نور کړي هغه کښلی د میثاق"

Marfat.com

خدایه څه شوه هغه ښکلي خلق　　په ظاهر په باطن سپین سپېڅلي خلق
هیڅ څنداي مي له دې خلقه سره نه شي　　ژړوي مي هغه تللي تللي خلق
خبر نه یم چې وکومې خواته لاړ شوه　　لېده نه شي هغه مالېدلي خلق
لکه څاڅکي چې داوبو په محکي دړومي(١)　　هسې دړومي په جهان راغلي خلق
دریغه یو ځله خو بیا په جهان راغلی　　له جهانه په ارمان وتلي خلق
هزار حیف دی چې په خاورو کې لاړه شي(٢)　　په چووا وپه چندن لرلي خلق

١٠٩
واخ هسې ګوښه خوند له خلقه بیامونده
چې هرګز نه دی داخوند موندلي خلق
١٢٩٧

چې په زړه مې تور لحد شي خپل خاك　　بې مزې شي هم مې خوب هم مې خوراك
چې دخوب اودخوراك مزه شي ورکه　　نور له مرګه برابر شي هغه ژواك
غلط والي چې خوك عمر ورته والي　　هغه عمر چې تېرېږي په څښاك
تن سپېره په خاورو وکړه خوله جنتي کړم　　چې آخر مې داخوراك دی داپوشاك
ځای لري که ځان ژوندی په ځمکه خښوکم　　چې مې پس له مرګه ځای دی یو مغاك
ګویا شوي دي هغه چې شړلي دي　　زه پخوا تر هلاکت یم هلاك
زړه چې روغ وي ګریوان کله څیراوه شي　　له ګریوانه معلومېږي د زړه چاك
تن وځای وجامه پاك هله په کار دي(٣)　　چې روښې شي دچا زړه له غیرو پاك
سړی بویه چې درون بیرون یې یو وي　　نه هغه چې بیرون زر وي درون لاك

(١) د "ب" لوړی نسخه ، د "خ" لوړی نسخه او مصوره نسخه : " لکه نغری چې داوبو په زمله دړومي ". او "خ" دویمه نسخه : " لکه نغری چې داوبو په منځ کې دړدګ
(٢) " ق " چاپ کې " ګنده " راغلی دی.
(٣) " ق " چاپ او " ق ، ک " چاپ : " تن وځای وجامه کله په کار بویي " . د "خ" لوړی نسخه : " تن وځای جامه هالد دچاپه کار وي ".

لہ سر یہ غرض وارہ سر یتوب[۱] دی — کہ پہ سر کې لې طره وي یا مسواک

د دنیا چارې همه واره فاني دي — خوک یو دوه ورځې خوشحال وي خوک غمناک

په ساعت کې خوک خوشحال کا خوک ملاک کا — دا خو یو نه لرغوني دي دا افلاک[۲]

۱۱۰ — ۱۳۱۰

چې خدای کاندي واره خدای د ئي نور خوک نشته

رحمان خه دی خه لې والک د خدای ادراک[۳]

ما توي مې خوله په سولک — خراشي مې زړه په نولک[۴]

که ناري وهم که ژاړم — پروا نه لري[۵] یوچولک

راشئ وګورئ منصفانو — د دلبرو دا سلوک

لکه ګل په لاس د طفل — زما زړه کا شوک په شوک[۶]

د چشمانو په غمزه سېبې — ژوبل ژ وبل یم توک توک

په توسن د فلک سور شي — دستار کبر دي په سر هولک

هیڅ اثر ورباندې نه کا — د درد منو درد وو دوک[۷]

۱۱۱ — ۱۳۱۸

ای رحمانه چې عاشق شي

ځان دې ژاړي کوک په کوک

زړه مې تراشي د بنو په تېره نولک[۸] — مانه وي مې دود برش غاښ واره په سولک

په غمزو د تورو سترګو یم وژلی[۹] — ژوبل ژوبل پروکی پرکی یم توک توک[۱۰]

که ناري وهم که خاورې په سر لوګم[۱۱] — نا روا شه که پروا لري یوچولک[۱۲]

لکه ګل چې خوک د طفل په لاس ورکا — هسې رنګ دې زما زړه کړ شوک په شوک[۱۳]

---

(۱) په "پ" چاپ او قلمي نسخو کې "سرې هو" راغلي دی.

(۲) دابیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته. په چاپي دیوانونو کې داسې دی: "په ساعت کې خوک خوشال کا خوک غمناک کا — دا خو یو هسې دي دا افلاک".

(۳) د "خ" دوهمه نسخه: "چې خه کاندي واره خدای ای کاندي رحمانه — سرې خه دی خه لې والک خدای لې ادراک".

(۴) دا غزل د "خ" په لومړي نسخو او مصوره نسخه کې نشته.

(۵) د "خ" په دوهمه نسخه کې "لومړ" راغلی دی.

(۶) "ق" چاپ او "ق.ک" چاپ: "زما زړه لې کړو شوک په شوک".

(۷) د "خ" په دوهمه نسخه کې "د زړه دود وك" راغلی دی.

(۸) دا غزل د "پ" په دوهمه نسخه کې نشته، او په "ق.ک" چاپ کې د "نولک" پر ځای "خولک" راغلی دی.

(۹) د "پ" لومړي نسخه کې: "په غمزه د تورو سترګو مې وژلی". او د "خ" په لومړي نسخه کې په دې شکل ده: "په غمزو د تورو زلفو مې وژلی".

(۱۰) دا مسرۍ په "پ" چاپ کې داسې ده: "ژوبل ژوبل وکې پرې یم توک توک".

(۱۱) د "پ"، "پ" چاپ او "ق.ک" چاپ کې "نولم" راغلی دی.

(۱۲) په "پ" نسخو او د "خ" په لومړي او مصوره نسخه کې "خولک" راغلی دی.

(۱۳) د "پ" لومړي نسخه: "هسې رنګه زما زړه کا شوک په شوک". "ق.ک" چاپ: "هسې رنګه دې زما زړه کړو شوک شوک". د "ق" چاپ: "هسې رنګه دې کړ زړه زما شوک شوک". او د "خ" دوهمه نسخه: "هسې رنګ لې زما زړه کړ شوک په شوک".

Marfat.com

که له ډېره درده خمه مې زړه وچوي — ورته هيڅ دي زما دردو زما دواك(١)
درست جهان يې په غم ډوب کړ سرتر پايه(٢) — که ګدای دی د ذې دهر که ملوك
د آسمان په نيلي سور لکه آفتاب شي — د زيفتو دستار کېږدي په سرهوك
که انصاف لري په زړه کې منصفانو(٣) — راشئ ګورئ د دلبرو دا سلوك
زه به ولې د خپل يار ثنا نه وايم — چې سحر سحر ناري وهي تل غوك(٤)

١١٢ چې عاشق د دلبرانو په جمال شي(٥)
اې رحمانه خان دې ژاړي کوك په کوك ١٣٢٨

چې علاج کولی نه شي د قسمت خوك — تر و به څه والي وچا ته نصيحت خوك(٦)
هغه چارې چې موقوفې په تقدير دي(٧) — کړي يې نه شي په محنت په مشقت خوك
که نظر کا وقضا وحم رضا ته(٨) — په هېچا بانديې دي نه کا ملامت خوك(٩)
د مطلوب جفا وفا واړه هنر دي — چې پوهېږي د حکماؤ د حکمت خوك(١٠)
غم په خان د چا پېرزو دی باري څه کا(١١) — چې د خدای په کړو کې نه لري قدرت خوك(١٢)
د ابليس و رياضت نه دي نظر کا — څه غرور دي کا په طاعت په رياضت خوك(١٣)
علت لا رشي عادت نه چې له سري نه — خدای دې نه کا نسي په بد چار عادت خوك(١٤)

١١٣ زه رحمان د ببلتانه سيلاب يم وري
که لاس را کاندي د خدای په محبت خوك ١٣٢٩

---

(١) دا بيت د "ج" په لومړي نسخه کې نشته. د "ج" په دوهمه نسخه کې يې لومړی مسری داسې ده: "که له ډېره درده خمه مې زړه چوي". په مصوره نسخه کې داسې ده: "که له ډېره غمه مې زړه چوي".
(٢) دا مسری د "خ" په لومړي نسخه کې داسې ده: "درست جهان يې سره ډوب کړ سرتر پايه". او د "ج" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "درست جهان په غم کې ډوب دی سرتر پايه".
(٣) دا مسری د "ق" چاپ کې داسې ده: "که انصاف لرئ په زړه د منصفانو".
(٤) دا بيت د "ب" په لومړي نسخه او د "ج" په لومړي نسخه او مصوره نسخه کې نشته. د "ق ،ک" چاپ کې يې دوهمه مسری داسې ده: "چې سحر سحر ناري وګي هم غوك".
(٥) دا بيت د چاپي ديوانونو کې داسې راغلی دی: "چې مين د دلبرانو په جمال شوې اې رحمانه خان وژاړه کوك په کوك". او هم يې وروستۍ مسری د "خ" په لومړي نسخه کې داسې ده: "اې رحمانه خان وژاړه کوك په کوك".
(٦) دا غزل د "ب" په دوهمه نسخه کې نشته او دوهمه مسری يې د "ق ،ک" چاپ کې داسې راغلې ده: "تر و به څه والي وماته نصيحت خوك".
(٧) دا مسری د "ق ،ک" چاپ او د "ق" چاپ کې داسې ده: "هغه چارې چې موقوفه په تقدير دي".
(٨) د "ب" لومړي نسخه: "که نظر کا وقضا و رضا ته". د "ق ،ک" چاپ او د "ق" چاپ: "که نظر کا هم قضا او هم رضا ته".
(٩) مصوره نسخه او د "ج" دواړه نسخې، "ق ،ک" او "ق" چاپ: "په هېچا باندې به نه کا ملامت خوك".
(١٠) په مولوي چاپي ديوانونو، مصوره نسخه او د "ج" په دوهمه نسخه کې دا مسری داسې ده: "څه پوهېږي د حکماؤ په حکمت خوك".
(١١) دا مسری په چاپي ديوانونو کې داسې ده: "غم د چا په خان پېرزو دی باري څه کړ". په مصوره نسخه او د "ج" په لومړي نسخه کې داسې ده: "غم د چا په خان پېرزو دی ولې څه کړ" او د "ج" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "غم په خان د چا پېرزو نه دی باري څه کړ".
(١٢) د "سا" چاپ او "ق ،ک" چاپ کې د "قدرت" پر ځای "طاقت" راغلی دی.

(پاتې په ٨٥ مخ کې)

په ښایست زما د یار نه دي خبر څوك — که خبر شي پرې به نه پرېږدي دغه دَر څوك [1]
د دنیا چارې همه واړه فاني دي — نر ناحقه خاورې لوني په خپل سر څوك [2]
چې قبول شي په درګاه د مهرویانو [3] — دغه [4] په خبر به نه وي بختور څوك
که زما د یار په مخ د چا نظر شي — وبه نه کا وبل مخ وته نظر څوك [5]
که هر څو دلبران پېږدي [6] په جهان کې — بل به نه وي زما یار غوندې دلبر څوك
د دیدن طاقت یې هیچا څخه نشته — وآفتاب ته کتی نه شي برابر څوك
عاشقي یوه پایه ده هجا یبه — دغه کار کولی نه شي هم هر هر څوك [7]
له هجرانه بله سخته بلا نشته — خدای دې نه کاندي زخمي په دا نښتر څوك [8]
مخ به بل خواته هرګز ونه چاروباسي — چې شي ستا په خمار وستر ګوابتر څوك
وبه نه رسېږي تا ته په آسانه — ستا په غم چې خاورې نه کاندي په سر څوك
ارمانونه به کوي زار زار به ژاړي [9] — چې حاصله ګونته نه کا په شش در څوك
هومره نوم د عاشقۍ وربانه دي مه بده — چې د یار په غم کې نه شي قلندر څوك
هغه نه کاندي نظر و سیم و زر ته — چې په لور د خپل آشنا کاندې نظر څوك
په ګلونو د ګلزار به میل نه کاندي [10] — چې خوبونه کا د یار په خاکستر څوك

---

ل (۸۴) مخ پاته :

(۱۳) په "ب" چاپ، "پ" چاپ، "ټ" چاپ، "ق" چاپ، مصور نسخه او "خ" لومړي نسخه کې دا مسره داسې ده: "چې غرور کا په طاعت وعبادت څوك"

په "ق ک" چاپ کې د "چې" پر ځای "که" راغلی دی او "خ" په دوهمه نسخه کې د "عبادت" پر ځای "عادت" راغلی دی.

(۱۴) د "ب" لومړي نسخه: "علت لا یرشي عادت نه څې له سر یه — خدای دې نه کا په بده چاره عادت څوك."

"ق" چاپ: "خدای دې نه کاندي په بدچاره عادت څوك."

په مصوره نسخه کې دوهمه مسره داسې ده: "خدای دې نه کاندي په بده چاره عادت څوك."

د "خ" په دوهمه نسخه کې لومړی بیت داسې دی: "علت لا یرشي له سري نه عادت نه څې — خدای دې نه کاندي په بده چاره عادت څوك."

---

(۱) دا غزل د "ب" په دوهمه نسخه کې نشته.

(۲) د "ب" لومړي نسخه: "نر ناحق خاورې خدا لوني په سر څوك."

په "ق ک" چاپ کې داسې ده: "نه ناحقه خاورې لوني په خپل سر څوك."

په "ق" چاپ کې: "د دنیا چارې فاني واړه فاني دي — نر ناحقه خاورې لوني په خپل سر څوك."

مصوره نسخه: "پر ناحقه خاورې لوني په خپل سر څوك."

د "خ" دوهمه نسخه: "نر و ناحقه خاورې لوني په سر څوك."

(۳) دا مسره د "خ" په لومړي نسخه کې داسې ده: "چې قبول شي په درګاه د خوبرویانو."

(۴) د "خ" په دواړو نسخو او مصوره نسخه کې د "هغه" پر ځای "هغوی" راغلی دی.

(۵) دا مسره په چاپي دیوانونو کې داسې ده: "وبه نه کاندي بل خوا وته نظر څوك."

(۶) د "خ" په لومړي نسخه کې د "دي" پر ځای "شي" راغلی دی.

(۷) په قلمي نسخو کې د "هر هر څوك" پر ځای "هر څوك هر څوك" راغلی دی.

(۸) دا بیت او دې پسې بیتونه په موجوده قلمي نسخو کې نشته.

(۹) دا مسره په "ق" چاپ کې داسې ده: "ارمانونه به کوي په زار زار ژاړي."

(۱۰) دا بیت په "ق ک" چاپ کې داسې دی: "په ګلونو د ګلزار یې میېنه نه وي."

Marfat.com

بې رهبره يون دعشق په لاري گران دي — دلته بويه چې پيدا كاندي رهبر خوك(۱)

۱۱۴ — ۱۳۵۲

چې بېلتون په ستر گو ويني آشنائي كا(۲)
د رحمان په خبر به نه وي بې هنر خوك

چې مشغول نه وي د تركو په جمال خوك — نور به څه كا په جهان كې اشتغال خوك(۳)

د بل خط په عبارت به څه نظر كا — چې نظر كا ندي دستا په خط و خال خوك(۴)

نور خوبان دستا تر مخ پورې دي هسې(۵) — لكه بل كا د آفتاب په مخ مثال خوك(۶)

چې عنقا شو اهل دل په دا دنيا كې — ترو به څه والي وچا وته احوال خوك(۷)

كه عاشق په عشق كې ژاړي هيڅ گرم نه دي — په دا هسې درد كې نه لري مجال خوك(۸)

چې بې قيل وقال له يار سره وشي(۹) — له نورچا سره به څه(۱۰) كا قيل وقال خوك

چې په اصل كې خداى نه دي پيدا كړي — ترو به څه غواړي دستا د مخ مثال خوك(۱۱)

سرخروي دهر سړي په ځيگر خون ده — نه هغه چې په سر اچوي سور شال خوك(۱۲)

مخ روښي دي دعاشق(۱۳) په خپلو اوښو — په دا نه شي چې لې مږي په رومال خوك

---

(۱) دا بيت د "خ" په لومړي نسخه كې داسې دی: "بې رهباره يون د عشق په لار كې گران دی — دلته بويه چې پيدا كاندي رهبر خوك".
لومړی مسری يې د "ب" په لومړي نسخه كې داسې دی: "بې رهبره يون په لار دهرچا گران دی". خو مصوره نسخه كې د (ی) پر ځای "كښې" راغلی
او هم دا مسری د "خ" په دوهم نسخه كې داسې ده: "بې رهباره رسيده وبيان نه گران دی".

(۲) دا بيت د "خ" په لومړي نسخه كې داسې دی: "چې بېلتون ويني په ستر گو اشنائي كا — د رحمان په خبر بل نه دی رهبر خوك".
لومړی مسری يې د "خ" په دوهم نسخه كې داسې دی: "چې رقيب په ستر گو ويني آشنائي كا".

(۳) دا غزل د "ب" په دوهم نسخه كې نشته.

(۴) دا بيت په "ب" چاپ، "ب، ب" چاپ او "ق، ك" چاپ كې داسې راغلی دی: "د بل خط په عبارت به نظر نه كا — چې نظر وكا ندي ستا په خط و خال خوك".
او لومړی مسری يې په "ق" چاپ كې داسې ده: "بيا بل خط و عبارت ته نظر نه كا" او دا مسری د "خ" په دوهم نسخه كې داسې ده:
"د بل خط په عبارت به نظر نه كا".

(۵) دا مسری په چاپي ديوانونو كې داسې ده: "نور خوبان دي ستا تر مخه پورې هسې".
د "خ" لومړي نسخه: "نور خوبان دستا تر مخه پورې هيڅ دي".

(۶) دا مسری په "ق، ك" چاپ كې داسې ده: "لكه بل كا د آفتاب مخ كې مثال خوك".

(۷) دا مسری په "ق، ك" چاپ كې داسې ده: "نور به څه والي وچا ته د زړه حال خوك".
په "ق" چاپ كې داسې ده: "ترو به څه والي وچا ته د زړه حال خوك". او په لومړي مسري كې د "چې" پر ځای "كه" راغلی.
او د "خ" په دوهمه نسخه كې په لومړي مسري كې د "عنقا شو" پر ځای "عنقا شي" راغلی دی.

(۸) دې بيت لومړی مسری په "ق، ك" چاپ كې داسې ده: "چې په اصل كې ژاړي هيڅ گرم نه دی".
لومړی مسری يې د "خ" په دوهم نسخه كې داسې راغلی: "كه عاشق په عاشقي كې ژړا كاندي هيڅ گرم نه دی".
په مصوره نسخه كې يې، په دوهم مسري كې د "په داهسې" پر ځای "بيا داهسې" راغلی دی.

(۹) په چاپي ديوانونو كې "نه دی" راغلی دی.

(۱۰) په مصوره نسخه كې د "څه" پر ځای "نه" راغلی دی.

(۱۱) دا بيت په "ق، ك" چاپ او مصوره نسخه كې نشته.

(۱۲) دا مسری د "خ" په لومړي نسخه كې داسې ده: "پيدا نه شي چې په سر كاندي سور شال خوك".
د "ب" لومړي نسخه "نه هغه چې په سر كاندي سور شال خوك".
په "ب" چاپ او د "خ" په دوهم نسخه كې د "كاندي" پر ځای "اچوي" راغلی دی.

(۱۳) د "ب" په لومړي نسخه او د "خ" په دوهم نسخه كې د "عاشق" پر ځای "دهرچا" راغلی دی.

Marfat.com

د دنیا چارې فاني دي مرد هغه دی⁽¹⁾ — چې نظر کا په حرام او په حلال څوک
هر چې کړ کا ذوربشو غنم غواړي — له خاطره دې بېرون کا دغه⁽²⁾ خیال څوک
سرې بویه چې په نېک عمل نازېږي⁽³⁾ — نه چې ناز کا د دنیا په ملک و مال څوک

۱۱۵
که یې شعر د رحمان مومند ترغوږ شي⁽⁴⁾
غوږ به نه باسي په شعر د خوشحال څوک
١٣٦٥

که په بخت کم بختان نه وې آخسته دل څوک — په حضور به له تا ولې بېلېدل څوک⁽⁵⁾
و دیدن وته دې هر چا رضا اکبر ي — ولې حکم یې له تا نه لري بل څوک
که یې لاس د خدای په چارو رسېدلی — بې مقصوده به یو د مرنه سمهېدل څوک
دا یو سر دی ما دا ستا شکرانه کړی — بـر ناحق مې وبروې په سر و دل څوک
دا همه شومیت زما دی چې را رسـي — گنه ته او د چا زړونه بدول څوک
که په مینه د لیلی مبتلا نه وای — خوار مجنون به دې بېدیا غرونه ځنګل څوک

۱۱۶
ماین هره بلا کاندي که باور کړې
گنه زه عبدالرحمن هومره ویل څوک
١٣٧٢

---

غره وانخونه ملا وتړه په جنګ — دغه پسـ⁽⁶⁾ معرکه لوه د ننګ
ولې ننګ وته د ننګ خبرې مه کړه⁽⁷⁾ — یا ځان وګڼه په خپل و بېنو رنګ

---

(۱) د اسرې د "خ" په لومړي نسخه کې داسې ده: "د دنیا چارې همه چاره فاني دي".
(۲) په مصوره نسخه کې د "دغه" پر ځای "هغه" راغلی دی.
(۳) په "ق. ک" چاپ او "ق" چاپ کې د "نازېږي" پر ځای "یادېږي" راغلی دی.
(٤) دا مسرۍ د "خ" په لومړي نسخه کې داسې ده: "که یې شعر د محمند رحمان ترغوږ شي". په "ق. ک" چاپ کې د "تر" پر ځای "په" راغلی دی.
(٥) دا غزل د "خ" له دوهمې قلمي نسخې څخه نقل شو.
(٦) د "خ" په لومړي نسخه کې "معرکې" راغلی ده او د "خ" په دوهمه نسخه کې "مولې" راغلی دی.
(٧) دا مسرۍ په مصوره نسخه کې داسې ده: "ولې ننګ وته د ننګ خبره مه کړه".

Marfat.com

تنګیالي چې پو ځل مخ کا په پلوري(۱) — نور هیڅ نه ویني کوهي وي که ګړنګ(۲)

هیڅ له ځانه له جهانه خبر نه وي — چې چراغ په نظر کښېبوځي د پتنګ(۳)

د بلبلو و چمن وته پرواز وي — داور پښتي و آتش وته غورزنګ(۴)

که جهان ولې هنر وته فراخ وي(۵) — پو لحد دی هنرمند ولره تنګ

هغه ښهر جوهري لره زندان دی(۶) — چې یکسان وي پکې لعل و مردار سنګ

آسمان ځمکه د واړه زامي(۷) د نهنګ دي — خه(۸) به زیست کا خوک په خوله کې د نهنګ

په بنا دې لې هیڅ بنا د مه شه که دانا یې — غم بنا دي دي(۹) دد پاهم خنګ په خنګ

که [illegible] د هغو تلليو وصال غواړي(۱۰)

تېر به نه کا په داد ورځې پو ده ننګ

(۱۱۱)

(۱۱۲)

بښې مې په سر دی ستا د مخ د مینې ګل — بیا مې تور لېمه دي ستا د زلفو تور سنبل(۱۱)

ته چې آینه په لاس کړې واخلې حیرانېږي(۱۲) — زه له کومه راوړم صبوري او تحمل(۱۳)

---

(۱) دا مسری په قلمي نسخو کې داسې ده: "تنګیالي چې پو ځل مخ په هغه لور کا".

(۲) دا مسری د "خ" په لومړي نسخه کې داسې ده: "نور لې هیڅ نه دي که کوهي وي که ګړنګ".

(۳) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.

(۴) دا مسری په چاپي دیوانونو کې داسې ده: "سمندر کا مدام اور وته آهنګ". د "خ" په دویمه نسخه کې داسې ده: "داور پرستو وآتش وته غورځنګ". او دا بیت په مصوره نسخه کې نشته، په "پ" نسخه "چاپ" کې د "وته" پر ځای "ورته" راغلی دی.

(۵) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته. د "پ" په لومړي نسخه کې: "که جهان ولې هنر وته فراخ دی". په "ق،ک" چاپ کې د "که" پر ځای "دا" راغلی دی او دا مسری د "خ" په دویمه نسخه کې داسې ده: "که جهان مې لې هنر وته فراخ دی".

(۶) په چاپي دیوانونو او "خ" لومړي نسخه کې "دي" راغلی دی. (۷) په "ق" چاپ کې "حامني" او "خ" په لومړي نسخه کې "چامې" راغلی دی.

(۸) د "خ" په دویمه نسخه کې د "خه" پر ځای "څو" راغلی دی. (۹) د "خ" په لومړي او دویمه نسخه کې "ده" راغلی ده.

(۱۰) دا مسری په "ق،ک" چاپ کې داسې ده: "که رحمان د هغې ښکلو وصال غواړي". په "ق" چاپ کې هم د "هغو" پر ځای "هغې" راغلی دی.

(۱۱) دا غزل د "پ" په دویمه نسخه کې نشته، د "پ" په لومړي نسخه کې د "لېمه دي" پر ځای "لېمه مې" او په مصوره نسخه کې "لېمه شو" راغلی دی.

(۱۲) دا مسری په مصوره نسخه کې داسې ده: "ته چې آئینه واخلې رخ ته حیرانېږي". او د "خ" په لومړي نسخه کې داسې ده: "ته چې آئینې واخلې خان ګوري حیرانېږي".

(۱۳) دا بیت په "ق،ک" چاپ کې داسې دی: "ته چې آئینه په لاس کې واخلې حیرانېږم زه له کومه لا پیدا کړم صبوري او تحمل"، او دویمه مسری لې په "ق" چاپ کې داسې ده: "زه له کومه خایه راوړم صبوري او تحمل".

(1) ګرځې په چمن کې منګل د که په ګلونو — خدای زده چې ګلونه ورکې یا زړونو په منګل

هم مې مشک لېدلی هم عنبر دی په جهان کې — شاباش شاباش شاباش ستا د زلفو په کاکل (2)

نه به ستا دغې په خبر ګلشن و چا لیدلی — نه به وي زما په خبر اهونه د بلبل (3)

۱۱۸ — ۱۲۸۸

هسې تغافل کا ستا په جور و په جفا کې
خلق (4) حیرانیږي د رحمان په تغافل

هیڅ مې نه کړه په دا عمر کې حاصل — هسې پاتې شوم مردود و نا قابل (5)

مالا بوی هم د وصال موندلی نه دی (6) — تش په توره مې (7) خدای نوم کړ د واصل

(8) هسې ډوب یم د ګناه په ګردابونو — چې په سترګو مې ونه لیده ساحل

له وطنه مې په هر زمان (9) وباسي — رقیبان یې راباسي کړل محاصل (10)

که بلا ده که جفا ده که وفا ده — دا همه واړه په ما کړه خدای نازل

د دنیا په پلیتي مې ځان پلیت کړ (12) — حیف دی دا چې نه عالم شوم نه عامل (13)

۱۱۹ — ۱۲۹۰

توره دېره مې شوه سپینه زه حیران یم
چې رحمان لا نه بالغ شوم نه عاقل (14)

---

(1) دا مسرې په [illegible] چاپ کې دي: "ګرځې په چمن کې منګل د که ورکې د ګلو".
په "ق" چاپ کې دي: "ګرځې په چمن کې منګل دکې ورکې د ګلو".
د "ح" په لومړي نسخه کې دي: "ګرځې په چمن کې منګل د که د ګلونو".
په مصوره نسخه کې د "د ګلونو" پر ځای "له ګلونو" لیکلي دي او د "ح" په دوهمه نسخه کې د "منګل" پر ځای [illegible] لیکلي ده.

(2) دا بیت په [illegible] نسخه [illegible] دی: "هم مې مشک لیدلی هم عنبر په جهان کې — شاباش شاباش شاباش ستا په زلفو په کاکل".
په "ق" [illegible] چاپ کې "په دا زلفو په کاکل" لیکلي دي او لومړۍ مسره یې په "ق" چاپ کې داسې ده:
"هم مشک دې لیدی شي هم عنبر دی په جهان کې".

(3) دا بیت په "ق" چاپ کې داسې دی: "نه به ستا دغې په خبر مل ګلشن وچې چا لیدلی — نه به وي زما په خبر هم اهونه د بلبل".
په "ق" [illegible] چاپ کې دوهمه مسره داسې ده: "نه به په خبر [illegible] وي اهونه د بلبل".
په "ب" چاپ کې د "اهونه" پر ځای "لا اهونه" لیکلي دي.

(4) په "ب" نسخه، "ق" [illegible] په [illegible] نسخه کې "حیې" ترمخ ده.

(5) دا غزل د "ح" په لومړي نسخه او د "ب" په دوهم [illegible] کې نشته.

(6) دا مسرې په "ق ک" چاپ کې داسې ده: "مالا بوی ستا د وصال موندلی نه دی". په "ق" چاپ کې دی: "مالا بوی د وصال موندلی نه دی".

(7) په مصوره نسخه کې د "مې" پر ځای "یې" راغلی ده.

(8) دا مسرې په لومړي چاپي دیوان او مصوره نسخه کې داسې ده: "هسې ډوب یم د ګناه په دریابونو".
او د "ح" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "هسې ډوب د ګناهونو په ګرداب یم".

(9) په "ق ک" او "ق" چاپ کې د "زمان" پر ځای "ساعت" راغلی دی.

(10) دا مسرې د "ب" په نسخه او د "ح" په لومړي، دوهمه، او دریمه نسخه کې داسې ده: "راباسي کړه حاکمان مواصل". او په مصوره نسخه کې هم د "مواصل" پر ځای "محاصل" راغلی دی.

(11) دا بیت په مصوره نسخه کې داسې دی: "که بلا وه که جفا وه که قضا وه — دا همه کړه خدای په ما باندې نازل".
په "ق ک" چاپ کې یې دوهمه مسره داسې ده: "دا همه کړه خدای په ما باندې نازل".

(12) د "ب" لومړي نسخه کې دا مسره داسې ده: "د دنیا په پلیتي ځان مې پلیت کړ".

(13) په چاپي دیوان کې د "عامل" پر ځای "جاهل" راغلی دی.

(14) د "ح" په دوهمه نسخه کې دا مسره داسې ده: "چې زه رحمان لا نه بالغ شوم نه عاقل".

Marfat.com

مرغوب باسره د نااهلو(1) قیل وقال — په تـ رنه دی قیل وقال د بد سګال
یا به فخر په خپل اهل وپه نسب کا — یا به فخر کا په آل او په عیال(2)
یا به ذکر د لذت ود زینت کا — یا به فکر کا د مال ود منال(3)
یا به هسې پوچ لوی ځاندي آغازه — چې مضمون یې نه مردار وي نه حلال
د دانا او د نادان صحبت دی هسې — لکه لعل وکوټی لال چې وبله(4) ګډ شي
لکه ګډ شي وبله لعل وکوټی لال — یا صحبت(5) شي د عیسی او د دجال
هغه(6) څوک چې تېرېږي یې هم جنسه — تروبه څه وي د هغه څوک احوال
د دنیا چارې(7) فاني دي مرد هغه دی — چې خبر شي په ثواب او په وبال(8)
ابا سیند(9) لا څه مجال لري په تاله کې — د دنیا د چارو هېڅ نه وي(10) مجال
د دنیا چارې په مثل خواب(11) وخیال دي — څوک به څه کا اعتماد په خواب وخیال
لکه ملك ومال په خوب کې ور څرګند شي — خو چې وېښ شي نه یې ملك وي نه یې مال(12)
لکه ځاڅ چې داوبو په سر لېده شي — که یې واخلې هېڅ ورنه شي په چنګال(13)
لکه دود چې غرونه غرونه څرګند ېږي — تار په تار شي په یوه(14) نري شمال
لکه یخ چې د سرو په زور شي جمع(15) — هېڅ یې نه وي د آفتاب په مخ مجال
په یوه ساعت باران بیا شین آسمان شي — لکه ابر د پسرلي د پښه کال(16)
په یوه ساعت یې ساز بیا یې ویران(17) کا — خاورې خښتې(18) دي په لاس کې د کلال

---

(1) دا غزل د "پ" په دوهمه نسخه کې نشته، په مصوره نسخه، "پ" په چاپ، او "ق" چاپ کې "نااهل" راغلی دی.
(2) دا بیت په مصوره نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته، د دوهم مسرې یې په چاپي دیوانونو کې داسې ده: "یا به فکر کا د مال ود منال".
(3) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نشته، د "پ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې د "لذت" پر ځای "ولایت" او مصوره نسخه کې "دولت" راغلی دی.
(4) د "خ" لومړۍ نسخه کې "چې" نه دی راغلی او "ق" چاپ کې د "وبله" پر ځای "تسره" راغلی دی.
(5) په قلمي نسخه کې "قریب" راغلی دی.
(6) په "ق" چاپ کې د "هغه" پر ځای "هسې" راغلی دی.
(7) د "خ" په لومړۍ نسخه کې "د دنیا چارې څه فاني دي مرد هغه دی" راغلی دی.
(8) په مصوره نسخه او د "خ" لومړۍ نسخه کې "چې خبر شي په حرام وپه حلال" راغلی دی.
(9) په چاپي نسخه او د "خ" لومړۍ نسخه کې "آب د سیند" راغلی دی. (10) د "خ" په دواړو نسخو، مصوره نسخه او "ق، ک" چاپ کې "نشته" راغلی دی.
(11) د "خ" لومړۍ نسخه کې "خوب" راغلی دی. (12) دا مسرۍ په "ق، ک" چاپ کې داسې ده: "که یې اخلې هېڅ ورنه شي په چنګال".
(13) دا بیت په "ق، ک" چاپ کې نشته او په مصوره نسخه کې د "سر" پر ځای "مخ" راغلی دی.
(14) په "ق" او "ق، ک" چاپ کې "نري باد" راغلی دی.
(15) "ق، ک" چاپ: "لکه یخ چې د ساره په زور وي جمع". "ق" چاپ: "لکه یخ چې د ساره په زور شي جمع". د "خ" لومړۍ نسخه: "لکه یخ چې د سرو په زور شي جمع". او د "خ" دوهمه نسخه کې داسې ده: "لکه یخ چې د سرو او بلو شي جمع".
(16) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نشته، لومړۍ مسرۍ یې د "خ" لومړۍ نسخه کې داسې ده: "په یوه ساعت باران بیا یې شین دی". او دوهمه مسرۍ یې د "پ" په نسخه کې داسې ده: "لکه ابر د پسرلي د پښه کال".
(17) د "پ" په نسخو او د "خ" په لومړۍ نسخه کې "ورانی" راغلی دی.
(18) په "ق، ک"، "ق" چاپ، او د "خ" لومړۍ نسخه کې "خښتنې" راغلی دی.

مجاز په معشوقو(۱) کې وفا نشته — ماهزار ځله وښکلی دی دا فال
اعتماد یې په بنا دی او په غم مه کړه — نه یې هجر په قرار دی(۲) نه وصال
ګاهې تورکوډی په مخ باندې راکښېنشي — ګاهې راکښېنشي په مخ باندې رویمال(۳)
لکه مالګه چې خولګ کېږدي په اوبو کې — زه هم هسې سر زده یم په مثال(۴)
چې د مرګ وتاخت وباخت وته نظر کړم — صورت وینم د مېږي په خبر پایمال
خراب دل مې چې غواړي بلا دا شوه — چې کښې را معلومېږي په هر کال(۵)

۱۲۰
که وصال مې دیار بیا مونده هالرسیال یم(۶)
ګنه نه یم زه رحمان دهېچا سیال(۷)
۱۴۱۸

ببلتانه دې هسې خوار کړ زما دل — چې له ځانه یې وبېزار کړ زما دل
لاس وپښې د خلقو ښسې دعا غواړي — مېنې هسې منت بار کړ زما دل
عاشقۍ هومره داغونه دي پرې ایښي — چې تمام یې لاله زار کړ زما دل
بې سببه چا آزار مونډلی نه دی(۸) — تا په څه سبب آزار کړ زما دل
چې د زلفو په کمند سره دې راکښېنس — په بلا دې ګرفتار کړ زما دل
ستا چشمانو یکې هسې مقام ونیو — چې له غېرو یې(۹) وبېزار کړ زما دل

۱۲۱
زه رحمان خو منت بار د عاشقۍ یم
چې مېن یې په دلدار کړ زما دل
۱۴۲۵

چې له نازه پوښیده لري چشمان خپل — څه به وینې مقتولان او مظلومان خپل(۱۰)
چې کنځل راته په قهر قهر کاندي — دا لا وګڼې په ما باندې احسان خپل

---

(۱) د "پ" چاپ او د "خ" لومړۍ نسخې کې د "معشوقو" پر ځای "معشوقه" راغلی ده.
(۲) د "خ" لومړۍ نسخې کې "وی" راغلی دی.
(۳) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې دی: "ګاهې تورکوډی په مخ باندې راکاږي ګاهې راکاږي په مخ باندې رویمال". په "ق" چاپ کې د "راکښېنشي" پر ځای "راښکېږي" راغلی دی.
(۴) دا بیت په مصوره نسخه او د "خ" لومړۍ نسخې کې داسې راغلی دی: "لکه غونډ د مالګې کېږدي په اوبو کې زه هم هسې سر زده شوم په مثال". او دوهم مسرۍ یې د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "زه هم هسې سره نه دود شم په مثال".
(۵) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نه دی راغلی. لومړی مسرۍ یې د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: "خراب زړه چې غواړي بلا دا شوه". او د "خ" په دوهمه نسخه کې دا مسرۍ داسې ده: "خراب زړه مې زهېږي بلا دا شوه".
(۶) دا مسرۍ د "پ" په نسخه کې داسې ده: "که وصال د یار بیا مومم هاله سیال یم". او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "که وصال زه د یار مومم هالرسیال یم".
(۷) دا مسرۍ په مصوره نسخه او د "خ" لومړۍ نسخه کې داسې ده: "ګنه اوس خو رحمان نه یم د چا سیال".
(۸) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته، په نورو قلمي نسخو کې دا مسرۍ داسې ده: "بې سببه انسان اخسته شه نه دی".
(۹) د "پ" په نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې "دی" راغلی دی.
(۱۰) دا غزل د "پ" په لومړۍ نسخه کې نشته.

Marfat.com

گفتگو په اشارت کاندي له نازه — کله اسم د چا اخلي په زبان خپل
په گریوان باندې چې تنک وهي غوټۍ — عاشق کیږي لاس سوځنه په گریوان خپل
خریداران یې له حیرته بې شعور شي — چې د حسن رخت څرګند کا په دکان خپل
چې خپل مخ په آیینه کې ورڅرګند شي — خود پخپله سر فرو کاندي په ځان خپل
چې هر څوک یې عاشقۍ وته هوس کا — ګویا لوټي کا په دین او په ایمان خپل
هیڅ صرفه د چا په سر و په مال نه کا — مال یې لې دي پخپله مطلوبان[1] خپل
مجنون ملک د عاشقۍ په هاله خپل کړو[2] — چې په اور باندې یې وسوځاوه ځان خپل
دا مقام دی د هغو رنګه عالمو — چې هیڅ نه ویني په سترګو سود و زیان خپل[3]
آفرین د عاشقانو په همت شه — چې ورته بر ترسر و مال ویني جانان خپل[4]

۱۲۲ — ۱٤۳۷

هیڅ د سترګو غر ولو خوندې نه وي
چې رحمان په سترګو نه ویني جانان خپل

تورلیمه مې د فراق په ژړا سپین شول — دوباره د زړه په وینو کې رنګین شول
ماوې زه به لا دیدن کړم د یارانو — خبر نه یم چې یاران په کوچ تعیین شول
چا پتنګ غوندې ځان واچوه وا ورته — څوک ژوندي لکه بلبل په آتشین شول
و مرده وته د مرګ خوارۍ شوې پېښې — او ژوندي په زندګۍ کې اندوهګین شول
د قضا سپاهیانو هسې لاس په تاخت کړ — چې پایمال هزار خسرو هزار شیرین شول
چې قدم یې په اسمان ایښود له نازه — هغه هسې نا زپرور زیر زمین شول
چې مدام یې په سنجاب د پاسه خوب کړ — اوس په خمکه بې بستره بې بالین شول

۱۲۳ — ۱٤٤۵

د رحمان خاطر به ولې پریشان نه وي
چې پریشان ورځنه جمع همنشین شول

---

1) په "ق ،ک" چاپ او د "ح" لومړي نسخو کې "مظلومان" او د "خ" په دوهمه نسخو کې "مقتولان" راغلي دي.
2) د "ح" په لومړۍ او دوهمه نسخو کې "بیامومند" راغلي دي.
3، 4) دا دوه بیتونه په چاپي دیوانونو کې نشته.

Marfat.com

به لبه کې مې مدام — گرځي عکس د گلفام (۱)
تور دستر گو مې گلگون شوه — په ارزو د گل اندام (۲)
بې دستر گو له خونابه — نه باده لرم نه جام
په طلب د دلارام کې — ما ونه لیده آرام
زنخدان یې خدا کوهي کړ — ور پرېوځم په هر گام (۳)
که یې خال غلام د مخ دی — زه غلام یم د غلام
که په عشق کې ناکام دی — دانا کام دی زما کام
خوښ یم زه په عاشقۍ کې — که نېک نام یم که بدنام
په یارۍ کې مې قبول دی — ملامت د خاص و عام (۴)
د دعا په عوض غواړم — د خپل یار د خولې دشنام
ترینګلي کنځلو یې زار کړم — د غه خپل دعا سلام
تلخ گفتار یې راته خوږ دی — تر کشمشو تر بادام
هم هغه مې مسجود دی — چې یې ورکاندي پیغام (۵)

مخ د یار زما تمام دی
رحمان ولیده تمام

۱۲۴ — ۱٤۵۹

(۱) د ... نسخې کې د گل اندام راغلی دی.
(۲) ... چاپ: توري سترگي مې گلگون شوې په ازار د گل اندام ... : تورې سترگې مې گلگون شوې په ... د گل ...
(۳) په چاپي دیوانونو کې ... راغلی دی.
(۴) دا بیت ... نسخو کې نشته.
(۵) په چاپي دیوانونو کې سلام ... راغلی دی.

Marfat.com

که مې ونمانځي ساقي په یو جام — ترداهو رته به نور څه وي احترا[م]
بس دی مالره[2] دا فیض د شراب و — چې پرې پر یوځم دا دلق ازرق فا...
میخواري که په عالم کې بدنامي ده — ما تر پښو دی لاندې کړی ننگ ونا...
په میزان یو سر لعل وي بل سر کاڼي — مساوي ده عاشقي په خاص وعا...
عاشقان[3] د سپین رخسار د تورو زلفو — څه پروا لري د کفر د اسلا...
په مجنون باندې قلم[4] راغلی نه دی — که حلال لې په مخ ورشي که حرا...[5]

١٢٥ — ١٤٦٦

حلال عشق دی په رحمان باندې راغلی[6]
په حلالو کې مدام وي احترام

و محمود و ته نظر کوه مدام[7] — چې غلام کړ و خپلې مینې د غلا...
د نیکانو مدعا خو نیک عمل دی — ساعت نه گوري که صبح ني که شا...
چې د زړه حضور لې نه وي په نمانځه کې — په کار نه دی مقتدي وي که اما...[8]
چې مجنون غوندې په مینه کې صادق وي — رحمان وايي په هغه باندې سلام[9]

١٢٦ — ١٤٧١

هم نغمې کاندې هم رقص کا هم خاندي
د رحمان په شعر ترکې د باکرام

د هجران له درده غمه ولې نه مرم — له دې هسې رنگ ماتمه ولې نه مر...
چې یو یار له بله یاره جدا کېږي — د دې دور[10] له ستمه ولې نه مر...
چې هر سحر زما په ژړا خاندي — له دې هسې صبحدمه ولې نه مر...[11]
یار چې یار په سترگو نه وینې خو مرگ دی — تر وزه بې خپله صنمه ولې نه مر...
چې په لره گرمې شا کاندي و گل ته — له دې بې وفا شبنمه ولې نه مر...[12]

---

(١) دا مسری د "ب" په لومړي نسخه کې داسې ده: " ترداپه هورته به نور څه وي احترام".
(٢) په قلمي چاپي دیوانونو کې " بنه دی مالره " راغلی دی.
(٣) په مصوره نسخه کې "عاشقي" راغلی ده.
(٤) د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې " کلنگ " راغلی دی.
(٥) په قلمي نسخو کې دا مسری داسې ده : " که حلال په مخ کې ورشي که حرام".
(٦) دا بیت په مصوره نسخه او د "خ" په دواړو نسخو کې نشته لومړی مسری یې په نورو قلمي نسخو کې داسې راغلی ده : " حلال عشق دی په رحمان باندې راغلی".
(٧) دا مسری په قلمي نسخو کې داسې ده : " د محمود و سلطنت وته نظر کړه " او دا غزل د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.
(٨) دا مسری د "ب" په نسخه او د "خ" په لومړي نسخه کې داسې ده : " په کار نه دی که مقتدي دی که امام".
(٩) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته او د " ب" چاپي او د په لومړي نسخه کې داسې ده : " رحمان وایم په هغو باندې سلام".
(١٠) په قلمي چاپي دیوانونو کې د "دور" پر ځای " دهر " راغلی دی او دوهم بیت لومړی مسری په مصوره نسخه کې داسې ده : "چې یو یار له بله یار، لرې باسي".
(١١) دا بیت په "ق ک" چاپ کې نشته، او لومړی مسری یې په نورو چاپي دیوانونو کې داسې ده : "چې په هر سحر زما په ژړا خاندي".
(١٢) په مصوره نسخه او د "خ" لومړي نسخه کې دا مسری داسې ده : "له دې هسې بې وفا شبنم ولې نه مرم".

Marfat.com

١٢٧ — ١٤٧٧

چې د مرګ خوارې په خوالږې څخمانه[1]
لا پخوا تر دغه د مه ولې نه مرم

که په سر د هغه یار له لاسه سنګ خورم — خدای دې نه کا چې په بلې خواته غم خورم
عاشقي او نام وننګ دې و بله لرې — خو به غم واره غم د نام وننګ خورم
خدای وما و ته شیرین تر نیشکر کړه[2] — که د یار له لاسه غشي د خدنګ خورم
د آشنا د بېلتانه په کاروبار[3] کې — همېشه په تندې تورې د فرنګ خورم
نوکري د معشوقو کوم په عشق کې — هېښې نه د بهلول نه د اورنګ خورم[4]
شین لوګي مې په سرچتر د و لهه تخت دی — ګرد غبار د خپل دولت لکه ملنګ خورم
هم په دا چې له خودی شمه بې خوده — د هجران په غم کې نېې لېې بنګ خورم
لکه خوګ چې نعمتونه د دنیا خوري — زه د یار د جفا زهر په دا رنګ خورم[5]
واړه زهر شي زما ترستوني د رو مې — بې له یاره که همه لا چې لونګ خورم
زه رحمان[6] به خو ژوندی په جهان ګرځم — چې په بله مېنه خرڅ لکه پتنګ خورم

١٢٨ — ١٤٨١

سر مې په کار نه دی چې بې ستا تر سر قربان کړم — زر را څخه نشته چې بې ستا په پښو دېر اکرم[7]
کار د عاشقي اول د پېر راته آسان و — اوس هسې حیران یم چې دا کار په څه شان کړم
دېرو خلقولاني ستا د مینې دي وهلي — هېڅوک هسې مه شه لکه زه چې بې په خاکړم[8]
نه لري مرهم د عاشق[9] زخم بې تسلیمه — دا څه هسې درد نه دی چې بې دفع په درمان کړم
نه کا هېڅ دښمن په دښمنانو هسې چارې — ستا په عاشقی کې لکه زه چې بې حیران کړم[10]
ولې کافر نه وې مسلمان به شي که خدای کا — هر چا ته چې حسن و لطافت د ستا بیان کړم[11]

(١) [illegible] ... چې د مرګ خوارې په خوالږې [illegible]
(٢) دا بیت [illegible] ... دیوانونو [illegible] ... خدای وماوته شیرین [illegible]
(٣) [illegible] کاروبار [illegible]
(٤) دا بیت [illegible] ... هېښې د هېښون نه د [illegible]
(٥) چاپي دیوانو: زه د یار د کوڅې خاورې په دا رنګ خورم.
(٦) په چاپي دیوانونو کې "رحمان" [illegible]
(٧) [illegible] چاپي دیوانونو [illegible]
(٨) دا بیت [illegible] ... دېرو خلقولاني ستا د مینې دي وهلي — هېڅوک هسې مه شه لکه زه چې بې حیران کړم
(٩) [illegible] "د عاشقانو" [illegible]
(١٠) دا مصرع [illegible]: ستا په عشق کې لکه زه چې بې په خاک کړم.
(١١) دا بیت [illegible]: ولې کافر نه وي مسلمان شي که بې خدای که — هر چا ته چې حسن لطافت د ستا بیان کړم

Marfat.com

۱۲۹ وراندې وي کړ ورستو آخر هسې معلوم به بي ۱۴۹۴
ستا له بې رحمۍ[1] به زه رحمان لاس په ګريوان کړم

زه داهسې ديوانه او مجنون چا کړم ... له رواجه له رسومه بېرون چا کړم[2]
نه پوهېږم چې دلچاري په ما څوك کا[3] ... لېوني د خپل نګاه په افسون چا کړم
کومې سترګې کومانه کوم غمزه د لا[4] ... د وب شهيد غونډې په خاك و په خون چا کړم
توان توفيق خو د فتنو راځخه نه وو[5] ... په فتنو د تور و سترګو مفتون چا کړم

۱۳۰ رحمان هيڅ له خپله ځانه خبر نه يم[6] ۱۴۹۹
چې داهسې رنګ زبون و محزون چا کړم

صبح و شام مې لاس نيولي دې دعا کړم ... خواست[7] له خدايه ستا دهر دوفا کړم
هيڅ دروغ رښتيا مې نه زده که با ور کړې ... ستا د پاره هم دروغ کړم هم رښتيا کړم
واره ته يې خندول که ژړول کړې ... زه په خپله نه خندا کړم نه ژړا کړم[8]
که ته نه يې راته وايه با ري څوك دې ... زه داهسې رنګ سر تور پښې يېل چا کړم[9]
خوب خندا د بېلتانه په څمکه نشته ... څه آرام[10] به په دادشت کربلا کړم
هره ورځ چې مې تېرېږي ستا په غم کې ... زه په هره ورځ پوهېږم چې غزا کړم
يو و پښته مې د صورت کوه شوه نه دي ... هسې رنګ دې پټ پنهم په زړه ادا کړم[11]
زړه که يودی ما خو تا لره د ه کړی[12] ... مګر نور و لره نور زړونه پيدا کړم

۱۳۱ چې مې واغوست سروپای د عاشقۍ ۱۵۰۸
زه رحمان دې سروپای بې سروپا کړم

---

(۱) د "خ" په دوهمه نسخه کې "بخوامۍ" راغلی دی.
(۲) دا غزل په مصوره نسخه او د "ب" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۳) په "ق. ک" چاپ او "ق" چاپ کې دا مسرۍ داسې ده: " نه پوهېږم چې داهسې چاري څوك کا ".
(۴) دا مسرۍ د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: " که مې سترګې که بانو که مې غمزې دي ".
(۵) دا مسرۍ د "ب" په نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: " توان توفيق د فتنو هيڅ راځخه نشته ". په "ق" چاپ کې داسې ده: - " توان توفيق چې د فتنو راځخه نه وو ". او د "ح" دوهمه نسخه کې داسې ده: " توان توفيق د فتنو هيڅ راځخه نه وو ".
(۶) د "خ" لومړۍ نسخه: " زه رحمان له خپله ځانه خبر نه يم چې داهسې رنګ محزون و زبون چا کړم ". په "ق. ک" چاپ کې د "ځانه" پر ځای "يامه" راغلی دی. او د "ب" په لومړۍ نسخه کې دوهمه مسرۍ داسې ده: " چې داهسې زبون و محزون چا کړم ".
(۷) په "ق. ک" چاپ کې "سوال" راغلی دی.
(۸) دا بيت د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې نشته او لومړۍ مسرۍ يې د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۹) چاپي ديوانونه: " زه داهسې لېونی او مجنون چا کړم ".
(۱۰) د "خ" په لومړۍ نسخه کې "څه بيلا" راغلی دی.
(۱۱) د "خ" په لومړۍ نسخه او نيمګړې نسخه کې " تاراج کړم " راغلی دی.
(۱۲) د "ب" نسخې او د "خ" دوهمه نسخه: " زړه که يودی خو وتا دی ما ور کړی ".

Marfat.com

دستا درد به په هزار درمان ورنه کړم — دا نسته به دغه سود په زیان ورنه کړم
که څوك راکاندي دنیا وعقبی دواړه — عاشقي به دې په این و آن ورنه کړم
څو مې تیغ په پهلو نه دی بلوسېدلی[1] — ستا پهلو به ورقیب آسان ورنه کړم
که یو ځله مې ستا زلفې په لاس کېښوځې — یو وېښته به دې په درست جهان ورنه کړم[2]
که مې چېرې لاس دستا په بوسه بر شو — دا نعمت به د جنت په خوان ورنه کړم[3]
څو وینم ستا سترګې که یې خدای کا — عزرائیل لره به هومره ځان ورنه کړم
معشوقې د عاشقانو دین ایمان دی — زه به چالره خپل دین ایمان ورنه کړم
ستا تر زلفو پورې نورې زلفې څه دې[4] — په خاشاك به د چمن ریحان ورنه کړم

۱۳۲ — ۱۵۱۷

په رحمان دستا دلبو مې حرام دی
څود خپلو وینو جام تا وان ورنه کړم

دا یو څرنګه ژوندون دی نه پوهېږم[5] — خوب دی خیال دی که افسون دی نه پوهېږم
جام دلبو[6] چې ځان په وینو مو م — تر و زلال که جګر خون دی نه پوهېږم
د پتنګ او د بلبل تر میان حیران یم — مخ دې اور دی که ګلګون دی نه پوهېږم
په شانه سره د تار د زلفو بېل شو — که غوڅ شوی مې نارون دی نه پوهېږم[7]
عشق په هسې رنګ مقام باندې قایم کړم — که وصال دی که بېلتون دی نه پوهېږم
د خپل زړه وعلامت وته حیران یم — چې موسی دی که قارون دی نه پوهېږم

۱۳۳ — ۱۵۲٤

د رحمان خبره یې زېړه تر کنګو کړه[8]
خدای زده عشق دی که طاعون دی نه پوهېږم

بیا دې نوي شراب څښلي دي پوهېږم — په رخسار دې ګل کرلي دي پوهېږم
که هزار ځله لاس سره کړې په نکریزو — تا زما په وینو وللي دي پوهېږم

---

(۱) په چاپي دیوانو او نورو قلمي نسخو کې "لګېدلی" راغلی دی.
(۲) دا بیت په "ب" چاپ کې نشته.
(۳) دا بیت د "ع" په نسخه کې نشته.
(٤) "ق،ک" چاپ: "ستا تر زلفو دخوبانو زلفې څه دی."
"ق" چاپ: "ستا تر زلفو پورې زلفې دجهان څه دی".
(۵) د "ع" لومړۍ نسخه: "دا یو څه دغم ژوندون دی نه پوهېږم".
(٦) په چاپي دیوانو او نورو قلمي نسخو کې د "لبو" پر ځای "میو" راغلی دی.
(۷) دا بیت او ورپسې بیت د "ع" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۸) په "ق،ک" چاپ او "ق" چاپ کې د "کنګو" پر ځای "زعفران" راغلی دی.

Marfat.com

معرکه زما د مرګ نه ده نو څه ده ‌ ‌ رقیبان چې تا بللي دي پوهېږم
چې رقیب وتا غوبنو وبله وروړه ‌ ‌ ماهغه ساعت ژړلي دي پوهېږم(۱)
څه حاجت دی چې دی خط په ملا لولم ‌ ‌ چې زما په باب دې کښلي دي پوهېږم
ته خپل جور و جفا څه وایې وماته ‌ ‌ ما همه واړه لیدلي دي پوهېږم(۲)
رقیبان څکه تېرې په رحمان کاندي(۳)
تا په خوا پوهې نیولي دي پوهېږم

۱۳۴ ‌ ‌ ۱۵۲۱

چې له مرګه بې پروا یې په هر دم ‌ ‌ دغه هسې خم دې هېر دی په کوم خم(۴)
نور همه واړه خمونه به دې هېر شي ‌ ‌ که یو څل دې باندې راشي(۵) دا ماتم
چې زخمي یې سبا نه مومې په بیع ‌ ‌ مفت مونده شي نن ساعت هغه مرهم
د مرهمو تیارې ورلره بویه ‌ ‌ چې لا نه یې دا جل په تیغ کرم
چې دې تن له سرایه د رومي تو بېنه واخله ‌ ‌ تر دا سرای په هورته سرای نشته محکم(۶)
د دې لارې تله څه هسې آسان نه دي ‌ ‌ مشکلات دي په هر دم په هر قدم
که دې وېره شي له ظلمه له ستمه ‌ ‌ ته هم مه کړه په هېچا باندې ستم
که امید لرې له رحمه له کرمه ‌ ‌ ستا هم بویه په هرچا باندې کرم
له هرچا سره چې کړې هغه به مومې(۷) ‌ ‌ د هېڅ تخم مېوه نه د رومي برهم
اجر واړه د عمل په اندازه وي ‌ ‌ دغه د واړه سره یو دي هم درهم(۸)
او س د ستا رضا نېکي کړې که بدي کړې ‌ ‌ نېک و بد دې واړه کښېږي شي په قلم
خدای د رزق په زېرمه مه هېروه کلک شه ‌ ‌ تر سرې د سرې رزق دی مقدم
که ګنې چې په حرص سره څه زیات شي ‌ ‌ زیات به نه شي د یوې ستنې ترسیم
که هزار رنګه تالاش او تر د د کړې(۹) ‌ ‌ د قسمت شوي به نه کړې زیات و کم

(۱) دا بیت د "خ" لومړي او مصور نسخه کې نشته.
(۲) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۳) د "خ" لومړي نسخه او مصور نسخه: "رقیبان به څه تېرې په رحمان کاندي".
(۴) دا غزل د "ب" په لومړي نسخه کې نشته.
(۵) په قلمي نسخو کې "در شي" راغلی دی.
(۶) په قلمي نسخو کې "دوهم" راغلی دی.
(۷) د "خ" لومړي نسخه او مصور نسخه: "په هرچا باندې چې کړې هغه به مومې".
(۸) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۹) د "خ" لومړي نسخه او مصور نسخه: "که هزار ځله تالاش او تدبیر وکړې".

Marfat.com

زُبرهوا وحرص مه کوه خدای یاد کړه    دی کافي دی د عرب او د عجم
په تا فرض عبادت د خپل خښتن دی    نه لښکري خزانې ملك وحشم
تول روتۍ یوه شړۍ درله بس ده    نور همه واړه اسراف دی مسلم
له خوراکه غرض قوت او لایموت دی    نه چې غوښې خوړې وریژې یا غنم
له پوشاکه غرض خپسر پټول دي    نه اطلس وسقلات تاج وعَلَم
د لحد د تاریکۍ علاج به څه کړې    چې ته دلته کې وېرېږې په تورتم
که حرص در باندې زور شي مرګ را یاد کړه    دا علاج دی دغه رنځ لره محکم[1]
غفلت هیڅ مناسب نه دی د سپین برو    خوب روا نه دی په وخت د صبحدم
مار چې سوړې لره ورشي ګوره سم شي    ته د ګور په غاړه راغلې نه شوې سم[2]
خم قامت د دنیا کار کړې عمر واړه    او په دوه رکعته نفلو نه شوې خم
ځان پخواتر هغه وژاړه که مرد یې    چې په تا باندې ژړا کا نور عالم
نور عالم چې په تا ژاړي انصاف وکړه    بې انصافه ته په خدې خوښ خرم
که زه نه وایم ته خود سترګې رڼې کړه[3]    کوردې خورشه ته چارپای یې که آدم

١٣٥ — ١٥٥٩

اې رحمانه لکه ته چې په خدای ګرم یې
بل به نه وي په جهان کې هسې ګرم

خو بصبر پجفاد بیازکبوم    خو به موم دلمروغ ترگن زوم
عاشقي او صبوري سره دروغ دي[4]    زه دا لاف په دروغ څرنګه وهم
ته وماته نصیحت مه کړه ناصحه    زه دا خپل تخم خپل ځان لره کرم
ما خو زده چې مینه او ردی خدای مین کړم    دا نسته خپسر واورته اچوم
سررشته مې خدای همه د یار په لاس کړه[5]    په هر لور چې مې راکاږي پسې ځم
د آشنا د مینې لاس زما ګریوان دی    زه په دا کار کې هیڅ عذر نه لرم[6]
عاشقانو[7] باندې حق د معشوقو دی    حق به ولې په باطلو بدلوم

---

(١) دا بیت د «پ» چاپ کې نشته.
(٢) قلمي نسخې: «ته د ګور په غاړه ګرزې نه شوې سم».
(٣) قلمي نسخې: «که زه نه وایم ته خپله سترګې وکړه».
(٤) د «خ» لومړۍ نسخه: «عاشقي او صبوري دواړه سره لري».
(٥) چاپي دیوانونه: «سررشته مې خدای د یار په لاس کې ورکړه».
(٦) قلمي نسخې: «زه په دا معامله کې عذر نه لرم».
(٧) د «پ» په لومړۍ نسخه کې «په عاشقانو» او د «خ» په لومړۍ نسخه کې «په عاشقو» راغلي دي.

Marfat.com

ما چې مینه د یار فرضه په خپل ځان کړه — تر وله فرضو غاړه څرنګ غړوم

۱۳۶ — ۱۵۶۸

داغه ژوند(۱) دی چې یار نه وینم په سترګو
زه رحمان په جهان سترګې غړوم

په یوه غمزه د سترګو یې فنا شوم — سر تر پایه بې بنیاده بې بقا شوم
ما د یار له غمه دم وهلی نه دی — که مې دم وهلی نه دی هم رسوا شوم(۲)
سنه چې تن مې توی تومند شو په عشق کې — هاله څاڅکی د شبنم وم اوس دریا شوم(۳)
زه د یار مخ نه ګورم یار و ما ته — چې داخل په تماشا شوم تماشا شوم
په هجران کې یې ګدا وم کند په غاړه — په وصال کې یې پادشاه د امرا شوم(۴)
په خپل کلي په خپل کور کې مې غربت دی — په صدف کې یتیم دُر غوندې یکتا شوم(۵)
مستوري راځه یو وړه مستو سترګو — رحمان ځکه په وګړي کې رسوا شوم(۶)

۱۳۷ — ۱۵۷۶

بادشاهي د ګدایانو په دعا شي(۷)
زه رحمان ځکه بادشاه شوم چې ګدا شوم

ترهغه حده په هورته بدسری شوم(۸) — چې د درست جهان په سترګو کې اغزی شوم
دنیا واړه څبله زیست او روزګار کاندي — خو یو زه په دغه بار کې کوډ لړګی شوم(۹)
تمامي جهان لمن راټنه نغاړي — سپین زړی مې اغوستی تور کوډی شوم
هیڅ حاجت د هنر نشته ونصیب ته — خزا وشوه که مومند که داؤدزی شوم

---

(۱) په قلمي نسخو کې " داغه ژوند ون دی " راغلی دی.
(۲) دا بیت د " خ " په لومړي نسخو کې نشته.
(۳) دا بیت د " ح " په لومړي نسخو کې داسې دی: " سنه چې تن مې دړی وړکی شه په عشق کې — هاله څاڅکی د شبنم وه اوس دریا شوم ".
" خ " دوهمه نسخه: " سنه چې تن مې د تو تومند شو په عشق کې — هاله څاڅکی د شبنم وم اوس ګیاه شوم ".
او " ق " ک چاپ کې یې دوهمه مسرۍ داسې ده: " اول څاڅکی د شبنم وم اوس دریا شوم ".
(٤) قلمي نسخې : " په وصال کې بیا خان وامراد شوم ".
(۵) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نشته : او دوهمه مسرۍ یې د " ح " په لومړي نسخو کې داسې ده : " په صدف کې پنهم دُر غوندې یکتا شوم ".
(۶) دا بیت په چاپي دیوانونو او د " ح " په دوهمه نسخو کې نشته.
(۷) دا بیت د " ح " په لومړي نسخو کې نشته او مسله لومړي غزل په مصوره نسخو او د " ب " په دوهمه نسخو کې نشته.
(۸) دا غزل په مصوره نسخه او د " ب " په دوهمه نسخو کې نشته. لومړي مسرۍ یې د " ح " په لومړي نسخو کې داسې ده : " ترهغه حده بیکاره بدسری شوم ". او د " ح " په دوهمه نسخو کې دا مسرۍ داسې ده : " ترهغه حده یوري بدسری شوم ".
(۹) دا بیت د " ح " په لومړي نسخو کې نشته لومړي مسرۍ یې د " ب " په نسخو کې داسې ده : " دا دنیا واړه وبله زیست و روزګار کاندي ".
د مینور په دوو نورو چاپي دیوانونو کې داسې ده : " دنیا واړه سره زیست و روزګار کاندي ".
د " ح " په دوهمه نسخو کې داسې ده :
" عالم واړه سره زیست د روزګار کاندي ".

Marfat.com

دنوح زوی هم دیونیك نیكه نمسی ؤ[۱]
گنه زه هم دیونیك نیكه نمسی شوم

كل وسواس له احتیاطه پیدا كیږي
زه له ډیرې هوښیارۍ نه لیوني شوم[۲]

۱۳۸ اوس عطا د آدمیت را باندې وشوه
چې رحمان د هغه یار د كوڅې سپی شوم[۳] ۱۵۸۳

په ښه خوی له بدخواهانو بې پروا یم
په نرمۍ لكه اوبه د اور سزا یم

وهرچا ته په خپل شكل ښكاره كیږم
آئینه غوندې بې رویه بې ریا یم

دراز عمر مې حاصل شوله راستۍ
لكه سرو مدام سبزه تازه پایم[۴]

هم په داسې پېنو چا مو چې معلومېږم
لكه ابر هم گوهر یم هم دریا یم

قناعت مې ترخرقې لاندې اطلس دی
پټ د درست جهان بادشاه ظاهر گدا یم

دغونچې په شان په سل ژبو خاموش یم
لكه بوی هسې په پټه خوله گویا یم

په ژړا مې دخپل یار دیدن حاصل كړ
دشبنم په شان له گل سره یكتا یم

۱۳۹ كه چالار د عاشقۍ وكړ وركه كړې[۵]
زه رحمان د گمراهانو رهنما یم ۱۵۹۱

زه له دې جهانه تلونې په شتاب یم[۶]
لكه پانه د خزان پسته په ركاب یم[۷]

كه هزار آبادانۍ كړم په جهان كې
غرض دا چې نهایت خانه خراب یم[۸]

---

(۱) دا مسرۍ په چاپي دیوانونو او د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه كې داسې ده: "دنوح زوی هم دنیك نیكه نمسی ؤ".

(۲) قلمي نسخې: "زه له ډیرې هوښیارۍ لیوني شوم".

(۳) "ق ،ك" چاپ: "زه رحمان د هغې یار دكوڅې سپی شوم". د "خ" دوهمه نسخه: "چې زه رحمان".

(۴) دا دوه بیتونه د "خ" په لومړۍ نسخه كې نشته.

(۵) په "ب" چاپ او "ب پ" چاپ كې د "وې" پرځای "ده" راغلي دي.

(۶) په چاپي دیوانونو كې د "جهان" پرځای "دنیا" راغلي دي.

(۷) "ق" چاپ: "پیا".

(۸) دې بیت لومړۍ مسرۍ په "پ" چاپ او "ق" چاپ كې داسې ده: "كه هزار آبادي كړم په جهان كې".
د "ب پ" چاپ: "كه هزارې ابادۍ كړم په جهان كې".
"ق ،ك" چاپ: "كه هزار آبادۍ وكړم په جهان كې".
دوهمه مسرۍ یې د "ق ،ك" چاپ او "ق" چاپ كې داسې دی: "غرض دا چې عاقبت خانه خراب یم".

Marfat.com

کہ مې اصل د حیاتو له اوبو دی — بیا خو دا چې د اوبو په سر حباب یم

دا جهان قصاب خانه کړ خدای وماته[1] — پای بسته ولاړ یم په غولي د قصاب یم

چې د خدای له معرفته خبر نه شوم[2] — معلومیږم چې یا دیو یم یا دواب یم

که صورت مې د سړي دی زه یې څه کړم[3] — په معنی کې د چارپایو په حساب یم

لکه بت چې په رڼو سترګو اوده وي — هسې زه په بیدارۍ کې ویده خواب یم[4]

په طاعت په عبادت مې زړه یخ نه کړې — همېشه د معصیت په اور کباب یم

سر د خدای و عبادت ته ایښوی[5] نه شم — مدام ډوب د ګناهونو په ګرداب[6] یم

چې و خپلو ګناهونو ته نظر کړم — سزاوار د هر عذاب[7] و هر عتاب یم

لکه څوک چې په څرسو وروي مخ بې تور وي — زه هم هسې په خپل خدای پورې بې آب یم[8]

۱۴۰ — غزا وشوه که ګفتار لرم[9] په ژبه
زه رحمان چې کردار نه لرم کذاب یم — ۱۶۰۳

---

(۱) مصوره نسخه: "دا جهان خدای قصاب خانه کړ و ماته".

(۲) "ق، ک" چاپ: "چې خبر نه شوم د خدای له معرفته".
په دو محمد مسري کې په مصوري نسخې کې د "یا دیو یم" پر ځای "یو دد" راغلی دی.

(۳) د "ب" په نسخه کې دا مسری داسې ده: "که صورت یې د سړي دی به یې څه کړي".
د "غ" په دو محمد نسخه کې: "که صورت مې د سړي دی په دا څه شو".

(٤) دا بیت د "غ" په لومړۍ نسخه کې نشته.

(۵) د "ب" نسخې: "د ښکې نه شم".
د "غ" لومړۍ نسخه: "ایښې نه شم".
دوهمه نسخه: "نیوای نه شم".

(۶) په چاپي دیوانونو کې "دریاب" راغلی دی.

(۷) د "ب پ" چاپ: "د هر سزا".

(۸) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته، په "پ" چاپ، "پا، پ" چاپ او "ق" چاپ کې دا مسری داسې ده:
"زه هم هسې تر څښتن پورې بې آب یم".
"ق، ک" چاپ: "تر مولا پورې بې آب یم".
د "ب" لومړۍ نسخه: "زه هم هسې تر خپل یاره پورې بې آب یم".
دوهمه نسخه کې: "زه هم هسې تر الله پورې بې آب یم".

(۹) په چاپي دیوانونو او د "غ" لومړۍ نسخه کې "کوم" راغلی دی.

Marfat.com

که هزار ځله نژدې د زړه په یاد یم — زه چې یار په سترګو نه وینم ناښاد یم(۱)
که یار سل ځله وعدې د وصال وکا — زه له ډېرې تلوسې بې اعتقاد یم
په جفا و په وفایې لا رغه نه شي — پر رحم د ناز پرور په کړې داد یم(۲)
د بې نیاز و په نیاز څه امید د کړو دی — زه پرون سلطان خسرو وم نن فرهاد یم(۳)
که د یار له لاسه اور را باندې بل وي — لکه شمع مستقیم په خپل استا د یم
بې مینه قراري را باندې زوګک دی — شپه او ورځ په حرکت کې لکه باد یم
که همه عمر مې یار په غېږ کې ناست وي — زه له غمه به د هجر په فریاد یم
یو زمان مې د زړه مراد موندلی نه دی — پیدا کړی خدای په اصل کې نامراد یم
د وصال په یوه کال مګر بر پای شم — د هفتې په هجر هسې بې بنیاد یم
چې بې نوره نتیجه نشته بې غمه — حق حیران د عاشقۍ په دا داد یم(۴)
په وصال کې مې د هجر طمعه نه وه — اوس حیران متحیر په دا فساد یم
بې له عشقه چې مې پرې شو د پوزې(۵) — ګنه نور له جملګي قیده آزاد یم

۱۶۱۶ — که مې پیري که مې پلوري چاره نشته — ۱۴۱
زه رحمان د بنایسته و خانه زاد یم

که مې خوراك پر فقیري شمېري(۶) فقیر یم — که مې خوراك پر امیري شمېري امیر یم
د دلبر وصل چې لره بې غوارم — هسې نه چې په دنیا پسې زهیر یم
د خرقې خدمت(۷) مشکل دی او که نه وي — زه هر دم و دغې چارې ته خبر یم

(۱) دا غزل د "ب" په لومړۍ نسخه او مصوره نسخه کې نشته.
(۲) د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې "قرارداد" راغلی دی.
(۳) د "خ" لومړۍ نسخه: "زه همه عمر له هجره په فریاد یم".
(۴) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۵) په "ق" چاپ کې "د غاړې" راغلی دی.
(۶) په مصوره نسخه کې "بولی" راغلی دی او دا غزل د "ب" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۷) د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه او مصوره نسخه کې "حرمت" راغلی دی.

Marfat.com

هم پند اخلم هم پند وایم وهرچا ته ‏ ‏ زه د ښو مرید د ښو پیر یم (١)
په هجران کې د یار خیال راسره مل دی (٢) ‏ ‏ په زندان کې له یوسف سره اسیر یم
په خندا کې مې ژړا ده لکه شمع ‏ ‏ له عالمه پټ پنهم (٣) د ځان په ویر یم
آزادي تر دا په هوړته نوره څه ده (٤) ‏ ‏ چې بندي (٥) د یار د زلفو په ځنځیر یم
خوشحالي تر دا په هوړته بله کومه ‏ ‏ چې مدام په خپل اشنا پسې زهیر یم (٦)
چې همېش په غوبنارې د هجران اورم ‏ ‏ رحمان ځکه د خپل یار وخ ته ځیر یم (٧)

١٤٢

خوشحالا او دولتا مې غلامان دي (٨)

١٦٢٦

زه خان په پښتو ژبه (٩) عالمګیر یم

زه د یار په درد وغم کې غرقاب خوښ یم ‏ ‏ په دا درد کې بې طاقت او بې تاب خوښ یم
که ډوبېږم په اوبه یا په اور سوځم ‏ ‏ د سر وشوند و په آتش و په آب خوښ یم
چې د یار د خال و خط نښې پکې وي ‏ ‏ زور پند سر په مطالعه د کتاب خوښ یم
تر دا پوچه ګفتګو یه چې بې اورم (١٠) ‏ ‏ په نغمه په ترانه د رباب خوښ یم
د ریا ترنا قبوله عبا د ته ‏ ‏ د ساقي په میو مست وخراب خوښ یم

---

(١) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلی دی:
"هم پند اخلم هم پند واخلم وهرچا ته ‏ ‏ د ښو مرید د ښو مرشد د ښو پیر یم".
دوهمه مسرۍ یې د "پ" په لومړي نسخه کې داسې ده: "د ښو مرید د ښو پیر یم".

(٢) دا مسره په "ق" چاپ کې داسې ده: "په هجران کې د وصال خیال راسره دي". او په نورو چاپي دیوانونو کې داسې ده:
"په هجران کې خیال د یار راسره مل دي".

(٣) په "ق، ک" چاپ کې "پنهان" او د "خ" په دوهمه نسخه کې "تنها" راغلی دی.
لومړی بیت په مصوره نسخه کې نشته.

(٤) په چاپي دیوانونو کې "بله نشته" او د "خ" په لومړي نسخه کې "نوره څه دی" راغلی دی. او هم دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.

(٥) د "خ" په لومړي نسخه کې "بنده". راغلی دی.

(٦) دا بیت په چاپي دیوانونو او د "خ" لومړي نسخه کې نشته، لومړۍ مسرۍ یې د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده "خوشالي تر دا په هوړته ده نوره کومه". او په مصوره نسخه کې دا بیت داسې دی: "خوشالي تر دا په هوړته نوره څه ده ‏ ‏ چې مدام په خپل اشنا پسې دلګیر یم".

(٧) دا بیت په قلمي نسخو کې نشته لومړۍ مسرۍ یې په "ق" چاپ کې داسې ده "همېشه په غوبنارې د هجران اورم"

(٨) دا مسره د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "بو خوشال سل ختک نورې غلامان دي".

(٩) د "پ" په لومړي نسخه او مصوره نسخه کې "شعر" راغلی دی. (١٠) د "خ" دوهمه نسخه "تر دا نور د ګفتګو یه چې بې اورم". نو موری بیت او ورپسې بیت د "خ" په نیمګړي نسخه کې نشته

Marfat.com

چې نه علم نه تسبیح نه تلاوت وي | له دې هسې بېدارۍ نه په خواب خوښ یم
خاموشي که هر څو لویه مرتبه ده | زه له یار سره په سوال وځواب خوښ یم (۱)
د طوبی د ونې سیوری مې خوښ نه دی | ستا د مخ په لمبو سوی کباب خوښ یم

١٤٣ — ١٩٣٥

د یار د ډېرې غم خوارۍ یم عاجز کړی
رحمان ځکه په خوردن د شراب خوښ یم

زه د یار په درد و غم کې شادمان یم | لکه ګل د پرېشانۍ په وخت خندان یم
ته زما و بېکسۍ ته نظر مه کړه | خدای ساتلی لکه ګنج په بیابان یم
لکه ونه د ځنګل په مېوه پوره | په وېرانه وېرانۍ کې آبادان یم
یو وېښته مې د صورت بې عشقه نه دی | څو کېدای په هر نفس د خیل کاروان یم (۲)
د وصال مرغه (۳) د اوبنو دانو راکړ | لکه در و لعل په غاره د خوبان یم
د کاملې عقیدې له برکته | د دوهې په غاره ناست شاه جهان یم
زوبنالي مې په طلب کې شو حاصله | شپه او ورځ لکه آفتاب په لار روان یم
د آشنا د اوږدو زلفو صفت څو کړم | پلې شړ په لویه لار د هندوستان یم (٤)
بې مینه مې هیڅ حال د صورت نشته (۵) | لکه بې مال و متاع تش دوکان یم
د هوس بلبل ویساه را باندې نه کا | د افلاس په کبل کې د خزان یم
و یارانو ته خاک تر تلو لاندې | د دې نور جهان په سر لکه آسمان یم (٦)
چې د یار په مینه سر و مال بښنده | خلقه واورئ هغه زه عبدالرحمان یم (٧)

---

(۱) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.
(۲) د "خ" لومړي نسخه کې "دخیل کړدابه یم" او مصوره نسخه کې "دخپل ځان یم" راغلی دی.
(۳) د "خ" په لومړي نسخه او مصوره نسخه کې داسې دی: "د وصال مزې د اوبنو دانې راکړ".
(٤) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته. لومړی مسری یې د "پ پ" چاپ کې داسې ده: "چې صفت د تور د زلفو د اشنا کړم".
(۵) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته، د "خ" په دوهمه نسخه کې لومړی مسری داسې ده: "بې له مینې مې هیڅ حال د صورت نشته".
(٦) دا بیت او ورپسې بیت د "خ" په لومړي نسخه او نیمګړي نسخه کې نشته، په مصوره نسخه کې لومړی مسری داسې ده: "د مارانو تر تلیو لاندې خاک یم".
(٧) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.

Marfat.com

۱۴۴ — ۱۹۴۸

په هر دم کې نوې نوې تماشې کړم
زه یمان دخدای وکړه وته حیران یم

چې هر دم له خپله ځانه ګریزان یم — هم په دا الکه دریاب در و کان یم[1]
مرګې تریخ دی چې ژوندون دچاشیرین شي — زه خوښند دیار ترو صل په هجران یم
ناداني مې داناېي شوه لکه طفل — په ناپاکو ګوهره کې پاک دامان یم
چې دنفس دحرص ملک مې مسخرکړ — په هوا دپاسه تخت د سلیمان یم
تن مې څه کړې چې زړه یار را څخه بوړ — بېهوده دخالي خونې نګهبان یم
لکه ګل چې په نارمات کړې او بړاندوي — زه هم هسې دژوندو دمړ و ترمیان یم
کله ځان راته ولي کله عاصي شي — نه خبر په خپل کمال نه په نقصان یم

۱۴۵ — ۱۶۵۶

خپل جانان مې هسې نقش دی په زړه کې
نه پوهېږم چې ګمان یم که جانان یم

ژوبل ژوبل دترکانو په نګاه یم — تردالا په دا خوښېږم چې پناه یم[2]
چې یوسف[4] غوندې هزار پکښې پراته دي — بندیوان دهغه سیب[3] ذقن په چاه یم
چې یې قد و قامت نه وینم په سترګو — عندلیب په سر د سروې دخپل آه یم[4]
د سپین مخ دنور وښو لـه رغبته[5] — منت بار دهر سفید او هر سیاه یم[6]

---

(۱) دا غزل د "خ" له ډېرې قلمي نسخې نه نقل شو.

(۲) دا غزل د "خ" په دوېمه نسخه کې نشته او دا بیت په چاپي دیوانونو کې داسې راغلی دی: "ژوبل ژوبل دخوبانو په نګاه یم — لا تردانه زیات خوښېږم چې پناه یم".
په مصوره نسخه کې داسې دی: "ژوبل ژوبل دخوبانو په نګاه یم — تردالا په دا عاجز یم چې پناه یم".
د "خ" په لومړي نسخه کې داسې دی: "ژوبل ژوبل دخوبانو په نګاه یم — لا پردا زهیرېږم چې لاسترګو یې پناه یم".
د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې دی: "ژوبلي ژوبلي دخوبانو په نګاه یم — تروخولا په دا خوښېږم چې پناه یم".

(۳) په ځینو نسخو کې د "سیب" پرځای "سیم" راغلی دی او د "خ" په لومړي نسخه کې "سیم په ذقن چاه یم" راغلی دی.

(۴) دا بیت په چاپي دیوانونو کې داسې دی: "چې یې قد و قامت نه وینم په سترګو — عندلیب په سهي سرو دخپل آه یم".
د "خ" په لومړي نسخه کې او دوهمه ... کې دا: "عندلیب د سهي سرو دخپل آه یم".
د "خ" په دوهمه نسخه کې ...: "عندلیب غوندې په سروې دخپل آه یم".
او مصوره نسخه کې داسې: "عندلیب هسې سرو دخپل آه یم". (پاڼه په ۱۰۷ کې)

Marfat.com

لکه خوک چې پڅره سوځوي مې بې توري　　　زه هم هسې ترخپل خدای پورې روسیاه یم[۱]

درقیب خبرې[۲] ورم د یار د بیاره　　　دعاګوی هم د نیک خواه هم د بدخواه یم[۳]

بې له عشقه که مې عیب که مې هنر دی[۴]　　　نه[۵] خبر په عبادت نه په ګناه یم

بناخ د زلفو یې پخپله خدای راتیټ کړ　　　ګنه زه د یار ترقد پورې کوتاه یم[۶]

ځان هرګوره ناګاه راخرګندېږي　　　له هغې ورځې راهیسې چې آګاه یم[۷]

بې صبرۍ د یار په وصل کې مهجور کړم　　　د پسرلي په مرغزار کې وچ ګیاه یم

له اوله تېر و وهم بیا آه کړم　　　په نارو نارو[۸] خروس د صبحګاه یم

په جذبو جذبولي رانیکم زه وځان ته　　　هغه یار مې کاه ربا دی زه یې کاه یم[۹]

لکه بار د ونې پوخ شي ځنې رژي　　　زه هم هسې بار ترلې سربراه یم

اوس مې ځای په دا جهان کې پاتې نه شو　　　خوځېدلی تر[۱۰] چهل و تر پنجاه یم

---

د(۱۰۶) مخ د پاڼې لیکو نې پاته: (۵) د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "رخنه" پرځای "زینه" راغلی دی.

(۶) دامسرۍ په "ب" چاپ او "ق" چاپ کې داسې ده: "منت بار دهر سفید دهر سیاه یم".

په "ب ب" او "ق ک" چاپ کې داسې ده: "منت بار دهر سفید او دسیاه یم".

او "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "منت بار دهر سفید ودهر سیاه یم".

---

(۱) دا بیت په چاپي دیوانونو، مصور نسخو او د "خ" لومړۍ نسخه کې نشته، د "خ" په دوهمه نسخه کې یې لومړۍ مسرۍ داسې ده: "لکه خوک چې پخپله سوزي مې بې تورشي".

(۲) د "ب" په نسخه او د "خ" لومړۍ نسخه کې "خبرې" راغلی دی او دا مسرۍ په مصوره نسخه کې داسې ده: "د رقیب خبره اورم د یار دیاره".

(۳) دا مسرۍ د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "دعاګوی هم د نیکخواه هم د بدخواه یم".

(٤) دا مسرۍ د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: "بې له عشقه که مې عشق که مې هنر دی".

(۵) په "ق" چاپ کې د "نه" پرځای "زه" راغلی دی.

(۶) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې دی: "بناخ د زلفو خپل خدای راته ټیټ کړي ګنه زه د یار ترقد پورې کوتاه یم".

(۷) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې دی: "ځان ښکاره راته هرګوره څرګندېږي له هغه د ورځې راهیسې چې آګاه یم".
په چاپي دیوانو او د "خ" په دوهمه نسخه کې لومړۍ مسرۍ داسې ده: "ځان هرګوره ناګاه راڅرګندېږي". د "خ" په دوهمه نسخه کې بیا دوهمه مسرۍ داسې ده "له هغې ورځې راهیسې چې آګاه یم". او په "ق ک" او "ق" چاپ کې داسې ده: "له هغې ورځې راهیسې چې آګاه یم".

(۸) د "خ" په دوهمه نسخه کې "نارو سورو" راغلی دی.

(۹) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته، په "ب" چاپ، "ب ب" چاپ او مصوره نسخه کې یې لومړۍ مسرۍ داسې ده: "په جذبو جذبولي راکښوم وځان ته".
د "ب" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: "په جذبو جذبولي راوځکولم وځان ته".
په "ق ک" چاپ کې داسې ده: "په جذبولي راښکه خپل ځان ته".
او د "خ" په لومړۍ نسخه کې دا بیت داسې دی: "په جذبه جذبه لې راکښوم وځان ته هغه یار مې کاه ربا دی زه ګیاه یم".

(۱۰) د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "تر" پرځای "له" راغلی دی.

Marfat.com

١٤٦ ١٩٧١

## د رقيب علاج آسان دی بلا دا شوه (١)
## زه يې علاج له خپله ياره نا وېساه يم

زه يودم د ستا له غمه بې غم نه يم | بې غم ستا له ذکره فکره يودم نه يم (٢)
هر زيارت لره چې درومم (٣) مراد مې تېږي | زه زاير (٤) د بت خانې د حرم نه يم
ستا د دره په تور وخاورو پاندې خوښ يم | بې تا خوښ په تماشا د ارم (٥) نه يم
چې د (٦) ستا په تماشا يم خبر شوی | نور خبر په تماشا د عالم نه يم
بې د ستا له زيبا مخه وبل مخ ته | منتظر د يوې ستني قرسوم (٧) نه يم
که د ستا د ښکلي مخ عاشقان ډېر دي | زه په وار وکې اول يم دويم نه يم
که له غمه دې و نه مرم حاله (٨) وايه | چې يا ديو يم يا دواب (٩) يم آدم نه يم
سم قامت لکه الف يم په راستي کې | لکه غشی خم (١٠) فساد لره سم نه يم
زړه مې ستا په غمزه غوڅ دی غزا وشوه | که په لاسو په پښو روغ يم که گرم نه يم (١١)
خم د زلفو (١٢) محراب دې د وروځو | خم (١٣) د مار و دلرم په ځېر خم نه يم

---

(١) دا مسرې د "ح" په لومړي نسخه کې داسې راغلې ده: "د رقيب علاج آسان دی که يې خدای کړ".
(٢) دا غزل په معروف نسخو او د "ب" په دوهمه نسخه کې نشته.
(٣) په چاپي ديوانونو او "ح" لومړي نسخه کې "ځمه" راغلي دي.
(٤) د "ح" په لومړي او دوهمه نسخه کې "زاهد" راغلي دي.
(٥) د "ح" په دوهمه نسخه کې "حرم" راغلي دي.
(٦) په چاپي ديوانونو او "ح" په دوهمه نسخه کې "دا" او د "ح" په لومړي نسخه کې "د" راغلي دي.
(٧) په چاپي ديوانونو کې "سم"، په "ب" چاپ او د "ح" دوهمه نسخه کې "سيم" راغلي دي.
(٨) د "ح" په لومړي نسخه کې "راته" راغلي دي.
(٩) د "ح" په لومړي نسخه کې "ديوال" راغلي دي.
(١٠) په "ب" چاپ، "پ پ" چاپ او "ق ک" چاپ کې "زه" او د "ق" چاپ کې "و" راغلي دي.
(١١) دا بيت د "ح" په لومړي نسخه کې داسې دی: "زړه مې ستا په غمزه غوڅ دی بلا دا شوه که په لاس په پښو روغ يم کرم نه يم".
د "ح" په دوهمه نسخه کې دوهمه مسره داسې ده: "که په لاسو په پښو روغ يم کرم نه يم".
په "ق ک" چاپ او "ق" چاپ کې داسې ده: "که په لاسو په پښو روغ خو گرم نه يم".
(١٢) د "ح" لومړي او دوهمه نسخه کې "يې" راغلي دي.
(١٣) په "ب" چاپ، "پ پ" چاپ او "ق ک" چاپ کې "زه" راغلي دي او په "ق" چاپ کې لاندې مسره داسې ده: "هيڅ غم په ځېر د مار و دلرم نه يم".

Marfat.com

کہ مې کم وبیش لہ لاسہ واقع کیږي[1] | یم سرې شکم لرم بې شکم نہ یم[2]
نہ یاران د بېلتانہ لہ لاسہ[3] ژاړم | واقعہ دہ ډېرہ گرانہ هیڅ گرم نہ یم[4]

## ۱٤١

هسې تېز درومي دوران | گویا برق دی درخشان[5]
د آسیا پہ څېر[6] گردش کا | پہ زمین باندې آسمان
ککرې دي د سړیو | چې وریږي تر دا میان
پیدا کیږي فنا کیږي | نہ یې سر.شتہ نہ سامان[7]
نہ یې سرشتہ نہ سامان شتہ | نہ یې حد شتہ نہ پایان[8]

(۱) دا مسرې پہ چاپي دیوانونو کې داسې دہ : "کم وبیش کہ مې لہ لاسہ واقع کیږي".
(۲) دا مسرہ د "خ" دوهمہ نسخہ کې داسې دہ : "هم سرې یم نس لرم بې شکم نہ یم".
(۳) پہ چاپي دیوانونو او د "خ" پہ لومړۍ نسخہ کې "لہ غمہ" راغلې دي.
(٤) د "ب" نسخہ : "دا واقع دہ ډېرہ گرانہ هیڅ گرم نہ یم
د "خ" لومړۍ او دوهمہ نسخہ کې داسې دہ : "دا واقعہ دہ ډېرہ گرانہ هیڅ گرم نہ یم".
(۵) د "ب" نسخې : "هسې تېز درومي دوان | گویا برق دی د آسمان".
د "خ" دوهمہ نسخہ : هسې تېز درومي دوان | گویا برق دی دا جهان".
مصور نسخہ : "هسې تېز درومي دوان | گویا برق دی دا جهان".
د "خ" لومړۍ نسخہ : "هسې تېز درومي روان | گویا برق دی دا سمان".
(۶) د "ق ، ک" او "ب ب" چاپ کې "سېر" او د "خ" پہ دوهمہ نسخہ کې "دود" راغلې دي. (۷) قلمي نسخې : "نہ یې سرشتہ نہ سامان". (۸) "ق ، ک" او "ق" چاپ : "نہ یې حد شتہ نہ پایان شتہ | نہ یې سرشتہ نہ سامان". "پ" چاپ : "نہ حد نہ پایان شتہ | نہ یې سرشتہ نہ سامان".
"پ پ" چاپ : "نہ یې حد نہ یې پایان شتہ | نہ یې سرشتہ نہ سامان".

Marfat.com

ځيني د ول وهي سبا دي کا — ځيني ويرکا د خپل ځان
ځيني شمع غوندې ژاړي — ځيني ګل غوندې خندان
که يې ګورې يو ګلزار دی — که يې ګورې يو بيابان (۱)
که يې ګورې يو ګلشن دی — که يې ګورې يو زندان (۲)
يوه هسې تماشا ده — چې يې هيڅ نه شي بيان (۳)
کيفيت يې مونده نه شي — په دليل او په برهان
چې يې کومه خوا رفتن دی (٤) — يا يې چېرته دی مکان

۱٤۸ — ۱۹۹٦

خدای خبر دی په دا علم (۵)
هيڅ خبر نه دی انسان

د بر ياران وو د ګل خان او جمال خان — په کار نه شو يو په وخت د زارستان (٦)
دهمه وارو يارانو څخه دې تورشي (۷) — که به څوک وبله (۸) ياري کا په داشان
چې يو يار په سيوري پروت (۹) وي بل په اورکې — وهغوته به څوک څه وايي ياران
هيڅ تعريف يې په دا ژبه وايه نه شي — صدرحمت شه په ياري هم د ګل خان (۱۰)

---

(۱) د "پ" لومړۍ نسخه "زندان". د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه: "که يې ګورې يو بازار دی که يې ګورې يو بيابان".
(۲) دا بيت په "پ" چاپ، "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ کې نشته.
(۳) چاپي ديوانونه: "چې يې هيڅ نشته بيان". د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه: "چې يې هيڅ نه شي بيان". مصوره نسخه: "ځيني نه شي هيڅ بيان".
(٤) "ق، ک" چاپ، "ق" چاپ او د "خ" په دوهمه نسخه کې: "چې يې کوم خواته رفتن دی".
(۵) قلمي نسخې: "خدای عالم دی په دا علم".
(٦) دا غزل د "پ" په نسخه او مصوره نسخه کې نشته. دوهمه مسرۍ يې د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده:
"يو هم نشته دده کار په ځان داستان"
دوهمه نسخه: "يو يې هم په کار نه شو په ځای د داستان".
(۷) د "خ" دوهمه نسخه: "دهمه وارو يارانو څخه يې ورک شه".
(۸) "ق" چاپ: "سره".
(۹) د "خ" دوهمه نسخه: "ناست دي".
(۱۰) "پ" چاپ: "هيڅ تعريف يې په دا ژبه وايه نه شي — صدرحمت شه په ياري که د ګل خان".
د "خ" لومړۍ نسخه: "هيڅ تعريف يې نور په ژبه وا دری نه شي — صد رحمت شه په ياری که د ګل خان".
د "خ" دوهمه نسخه: "هيڅ تعريف به يې په ژبه را و نه شي — صد رحمت شه په ياری که د ګل خان".

Marfat.com

په داهورته[1] د يارئ شرطونه څه وي — چې په اورکې د واړه وسوځي يکسان

چې له آله له اولاده سره وسول — خدای دې نه کا څوك داهسې مظلومان

چې په اورکې يو د بل د ياره سوځي — مالېدلي نه و وهسې مخلصان

څه رنګ شوخ و وهغه اور لوهغه خلق — چې لې مرنه کړ و داوښکو په باران[2]

الغياث دی الغياث دی الغياث دی — چې انسان کاهسې ظلم په انسان

د نمرود چارې مې وليدې په سترګو — چې لې اچول و اوروته نبيان[3]

هم دې څمکې دې آسمان ته تعجب کړم[4] — چې نه څمکه په نار وشوه نه آسمان

هم دې لويو لويو غرونو ته حيران يم[5] — چې ونه لوښته له وېځه سرغلتان

له دې خپله سپينه نفسه مې زړه بد شو[6] — چې اوبه ښيسي ياخواره خوري په جهان

عالم والي چې قيامت به په جمعه وي — وليدماً په يکشنبه په دا دوران

هزارحيف دی چې داهسې رنګه چارې — واقع کېږي د دنيا په سود و زيان

سربند نه وګويا د ښت کربلا و — چې سيلاب شو د سرووينو پرې روان[7]

په عيسیٰ او په دجال کې ګناه نشته[8] — دامکرونه دې د نفس و د شيطان

---

(۱) د "خ" دواړو قلمي نسخو ، "پ" چاپ ، "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ کې "تر داهورته" راغلی دی.

(۲) د "خ" لومړۍ نسخه : "چې مر نه که هم داوښکو په باران".
دوهمه نسخه : "چې لې اور مړ نه کړ داوښکو په باران".

(۳) "ق، ک" چاپ : "چې به لې اچول واوروته نبيان".
"پ" چاپ : "چې لې اچول زاورته نبيان".
د "خ" لومړۍ نسخه : "چې لې اچول واورته مرسلان".
دوهمه نسخه : "چې لې اچول په اورکې مرسلان".

(٤) "پ" چاپ : "هم دې ځمکې هم اسمان ته تعجب کړم".
د "خ" لومړۍ نسخه : "ودې ځمکې واسمان ته تعجب يم".
دوهمه نسخه : "ودې ځمکې واسمان وته حيران يم".

(۵) د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه : "ودې لويو لويو غرونو ته حيران يم".

(٦) د "خ" دوهمه نسخه : "له دې خپله کم بخت نفسه مې زړه بد شو".

(۷) دا بيت د "خ" د لومړۍ او دوهمې نسخې نه نقل شو ، په چاپي ديوانونو او نورو نسخو کې نشته.

(۸) د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه : "ګناه نه وه".

عزیزان یې څبله (۱) ووژل یخپله — داهمه واره تقدیر دی د سبحان (۲)
هسې نه چې دا یې وکړه نور به نه کړي — چې یې زړه شي هغه کاندي بادشاهان (۳)
شاه عالم اعظم وګوره چې یې سخا کړ — په خونونو واره ملك د هندوستان (۴)
ودارا او اورنګ زیب وته حیران یم (۵) — چې یې څه چارې واقع شولې ترمیان (۶)
د حسن حسین غزا دې ښوك په زړه کا — چې همه واره په تیغ شول شهیدان (۷)
د دوی غوښې او سنکو وینو رغړ ولې — بې حسابه هسې خلق شو توفان (۸)
هرچې اهل د دنیا دي حال یې دا دی (۹) — که سړی دی که پېری دی که حیوان
آدم زاد په څمکه یو بل سره وژني (۱۰) — په دریاب کې وبله غوښې خوري ماهیان
لکه غوښې چې ماهیان خوري په دریاب کې — په هوا کې هم دغه کاندي مارغان
خزنده او پرنده دي د دې دهر (۱۱) — همه واره یو تر بل مشت وګرېوان (۱۲)
مرداري د دې دنیا خو هم دغه ده — څکه بېرته ځنې ګرځي درویشان

---

(۱) د "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ: "سره ووژل".
لومړی مسری د "خ" په لومړي او دوهمه نسخه کې داسې ده: "عزیزانو به په څه وبله وژلو".
(۲) د "خ" دوهمه نسخه: "داهمه واره تقدیر د پاك سبحان".
(۳) د "خ" لومړۍ نسخه: "چې یې زړه شي هغه کاندي په داشان".
(۴) "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ: "شاه عالم اعظم وګوره چې یې سخا کړه — په خونونو واره ملك د هندوستان".
د "خ" لومړۍ نسخه: "شاه عالم واعظم ګوره چې یې فساد کړ — په خونونو سره ملك د هندوستان".
د "خ" دوهمه نسخه: "شاه عالم اعظم وګوره چې یې خسا کړ — په خونونو واره ملك د هندوستان".
(۵) "ق، ک" چاپ: "بیا دارا او اورنګ زیب وته حیران یم".
د "خ" لومړۍ نسخه: "ودارا داورنګ زیب وته که ګوري".
د "خ" دوهمه نسخه: "ودارا واورنګ زیب ته دې ښوك ګوري".
(۶) "ق" چاپ: "چې یې څه چارې واقع شوې په طان".
د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه: "چې یې څه چارې واقع شوې تر دامیان".
(۷) د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه: "چې همه په توره ومړه شهیدان".
(۸) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته او دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "د ده غاښې او سلې په وینو رغړولو — هسې بې حساب خلقه شوله توپان".
(۹) د "خ" دوهمه نسخه: "هرچې آل د دې دنیا دی حال یې دا دی".
(۱۰) د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه: "آدم زاد په مخ د ځمکې وبله وژني".
(۱۱) د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه: "خزنده که پرنده دی د دې دهر".
(۱۲) د "خ" لومړۍ نسخه: "همګي دي وبله مشت وګرېبان".
د "خ" دوهمه نسخه: "همګي دي واره مشت و په ګرېوان".

Marfat.com

۱۴۹ مکاري د زمانې څه هومره نه ده — چي رحمان يې چا نه وکاندي بيان[1] ۱۷۲۵

دنيادار د دنيا کار کا زه د دين — خوانين زما په ملك دي خوشه چين[2]

هيڅ کم نه دي تر سپين مخيو دلبرانو — بلکه سته دي زما شعر نمکين[3]

مراد له تور و سپينو واړه د لبريده — موقوف نه دي دغه[4] کار په تور و سپين

چي رنګين رنګين مضمون پرې کښلی نه وي — څه په کار دي د بياض ورق رنګين[5]

مرتبه د سليمان چي چا له ورشي[6] — هيڅ پوره نيمګړی نه دی په نګين

خوند په خوله دی نه په خښته نه په خواره دی[7] — آب و خور که د چا تلخ وي که شيرين

غرض خوب دی که په څپسي و يا په خاوري[8] — څه حاجت دی په بستر و په بالين[9]

مصري توره هم په بد غلاف کي زنګ شي — خدای خو لك مه کړه د بدانو هم نشين

۱۵۰ څه عجب که په ورځ مهر په شپه ماشي — د رحمان آشنا چنان دی يا چنين[10] ۱۷۳۴

---

(۱) د "خ" لومړی نسخه : "چي يې زه رحمان کريم د چا ته بيان".
د "خ" دوهم نسخه : "چي رحمان يې که و چا و ته بيان".

(۲) دا غزل په مصوره نسخه او د "ب" په دوهم نسخه کي نشته.

(۳) د "ب" لومړی نسخه : "بلکه به دي دا زما شعر نمکين".
د "خ" لومړی نسخه : "بلکه نه دي زما سبز نمکين".

(۴) د "خ" لومړی نسخه : "دلسته".

(۵) د "ب" لومړی نسخه : "کاماراتنګين".

(۶) د "ب" لومړی نسخه : "چي خدای چالره مرتبه د سليمان ورکا".
د "خ" لومړی نسخه : "که خدای چالره بخه د سليمان ورکه".
د "خ" دوهم نسخه : "که خدای چالره نتيجه د سليمان ورکه".

(۷) د "ب" لومړی نسخه : "خوند په خوله دی نه په خوله نه په خواره دی".
چاپي ديوانو کي "خوند په خوله دی نه په خښکه نه په خواره دی".
د "خ" دوهم نسخه : "خوند په خوله په ژبه په خواره دی".

(۸) "ب" چاپ ، د "پ پ" چاپ او "ق ک" چاپ : "خاوري".

(۹) د "خ" دوهم نسخه : "څه حاجت دی د بستر و د بالين".

(۱۰) چاپي ديوانو ، او د "خ" لومړی او دوهم نسخه : "د رحمان آشنا چنان دی هم چنين".

Marfat.com

که تري ولوبنته شاهان او سلطانان — هیڅ نیمګړی په چا نه شو د اجهان
که هزار هزار فنا شي په یو دم کې — بیا پیدا شي په یو دم کې هزاران
د رفتن د آمدن حساب یې نشته — لکه بحر چې لهېږي بې پایان
یو دبل په غم نه نرم وي نه ګرم — هم د هغه زده چې وریې شي په ځان
پیغمبر غوندې صاحب تر دنیا تېر شو[2] — دا دنیا یې ورانه نه شوه په هجران
چې د اهسې عالم لاندې شو تر خاورو — د چا یاد وي ما وتا غوندې سګان
که غلبیل کړم د تمامې دنیا خاورې — بیا به نه مومم دارا او شاه جهان[3]
بوی د نام و د نښان یې پاتې نه شو — چې دعوی یې کړه د نام او د نښان
که دروغ وایم ته ورشه نظر وکړه — د خپل پلار او د نیکه په ګورستان
چې یې ته په دوارو سترګو بنکلولې — ګوره څه شوې هغه خولې هغه لبان
چې مدام یې په قربان قربان بللې — اوس دې غږ درباندې وکا چې قربان

## ۱۵۱

## ۱۷٤۹

د رحمان وسوزان شعر ته حیران یم[4]
چې یې اوربل شوی نه دی په دیوان

ته چې هسې ګاه یې ترش ګاه یې خندان — له عاشق سره کینه کړې که احسان
له احوال دې چا نه زده چې به څه کړې — که له جور که له لطف کړې عیان[5]
رنځ راحت د عاشقانو وا ړه ته یې — دا دروغ دی که وصال دی یا هجران
هغه شونډې چې خوږې دي تر شکرو — له ګنځلو یې عار نه کا عاشقان
رجوعات د ښایسته وُ چا ته نه وي — هرګز نه وي سرکوزي د سروي شان

(۱) دا غزل د "پ" په نسخه او د "خ" په نیمګړې نسخه کې نشته. د "خ" په نورو قلمي نسخو کې د "ولوبنته" پر ځای "ولنبسل" راغلی دی.
(۲) "ق، ک" چاپ، "محمد علیه السلام تر دنیا تېر شو".
(۳) قلمي نسخې، "که غلبیل کړې د تمامې دنیا خاورې — بیا به نه مومې دارا او شاه جهان".
(٤) "ق، ک" چاپ، "د رحمان دې سوزان شعر ته حیران یم".
(۵) د "خ" دوهمه نسخه او نیمګړې نسخه، "که له جور که له غوږې کړې عیان". او دا غزل د "پ" په نسخه کې نشته.

Marfat.com

دغه هسې رنګ ښایست لکه چې ستا دی ‎ ‎ نشته دا رنګه ښایست د هېڅ انسان[1]

قصد تر هسې حده ولې کړی ګل رخه ‎ ‎ چې له ډېره نازه وژنې عاشقان

د مرېې صورت څه روغ له کاڼي نه وي ‎ ‎ نشته کاڼي څخه ستا د جفا توان[2]

وهرچا وته[3] چې ستا قوت رسېږي ‎ ‎ هلته نه رسي قوت د درست جهان[4]

ستا له جوره زهره[5] نه لري چې آه کا ‎ ‎ که کشور د عاشقانو شي وېران

خوار حېران لکه عاشق دی ستا له درده ‎ ‎ خدای دې څوک هسې نه کا خوار حېران[6]

لکه ډېر وایي د وصل راحتونه ‎ ‎ دغه هسې د فرقت دی سخت زندان

د رخسار نښې دې واړه د خورشید دي ‎ ‎ چې یې درست جهان له نوره دی روښان

له هوسه دې هر ګل کړه خندا شوه ‎ ‎ چې یې ولید ستا د حسن ګلستان

کله وي چې نصیحت کاندي عاشق ته ‎ ‎ که له حسنه دې آګاه شي زاهدان[7]

رنګ د روی دې لري رنګ د سرو ګلونو ‎ ‎ تورې څڼې دې ښا خونه د ریحان

سیاهي د نوي خط دې هسې زیب کا ‎ ‎ لکه ښکلي واړه توري د قرآن

وکوهي ته چې لغزش کا کل خطر وي ‎ ‎ کل خیریت[8] دی کوهي ستا د زنخدان

که د در و تجلی ده ډېره ډېره ‎ ‎ د رتاریک شي چې ظاهر شي ستا دندان

ته سلطان د ښایسته وې دلبره[9] ‎ ‎ دا نور واړه ښایسته دې نوکران

---

(۱) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.

(۲) دا بیت په "ب" چاپ، "ق" چاپ او "ق،ک" چاپ کې نشته. د "خ" په قلمي نسخه کې د "مرېې" پر ځای "سړی" راغلی دی.

(۳) په قلمي نسخه کې "د هر کار ونه" راغلی دی.

(۴) د "خ" په لومړي نسخه کې "شاه جهان" راغلی دی.

(۵) د "خ" په دوهمه نسخه کې "چاره نه لري" راغلی دی.

(۶) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه او مصوره نسخه کې نشته.

(۷) دا بیت او ورپسې دوه بیته د "خ" په مصوره نسخه کې نشته.

(۸) "ق،ک" چاپ کې "خطر" راغلی دی.

(۹) د "خ" دوهمه نسخه کې "دا وادره" راغلی دی.

Marfat.com

که د انور ښایسته ستوري ویل کېږي — ته خورشید خوند ېې صورت لرې عیان[1]

له هر چا چې اورېده شي دغه وایي — چې ښایست دې ذره نه لري نقصان

۱۵۲ — ۱۷۶۹

در ولعل شو ویل د رحمان خکه[2]

چې دی ستا د لعلو وشونډو شو ګویان

چېرته د یار شونډې چېرته غم د دل وجان — چېرته کټي لاله چېرته لعل د بدخشان

پاك ومنزه دی عشق د نفس له خاصیته — چېرته چاه د ګیډې چېرته چاه د زنخدان

لږ تفاوت نه دی د رندانو د زاهد ی — چېرته خلمي جونه چېرته کونډې یتیمان

واره بې وقوف دي که خوك دین په دنیا پلوري — چېرته پنځه ورځې چېرته عمر جاودان

زار شه د هوا وحرص خیال تر قناعته — چېرته ملك د مصر چېرته ده د غلامان

۱۵۳ — ۱۷۷۵

نه شي د ملنګو د خانانو سره کلی[3]

چېرته عزیز خان چېرته ملنګ عبدالرحمن

فراموش مې دی دستا په مینه خان — خان لا څه دی بلکه عمر جاودان[4]

لکه زه چې ستا د در په خاورو خوښ یم — هومره عیش وطرب نه لري شاهان

لکه زه چې ستا د غم پېټی وړنه اخلم — هومره پېټی اخستی نه شي پهلوان[5]

هسې بې سروسامان یم ستا په عشق کې — چې آګاه نه یم په سر او په سامان

هسې بې شرابو مست یم ستا په مینه — چې خبر نه یم په ځمکه په آسمان

دا به څرنګ شي چې ته د کال وعده کړې — په ما نه تېرېږي بې تا یو زمان

---

(۱) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته ، په "پ" چاپ ، ق ، چاپ ، "ق ، ک" چاپ ، د "خ" د دوهمه نسخه او نیګمري نسخه کې "ر دیهان" او مصوره نسخه کې "تابان" راغلی دی.

(۲) قلمي نسخې : " ته د ویل رحمان در ولعل شوه خکه"

(۳) چاپي دیوانونه : " نه شي د خانانو د ملنګو سره کلی" . د "خ" په لومړي نسخه کې "ویله کلی" راغلی دی.

(٤) دا غزل د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته ، په نورو قلمي نسخو کې " عیش جاودان" راغلی دی.

(۵) دا بیت د "خ" په نیګمري نسخه کې نشته ، په "ق ، ک" چاپ کې " د سر پېټی وړنه" راغلی دی.

Marfat.com

تمامي عمر دستا په طلب ورك يم　　　لټوم دې په هر ښهر په بيابان

۱۵۴

۱۷۸۳

كه له دره يې شړې كه يې پرېږدې نه (۱)
د پرمين دى ستا پر مخ عبدالرحمان

خوبه شمېرم زه څمونه د هجران　　　هومره د برديي لكه ريګ د بيابان (۲)

دسري دد ښمنۍ توان مې نه وُ　　　خداى را پېښه د ښمني كړه د آسمان

لكه خوك چې داونښ بار په مېږي كېږدي　　　هسې زه يم په خپل غم (۳) پورې ناتوان

لكه اور د ښلتانه چې په ما اوري (۴)　　　چالېدلې ګمنه اور دى په داشان

د يار غم به مې هغه سرې په شمار كړي (۵)　　　چې شمېرلي يې وښته وي يا د خپل ځان

كه خوك والي حال دى څه دى په هجران كې　　　په خاطر دې تصور كا د وزخيان

ناقرار زړه (۶) مې د يار په هوا والووت　　　تش صورت مې په ځاى پاتې شو پرېشان (۷)

د يار ياد مې (۸) زړه په غبو ستر ګو يو ووړ　　　لكه بت په دېوال كښلى يم حيران

ماوې زړه د مومن عرش دى خبر نه وم　　　چې په عشق زما دا عرش (۹) كاندې ويران

عاشقي تر هغه حده بې هوش كړم　　　چې نه هوښ لرم نه صبر نه سامان

لوړ د لوړه د تهمت په غونډ وويشت شم　　　ملامت را باندې والي درست جهان

۱۵۵

۱۷۹۵

چې دا حال ور باندې نه وي ور غلي
په ويل به څه ګوهېږي د رحمان

---

(۱) قلمي نسخه: "چې له دره يې شړې ګناه يې كوم دى　د پر دستا په مخ مين دى بو رحمان". (۲) قلمي نسخه: "خوبه شمېرم - دردخونه د هجران　هومره د بردي لكه شګې د بيابان". دا غزل د "خ" په دواړو نسخو كې نشته.

(۳) "ق ،ك" چاپ: "په خپل يار پورې ناتوان" راغلي دى. (۴) د "خ" په قلمي نسخو كې داسې دى: "لكه غم د ښلتانه چې په ما اوري". د "پ" لومړۍ نسخه: "لكه ستا د ښلتانه كا څې په ما اوري". (۵) قلمي نسخي: "زما غم به د هغه سري په شمار دى".

(۶) په "پ" چاپ او "پ پ" چاپ كې "روح" راغلى دى.

(۷) په چاپي ديوانونو، د "خ" لومړۍ نسخه او نيمګړې نسخه كې "حيران" راغلى دى.

(۸) په "پ" چاپ، "پ پ" چاپ كې "دم"، "ق ،ك" چاپ كې "غم" راغلى دى او دا بيت د "ح" په نسخو كې نشته. دوهم مسرۍ يې په چاپي ديوانونو كې داسې ده: "لكه بت چې په دېوال كې وي حيران".

(۹) د "پ" په لومړۍ نسخه كې "زړه" راغلى دى.

Marfat.com

ورکه عاشقي شه هم يې نوم هم يې نښان — زه يې هسې خوار کړم لکه شګې (۱) دبيابان
زه دعشق په کار کې تېر تر سره هم تر مال يم (۲) — کښتۍ که په سر مې دا مشکل کا خدای آسان
کښېوتم دعشق په آدم خور وګرداب نو — نه په وړاندې تلی شم نه په بېرته ګرېزان
رنځ دعاشقۍ چې زه ظاهر کړم وطبيب ته — هېڅ ويلی نه شي طبيبان او حکيمان
شهرياران د دنيا واړه ګدايان دي — زه دعشق په اور کې سوی سرګردان (۳)
نه مې حال وچا ته ووې چې داخه دی — عالم واړه په فکرت تللي حيران
دعشق اور را بانديې بل شو خدای خبر دی — اوس رسول شوم په عالم کې چاک ګرېوان

راشه عاشقي مه کړه رحمان اوکه نه وي
تل به په اور ناست يې که بادشاهي دجهان

١٥٦

١٨٠٣

خان سلطان د دې جهان — آخر د روي خوار حيران
دقضا په حبل تړلی — په مثال د بنديوان
شيرين ځان ورځنه دروي — نه يې زور رسي نه توان
که ښندي مال وملک واړه — هېڅ رنګ نه مومي امان
نه يې مل نه يې حامي وي — درد يې ورشي په خپل ځان
درمانده ورته ولاړ وي — وزيران او وکيلان (٤)
هېڅ دارو يې کړلی نه شي — کوز کوز ګوري حکيمان

---

(۱) په چاپي ديوانونو کې "خاک" او د "خ" په دويمه نسخه کې "لوتهه" راغلی دی.
(۲) د "ب" لومړۍ نسخه: "زه دعشق په کار کې تېر تر سره و مال يم".
د "خ" لومړۍ نسخه: "زه دعشق په کاردبار کې تر سره تېر يم".
د "خ" دويمه نسخه: "زه دعشق په کار کې تر سره و تر مال تېر يم".
مصوره نسخه: "زه دعشق په کاروزار کې تر سره تېر يم".
نيمګړې نسخه: "زه دعشق په کار کې تر سره تېر يم بارې خه کړم".
(۳) دا بيت او ورپسې دوه بيتونه د "خ" له دويې قلمي نسخې نه نقل شول. او په وزن کې له اصل غزل سره برابر نه برېښي.
(٤) د "خ" په نيمګړې نسخه کې "اميران" راغلی دی.

Marfat.com

بادشاهي يې پاتې کيږي     زړه يې چوي په ارمان
چې يې روح له تنه بېل شي     نور يې ژاړي فرزندان
يو ساعت ور باندې ژاړي     آخر صبر کا خوا ران
بيا يې غسل له ره واخلي     په تخته باندې عريان
په جامو يې هوسيږي[1]     مرده شوی او غسالان
چې له قبره يې بازگشت شي[2]     مال يې يوسي ميراثيان
په مسند يې دعوی کاندي     هم دوستان هم دښمنان
سهيلي به يې تالاکا[3]     هغه خپل مصاحبان
نام نښان يې هسې ورک شي     لکه عين بې نښان
نه يې نقش پاتې کيږي     نه يې اسم په جهان[4]
دا دنيا آب روان ده     نه شي نقش په آب روان
که هزار رنګ ابادي کا[5]     نهايت خانه ويران
لکه باد هسې به تېر شي     کاروبار ددې دوران[6]

١٥٧ دا بيان دور و دراز و
کوتاه قطع کړ رحمانه ١٨٢٤

---

(۱) په چاپي ديوانونو کې "خوشاليږي" راغلی دی.
(۲) په قلمي نسخو کې "بازګشت کا" راغلی دی.
(۳) چاپي ديوانونه : "سهيلي يې تالا کاندي".
"خ" دوهمه نسخه : "سهيلي دده تالا کړه".
مصوره نسخه : "سهيلي يې هم تالا کړه".
(٤) په قلمي نسخو کې "زمان" راغلی دی.
(٥) "ب" لومړۍ نسخه : "که ابادي کړي هزار رنګه".
"خ" دوهمه نسخه او نيمګړې نسخه : "که هزار آباداني کړه".
(٦) چاپي ديوانونه : "هغه دور هغه دوران".
"خ" په قلمي نسخو کې : "هغه دور د دوران".

Marfat.com

کـه څوا ترآشنايی وی ببلتـون(1) — ما به نه وې له چاکـري پيوستون

چې مې يار په سترګو وليد ماګومان کړ — چې هم دا ساعت مې بيا مونده ژوندون

په نيمګړې داد خبر د فلك نه وم(2) — چې به بيا شي په ستنه راڅخه ستون

نن ساعت چې له دې حاله خبردار شوم — سکه ترنن ورځې ښه تره وه پرون

هر زحمت چې پرما راشي شکرانه کړم(3) — عاشقي ترهسې حده کړم زبون

اوس که لاس يې بلـه مړم هېڅ سود نه کا — هغه چار چې مې له لاسه شوه بېرون

لکه لمر په څلورم آسمان ځلېږي — محبت يې له حجابه کړم بېرون(4)

چا چې رخه له ښه مخه راکولـه — اوس دې سوځي په نېلي ګرځي ګردون

په داهسې حال کې غړنګ صبور چې شي — چې دښمن دې کامراني کا ته محزون

که په صبر سره تور کاڼي لعل کېږي — لعل يې مدکړي په داهسې شوا خون(5)

د دنيا هوس په ما باندې حرام شو — دهوسی هسې کړم شپه په مېرتون(6)

دربغه يوځله هغه زما په حال شوی — چې وما وته لولوي صبر و سکون

ورمان ته څان هغه ګرمي آسمان شي

چې د ستا په غم کې(7) ناست وي سرنګون

۱۵۸ — ۱۸۳۷

---

(۱) دا غزل د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته ، د پښور په چاپي ديوانونو کې لومړی مسری داسې ده : " که څوا له آشنايی نه وی ببلتون".

(۲) د "پ" لومړی نسخه : " په نيمګړې داد فلك د خبر نه يم".

(۳) دا بيت د "خ" په نيمګړې نسخه کې نشته ، په نورو قلمي نسخو کې " شکرانه" راغلی دی.

(۴) دا بيت په قلمي نسخو کې نشته.

(۵) په چاپي ديوانونو او نورو قلمي نسخو کې " ځيګرخون" راغلی دی.

(۶) دا بيت په قلمي نسخو کې نشته.

(۷) د "خ" په لومړی نسخه ، نيمګړې نسخه او مصوره نسخه کې " چې د يار په غم کې" راغلی دی.

Marfat.com

## و

پخوا مه شه گرفتار د تورو زلفو — مه اسير شه(1) په کفار د تورو زلفو

هم پرېشان د تورو زلفو په پرېشان وي — هر چې کاندي انتظار د تورو زلفو

د محشر په عالم کله قراري وي(2) — څوك به څه غواړي قرار د تورو زلفو

خو يې صبح(3) د قيامت دميده نه شي — ورځ به نه شي شب تار د تورو زلفو

مگر شمع(4) د سپين مخ شي باندې بله — گنه نشته بل انوار د تورو زلفو

تار په تار کا د عاشق د خاطر خونه — چې حلقې شي تار په تار د تورو زلفو(5)

چې تمام جهان يې نښتي دي په دام کې — څوك به څه کاندې انکار د تورو زلفو(6)

زه له کومه، يو کمنده سره وکانم — کمندونه دي هزار(7) د تورو زلفو

هومره زړونه يې پېيلي په هر تار دي(8) — چې تسبيح کړه خداى زنار د تورو زلفو

په تندي د محتسب کا دره ماته — چې پرې راشي دره دار د تورو زلفو(9)

---

(1) د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه: "اسير مه شه".
(2) چاپي ديوانونه او د "خ" لومړۍ نسخه: "د محشر عالم به کله په قرار وي". خو "ب" چاپ کې د "کله" پرځای "څرنگ" راغلی دی.
(3) د "ب" نسخې او د "خ" دوهمه نسخه: "ولې صبح".
(4) مصوره نسخه: "لکه".
(5) د "خ" دوهمه نسخه: "چې حلقه شي حلقه مار د تورو زلفو". او چاپي ديوانونه، مصوره نسخه او د "خ" لومړۍ نسخه کې "چې حلقه شي" راغلی دی.
(6) "ق.ک" چاپ او "ق" چاپ: "څه به کاندي څوك انکار د دې وېښتانو".
(7) د "ب.پ" چاپ: "بسيار".
(8) د "خ" لومړۍ نسخه: "هومره زړونه يې پېيلي هر تار دي".
(9) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

Marfat.com

ملك د هند او د حبش یې واړه زېر کړ(۱) چې پیدا شو شهریار د توروزلفو

سامارا نوغوندې ګرځي په ګنجونو(۲) نه شي هیڅ په زړه کې دار د توروزلفو

که بل مار چیچل په لاسو یا په پښو کا(۳) په زړه خوله لګوي مار د توروزلفو

د رحمان ترقلم مشک و عنبر وورېږي
چې آغاز یې کړ اشعار د توروزلفو

۱۵۶ ۱۸۵۱

اوښکې نه لري حساب زما د سترګو بې حسابه شو سیلاب زما د سترګو

سیاهي مې همه واړه سفېدي شوه هسې پر بولې شو کتاب زما د سترګو

که مې سره دي که سپین دي که مې تور دي(٤) اوښکو یووړ هر اسباب زما د سترګو

چې رخسار د هغه یار راڅخه پټ شو حیف شو آب وتاب زما د سترګو(۵)

چې ګودرې په داګرمو اوښکو نه شو(٦) مګر کاني دي حباب زما د سترګو(۷)

که نور خلق د آفتاب په رڼا زیست کا(۸) مخ د ترکو دی له آفتاب زما د سترګو

ما یې خیال لره ابلق د سترګو زین کړ قدم نه دي په رکاب زما د سترګو

---

(۱) د "خ" دوهمه نسخه : "ملك د هند د حبش واړه زېر زېر کړ".
(۲) د "ب" پر لومړۍ نسخه کې "منګلو نو" راغلي دي.
(۳) "ق ک" چاپ ، "ن" چاپ او د "خ" دوهمه نسخه : "که بل مار چیچل په لاسو په پښو کاندي".
مصوره نسخه : "د بل مار چیچل پر لاس و یا په پښو وي".
(٤) دابیت په مصوره نسخه کې نشته لومړی مسرۍ یې د "ب" په لومړۍ نسخه کې داسې ده : "که مې سره دي که مې تور که مې سپین دي".
د "خ" لومړۍ نسخه : "که مې سره دي که مې سپین دي که مې تور دي".
د "خ" دوهمه نسخه : که مې سره دو که مې تور دو که مې سپین دو".
(۵) "س" چاپ او د "ب ب" چاپ : "چې رخسار د هغه یار راڅخه پټ شي حیف شي آب وتاب زما د سترګو".
"ق ک" چاپ : "یاقي نه شو آب وتاب زما د سترګو".
"ن" چاپ : "حیف چې یاقي شي آب وتاب زما د سترګو".
د "خ" دوهمه نسخه : "آو تر شو آب وتاب زما د سترګو".
(٦) چاپي دیوانونه ، مصوره نسخه ، او "خ" لومړۍ نسخه : "چې ګودران یې په داګرمو اوښکو نه شي".
د "خ" دوهمه نسخه : "چې ګدران مې په داګرمو اوښکو نه شي".
(۷) مصوره نسخه او د "خ" دوهمه نسخه : "مګر کاڼي شه حباب زما د سترګو".
(۸) د "خ" دوهمه نسخه : "که نور خلك د افتاب په مخ کې ګرځي".

Marfat.com

چې مې[1] نقش په زړه سرې شونډې دیار شوي
کان د لعلو شو گرداب زما د سترگو

لکه تښتي وحشیان له مردمانو[2]
هسې وتښتېده خواب زما د سترگو

١٦٠
ما رحمان چې سترگې روڼې په خپل یار کړې[3]
اوس محال شو[4] اجتناب زما د سترگو
١٨٦١

هر ساعت زما د غوږ په تا وولو
د فلک لاسونه شنه شوه تر څنګلو

هو مره غم د بېلتانه راباندې را غی[5]
چې حساب یې نه په خوله شي نه په کښلو

هغه سترگې چې نرگس وې هم بادام وې
تېرې تورې شوې زما په قتلولو

هغه شونډې چې شېرینې وې تر قندو
ما هېڅ فیض ترې بیا نه موند بې سکنځلو[6]

داکانې که بانه اوکړې ورو ځې
نور څه نه کا بې کړو وکړو وهلو[7]

په شپه نوکې د عاشق په وینو سرې کا
سبا پورې کا نکرېزې په منګلو

دا زما د قاتل لاس دی نه پوهېږم
که تر باغ وتلی خانې دی د سرو ګلو

دریغه مرګ یې په دنیا کې نیمه خوا شي
شایسته غوټۍ یې پرې یستې د ګلو[8]

١٦١
هسې بند شو په کمند د تورو زلفو
چې حیران یم در رحمان په خلاصولو[9]
١١٧٠

---

(1) دا بیت د "ع" په لومړي نسخه کې نشته. مصور نسخه: "چې یې نقش".
(2) د "ب ب" چاپ: "لکه وتښتي وحشیان له مردمانو".
"ق ک" چاپ: "لکه تښتي چې وحشیان له مردمانو".
مصور نسخه: "لکه تښتېده وحشیان که له مردمانو".
(3) د "ع" لومړي نسخه: "ما رحمان چې په سترګو روڼې په خپل یار کړې".
(4) چاپي دیوانونه، مصور نسخه او "ع" دوهمه نسخه کې "محال دی" راغلي دي.
(5) په مصور نسخه کې "اوري په" راغلي دي.
(6) د "ع" لومړي نسخه او مصور نسخه: "لو څه نه کړي یې کړو ورو د وهلو".
(7) دا بیت په مصور نسخه او د "ع" په لومړي نسخه کې نشته.
(8) دا بیت په قلمي نسخو کې نشته.
(9) د "ع" دوهمه نسخه: "څو حیران یم زه رحمان په خلاصولو".

Marfat.com

تا چې رنګ د میو ورکړو لبانو — او دې پوړې کړ په کور د میخوارانو
چې دې جوړه کړه لیندۍ د کږو وروځو — خوب به ښکار کړې په حرم د غزالانو(١)
چې دې اسود ختن په زلفو کښېنود — معطر دې کړ دماغ د دیوانګانو
په رخسار چې دې د خط غبار څرګند(٢) شو — سربلنده شوه خرقه د خاکسارانو
کاڼه غشي واړه بېرته چې لړ نښي — زه آزار کړم ستا کږو وکږو(٣) مژګانو
چې زما د یار تر منځه جدائي کا — کاڼي پر بوټي په خونه د بدانو(٤)
که مې چېرې خواست د خدای په در قبل شي — سوال به زه د عمر کړم د هوښانو
سور پېزوان دې په سروښونډو هسې زېب کا — لکه جیم په قلم ښکلی کاتبانو
د سرو ټیک دې شهزاده په جبین پروندی — شینکی خال دې محاصل په بندیوانو
د واړه لبچې دې وکښلې مصرۍ توري — درپوهېږم سر به پرې کړې د خوارانو

ستا له غمه په ځان زړه د رحمان سوځي
لکه شمع په زیارت د شهیدانو

١٦٢ — ١٨٨١

چې کوتلی وې په تیغ ستا د چشمانو — سر حلقه دی د جمله و شهیدانو
ستا وصال د سرپرېکړیو دی دلبره — ژوندي نه مومي جنت بې مړګانو
د پیرې سوری عاقل لره ضرور دی — دا مقام دی د سرتورو دیوانګانو
په سرپو بس محل(٥) کې نور د آفتاب نه وي — دا دولت دی نازل شوی په ګدایانو
هم په دا زماله سترګو وینې څاځي — چې دې نقش پکې رنګ دی د لبانو

---

(١) قلمي نسخه: "خوب دې زوبن کړې د حرم په غزالانو".
(٢) د "خ" په دوهمه نسخه کې "پیدا شو" راغلی دی.
(٣) د "خ" لومړی نسخه: "زه ادا کړم ستا کږو ورو و مژګانو".
د "خ" دوهمه نسخه او مصر نسخه: "زه ادا کړم ستا کږو وکږو ومژګانو".
او د "ب" لومړی نسخه: "زه ادا کړم ستا کږو و د خوږ مژګانو".
(٤) دا بیت او ورپسې نور بیتونه په قلمي نسخه کې نشته.
(٥) د "خ" په دوهمه نسخه کې "بازار" راغلی دی.

Marfat.com

مشکین خال دې په سرو لبو هسې زېب کا — لکه مُهر په مخزن د درمرجانو

۱۹۳ ماسوالله یا هرچې دی را ځ نسان ۱۸۸۸

وار ه کفر دی په دین د عاشقانو

که نظر کا څوك په کار د درویشانو — خود به ووینې وقار د درویشانو

په دغه لاره به ورشي خدای رسول ته[1] — که څوك يون کاندې په لار د درویشانو

هر گفتار به یې د خدای په در قبول وي[2] — چې قبول یې[3] وي گفتار د درویشانو

په یوه قدم تر عرشه پورې رسي — ماالبدلی دی رفتار د درویشانو

هسې گرم بازار بل په جهان نشته — لکه گرم دی بازار د درویشانو

هومره خلق یې زیارت[4] کا پس له مرگه — چې بازار وي په مزار د درویشانو

بادشاهان د دنیا واړه پرې پراته دي[5] — لکه خاورې په دربار د درویشانو

هر بهار لره خزان په جهان شته دی — خزان نه لري بهار د درویشانو

د جنت د باغ گلونه به یې هېر شي[6] — که څوك ووینې گلزار د درویشانو

چې دنیا یې کړه د خدای د پاره ترکه — صد رحمت شه په روزگار د درویشانو

د قارون وحال ته گوره حال یې څه شو — را شه مه کوه انکار د درویشانو

په هرچا چې د غضب لینده کا سنځه[7] — خطا نه درومي گوزار د درویشانو

---

(۱) دا بیت په مصور نسخه کې نشته. د "ب" په نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې دا مسری داسې ده: "په دغې لارې به ورشي و خدای ته".

(۲) "ق ،ک" چاپ ، "ق" چاپ او "خ" لومړۍ نسخه او مصور نسخه کې "قبول شي" راغلی دی.

(۳) "ب" چاپ ، "ق ،ک" چاپ ، "ق" چاپ کې "چې قبول یې کړه" راغلی دی.

(۴) قلمي نسخه : "طواف".

(۵) چاپي دیوانونه او د "خ" لومړۍ نسخه : "بادشاهان د دې دنیا واړه پراته دي".

د "خ" دوهمه نسخه : "بادشاهان د دنیا ورته پراته دي".

مصور نسخه : "بادشاهان د دنیا واړه پراته دي".

(۶) "ق ،ک" چاپ : "به دې هېر شي". د "خ" لومړۍ نسخه : "به یې هېر دي".

(۷) په قلمي نسخو او "ق ،ک" چاپ کې "غرکه"، د "ب" چاپ او "ق" چاپ کې "کسته" راغلی دی.

Marfat.com

١٦٤ — ١٩٠١

درست ديوان د [illegible] زار تر دا غزل (۱) شه
چې بيان يې کړ کردار د درويشانو

د پېغلو وان خمې دي ز ببکا پر لبانو — تورې زلفې دې ځنځير د عاشقانو (۲)
دا سور ټيک دې شهزاده پر اوربل پروت دی — شينکي خال دې معاني د بنديوانو
دواړه لب دې شايسته تر سرو ياقوتو — شرمولې ده ژلۍ ستا د ندانو
دوه رخسار دې دوه سېب د سمرقند دي — پر سينه دې دوه نارنج د رنځورانو
دواړه ليچې دې کړې کښلې مصرې توري — در پوهېږم سر به غوڅ کړې د خوارانو (*)
تورې وروځې دې کړې پر جبين (ز ببکا) (۳) — لکه جيم پر کاغذ کښلې کاتبانو
د پېرکه سيوري عاقل لره ضرور دي — دا مقام دی د سر تورو ملنګانو (*)
ستا وصال د سر پر بيګريو دی دلبره — ژوندي نه مومي جنت بې مردګانو (*)
د ليلى د کوڅې سپي پر مجنون پېښ شو — په باربار يې شکلاوه پر دوو عينانو

١٦٥ — ١٩١١

ماسوا له ياره هر چې وي [illegible] نا روا (*)
واړه کفر دی په دين د عاشقانو

کله څو په صحرا سر شوم هم په کليو — بيا مې نه موند هيڅ خبر د هغو تلليو
خداى زده کوم يې خواته لاړل حال يې خبرى — خبر نه يم د ګرنګ له پر يو تليو (٤)
له دې غمه مې زړه چوي که شوک خبر وي (۵) — لږ په ما هم خبر وکړي ځلاى ساتليو
پس له دې به چېرته در ومې ځاى مو کوم دى (۶) — راته والې د دنيا په سراى راغليو

---

(۱) مصوره نسخه: "تر دې غزل شه".
(۲) دا غزل د "خ" له درې قلمي نسخې نه نقل شو.
(۳) په قلمي نسخو کې "پر جبين پروت" راغلی دی. (*) دا شعر هېڅ نه په کليکينو غزلو کې تکرار راغلي دي.
(٤) دا بيت په مصوره نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۵) د "خ" د دويمه نسخه کې "که شوک خبر شي" او په مصوره نسخه کې "که شوک خبر يې ي" راغلی دی.
(۶) په نسخې او د "خ" لومړۍ نسخه: "پس له دې به چېرته در ومو ځاى موکوم دی". مصوره نسخه: "پس له دې به چېرته در ومم ځاى مې کوم دی." د "خ" لومړۍ نسخه: "پس له دې به چېرته در ومې ځاى دې کوم دی".

Marfat.com

کوندې ستاسو په مخ زه هم بېننده شم[1] — لاس د خدای و در ته نیسی و پسندلیو
هیڅ خبر چي په هیڅ لوري موندی نه شي — کد يې غواړې شیدا او وږخ په سړو پلیو
لدنا پوهه خلکه نه کېږي پوښتنه — زه و تاسي وته وایم پوهېدلیو[2]

۱۹۶ — ۱۹۱۹

خبر نه یم چي په باب مې کښلي څه دي؟
زه رحمان په اندېښنه یم له دې ښکلیو

ددلبرو په درګاه — نه حرمت[3] لرم نه جاه
غوڅوي مې د زړه ولې[4] — د چشمانو په نګاه
هومره قدر مې پرې نشته[5] — لکه قدر د ګیاه
يو نظر را باندې نه کا[6] — از براى عند الله
هیڅ له ځانه خبر نه یم — چي يې څه لرم ګناه[7]
که له غمه يې سر پټ کړم — بل سر نه لرم پناه[8]

۱۹۷ — ۱۹۲۶

د رحمان په خبر و مه شه[9]
حال احوال د چا تباه

---

(۱) چاپي دیوانونه او "خ" قلمي نسخې: "کوندې ستاسو په مخ زه هم پسندیده شم".
(۲) دا دوه بیته د "خ" له قلمي نسخې نه نقل شول او دوهم بیت د "پروین" په مجموعه کې هم شته.
(۳) د "خ" دوهمه نسخه: "عزت".
(۴) د "خ" دوهمه نسخه: "د زړه وینې".
(۵) چاپي دیوانونه: "هم نشته".
(۶) د "خ" لومړی نسخه: "ترو نظر را باندې نه کا".
(۷) د "پ" چاپ او د "خ" دوهمه نسخه: "چي نه څه لرم ګناه". "ق، ک" چاپ: "چي يې نه لرم ګناه".
(۸) دا بیت په مطبوعه نسخو کې نشته.
(۹) چاپي دیوانونه او نوي قلمي نسخې: "د رحمان په خبر دې نه شي".

Marfat.com

ورځ دې تېره په شوخۍ کړه شپه لخوب
خدای به کله یاد وي خانه خرابه

په شتاب شتاب دې تله دې که پوهېږې
غافل مه شه د دې عمر له شتابه

دلته دم وقت دواړه په حساب دي
پل غلط له لارې مه ږده بې حسابه

د ستورو خوځښت حساب دی په کتاب کې
خبر زده کړه له حسابه له کتابه (۱)

د خپلو نېکو بدو وته نظر کړه
چې بدي دې خوشېري کړې له ثوابه (۲)

په هغه جهان به خونګ خواب وکړې (۳)
چې په دا جهان عاجز یې له جوابه

عاقبت به تورو خاورو لره درومې
ځان به خوشنې په ګوته له ترابه (۴)

زه دې پېژنم په اصل کې تراب یې
ته چې ځان خښنې په ګوتو له ترابه (۵)

خوب دا جهان او به له تندې نه شي
په قیامت به دې سینه نه شي سیرابه

چې آفتاب پورې نېږدې شي بیا به خه کړې (۶)
چې نن (۷) سیورې لره تښتې له آفتابه

د کاغذ په کشتۍ سیر کوې رحمانه
داکشتۍ به دې مرګی کاندي غرقابه (۸)

۱۶۱

په آزار د چا راضي مه شه کاله نن کاله
که خلاصی په قیامت غواړې له عذابه

۱۹۳۸

په ورځ ناسته یې بې طلبه (۹)
په شپه خوب کړې بې ادبه

لاس دې وخاته له دواړو
هم له روزه هم له شبه

---

(۱) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۲) قلمي نسخې: "ته دا خپل نېک و بد وتله نجېله چې ثواب دې خوشېري کا له عذابه".
(۳) د "خ" لومړۍ نسخه او مصوره نسخه: "په هغه جهان به خرنګه خواب کړې". د "خ" دوهمه نسخه: "په هغه جهان به خرنګ ته خواب کړې".
(٤) دا بیت په قلمي نسخو کې نشته.
(٥) دا بیت او دوهم بیت له قلمي نسخې نه نقل شو.
(۶) قلمي نسخې: "نو د به خه کړې".
(۷) چاپي دیوانونه: "اوس چې".
(۸) دا بیت د "خ" په دوه وارو نسخو کې نشته. لومړی مسری یې په چاپي دیوانونو کې داسې ده: "د کاغذ په کشتۍ سیل په کړې تر کومه".
(۹) په چاپي دیوانونو او "خ" لومړۍ نسخه کې "بې مطلبه" نقل دی.

Marfat.com

نه دلې شوې نه هورې شوې — ترمنځ (۱) ورك (۲) شوې مذبذبه
عبادت دې په رِيا شو — په مذهب کې بد مذهبه (۳)
مدام بندي په سبب کې — بې خبر له مسببه
وار په تشې شروسې شارې — خبر نه شوې له مطلبه
ته اوده وربانده سور (۴) لې — آس دې يون کا بې جلبه
تن دې تش په توره وسو — آس دې داغ کړ بې منصبه (۵)
دراکب چې والك پردى شي — سودې خه وي له مرکبه
له ژوندیو سره ناسته (۶) — له مرده فی مرکبه
هلاك لوی شوې په اوبو کې — اوبه نه پېژنې کبه
لکه کانې یا کودري — په درياب کې تشنه لبه
ناآګاه ځان آګاه بولې (۷) — دا خبره ده عجبه (۸)
مراد له زهده معرفت دی — نه تش ځان وژل اقربه

۱۶۹ — دَ حاجي شراب له عشقه — ۱۹۵۳
نه له کوړوله عنبه (۹)

ته شهلا (۱۰) یې شکر لبه — ګل رخساره سیم غبغبه

(۱) د "خ" دې وارو نسخو : "ترمیان".
(۲) چاپي دیوانونه : "ودب شوې".
(۳) دا کلمه د "پ" په لومړۍ او د "خ" په لومړۍ نسخو کې "بې مذهبه" راغلې دی.
(۴) قلمي نسخې : "وربانده ناست لې".
(۵) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(۶) په "پ" چاپ، "ق" چاپ، "ق. ک" چاپ او د "خ" لومړی او دوهمه نسخه کې "ناست لې" او "پ پ" چاپ کې "ناست دی" راغلی دی.
(۷) قلمي نسخې : "ناګاه خپسر اګاه بولې".
(۸) "ق. ک" چاپ او "ق" چاپ : "دا خبره عجائبه".
(۹) چاپي دیوانونه : "نه انګور نه له عنبه".
(۱۰) د "پ پ" چاپ کې "شهلا" راغلی دی.

Marfat.com

په نادرو کې نادره     په عجبو کې عجبه
په جمله ؤ معشوقو کې     بوالعجب یې منتخبه
بې زیوره ښایسته یې(۱)     بې ترتیبه مرتبه
دغه داد د الهي دی(۲)     بې تا لا شه بې طلبه
آب حیات چې حیات بیا موند     ستا د شونډو له سببه(۳)
مخ دې سپین تر سپین سبا دی     زلفې تورې تر تور شبه
ستا د مخ عرق دانه وو     زینت راني له کوکبه(٤)
د ښایست مخې دې نشته     تر مشرقه تر مغربه(۵)
د وصال مونده دې گران دي     مگر فضل شي له ربه(٦)
چې د رب فضل پرې وشي     هغه خلاص شي له غضبه(۷)
دا دولت د خدای په داد دی     مونده نه شي له نسبه(۸)
عشق څه هسې علم نه دی     چې حاصل(۹) شي له مکتبه
مکتب حال د مذهب وایي     عشق سیوا دی له مذهبه
د عاشق مذهب هم دا دی     چې ذم نه وي بې مطلبه(۱۰)

۱۷۰    ستا د حسن په تعریف کې
تاج گونگ دی(۱۱) له ادبه    ۱۹٦۹

(۱) قلمي نسخې: "بې زیوره دل فریبه".
(۲) د "خ" قلمي نسخې، "دالیو داد الهي دی".
(۳) د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه او د "پ" لومړۍ نسخه: "آب حیات حیات بیا موند ستا د لبو له سببه".
(٤) په اینور چاپي دیوان: "ستا د مخ عرق دانه ده زینت دار له کوکبه".
(۵) دا مسرۍ په مصوره نسخه کې داسې لوستل کېدای شي: "مگر پهر وشي له ربه".
(٦) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته، په نورو قلمي نسخو کې دا مسرۍ داسې ده: "مگر پهر شي له ربه".
(۷) دا بیت د "پ" په لومړۍ نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۸) د "خ" لومړۍ نسخه کې "منصب" راغلی دی.
(۹) په قلمي نسخو کې "حاصلیږي" راغلی دی.
(۱۰) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته، د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې: "ذم نه دی بې مطلبه". په "ق" چاپ او "ق.ک" چاپ کې د "نه وي" پر ځای "نه دی" راغلی دی.
(۱۱) په چاپي دیوانونو کې "مشو" او د "خ" په دوهمه نسخه کې "یم" راغلی دی.

په هر ذره چې د يار مينه شي غالبه — بله مينه يې هيڅ نه وي مناسبه

نورې واړه مرتبې به ورته هيڅ شي — که خبر شي څوك له هسې مراتبه

لياقت يې هر وګړي څخه نشته — عاشقي يوه پايه ده عجايبه

د طلب له کوتاهۍ وېره وکړه[1] — که هر څو دې لاره کوتاه ده طالبه

عشق څرګند ده خزانه ده خوار هغه شو — چې څرګند ده خزانه شوه ترې غايبه

غوره[2] خط د هر ويانې ترخط نشته — که هزار رنګ کتابونه کړي کاتبه

هيڅ يې مه پوښته له فرضو له واجبو — په هغو چې عاشقي کړي خداى واجبه[3]

عاشقان ترسر و ماله يار ته تېر دي — خداى دې داطائفه نه کاندي کاذبه[4]

۱۷۱

زه کاکاخان دخپل صاحب په خازيست کړم
خه په کار دي بنده بې خپله صاحبه[5]

۱۹۷۸

تاچې په دا تورو سترګو وکاته وماته — زړه دې زما تورکړله دې نوره مخلوقاته[6]

ما خو چې ته وليدې هغه ساعت مې ووې — نوره به مې مينه د زړه نه شي له تا ماته

شېخان او زاهدان چې نصيحت وماته وائي[7] — نه دي خبر شوي ستا دغه له محسناته

خه وشو که زه انګشت نما شوم ستا په مينه — لا ترماته خوښ يې وقاضي وهم ملاته[8]

مرم په دا چې ماله تا جار باسي هغه خلق — بيا دې په ديدن ترما پرږدي حُغلي وخواته[9]

---

(1) د "خ" لوړي نسخه : "دمطلب له کوتاهي وېره ومه کړه".

(2) د "ب" په لوړي نسخه کې "دوړ" او د "خ" په دوهمه نسخه کې "بهتر" راغلي دي او هم دابيت د "خ" په لوړي نسخه کې نشته.

(3) د "خ" لوړي نسخه : "په هغو چې ديار مينه شوه واجبه".

(4) دابيت په مصوره نسخه کې نشته ، په لوړۍ قلمي نسخه کې دوهمه مسرى داسې ده : "خداى به داطايفه نه کاندي کاذبه".

(5) چاپي ديوانونه : "خه په کار دي دابنده بې خپل صاحبه".

(6) دې رديف قول مېتونه د "ب" په دوهمه او د "خ" په لوړي قلمي نسخه کې نه دي راغلي.

(7) دا مسرى په "ب" چاپ او د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلې ده : "شېخو وزاهدان چې نصيحت والي وماته".

(8) دامسرى په "ب" چاپ کې داسې راغلې ده : "لا ترماته خوښ يې وقاضي ته هم ملاته".
په "ب ب" چاپ کې داسې راغلې ده : "لا ترماته خوښ يې وقاضي وهم ملاته".
د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلې ده : "لا ترما خو مينه کړه د قاضي او د ملاته".

(9) د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې راغلې ده : "بيا دې په ديدن ترما ورنې زغلي وخواته".

Marfat.com

۱۷۲ — ۱۹۸٤

زه رحمان چې دې وینم یاره وایم خدایه خیر کړې

ګنهٔ ښاپېرۍ ده دېنی آدم له ذاته (۱)

که د عقل څه اثر لرې وسر ته — لاس په سر مه شه د هر ګېدهي ودر ته

په نظر د هغو خاورې سره زر کېږي — هر چې نه لري نظر (۲) وسیم و زر ته

بې منته جام د زهرو خښلی ښه دی — نه هغه چې منت بار (۳) روښي وکوثر ته

د یوسف له حاله زده کړه د غه پسه — وا یه حال د زمانې و برادر ته

دې فلك وچا ته هېڅ ښښلي نه دي — چې يې نه دی راپېرودی څنې بېر ته

د خروار دعوی يې وګنه ممکنه — که يې پوه وي ديوې جو دانې در ته (٤)

که له خدایه دې وخلق وته مخ شي — له فردوسه به دې مخ شي وسقر ته

همېشه به دې په درګې رتلی — داستوګنې ځای به بیا نه مومې چېر ته (۵)

۱۷۳ — ۱۹۹۳

د دې سست بدن منت په رحمان باندې

چې له خپله دره تلی نه شي بل در ته

چې نظر کړم د خوبانو و رخسار ته — حق حیران د خدای په کړه شم ودې کار ته (۶)

له دهشته يې د يبار پوښتنه نه شم (۷) — خدای زده څه به يې ویلي وځي یار ته

خلوتیان لکه برده پکې خرڅېږي — غږ يې نه خېږي د حسن وبازار ته

---

(۱) دا بیت په "ب" چاپ کې داسې راغلی دی: "زه رحمان چې یار ووینم وایم خدایه خیر کړې — ګنهٔ ښاپېرۍ ده دبني آدم له ذاته".
په "پ ب" چاپ کې دا بیت داسې راغلی دی: "زه رحمان چې ووینم یار وایم خدایه خیر کړې — ګنهٔ ښاپېرۍ ده دبنی آدم له ذاته".
د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې دا بیت داسې راغلی دی: "زه رحمان چې یار ووینم خدایه خیر کړې — ګنهه ښاپېرۍ ده دبنی آدم له ذاته".

(۲) په مشهوره نسخه کې "حاجت" راغلی دی.

(۳) په چاپي دیوانونو او "خ" دوهمه نسخه کې "منت بار شي" راغلی دی.

(٤) چاپي دیوانونه: "که رتي یا حودانه به يې دي در ته".

(۵) قلمي نسخې: "داستوني ځای به نه مومې هیچېر ته".

(۶) چاپي دیوانونه: "آئینې غوندې حیران شم ودې کار ته".

(۷) د "ب" لومړۍ نسخه: "له دهشته يې دیبار ته کتای نه شم".

Marfat.com

ته چې ما پوښتې د يار له حقيقته — خوك د يار خبرې كاندي واغيار ته

درد و غم د عاشقۍ څه هومره نه دي — چې لې عقل د چا رسي و مقدار ته

زه و يار چې سره خپل غمونه شماركړو — يار و ما ته حيرانيږي زه و يار ته

د دنيا چارې همه واړه په وار شي — ما د يار غمونه نه پريږدي و وار ته [۱]

۱۷۴ — ۲۰۰۱

ناصح (لاكن) هسې وزګار چېرې دی له عشقه [۲]

چې غوږ و نيسي ناصح غوږې وزګار ته

ما د دهر غم وهلی دی په لته — د پيالې د صراحۍ له بركته

كه اوبه دي د حيات و په ظلمت كې [۳] — ساده ن ويو و ما راكړې بې ظلمته [٤]

هغه يار چې و ما جام د ميو راكړ — د دښنو وينې مې وڅښې بې شدته [۵]

بې خودۍ د دنيا له غمه خلاص كړم [۶] — لا رمې بيا مونده بيرون له شش جهته

د دښمن په دښمنۍ مې خنداكيږي [۷] — لكه شمع د مقراض له خصومته

بې خبري مې كل په خپل باندې شمېرلي — د زمرې په خوله كې ناست يم فراغته

مې بهتر دی تر هغه چې خوك بې پت شي [۸] — په يارۍ كې د خدای نه كا خوك بې پته

داسې چې په اور سوځي مرادي دادی — چې په اور كې سوی بنده يم نه بې پته [۹]

خدای ها له د سري ياد شي چې دردمند شي — كه نه ده دردمندي تر عبادته

---

(۱) دا بيت په چاپي ديوانونو كې نشته او "ب" په لومړي نسخه كې د "وار" پر ځای "يار" راغلی دی.

(۲) دا بيت "خ" په لومړي نسخه كې نشته.

(۳) "ب" چاپ او "ب ب" چاپ كې "په تورتم كې" راغلی دی.

(٤) "خ" په لومړي او دوهم نسخه كې "بې منته" راغلی دی.

(۵) "ب ب" چاپ او "ق ك" چاپ كې د "بې شدته" پر ځای "بې شربته" راغلی دی.

(۶) "خ" دوهم نسخه: "بې خودۍ زه د دنيا له غمه خلاص كړم".

(۷) "ب" نسخې او "ح" لومړي نسخه: "خنداشي" او "خ" دوهم نسخه "خندا راشي".

(۸) مصور نسخه كې "بې ننګ شي" راغلی دی.

(۹) "خ" دوهم نسخه: "داسې چې شيرين خان سيزي په اور كې مرادي دادی چې په اور كې سوی بنده يم نه بې پته". په چاپي ديوانونو كې دا دوهم مسره كې "ځي" پر ځای "ده" راغلی دی.

Marfat.com

په تدبير و په تلاش كله مونده شي — چې موقوف وي هغه كار په عنايت[۱]

كه څوك سل نصيحتونه ورته وكا — غوږ يې نه وي دهغه په نصيحت

۱۷۵ زه رحمان په سل حلقو د زلفو بند يم

لا د پاسه يو پېزوان شو بله نته[۲] ۲۰۱۳

ستا په مخ كې څه[۳] حساب د جمال نشته — څكه ما څخه د صبر مجال نشته

ته د سرو د مال وېره په ما مه كړه — وېره ما څخه د سرو د مال نشته

زه په دا سبب له وېرې سره زېړ دم — چې ستا وېره كې ثواب دى وبال نشته[٤]

كه وعده د بوې چارې يو ساعت كړې — دهغې چارې اميد مې په كال نشته

د شهيد و حال ته ګوره حال يې څه دى — يې تا هسې حال زما دى بل حال نشته

روښنايي مې د چشمانو ستا ديدن دى — په دا كور كې بل چراغ او مشال نشته

په جويبار زما د سترګو سرو ته يې — په دا نهر باندې بل څه نهال نشته[٥]

مخ دې بې خطه بې خاله هسې زېب كا — چې يې هيڅ حاجت په خط و په خال نشته

مخامخ كه راته وګورې دلبره — په كاته كې دې ثواب دى وبال نشته[٦]

د آفتاب په مخ كې هره ورځ زوال وي — ستا د حسن په آفتاب كې زوال نشته

په جذبه د محبت مې ځان ته راښكه — نور حاجت مې په رېبار او دلال نشته[۷]

۱۷٦ ستا په ياد و رحمان هسې رنګ مشغول دى

چې په زړه كې يې هيڅ غم د وصال نشته ۲۰۲۵

---

(۱) دا بيت او ورپسې بيت له قلمي نسخې نقل شول.

(۲) چاپي ديوانونه: "لا د پاسه سوو پېزوان شو بله نته".

(۳) په چاپي ديوانونو كې د "څه" پر ځاى "چې" او په منصوره نسخه كې "هيڅ" راغلى دى.

(٤) قلمي نسخه: "چې ستا وېره د ثواب دى وبال نشته".

(۵) قلمي نسخه: "په دا نهر باندې خير نهال نشته".

(٦) دا بيت په قلمي نسخه كې نشته.

(۷) دا بيت د "ق.ک" له چاپي ديوان نه نقل شو او په نورو چاپي ديوانونو او قلمي نسخو كې نشته.

Marfat.com

مخ ته که دې لمس وایم د لمس زلفې تار تار نشته — سرو که ستا قد بولم د سرو یې رفتار نشته (۱)

هر خولۀ چې دې ستا وآتشین رخسار ته وایي — پوچ وایي داور په مخ کې وقر د ګلنار نشته (۲)

زلفې دې نا حقه خولۀ سنبل بولي دلبره (۳) — ولې چې له مښکو سره هیڅ د کیاه کار نشته

ماچې غږ په غوږ و ستا د ر د سپیو واوریده — هسې رنګ بلبله په چمن کې په ګفتار نشته (٤)

ستا د بدن هغه کاچې یې سر په تن ناس نه وي — ولې چې تو سر د خښتن حور و وته لار نشته (۵)

١٧٧ — ٢٠٣١

یار به د رقیب په لوري خدای نه کا ګمان نه مه (۶)
ولې چې د سپیو فرښتو سره څه کار نشته

که خولۀ لاس له سوده وکا بې زیان نشته (۷) — په ملنګ باندې قلنګ او تاوان نشته

دوفا خریداران دې بل خوا د ر و مي (۸) — د امتاع د زمانې په دوکان نشته

جدایي له آشنایۍ نه پیدا کیږي — نا آشنا له هیڅ غم د هجران نشته

مګر ځان وخدای ته وسپاري امان شي (۹) — کنه بله خوا د هیچا امان نشته

---

(۱) د "پ" نسخې : "قد که دې سرو بولم د سرو یون رفتار نشته".
"ق" چاپ او "ق. ک" چاپ : "سرو که ستا قد بولم د سرو خوش رفتار نشته".
د "خ" لومړۍ، دوهمه او مصورې نسخو : "قد ته که دې سرو بولم د سرو یون رفتار نشته".

(۲) د "خ" لومړۍ نسخه : "پوچ وایي داور په مخ کې بل هسې ګلزار نشته".
د "خ" دوهمه نسخه : "پوچ وایي داور په مخ کې قدر د ګلزار نشته".

(۳) چاپي دیوانونه : "زلفې دې نا حقه خلک بولي د سنبل صنم".

(٤) د "پ" لومړۍ نسخه : "ماچې داوریده غږ د ستا د سپیو — هسې رنګ بلبل هیڅ په چمن کې خوش ګفتار نشته".
د "خ" دریمې او څلورمې نسخې : "ماچې غږ په غوږ و داوریده ستا د سپیو — هسې رنګ بلبله په هیڅ چمن کې خوش ګفتار نشته".

(۵) دابیت د "خ" په دوهمه او مصوره نسخو کې نشته، په نورو نسخو کې دابیت داسې دی : "ستا د بدن هغه که چې یې سر په تن نه وي — ولې سر د ختنان حور و ته لار نشته".

(۶) د "پ" لومړۍ نسخه : "یار به د رقیب په لوري خدای نه کا ګمان نه — ولې چې فرښتو سره د سپیو هیڅ کار نشته".
د "خ" مصورې نسخې کې یې دوهمه مسرۍ داسې ده : "حق دی چې د سپیو فرښتو سره کار نشته".
د "خ" لومړۍ نسخه : "حق دی چې د سپیو فرښتو سره روزګار نشته".
د "خ" دوهمه نسخه : "حق دی چې د سپیو و فرښتو وته لار نشته".

(۷) د "خ" دوهمه نسخه : "که خولۀ لاس له سوده واخلي زیان یې نشته".

(۸) "پ" چاپ او "پ پ" چاپ : "دوفا خریداران بل خواته دې در د مي".
د "پ" لومړۍ نسخه : "دوفا خریداران و بله خواته در ومي".

(۹) "پ" او "پ پ" چاپ : "مګر ځان د خدای ته یا سلي په امان شي".
"ق" چاپ : "مګر ځان د سپاري خلک ته په امان شي".

Marfat.com

هغه یار به زه وګومې خوا ته غواړم — چې یې هیڅېرې منزل و مکان نشته

دلبران که هرڅو ډېر شي په جهان کې — زما یار غوندې دلبر په جهان نشته

چې یې قد لري هم زلفې هم سرې شونډې — د غه حسن رنګ آفتاب په آسمان نشته[1]

عشق عاشق له ره یو حسن ګلستان دی — چې و باغ وته یې[2] لاره د خزان نشته[3]

عاشقان په عشق کې واړه سلطانان دي — په دا شهر کې نیستګار او ناتوان نشته

که مجنون غوندې په عشق کې څوک صادق شي[4] — دلیلي په دروازه کې دربان نشته

دانایان به د رحمان په قال پوهېږي[5]

دلته کار د هر ناهل و نادان نشته

۱۷۸ — ۳۴۲

په دنیا کې مخ د یار دی نور څه نشته — هر چې دی د یار دیدار دی نور څه نشته[6]

چې وهجر و وصال ته یې نظر کړم — یو دوزخ دی بل ګلزار دی نور څه نشته

کارخانې چې ددې دهر لیدې کړي — همګي د عشق سرکار دی نور څه نشته

هر مژګان یې په ماهسې چارې کاندي — والله عین ذوالفقار دی نور څه نشته[7]

بویه مرد چې یې له مخه زلفې وا خلي — د غه ګنج دی د غه مار دی نور څه نشته

د محسن د حسنات صفت به څو کړم — کوتاه والله چې بې شمار دی نور څه نشته

وهلو ته چې د زړه په غوږ و ځېر شم — جوړ د محبت بازار دی نور څه نشته

چې سپین مخ او تورې زلفې یې لیدې شي — د غه ګنج دی د غه مار دی نور څه نشته[8]

هر طبیب ته چې ځان و بنیم دا وایي — چې له عشقه دې آزار دی نور څه نشته

خوار رحمان که یې تامینه په بل چا که

عین د قتل سزاوار دی نور څه نشته

۱۷۹ — ۲۰۵۲

---

(۱) دا بیت په "پ" چاپ، "ق، ک" چاپ، د "خ" لومړۍ او دوهمې نسخو او مصوره نسخه کې "جهان" او په "پ پ" چاپ کې "دوران" راغلی دی.
(۲) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته. (۳) د "خ" لومړۍ نسخه: "چې یې باغ وته لار د خزان نشته". (۴) "ق" چاپ او د "خ" دوهمه نسخه کې "صادق وي" راغلی دی.
(۵) د "پ" لومړۍ نسخه: "دانایان د رحمان په قال پوهېږي دلته کار د هر ناهل و ناتوان نشته". (۶) دا غزل د "خ" له دوهمې نسخې او د زلمي هیوادمل د خطي کتابونو له قلمي نسخې نه نقل شو په نورو قلمي نسخو او چاپونو کې نشته. (۷) دا بیت او دریم ورپسې بیتونه د "خ" په نسخه کې نشته. (۸) دا بیت د زلمي هیوادمل د خطي کتابونو په نسخه کې نشته.

Marfat.com

تا خو زده زما د زړه لـه احتیاجه — نور[1] مې څه پوښتې چې څه غواړې محتاجه
د طالب و مطلوب راز به ما د ږ وښود — که ته نه وای خبردار له دې رواجه[2]
یار ته یار که حال په خوله نه وایي څه شو — حکیم ته پټ څرګند وي لـه مزاجه[3]
که زما له حاله ما پوښتې حال دا دی — چې بې تا مې ورځ تیاره ده تر شب داجه
اشنایي به ما په کوم قوت کولـه — که خبر وی ستا د هجر لـه تاراجه
که له سلوک په یوخواست د چا قبلیږي[4] — خدای دې هیڅوک نه ځوروه کا بې علاجه

۱۸۰ — په سر تاج بلا پسې که زهیرین ي
ته مشغول اوسه له خپله تخت وتاجه — ۲۰۵۹

چې خبر شوم د ساقي د جام له راحه — لکه مړی ملاقي شوم لـه ارواحه
زه چې زلفې د یار وونیم په خوب کې — په شپه منبلک را باندې ووري تر صباحه
سبا زیری د وصال په مهجور کاندي — د هیواد خبر موندۀ شي له سیاحه[5]
که روا کا خون خوړن د عاشقانو — خوک وتې شي د خوبانو لـه صلاحه
هر ساقي چې جام د عشق لري په لاس کې — دا پیاله یې په مستانو ده مبـاحـه
مخ بې مېنې که خوک ستایي ستاینه شي — د ممدوح له قدره چا زده بې ملاحه[6]

---

(۱) د "ب" نسخه: "بیا مې څه پوښتې". او د "خ" په لومړی نسخه او مصوره نسخه کې "ترو مې څه پوښتې" راغلی دی.
(۲) د "ب" نسخه: "د طالب ود مطلوب روش به ما در ووښو — که ته نه یې خبردار لـه دې رواجه".
د "خ" لومړی او دوهمه نسخه: "د طالب مطلوب روش به ما در وښود — که ته نه وای خبردار له دې رواجه".
مصوره نسخه: "د طالب د مطلوب دود به ما در وښود — که ته نه وای خبردار له دې رواجه".
(۳) د "خ" دوهمه نسخه: "وطبیب ته خود معلوم دي له مزاجه".
(٤) چاپي دیوانونه: "که په سلوک یوخواست د چا قبلیږي".
(۵) دا مسرې په "ب" چاپ کې داسې راغلې ده: "د مهجور خبر موندۍ شي صباح".
دا مسرې د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې داسې ده: "د هواخبر موند، شي له صباح".
د "ب" په لاسیه قلمي نسخه کې هم د "خ" د دوهمې نسخې غوندې راغلې ده.
(٦) دا بیت د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې نه دی راغلی.

Marfat.com

۱۸۱ — ۲۰۶۶

د دنیا ناوې په عقل کې دین غواړي
ای رحمان خان یې ژغوره له نکاحه[1]

ولې تللی یې له ما مدام په خه — ترهېدلی یې هر صبح وشام په خه[2]
زه هر صبح وشام وتاوته دعا کړم — ته وما وته کوې دشنام په خه
همېشه لکه وحشي په وحشت ګرځې — یو ساعت راسره نه یې رام په خه
دایماً راتخنه د روې مخ په وړاندې — لکه عمر بېرته نه دې ګام په خه[3]
راته وایه زه به هم هغه کومه — رقیبانو[4] ته ببښي انعام په خه
لن پرهېز کړه له رقیبه د خدای روی[5] دی — ګډ وې سره حلال حرام په خه

۱۸۲ — ۲۰۷۳

رحمان ستا په مخ یې خنوم[6] مېن دی
یې هوده دې ورته کېښود دام په خه

ولې نه ګورې وما ته سم په خه — زیاته وې دغم زده وُ غم په خه
ستا په غم کې چې ماویني عالم ژاړي — ژړوې راسره نور عالم په خه
په مطلب دې دسره وشوند ونه پوهېږم — چې مې وینې د زړه څښې هر دم په خه
ودې خیلو مستو[7] سترګو ته دې وایه — چې وډژني[8] مې قلم قلم په خه
ستمګار چې ستم کا خه بهانه کا — ته په ما باندې کوې ستم په خه

---

(۱) دا مسره په "ب ب" چاپ کې داسې راغلې ده: "اې رحمانه خان ترې ژغوره له نکاح".
"خ" په لومړي قلمي نسخه کې داسې راغلې ده: "اې رحمانه خان ژغوره له نکاح".
(۲) ...
(۳) "خ" لومړۍ نسخه: "لکه عمر به بېرته نه دې ګام په خه".
(۴) په چاپي دیوانونو کې "حاجیانو" راغلي دي.
(۵) چاپي دیوانونو او "خ" لومړۍ نسخه: "لن پرهېز کړه له رقیبه خدای د پاره".
(۶) "خ" په ... نسخه کې "..." پرځای "..." راغلي دي.
(۷) چاپي دیوانونو او "خ" لومړۍ نسخه کې "بوند مستو سترګو" راغلي دي.
(۸) "ب ب" چاپ او "ن" ... چاپ کې "ورتړني" پرځای "داوژني" راغلي دي.

Marfat.com

مه کړه خدای چې څوك بې یاخوښ خرم وي — زه به او سم بې تا خوښ خرم په څه

زه رحمان پخپله ګرم یم چې مېن شوم — دغه نور عالم مې بولي ګرم په څه [۱]

۱۸۳ — لر یې وپوښته چې حال یې د زړه څه دی
د رحمان له ستر ګو څاڅي نم په څه — ۲۰۸۱

که څه وایم له هجرانه وایم څه — له دې درد بې درمانه وایم څه

توان د دم وهلو نه لرم ویارته — چې توان نه لرم بې توانه وایم څه [۲]

چې یې ووینم له ځانه خبر نه یم — چې خبر نه یم له ځانه وایم څه

د خپل زړه له حاله هیڅ راویل نه شي — له بې نامه بې نښانه وایم څه [۳]

د عشق راز چې هیڅا نه دی بیان کړی — تر و به زه لـه دې بیانه وایم څه

د خپل یار له غمه درست په او بنکو ډوب یم — له دې هسې رنګ توفانه وایم څه

زه چې پروت یم د هجران په تناره کې — د وصال له ګلستانه وایم څه

سر و مال د سړي لوټ کا زړه یې یوسي — له دې هسې دلستانه وایم څه

زاغان بولي بلبلان شړي له باغه — د دې دهر له باغبانه وایم څه

۱۸۴ — هرچې وایم تر همه واړه بهتر دي
زه رحمان بې له جانانه وایم څه — ۲۰۹۱

څه شو که خاموش یم ستا د عشق له آه سړه — ستا زماله مینې خلق واړه خبر ده

هیڅوك دې په خوله د عاشقۍ لاف و نه کا — کله هم پټیږي وچې شونډې ګونه زرده

اهل د دنیا واړه نامردي رنګ یې ورك شه — خدای دې ملاقات له هیچا نه کا له نامرده

---

(۱) دا بیت د "خ" په قلمي نسخو کې نشته، په چاپي دیوانونو کې داسې دی: "رحمان خود پخپله ګرم یم چې مېن شوم — ولې نورعالم مې بولي ګرم په څه".
(۲) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۳) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته، د "خ" په دوهمه نسخه کې یې لومړی مسرۍ داسې ده: "د خپل زړه له حاله هیڅ ویلای نه شم".

Marfat.com

کله بې درد انو لره زړه دي چا وکړي (1) | نه به صدقه کړم سل بې درد له اهل درده
بې دستاد عشق د شهيد نوله خاک دانه | کله زده غوندې سره لاله لره گرده (2)

۱۸۵ — ۲۰۹۷

يو خوشحال او يو کم سل ختک نور په طبيعت کې
زار شه د (داړان) ماغ سړني له يوه فرده

که زما مينه په تا ده خطا نه ده | که بې تا ده نارواده روانه ده (3)
خوک چې بې دستا له مخه بل ته گوري (4) | آيينه بې نا صفا ده صفا نه ده
هر عاشق چې په خپل يار پسې ژړا کا | داغ زما واړه خندا ده ژړا نه ده
د دنيا په تماشا چې خوک نازېږي | خو هم نن بې تماشا ده سبا نه ده
که ته سل ځله له ما سره جفا کړې | ستا جفا واړه وفا ده جفا نه ده
هغه ته به شو چې مې مينه په غلا غلا کړه | اوس په درست جهان رسوا ده په غلا نه ده (5)

۱۸۶ — ۲۱۰٤

معشوقه که د خپل سر په بها مومي
و (داړان) ماغ ته وېړيا ده بها نه ده

له اغيار سره خندا خه په کار نه ده | له اغيار سره سودا خه په کار نه ده
سل ياري ديوه يار د پاره کړې شي | آشنايي د هر آشنا خه په کار نه ده
بد له بد و سره بويه نېک له نېکو | د جفا په ځای وفا خه په کار نه ده (6)
هر بلبل به دې ثنا کا که ته ګل شې | په خپل ځان خپله ثنا خه په کار نه ده

---

(1) دا بيت په "خ" او "ح" کې داسې راغلى : "کله بې درد انو لره زړه دچا ورددومي".
(2) دا بيت د "خ" په درې واړو نسخو کې نشته .
(3) "ن ک" چاپ : "بې له تا که په بل چا ده روانه ده".
(4) د "ب" لومړۍ نسخه : "خوک چې بې دستاله مخه گوري د بل مخ ته".
د "ح" لومړۍ نسخه : "خوک چې بې دستا له مخ د بل سر گوري".
د "خ" دويمه نسخه : "هر خوک چې بې دا ستا له مخه بل مخ گوري".
د "خ" مصورہ نسخه : "خوک چې بې دستاله مخه بل خوا ته گوري".
(5) دا بيت د "ح" په لومړۍ نسخه کې نشته ، په نورو قلمي نسخو کې : "هغه ته بې شو چې مو مينه په غلا غلا کړه اوس په درست جهان رسوا شوه په غلا نه ده".
(6) دا بيت په مصوره نسخه کې نشته .

عشق د بوی[۱] په خبر په پټه خوله څرګندوي — په داچار وکې غوغا ښه په کار نه ده

دعشق درد واړه عاشق لره راحت وي[۲] — د دې هسې درد دوا ښه په کار نه ده

عاشقان وحرص هوا دي سره لرې[۳] — د بیمار په ځان هوا ښه په کار نه ده[٤]

عاشقي نادره چار ده په جهان کې — ولې بې خدایه سودا ښه په کار نه ده[٥]

که یې کړم هم هیڅ یې نه ګڼم سوګند دی[٦] — وابستګي د دې دنیا ښه په کار نه ده

د دنیا مینه بې کاره او ربړه شي — چې مې ولېده د بېنتیا ښه په کار نه ده[۷]

که رحمان په جهان د بې پایه دلبره — ژوندګي زماني تا ښه په کار نه ده

۱۸۱ — ۲۱۱۵

کوره بیابه خواک ادا[۸] کا په زړه غونډه — چې دا هسې مسته د دوی مخ بر بنډه

ته چې ګل د آشنایي له باغه غواړې — خبر زده که ړه د هجران له خار وخنډه

طالبان که مر ورديې هم پخلا دي — بې مطلوبه د چا نه رسي داهنده

مارستم د دهر ولېده په سترګو — د خپل یار له جوره ژاړي لکه کونډه

د عاشق دلاغري[۹] سبب دا دی — چې فرقه د معشوقو شوه په زړه تنډه

زه به حورې د جنت بې یاره څه کړم — خدای دې سره د چا نه کاندې ارهنډه

سخت ساعت د بېلتانه به مې هېر نه شي — که راډکه شي د تورلحد ګور هنډه

زه رحمان د هغه حسن دعاګوی[۱۰] یم — چې جرګه د عاشقانو وي پرې پناه

۱۸۹ — ۱۱۲۲

---

(۱) په "ق" چاپ او "ن.ک" چاپ کې "ګل" او په مصورنسخه کې "واوړه" راغلي دي.

(۲) "پ" چاپ، "ق" چاپ او "ق.ک" چاپ: "عشق ورد واړه عاشق لوه راحت دی"، "ت" لومړی نسخه کې "عشق و..." راغلي دي.

(۳) چاپي دیوانونه: "عاشقي، حرص وهوا دي سره لرې".

(٤) "خ" لومړی نسخه: "دبیمار په ځای خندا ښه په کار نه ده".

(٥) دا بیت په "ق.ک" چاپ کې نشته، "خ" په دوهمه نسخه کې د "سودا" پرځای "سبوا" راغلي دي.

(٦) "خ" لومړی نسخه: "که یې کړمه که یې نه کړمه سوګند دادی".

(۷) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.

(۸) "خ" دوهمه نسخه او مصوره نسخه کې د "ادا" پرځای "آزار" راغلي دي.

(۹) "خ" په لومړي نسخه کې "لاغري" پرځای "دل آزاري" راغلي دي.

(۱۰) په چاپي دیوانونو او "خ" دوهمه نسخه کې د "دعاګوی" پرځای "ثناخوان" راغلي دي.

Marfat.com

ما چې جور و جفا بې مونده له یاره — دوفا طمع به څه کړم له اغیاره (۱)
له دښمنه به دښادۍ طمع خوک څه کا (۲) — چې د دوست له لاسه غم شي ور دو ځان
دل آزار که دل آزار شي مانه نه شي — حیف خو دادی چې دل د اشي دل آزاره (۳)
داګلهم (٤) د بړه د بړ له هغو شي — هر چې طمع تر بې د بنو کړې بسیاره
اوس د استا رضا جفا کړې که وفا کړې — دواړه لاس مې اوس ختلي له اختیاره (٥)
طالبان خو تر مطاوبه پورې پړه دي (٦) — خدای دې تالې وفا نه کا وفاداره (۷)

۲۱۳۰ — ۱۸٦

چې له دبړې حیا نه ګوري وچا ته (۸)
څه خو مخ کړه د ګګ د نړه د پاره

(۱) دا غزل په مصري نسخه کې نه دی راغلی.
(۲) دا مسره د "خ" په لومړۍ نسخه او د "سپ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "له دښمنو به دښادۍ امید خوک څه کا".
په "سپ" چاپ کې داسې راغلې ده: "له دښمنو به دښادۍ طمع خوک څه کا".
په "سپ سپ" چاپ کې داسې راغلې ده: "له دښمن به دښادۍ طمع خوک څه کا".
او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "له دښمنه دښادۍ طمع خوک څه کا".
(۳) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نه دی راغلی. په "سپ سپ" چاپ کې دا بیت داسې دی: "دل آزار که دل آزار کړې ما نه نه شي.
حیف خو دادی چې دلدار شي دل آزار".
د "سپ" لومړۍ نسخه: "دل آزار که دل آزار کې مانه تې نه شي
حیف خو دادی چې دل سوز شي دل آزار".
د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې دی: "دل آزار که دل آزار مانه تو بې نه شي
حیف خو دادی چې دلسوز شي دل آزار".
د "سپ" په دوهمه نسخه کې داسې دی: "دل آزار که دل آزار که مانه نه شي.
حیف خو دادی چې دلسوز شي دل آزار".
(٤) په "سپ سپ" چاپ او د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "هم" پر ځای "مې" راغلی دی.
(٥) دا بیت پورتنی او یو وار د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې راغلی دی او نور د کې نشته.
(٦) د "خ" په لومړۍ قلمي نسخه کې د "پړه دي" پر ځای "پوره دي" راغلی دی.
(۷) دا مسره په "سپ سپ" چاپ کې داسې راغلې ده: "خدای دې خوک لې وفا نه کا وفاداره".
(۸) دا بیت د "سپ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی دی: "که له دبړې حیا نه ګوري وچا ته
څه خو مخ کړه د جهان د زړه د پاره".
په "سپ" چاپ کې داسې راغلی دی: "که له دبړې حیا نه ګوري وچا ته
څه خو مخ کړه د جهان د زړه د پاره".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې دی: "که له دبړې حیا نه شي کتې چا ته
څه خو مخ کړه د جهان د زړه د پاره".
دوهمه مسره یې د "خ" په دوهمه نسخه او د "سپ" په دریمه نسخه کې په پورته شکل راغلې ده.

Marfat.com

وخت د نوبهار دی زه جدا له خپله یاره  ‖  دربغه دربغه چې بې یاره څې بهاره (١)

او د وینو ولړ وینو چې د غره په سر لګېږي (٢)  ‖  شنې لوخړې خېژي له نسترو له چنارو

داغه عاجزي ده چې زه کېنم په کاغذ باندې  ‖  راشه ووېرېږه د عاشقو له آزاره (٣)

داغه او ښکې نه دي چې بهېږي له چشمانو  ‖  وینې دي لهېږي د زړه ګوټې له پرهاره (٤)

رنځ مې هسې سخت دی هر زمان په ما زیاتیږي  ‖  راشه ای طبیبه ګوندې مرم د ربه یاره (٥)

غر وند دي نرېږي چې په حال زما خبرېږي  ‖  سینه داوښکو ده وېچې راغلي له کهساره

نور څه نه دي واړه دانا یې د بېلتانه دي  ‖  راشه که یې اورې د رباب له هره تاره

٢١٣٨

زه یو خوار وزار یمه رحمان په عاشقۍ کې

خپل دي که پردي دي راته نه ګوري له عاره

١٩٠

ستا په عشق کې ده وغږ نیم سرتر سره  ‖  چې له غمه دې ژوندی ګرځم دلبره (٦)

زه به ستا له غمه کله شو لاسرو م  ‖  بارې دم د خدای په لاس دی نازېږوره

جدایي به مې یو دم قبوله نه کړه  ‖  که چا مرګ او بېلتون اېښی وې په غوره (٧)

شام سحر مې د غه ستا زلفې رخسار دي  ‖  نور مې مه یو ښته له شامه له سحره (٨)

---

(١) ا اوّل په قلمي نسخو کې نشته : "پ" چاپ او "ق" چاپ کې یې دوهم مسری داسې دی :
"دبغه دربغه چې بې یاره شي بهار ه".

(٢) په "پ" چاپ او "ق" چاپ کې "بلېږي" راغلې دی.

(٣) قلمي نسخې او نور چاپي دیوانو : "راشه ووېرېږه د عاشق له دل آزاره".
"ق" چاپ : "راشه ووېرېږه د عاجز و دل آزاره".

(٤) د "خ" دوهمه نسخه : "داغه او ښکې نه دي چې پر مخ زما بهېږي
دا مې د زړه وینې چې بهېږي له رخساره".

(٥) د "خ" دوهمه نسخه : "درد مې نه کمېږي په زمان زمان زیاتیږي
راشه طبیبه ګنه مرهم د خدای د یاره".

(٦) د "خ" دوهمه نسخه : "چې له غمه دې لا مړ نه یم دلبره".

(٧) دا بیت په "پ" چاپ، "ق" چاپ او "ک" چاپ کې نشته.

(٨) د "پ" قلمي نسخې : "شام سحر یاره ستا زلفې و رخسار دی
هیڅ مې مه پوښته له شامه له سحره".
د "خ" په نورو دریو نسخو کې یې لومړی مسری داسې دی : "شام سحر زما دا ستا زلفې رخسار دی".

Marfat.com

چې خبر دې[1] په وصال و په هجران شوم — خبر نه یم له فردوسه له سقره
بې دستاله مخه ورځ راباندې شپه ده — روښنایي د ورځې چېرې وي بې نمره[2]
هسې بې ... وسامان دې هیڅوك نه شي[3] — لکه زه چې بې سامانه یم بې سره
یو هنر مې منظور ستا په نظر نه دی[4] — که زه وکړم ستا په عشق کې سل هنره

191

هیڅ اثر د ساز (یاران) اوښکې په یار نه کا
خدای دې اوښکې د چا نه کا بې اثره

2147

زه عار نه لرم په عشق کې له پېغوره — لېچې پرې وایم د ستې په خبر له اوره[5]
زدي په خوله د سمندره مېن د موږ[6] — څوك چې مامنع کوي د عشق له شوره
بې هجرانه زما بله خواري نشته — ولې نشته تو دا بله خواري نوره
لکه ته چې خدای هرګوره ښایسته کړې — زه یې هسې پرې بې صبره کړم هرګوره[7]
چې په تورو سپینو مې اوري دا څوك دی — که ته نه یې په مخ سپینه په زړه توره
د رقیب له بدخویه به خه وایم — چې لا یار ورسره مل شي هلته ګوره[8]

---

(1) په چاپي دیوانونو او مصوره نسخه کې "چې خبر یې" راغلی دی.

(2) دا بیت په "ب" چاپ، "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې نشته. لومړی مسرې یې د "خ" په دوهم نسخه کې داسې ده:
"بې دستاله مخه ورځ راباندې شپه شوه".

(3) د "ب ب" چاپ کې "نشته" راغلی دی.

(4) په چاپي دیوانونو کې "نه شو" راغلی دی.

(5) دا غزل په مصوره نسخه کې نشته.

(6) د "ب" په لومړي نسخې کې "موم" راغلی دی.

(7) دا مسرې په دواړو چاپي دیوانونو کې، او د "خ" په دوهم نسخه کې داسې راغلی ده:
"زه یې هم هسې بې صبره کړم هرګوره".
د "خ" په لومړي او "ب" دوهم نسخه: "زه هم هسې بې صبرې کوم هر ګوره".

(8) دا بیت په "پ" چاپ کې داسې راغلی دی: "د رقیب له بده خویه به خه وایم — لا چې یار ورسره مل شي هلته ګوره".
په "ب ب" چاپ او د "خ" په دوهمه نسخه کې: "د رقیب له بده خویه به خه وایم — چې لا یار ورسره مل شي هلته ګوره".
د "ب" په دوهمه نسخه کې: "د رقیب له بدخولې به خوز وایم — لا چې یار ورسره مل شي هلته ګوره".
د "خ" لومړی نسخه: "د رقیب له بدخولې به خه وایم — لا چې یار ورسره بل شي هلته ګوره".

Marfat.com

چې يې پوهـ د مرګ تر پوره لا بد تر وي[1] | هغې توبه د بېلتانه له بده پوره
دامې خپل نصيب طالع دی زه رسېږي | ګنه غم کله رسېږي له غم خوره[2]
قاف تر قافه بادشاهي به يې روزي شي | چې په چاوشي د استاد زلفو سپوره

(۱۹۲) عاشقي سره مجنون کاندي (زه يې حقيقتاً) (۲۱۵۷)

کېنه خوک په هوښيارۍ وځي له کوره

نه رسېږي ستا وحسن وته حوره | څه به رسي ومېرمن وته مزدوره[3]
ستا تر قده تر قامته نه رسېږي | که نښتر که سپاري وي که کجوره[4]
تر قامت پورې دې سروه ده سرکوزې | تر رخسار[5] پورې دې شمعه ده بې نوره
هر سړی چې دې وحسن ته نظر کا | ستا پېرۍ يې په نظر وي نامنظوره
چې تا مې دخپلو شونډو ورېه خوله کړ | طايفه دې د صوفيانو کړه مخموره
اوس ته وايه چې په څرنګ دې وستايم[6] | زه خو ستا په مينه لاړم له شعوره
دا جنډ به د عاشقۍ نه ده نو رڅه ده | کېنه کله خوک وځي له دستوره
اوس به زه د شب خېزۍ څه منت وکړم[7] | چې څرګند دې کړه په خوب کې الحضوره
چې په ننګ وپه ناموس تر لوره کم وي[8] | صدقه شه نا قابله زوی له لوره

---

(۱) دا مسری په چاپي ديوانونو کې داسې راغلې ده: "چې يې پوهـ د مرګ تر پوره پورې هيڅ دی".
"ب" په دوهم نسخه کې: "چې يې پوهـ د مرګ تر پوره هم بهتر دی".
"خ" په لومړۍ نسخه کې: "چې يې پوهـ د مرګ تر پوره بهتر دی".
"خ" په دوهم نسخه کې داسې راغلې ده: "چې يې پوهـ د مرګ تر پوره لا بهتر دی".

(۲) دا بيت او دا پسې بيتونه په چاپي ديوانونو کې نشته.

(۳) دا غزل د "ب" په لومړۍ نسخه کې نشته.

(۴) د "خ" دوهمه نسخه: "که نښتر که صنوبر دي که کجوره".

(۵) د "خ" په دې دوارو قلمي نسخو کې "تر صورت پورې" راغلي دي.

(۶) ق، ک، چاپ: "اوس ته وايه چې په څرنګ به دې دوست کړم".

(۷) ق، چاپ: "اوس به څه د شب خېزۍ منت باري کړم".

(۸) ق، چاپ او ق، ک، چاپ: "چې په ننګ وپه ناموس تر لوره کم دي".
په مصوره نسخه او د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې دا بيت داسې دی: "چې په ننګ وپه ناموس تر لوره کم دي | خدای دې مور کاندي به هسې زوی په لوره"

Marfat.com

که سل ځله زویه غوره وي ترلوره　　خدای دې مه کا په داهسې زویه بوره (۱)

که سل ځله زوی رویداره وي ترلونو　　صدقه شه ناقابله زوی ترلوره (۲)

ننګیالي تربرونه شه دي اوکه نه وي　　ننګیالی ترلړهم شه ده له تربوره

خوبرویي بې دلبري څه په کار نه ده　　لکه ونې بې میوې په پانو کوره (۳)

که دغلوزي لباس وکا غزاوشوه　　شهد نه دي چا مونډلي بې زنبوره (۴)

۱۹۳

په باغ دښایسته وقدر دېر دی
دطبیب له قدره چا زده بې رنځوره

۲۱۷

چې په وخت دځنکدن وکا بې ډیره　　ترونن ولې هسې نالست (۵) یې بې تدبیره

هرسړی چې ګانده (۶) غم په مخ کې وینې　　له هغه غمه لاټن ګرځي دلګیره

چې سبا ارمانه وې پند د پیرانو　　ولې نن د پیر طلب نه کړې بې پیره

دیار یاد به دې ځای څرنګ په زړه نیسي　　یاد دغیر چې لرې نه کړې له ضمیره (۷)

چې د دولت په طلب ګرځي خدای دې هېر دی　　فقیري (۸) داهسې چارې وي فقیره

دغم دې خدای بدل کړه په ښادي　　ڼهیر مه شې په آشنا پسې ڼهیره

که هرڅو ښایسته ډېري په جهان کې　　وهر چا ته خپل آشنا دی بې نظیره

هرسړی د هغه مخ په رڼا ګرځي　　چې یې خونه دخاطر وي پرې منیره

همیشه پراته په اورو په اوبو وي (۹)　　عاشقان دلعلولبو له تاثیره

(۱) دا بیت په "ب" چاپ، "ق" چاپ، "ق، ک" چاپ او "خ" په لومړي نسخه کې نشته.
د "خ" په دوهمه نسخه او مصوره نسخه کې داسې دی: که سل ځله زوی رویداروي ترلونو　　صدقه شه ناقابله زوی ترلوړا :

(۲) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نشته.

(۳) په "ق" چاپ، "ق، ک" چاپ او "خ" په دوهمه او مصوره نسخه کې د "کوره" پرځای "بوره" راغلی دی.

(۴) په "ب" چاپ، د "خ" په لومړي او دوهمه نسخه کې "له زنبوره" راغلی دی.

(۵) په چاپي دیوانونو کې د "ناست" پرځای "ناستګ" راغلی دی.

(۶) په "ب" چاپ کې "ګاڼ"، "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې "وراندی" راغلی دی.

(۷) دا بیت په "ق، ک" چاپ کې نشته.

(۸) په قلمي نسخه کې "فقیري" راغلی دی.

(۹) قلمي نسخې : "تمامي عمر په اورو په اوبه دی".

Marfat.com

٢١٨٢ — ١٩٤

ز رحمان د آزادۍ په تلاش[1] ګرځم
باري نه د تور و زلفو له ځنځيره

ستا په عشق کې هسې خلاص[2] تم له شعوره — چې يوه خبره نه لرم منظوره
طبيبان وايي چې صبر دې دارو دی — خدای فرقه زمونږ[3] پيدا کړه ناصبوره
تورې هر چېرې ترلې په دښمن شي — ياره ستا سترګې دوستان وژني په توره[4]
معشوقې د زمانې شوې سره تولې — د زړه خونه مې بې ولوټله چوره[5]
زه تنها په ضرور نه يم ستا له غمه — پيدا شوې عاشقي ده له ضروره[6]
هرې شي له وروځ شته ده په دنيا کې — زما عمر جدايي کړ بې له نوره[7]
مرويان وفا له هيڅ سره نه کا — دا خبره په عالم کې ده مشهوره[8]
چې خبر شي واړه ګوتې په غاښ نيسي — په هجران کې خبر مه شي له مهجوره[9]
د رقيب له بده وسترګو نه ځان ژغوري — هر عاشق چې بهره مند وي له حضوره[10]
هومره توان او توفيق نه ګڼم په بخت کې — چې تائب کا ماله فسق او له فجوره
په نظر د مدعيانو تور کوډي[11] وي — کړي کښېنوم د کټ د پاسه حوره

د رحمان له[12] سترګونه به هاله[13] وچ شي
که وچ شي د چاڼم وي له ناسوره

٢١٩٤ — ١٩٥

---

(1) په چاپي ديوانونو کې "طلب" راغلی دی.
(2) د "ب" په دوهم او "خ" په لومړي نسخو کې د "خلاص" پرځای "لاړ" راغلی دی.
(3) دا بيت د "ب" په دوهم نسخو کې نه دی راغلی او په چاپي ديوانو کې يې دوهم مسرې داسې راغلې ده: "خدای زمونږ فرقه پيدا کړې ناصبوره" د "ح" په لومړي نسخو کې د "زمونږ" پرځای "زما" راغلی دی.
(4) دا بيت په قلمي نسخو کې نه دی راغلی په چېنبور چاپي ديوانونو کې "په توره" پرځای "بې توره" راغلی دی.
(5) د "خ" په لومړي نسخو کې "پېچونه"، په دوهم نسخو کې "بې خبوره"، د "ب" په لومړي نسخو کې "مخمور" او په "ب ب" چاپ کې دغسې راغلی ده: "د زړه خونې يې او لوټلې يې چوره".
(6) دا بيت په قلمي نسخو کې نه دی راغلی.
(7) دا بيت په "ب" نسخو کې داسې دی: "هرې شي له وروځ شته په دنيا کې زما عمر جدايي کړ بې نوره". په "ب ب" چاپ کې د "کړ بې له نوره" پرځای "کړ لوبې نوره" راغلی دی. د "خ" په لومړي نسخو کې يې د دوهمې مسرې داسې راغلې ده: "زما عمر جدايي کړ بې نوره". په دوهم نسخو کې "جدايي زما عمر کړ بې نوره" راغلی دی.
(8) دا بيت په قلمي نسخو کې نه دی راغلی. (9) دا بيت په "ب" چاپ کې داسې دی: "له هجره واړه ګوتې په غاښ نيسي په هجران کې چې خبر شي له مهجوره". (11) د "خ" په لومړي او د "ب" په دوهم نسخو کې
(10) دا بيت په قلمي نسخو کې نه دی راغلی په "ب" چاپ کې: "د رقيب له بده وسترګو دې ځان ژغوري هر عاشق چې بهره مند شي له شعوره". د "وي" پرځای "دي" راغلی دی. (12) په "ب" چاپ کې د "له" پرځای "د" راغلی دی. (13) د "خ" په دوهم نسخو کې د "هاله" پرځای "کله" راغلی دی.

Marfat.com

زره مدام راته ویل چې ژاړه ژاړه | په ژړا سره د اتللی اشنا غواړه [1]

مسلې د بې ننګۍ ورپسې لنګ کړه | بې چا و نه دننګ کښېږده وه یې نغاره

که د یار په سر لوټی د استا رضا وي | په خندا خندا راځه په لکه غاړه

د افلاک چې د آسیا په دود ګردش که | په دنیا کې به پرې نن دې داند لواړه

په دنیا کې ګوره هر چې زنده سر دی | د اجل په تیغ به پرې که د دوی غاړه

۱۹۶

د مکې خنجر حاجیان په لاس کې نیسي
[illegible] و نیوې* د یار زلفینې دواړه

۲۲۰۰

ګاه په غارمه [2] سوځي کېږي پرېږدې په ساره | کله مري له لوږې کله مري په ډېر خواړه

واړه په غوغا دي چې راغلي په دنیا دي | نه یې هغه وړ یې په قرار دی نه ماړه

کله لاس په سر خپله کېږدي تواضع کا | کله وېلاړ کېږدي لاس په توره په چاړه

خاورې د آدم چې خمیر کړې فرشتګانو | درست یې په ګوتو په دردونو ولاړه

څه شو که خوک نن ساعت وهل که یا تړل که | بیبښ به په هغه شي چې واهه شي هم تاړه [3]

خوب وې تند رسته دا زموږه بنا شسته | زه یې درمانده یم په پښتی یې په اخاره [4]

ساتي چې خوک پس له مرګه خاندي په ځلک یې | هر چا چې په دا ژوند (ن کې) خېسر و ژاړه [5]

---

(۱) دا غزل بوازي او یوازي د "ح" په دوهم نسخه کې په همېن شکل نقلي دی او په نورو چاپي دیوانونو او قلمي نسخو کې نشته. (*) اصل: نیولي دي.

(۲) په چاپي دیوانونو کې "نمر" نقلي دی.

(۳) د "ب" لومړۍ نسخه "څه شو که خوک نن ساعت واهه ویا تاړه شي ... بیبښ به شي هغه چې واهه شي هم تاړه".
د "ح" لومړۍ او دوهم نسخه: "څه شو که خوک نن ساعت واهه شي یا تاړه شي ... بیبښ به شي هغه چې هم واهه شي هم تاړه".

(۴) دا بیت په "ب" چاپ، "ب ب" چاپ، د "ح" په لومړۍ نسخه او مصر نسخه کې نشته. "ق ک" چاپ: "خوب دې تند رسته دا زموږه ... وړانه خوند ... د بېرې درمانده شو به پښتی په اخاره". "ق" چاپ: "خوبي دي تند رسته دا زموږه بنا شسته ... زه یې درمانده یم په پښتی په اخاره".

(۵) د "ب ب" چاپ: "هر چا چې ژوندون کې خپل بیبی سر وژاړه". د "ب" لومړۍ نسخه: "هر چا چې په دا ژوند خېسر وژاړه".
"ق" چاپ: "هر چا چې په ژوندون کې خېسر وژاړه". "ق ک" چاپ: "هر چا چې په ژوندون کې ګوره خپل حال وژاړه".
"ح" لومړۍ نسخه: "هر چا چې په دا ژوند خپل خپل سر وژاړه".
د "ح" دوهمه نسخه او مصر نسخه: "هر چا چې په ژوندون خپل سر وژاړه".

Marfat.com

وینم واره تلوني هیڅوك نه دي پاتي شوي — یون دی په دالاري هم د ځوان هم د زاره
زلفي د دلدار(۱) دي چي هر څوك يې طلبګار دي — لوی دي که هلك دي که غټان(۲) دي که واره
سخ د هغه چا دی چي په درګې يې قبول شي — زار د هغه چا چي يې له دره وشاره(۳)

۱۹۷ — ۲۲۱۱

ما سره الرحمان غوندي جواب کړو ورته سلو(۴)
خدای خبر چي کوم يو هغه ترکي وېلاره(۵)

خو به وران شي د دنیا بازاره ناره — هر نفس د بېلتانه په تاخت لتاره(۶)
لا غونچې په باغ سترګي سپېړدي نه دي — باد خزان يې د زړه مېنه کړه وېجاره(۷)
هسې باد پرې د فنا له لوري پر والوت — د لاله خوله(۸) يې پرې بيسته لتاره(۹)
خد بزګي به يې د بان و دهماي وي — زباني ذکر که سل رنګ کا خواره(۱۰)
که زر سل کال دي تبر شي په اوبو کې(۱۱) — په نرمي به نرم نه شي وچه تراره

---

(۱) "ق.ک" چاپ: "زلفي مې دیاران دي" راغلی دی.
(۲) د "خ" په لومړي نسخه کې "پیران" راغلی دی.
(۳) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته. په نورو قلمي نسخو کې يې دوهم مسرۍ داسې ده: "زار د هغه چي د کې چي نه در دي شاړه".
(۴) "ق.ک" چاپ: "ما جمان غوندي به سلو چي سلام ورته کولو".
په "بیا" چاپ، "پ" چاپ، "ق" چاپ او مصوره نسخه کې د "جواب" پر ځای "سلام" او د "ح" په دوهم نسخه کې "لبیک" راغلی دی. او د "خ" په لومړي نسخه کې دا مسرۍ داسې ده: "ما غوندي رحمان غوندي زاري دکړه ورته سلو".
(۵) په مقابله شوو ټولو قلمي نسخو کې "ولاړه" راغلی دی، خو د عزم د په نظر کې نيولو او نيت په معنی د "ویلاړه" په شکل سم ده چي رحمن بابا فارسي "دوست" په قول يکي راغلی.
(۶) دا غزل په مصوره نسخه او "خ" په دوهم نسخه کې نشته. د دې بیت لومړي مسرۍ په "ب" چاپ کې داسې ده: "خود به وران شي د دنیا بازاره تاره".
په دوهم مسرۍ کې په "بیا" چاپ او "ق.ک" چاپ کې د "نفس" پر ځای "ساعت" راغلی دی. لومړي مسرۍ يې په قلمي نسخو کې داسې ده: "خو به وران شي د دنیا بازار لتاره"
او د "بیا" په دوهم او د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلی ده: "خو به وران شي د دنیا بازار تاره".
(۷) دا بیت د "بیا" په لومړي نسخه کې داسې راغلی دی: "هغې غنچې لا به باغ سترګي سپېړدي نه دي — بد خزان يې د زړه مېنه کړه وېجاره"
"ق.ک" چاپ: "لا غنچو به باغ کې سترګي سپېړدي نه دي — چې خزان يې د زړه مېنه کړه وېجاره"
د "ح" په لومړي او د "بیا" په دوهم نسخه کې داسې راغلی دی: "هغو غنچو لا به باغ سترګي سپېړي نه دي — بد خزان يې د زړه مېنه کړه وېجاره"
(۸) په "بیا" چاپ کې "قوله" راغلی دی.
(۹) د "بیا" له دوهمې نسخې پرته په نورو نسخو کې "لتاړه" راغلی دی.
(۱۰) دا بیت په قلمي نسخو کې داسې راغلی دی: "خد بزګي به يې د بان و دهماي نه شي — سر زباني ذکر که سل رنګه خواره".
د "ق.ک" چاپ کې داسې راغلی دی: "خد بزګي به يې د بان او همادی — سر زباني ذکر که سل رنګ کړه خواره".
(۱۱) "بیا" چاپ: "که سل زر کاله پري تبر شي په اوبو کې" او د "خ" لومړي نسخه کې "که يې سل کالونه تبر شي په اوبو کې".

Marfat.com

تر داهسې څمره نه ځمر بهتر دی　　هر چې حال يې زنګدن شي ځمر واړه[۱]

۱۹۸　　تر خلاصي ځنې بندي سبنه يې ناځم نالاه[۲]　　۲۲۱۸
که د شما[۳] د زلفو ځيل دې شي په غاړه

چې غرقاب شي تر و مژګان په یم دزړه　　نور خراب شي خانمان په نم د زړه[۴]
عبث والې غم د زړه و بوالهوس ته　　څه پوهېږي هلکان په غم د زړه
په بل مخ باندې سبوا د يار له مخه　　ماتر لې دې چشمان محکم د زړه
چې يې عرش او کرسي لاندې تر قدم دي　　بالا تر دی هسې شان قدم د زړه[۵]
د خليل تر کعبې دا کعبه ده لسويه[۶]　　که آباد کا څوک ويران حرم دزړه
که نور خلق قدمونه دي په ځمکه　　ما دی ابنې په آسمان قدم د زړه
د امکان چې د آسمان ځمکې تر ميان دی　　يو خلوت دی د امکان سلم[۷] د زړه
زه ملهم د زړه له چا غوارم بې خدايه[۸]　　چې کرې نه شي طبيبان ملهم د زړه

۱۹۹　　صورتې همدمان رهبر دي په جهان کې　　۲۲۲۷
ولې نه مومي ځان همدم[۹] د زړه

ساقي پورته شه د ميو جام تيار کړه　　ځمر هيڅ معطلي نه لري تلوار کړه[۱۰]

(۱) د "خ" لومړی نسخه: "تر و دهسې ځمر نه ځمر بهتر دی　　هر چې حال په تنګدستي شي ځمر واړه".
(۲) دا مسرې په قولوار د چاپي ديوانونو کې داسې راغلې ده: "تر وله خلاصه بندي مند يې ای رحمانه"؛ خو په "پ پ" چاپ کې د "اې" په ځای "نه" راغلی دی. د "خ" په لومړي نسخه کې "تر خلاصي نه بندي مند يې ای رحمانه".
(۳) په چاپي ديوانونو کې "سيار" راغلی دی.
(۴) دا غزل په مصور نسخه کې نه دی راغلی په "پ" چاپ کې دا بيت داسې راغلی دی: "چې غرقاب شي تر و مژګان په يم دزړه　　نور خراب شي خان ومان په نم دزړه". په منور چاپي ديوانونو او "خ" په دويمه نسخه کې داسې راغلی دی: "چې غرقاب شي تر و مژګان په نم دزړه　　نور خراب شي خان ومان په نم دزړه". د "خ" په لومړی نسخه کې: "چې غرقاب شي تر مژګانو نم دزړه　　نور خراب شي خان ومان په يم دزړه" راغلی دی.
(۵) دا بيت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته او د "پ" په دويمه نسخه کې داسې راغلی دی: "چې يې عرش او کرسي لاندې د تر سيوری　　بالا دی هسې شان حرم دزړه".
(۶) د "خ" په لومړي نسخه کې د "لسويه" پر ځای "لسويه" راغلی دی.
(۷) د "خ" په دويمه نسخه کې د "سلم" پر ځای "مسلم" راغلی دی.
(۸) په چاپي ديوانونو کې "بې ربه" راغلی دی.
(۹) د "پ" په لومړي نسخه کې "ملهم" راغلی دی.
(۱۰) دا غزل د "خ" په لومړي نسخه او مصوره نسخه کې نه دی راغلی، د دې بيت په دويمه مسرې کې د "نه لري" پر ځای په "پ" چاپ کې "نه کاندي" او په "پ پ" چاپ کې "نه کوي" راغلی دی.

Marfat.com

هر دم تیغ دا ستا زما په ګلوګرځي[1] — هر نفس د خپل نفس له تیغه زار کړه
تر خودۍ چوړته بله بلا نشته — خادمي د بېخودانو په دربار کړه
دا پنځه ورځې ژوندون چې غنیمت دی — شکرانه په دا نعمت د کردګار کړه[2]
که غم خوار غواړې په غم او په اندوه کې — ښیښه ډکه د شرابو اختیار کړه[3]
خودې دوه سترګې غریبې په جهان کې — ننداره په هر ساعت د خپل نګار کړه
هغه خوک دی چې تهمت پرې وایه نشي — غوږ په هیچا باندې مه باسه خپل کار کړه
بې وفايي ددې دهر یاران وا ړه — چې دې پس له مرګه یار شي هغه یار کړه
مدعي چې په زړه ورشي هغه وايي[4] — ګوش او هوش د محبانو په ګفتار کړه

٢٠٠ — ٢٢٣٧

تاج والي د دنیا چارې فاني دي
البته په دا خبره اعتبار کړه

چې مې مینه خدای په تا باندې پیدا کړه — ترکه ما په هغه ورځ[5] خپله رضا کړه
اوس دستا رضا جفا کړې که وفا کړې — ما دستا جفا قبوله په وفا کړه
ګل په لعلو په ګوهر کله خوک پېرې — بې له ماچې تا خندا کړه ما ژړا کړه
بې له ماچې دا ستا غم په هوس پېرم — کوم وګړي په هوس د غم سودا کړه[6]
دوه یاران به دا رنګ نه وي چا لیدلي — چې یوه ورته سنګینل کړه بل دعا کړه
ما و درست جهان ته شا وتا ته مخ کړ — تا و درست جهان ته مخ او ما ته شا کړه[7]

---

(۱) دا مصرع په "ب" او "ق ک" چاپ کې داسې راغلې ده: "هر دم تیغ دستا زما په ګلوګرځي".
په قلمي نسخو کې بیا راغلې ده: "زما ستا په ګلو ګرځي هر دم تیغ دی"
(۲) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.
(۳) دا بیت په قلمي نسخو کې نه دی راغلی.
(٤) "ب" چاپ او "ب ب" چاپ: "مدعي چې په خوله ورشي هغه وايي".
(٥) د "خ" په دوهمه نسخه کې "په هغه دم" راغلي دي.
(٦) دا بیت د "ب" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(٧) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.

Marfat.com

د هر هند کې په جهان گرزي د چا یاد دی — عشق عالي پایه د هیرا و د رانجا کړه

هم په دا یې تر همه وو(۱) نام بلند شو — چې قبوله عندلیب د گل جفا کړه

نا آشنا د بېلتانه له غمه څه زده — خدای دغه خواري په برخه د آشنا کړه

عاشقان د یار تر سپیو هم زاهی دي — گمنه ما د رقیبانو څه پروا کړه

زه تاج [ان] چې ستا د حسن ثنا خوان شوم(۲)

ستا له رویه درست جهان زما ثنا کړه

٢٠١ — ٢٢٤٨

باره و تره هاله کښت و زراعت کړه(۳) — تقوی دا رشه هله طمع د جنت کړه

عاقلان په وراندې چې په ورستو گوري — په دنیا کې سرانجام د آخرت کړه

سم د لاسه کار هر گوره د پر مشکل دی(۴) — څو لا نه یې غریب زیر مه د غربت کړه

چې نور خلق ملامت درباندې وایي — لا بخوا تر خلقو خپل ځان ملامت کړه

چې عقبی ته د دنیا په اجر مومې — خو هم دا عمارت هلته عمارت کړه

خوبه گورې د قیامت ورځو او شپو ته — خو هم دا جهان په ځان باندې قیامت کړه [بې منت](۵)

چې نېکي بدي په تله کې تلل شي(۶) — خود په خپله تله واخله عدالت کړه

که لښکر د حرص هوا درباندې زور شي(۷) — سر د ننه په قلعه د قناعت کړه

دا به نه شي چې ستا خپ او د حق مخ وي — که حق غواړې ته هم مخ په حقیقت کړه

---

(۱) په قلمي نسخو کې "ترهغابي" راغلی دی.

(۲) په چاپي دیوانونو کې "سیم" راغلی دی.

(۳) "ج" لومړی نسخه او مصوره نسخه: "باره تر و چار باسه هلته زراعت کړه".
"ح" دوهمه نسخه: "باره وچار باسه هله کار د زراعت کړه".
"ب" لومړی نسخه: "باره تر وچار باسه هاله زراعت کړه".

(۴) مصوره نسخه: "سم له لاسه چارې نه شي مرد هاله یې".

(۵) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.

(۶) "ب" لومړی نسخه، "ج" دوهمه او مصوره نسخه: "چې د کړې نېک و بد په تله کې تلل شي".

(۷) قلمي کې: "که لښکري د حرص ور باندې زور شي".

Marfat.com

هغه زړه چې عرش الله دی ګوره کوم دی | څو دې توان شي د جمله زړونو خدمت کړه
ورانوې هم واړه ستا په خبر سړي وو | ته هم پاڅه د هغو په خبر همت کړه (۱)
د دنیا چارې همه واړه فاني دي | باري پوره ته شه یو بل رنګه حکمت کړه (۲)
په طبیب (۳) د عاشقانو دارو نه شي | درومه بل خواته دارو د خپل صحت کړه
خو دې حق موندلی نه دی مه جاړ وځه (۴) | په دا مرسته دا (۵) جهان واړه لت پت کړه

۲۰۲ — ۲۲۶۳

ای رحمانه اول ته نصیحت واخله
دغه پسه بیا و بل ته نصیحت کړه

(۶)
هسې یم د یاره ستا په غم تازه | لکه وي هر ګیاه په نم تازه
سترګې وخوړم کړې کړم له غمه وچې | کړمې کېږي په ژړا صنمه تازه
زه به څه کړم د چا چارې بې له یاره | هر سړی په خپله ساه په دم تازه
د یار نوی نوی غم زیږي وي وصل | رغوي سوی پرهر ملهم تازه (۷)
کړ دې زړه له غمه وچوي د ګلي مشه | کاتبان کا په چول قلم تازه

۲۰۳ — ۲۲۶۹

شایسته یاران ګلونه دي رحمانه
بېلتانه کړه اکثر مړاوي کم تازه

نه یم خوښ د سرو ګلونو په سایه زه | خوښ یم ستا د مخ په اور بانـدې جلیا زه (۸)
په اور سوی شم وران دي څه حکمت دی | سوی ستا د مخ په اور یمه بسیا زه

---

(۱) د "پ" چاپي دیوان کې د "همت" پر ځای "خدمت" راغلی دی.
(۲) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.
(۳) په "پ" چاپ کې "طبیعت" او مصوره نسخه کې "طلب" راغلی دی.
(۴) د "خ" لومړي نسخه کې "مدعا نه بڼه" او د "پ" لومړي نسخه او مصوره نسخه کې "بې غم مه شه" راغلی دی.
(۵) "ق" چاپ او "ق.بک" چاپ کې "په دامو مشه"، د "پ" په لومړي نسخه کې "په دار بزمه" او د "خ" دوهمه نسخه کې "مړدانه مه" راغلی دی.
(۶) اغزل د "خ" په قلمي نسخه کې نشته او لومړی مسری یې په چاپي دیوانونو کې داسې ده: "هسې زه یم یاره ستا په غم تازه".
(۷) قلمي نسخې: "راستوی یو نوی غم زیږي د وصل / رغوي د زړه پرهر ملهم تازه".
(۸) د "پ" نسخه او "خ" دوهمه نسخه: "خوښ یم ستا د مخ د نمر وته جلیا زه". د "خ" په لومړي نسخه کې "د مخ د تور و" راغلی دی.

Marfat.com

خپلوم به دې پهر رنګ چې خپلېږي — که دې موم په دروغ که په رښتيا زه
نن راغلي په جهان يو که ديدن کړي — نه به ته په جهان راشې نه به بيا زه
دا اوبدې وعدې چې ته کوې صنمه[1] — کاشکي بيا موم فرصت په دا دنيا زه
چې له ډېرې حيانه ګورې وچا ته — غوښ کړم غوښ کړمه دې ستا ډېرې حيا زه[2]
چې له غمه لاندوهه دې مړ نه يم — سنګ آهن يم آدم نه يمه ګويا زه[3]
که جوړه تللي خوك وقبر ته درېغه[4] — ژاړم دا چې يا به ته نه يې او يا زه
همېشه د خپلاو بنګوله سېلابه — سرګردان يم تر فلکه تر آسيا زه
که خوك قياس زما د ډېرو اوبنګو کا — هسې ګرځم لکه خس پاس په دريا زه[5]

نه د ~~حاجي~~ (زمان) ديار ثنا کولی نه شم
کاشکې دا چې په جهان نه وی ګويا زه[6]

۲۰۴ — ۲۲۸۰

---

(۱) د "ب" نسخې او د "خ" لومړی نسخه : " دا اوږدې وعدې چې ته کوې منم يې ".
د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده : " دا اوږدې اوږدې وعدې چې کړې صنمه ".
(۲) د "ب" لومړی نسخه : " چې له ډېرې حيا نه ګورې وما ته غوښ کړم غوښ ستا دې ډېرې حيا زه ".
د "خ" لومړی نسخه : " غوښ کړم وګوره دا ستا ډېرې حيا زه ".
د "خ" دوهمه نسخه : " غوښ کړم غوښ کړم دغه ستا ډېرې حيا زه ".
(۳) دا بيت په "ق . ک" چاپ کې نشته . لومړی مسرې يې د "خ" په لومړی نسخه کې داسې ده : " چې له غمه لاندوهه دې ونه مرم ".
د "خ" دوهمه نسخه : " چې له غمه دې مړ نه يم ژوندی يا يم ".
(٤) دا بيت په "ق" چاپ او د "خ" په لومړی نسخه کې نشته . د "ب" په "چاپ" کې لومړی مسرې داسې ده : " که جوړه خوك تللي وقبر ته درېغه ".
"ب" چاپ : " که جوړه تللي خوك وقبر وته درېغه ".
"ق . ک" چاپ : " که خوك قبر ته جوړه ورتللي درېغه ".
د "خ" دوهمه نسخه : " که جوړه تللای خوك وقبر وته درېغه ".
مصور نسخه : " که جوړه تللي خوك وقبر وته درېغه ".
(۵) په قلمي نسخو کې " په دريا زه " راغلی دی .
د "خ" دوهمه نسخه : " په لوی دريا زه ".
(۶) "ب" چاپ او د "ب" پ" چاپ : " کاشکې نه وای په جهان کې خه ګويا زه ".
"ق" چاپ : " کاشکې په دا جهان نه وای ګويا زه ".
د "ب" لومړی نسخه : " کاشکې مه وې په جهان کې خه ګويا زه ".
د "خ" لومړی نسخه : " چې جهان د يار ثنا کولای نه شم کشکې مه وای په دنيا کې لوړ ګويا زه ".
د "خ" دوهمه نسخه : " کشکې نه وای په جهان کې خو پيدا زه ".

Marfat.com

اې زما د زړه آرامه راشه راشه — سروقده ګل اندامه راشه راشه
چې همه واړه خوبان دې مقتدیان دي (۱) — دهمه واړو امامه راشه راشه
بې تانشته هیڅ حرمت (۲) د عاشقانو — د مشتاقو احترامه راشه راشه
خدای زده بیا به هسې وخت وي که به نه وي — زه وبربنم له ایامه راشه راشه (۳)
نن هنګام دی (۴) که جفاکړې که وفاکړې — چارې نه شي بې هنګامه راشه راشه
داجهان د مسافرو یو رباط دی — تله دي تله دي له دې ګرامه راشه راشه
پري رویه، سنبل مویه، ملک خویه — عنبر بویه لاله فامه راشه راشه (۵)
شپه لا پر بر ده بې تا ورځ رالاندې شپه شوه (۶)
د زمان ماه تمامه راشه راشه

۲۰۵ — ۲۲۸۸

په دوران مې (۷) هسې رنګ دلبر پیدا شه — ګویا بل دلبر د پاسه لمر پیدا شه
یا طالع د زماني یا بخت زما دی — چې داهسې رنګ شیرین بشر پیدا شه
چې قاصد د ورک یوسف زېرې پرې وکا (۸) — د یعقوب دستر ګو بیا نظر پیدا شه
عشق دې داکه یو فسانه دی نه پوهېږم — په جهان کې چې داشور وشر پیدا شه
دریغه نخل د عشق مدوی ارغون شوی (۹) — چې له شاخه یې دغم ثمر پیدا شه

---

(۱) د "ب" لوړی نسخه : "چې همه خوبان دي واړه مقتد یان دی"
لوړی قلمي نسخې : "چې دا نورخوبان دي واړه مقتد یان دی".
(۲) د "خ" په لوړی نسخه کې د "حرمت" پر ځای "حاجت" راغلی دی
(۳) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۴) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته او د "خ" په لوړی نسخه کې د "نن" پر ځای "دا" راغلی دی.
(۵) قلمي نسخې : "پري رویه، فرښته خویه عنبر مویه سنبل مویه لاله فامه راشه راشه"
(۶) دا مسرۍ په "ب" چاپ او "ق، ک" چاپ کې داسې راغلې ده : "شپه لا پر بر ده روښا ورځ رالاندې شپه شوه".
د "خ" په دواړو قلمي نسخو کې د "شوه" پر ځای "ده" راغلی دی.
(۷) په "ق، ک" چاپ کې د "مې" پر ځای "کښې" راغلی دی.
(۸) د "ب" له لوړی نسخې نه پرته په نورو ټولو کې د "وکا" پر ځای "وکړه" راغلی دی.
(۹) په مصوره نسخه کې د "ارغون شوی" پر ځای "پیدا شوی" راغلی دی.

Marfat.com

ملایک د عشق له غمه خبر دي(1) — خو هم مالره دا سخت سفر پیدا شه

بو د ترکو بې نیازي بل عاشقي شوه(2) — په پرهر باندې مې بل پرهر پیدا شه

د نا اهل زوی پیلار به خه بنادي کا — چې له پښته یې لئیم(3) پسر پیدا شه

بیا به روغ د عاشقي له رنځه نه شي — په هر تن کې چې د غم(4) اثر پیدا شه

چې هنر عیب کوي . عیب هنر کا(5)
د زمان په دور دا هنر پیدا شه

۲۰۶ — ۲۲۹۸

چې نصیب يې(6) سینه چاکه زړه افګار شه — جرس خکه په فریاد او په چغار شه

چې ندا د عاشقي په عاشق وشوه — د غفلت له خوبه پاخېده بیدار شه

عبادت د ریاکار خه په کار نه دی(7) — لکه غوک(8) هسې په بحر کې مردار شه

د جاهل زهد په زهد حساب نه دی(9) — لکه مال په خمر خرځ د خمر خوار شه(10)

مشقت د نادانانو فایده پوچ دی — لکه بې بارانه ابر تش غبار شه

ظلمت د بې عملو عالمانو — لکه ګنج(11) د کتابونو په(12) خر بار شه

چې يې کاندي وناأهل وناقابل ته — نصیحت د ناصحانو کوم(13) په کار شه

---

(1) [illegible] چاپ کې [illegible]: "ملایک د عشق له زخمه خبر نه دی".
(2) [illegible]: "بو د ترکو عاشقي بل بې نیازي شوه" او "ق.ک" چاپ کې "شوه" پر ځای "ده" راغلی.
(3) [illegible] "د نااهلو مور ویلار به خه بنادي کړ". [illegible] "پسر" پر ځای "بشر" راغلی دی.
(4) [illegible] "دغه" راغلی دی.
(5) [illegible]: "چې هنر په عیب کوی عیب په هنر کا".
(6) "پ" [illegible] لومړی نسخه کې د "يې" پر ځای "مې" راغلی دی.
(7) [illegible]: "عبادت د ریاکار هیڅ په کار نه دی". [illegible]: "عبادت د ریاکار و په کار نه دی".
(8) [illegible] چاپ کې "غوندې" راغلی دی.
(9) [illegible] لومړی نسخه کې [illegible]: "د زاهد زهد په زهد حساب نه دی".
(10) [illegible]: "لکه مال چې په خره خرځ د خمر خوار شي".
(11) [illegible] لومړی نسخه کې "[illegible]" راغلی دی.
(12) [illegible] قلمي نسخو کې "په" پر ځای "د" راغلی دی.
(13) [illegible] "ق.ک" چاپ، مصور نسخه، "پ" او [illegible] نسخو کې د "کوم" پر ځای "خه" راغلی دی.

Marfat.com

۲۰۷ — ۲۲۰۶

د رحمان بابا کلام په غوږ د بې هنرو
لکه دُر (۱) په لاس د طفل هسې خوار شه

په دنیا کې له دنیا ګوښه کنار شه — سمندر غوندې په اور کې ګلعذار شه
پس له مرګه که ژوند غواړې سرګیا کړه (۲) — په پسرلي سربیا نوی مرغزار شه
دا ترخې اوبه په خوله کوې د بحر — خود تخپله د ګوهر په څېر آبدار شه
بې له خدایه نور د هیچا منت مه کړه (۳) — په ورځ کالي باندې ونه د کوهسار شه
که دولت په څېر کل و میوه غواړې — خاک په سر کړه سایه بان د هر خاکسار شه (۴)
دست په دست که د خپل کار په درستولې — لا تر خان ور وړمې ولاړ د بل په کار شه (۵)
که دې و بروشي له خپلې درماندګه — د درماندو دستګیري کړه خبردار شه
که هوا دې د جنت په خاطر ګرځي — خاک نشین په آستانه د هغه یار شه
که په توره تاریکه کې رڼا غواړې — ننداره چې د یار د زلفو د رخسار شه
که په کار دې سر و شوند پوشه پیغ وځي — د خپل خان په وینو سور لکه انار شه
که راضي یې چې دې باغ شي د زړه سبز (۶) — په ژړا لکه باران د نوبهار شه (۷)

۲۰۸ — ۲۲۱۸

د رحمان په عاشقۍ کې ستړې وشوې (۸)
چې څوک وایي عاشق ژوندی هغه خوار شه

---

(۱) د "خ" په نسخه کې "کاڼي" راغلي دي.
(۲) د "خ" په "دهم" نسخه کې "له سربیرې کړه" راغلي دي.
(۳) "ب" او "چ": "بې له خدایه د هیچا منت بار مه سته".
(۴) د "خ" "دهم" نسخه: "خاک کړه چمکه سایه بان د هر خاکسار سته".
(۵) چاپي دیوانونه: "لا تر خوا ترخان پروړمې د بل په کار سته".
د "خ" لومړۍ نسخه او مصححه نسخه: "لا ترخان په وړمې روان د بل په کار سته".
(۶) "ب" "چ": "که دې زړه دې چې دې باغ د زړه سبز شي".
(۷) د "ب" په نسخه کې "کوهسار" راغلي دي.
(۸) د "خ" "دهم" قلمي نسخه: "واشوې" راغلي دي.

Marfat.com

بیا مې نن زړه د تورو زلفو مسخر شه — چې وراس مې د حبشو تور لښکر شه
هر طرف مې د دعاشقي ګوزار کړه — ولې یو هم هسې نه و چې کارګر شه
وهر لوري چې غوږ باسمه غوغا ده — یا ناري د بېلتانه دي یا محشر شه
واعظان خو وعظ کاندي بارې څه کا — چې د عشق په لیونیو چې ګذر شه (۱)
چې پدر غوندې یې ما ته نصیحت کړ (۲) — په د بدن دستا هغه زما پسر شه
ستا په در کې چې پراته دي نېکبختان دي — چې دستا له دره ووت در په در شه (۳)

د عشق زخم به خوله خه ګندي رحمانه (۴)
چې ګنډون یې په پرهار باندې پرهر شه

۲۰۹ — ۲۳۲۵

هیڅ مې نه زړه نه پوهېږم دا څه پېر شه — چې دلدار مې د اغیار په شکل وخېر شه
زمانه مې د رقیب له لاسه وژني — چې مې سپی ګانه هغه را باندې شېر شه (۵)
د هجران څمونو هسې په عذاب کړم — هغه هم (۶) چې مې لږ ګانه اوس دېر شه
چې په تیغ مې لوګې کړې سزا مې دا ده — سنه چې غوږ مې زړه د ترکو په شمشېر شه
تېر ساعت به د هیڅا په لاس کښېنوزي — اوس به څه وایم وچا وته چې تېر شه (۷)
چې مې نوش د هجران پیاله کړه تلخه — د وصال لذت مې ټول زهر ګندېر شه (۸)

---

(۱) دا مسری په مشهور چاپي دیوانونو کې داسې راغلی دی: "چې د عشق په لیونو باندې ګذر شه"
(۲) دا مسری په مشهور چاپي دیوانونو کې داسې راغلی دی: "چې پدر غوندې و ما ته نصیحت کا".
(۳) دا بیت په قلمي نسخو کې نه دی راغلی او په درې واړو چاپي دیوانونو کې راغلی دی.
(۴) دا مسری د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلی دی: "د عشق زخم به دې خوله خه کړي رحمانه".
په "ق. ک." چاپ کې داسې راغلی دی: "د عشق زخم به خوله وګنډي رحمانه".
(۵) دا مسری د "ب" په دوهمه نسخه کې داسې دی: "چې مې نه ګانه هغه را باندې تېر شه".
په مصور نسخه کې داسې دی: "چې مې سپی ګانه را ته شېر شه".
(۶) په "ب" چاپ کې د "هم" پر ځای "عیب" راغلی دی او په "ق. ک." چاپ کې دا مسری داسې دی: "هغه عیب چې به ما لږ ګانه اوس دېر شه".
(۷) دا مسری د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "اوس به حال وچا ته څه وایم چې تېر شه".
(۸) دا بیت د "ب" په لومړي او دوهمه نسخه کې، او هم د "خ" په لومړي نسخه او مصوره نسخه کې نشته. د "خ" په دوهمه نسخه کې یې دوهمه مسری داسې ده:
"د وصال لذت مې هسې زنګ ګندېر شه". په "ب" چاپ کې دا مسری داسې ده: "د وصال دولت مې کل زهر ګندېر شه".
په "ق. ک." چاپ کې داسې ده: "د وصال لذت مې کل وار ګندېر شه".

Marfat.com

۲۱۰ — ۲۳۳۲

چې یې نه په وفا یاد نه په جفا وي
سکه رحمان دغه یار له دله هېر شه (۱)

پاخه نو څله سېراب د عشق په جام شه — په ساغر د ماه و مهر مي آشام شه
لا اوله بندګي بیا ازادي ده — که مقصود د آزادۍ لرې غلام شه
د صیاد له وحشتو نو خپسر خلاص کړه (۲) — لکه مرغ خانګي پخپله رام شه
ژوندی ځان په ځمکه خښ کړه لکه تخم — که لوړي غواړې د خاورو په مقام شه
درست جهان د کمینه په خوی وخوړه — لکه ځمکه هسې لاندې تر اقدام شه
په نیستۍ کې د هستۍ مرتبه ګوره — ننداره چې په وېرانۍ کې خپل بام شه
ودښمن وته پخپله عیب مه وایه (۳) — ځان پخوا تر مرګه وژنه مدام شه
په مستانو کې د عقل خبستن غل دی — که په نورو خلقو خاص یې دلته عام شه

اې رحمانه د بلبلو ژبه زده کړه (۴)
دغه پسه په صفت د ګل اندام شه

۲۱۱ — ۲۳۴۱

د دنیا د سود د پاره خمګین مه شه — غم د دین و د ایمان کړه بې دین مه شه
هر ګره ګره کشای لري کم بخته — ناامید له خدایه غوټه جبین مه شه
د بې خفته دي دارنده چې دانه چین شي — خوږې آب و دانه شته دانه چین مه شه

---

(۱) د "پ" چاپ : "جوړه رحمان دغې یار له دله هېر شه".
د پېښور "ق ک" چاپ : "رحمان څکه دغه یار له دله هېر شه".
د "خ" لوړي نسخه : "سکه رحمان دغه یار له دره هېر شه".
د "پ" دوهمه نسخه : "سکه د رحمان دغه یار له دله هېر شه".
د "خ" دوهمه نسخه : "چې یې نه په جفا یاد نه په وفا کې سکه رحمان دغه یار له دله هېر شه".
(۲) "ق ک" چاپ : "لا اوله د صیاد که ځان خلاص غواړې".
مصر، نسخه : "د وصال له وحشتو نو خپل سر خلاص کړه".
(۳) چاپي دیوانونه : "ودښمن وته خپل حال پخپله وایه". د "پ" نسخې او د "خ" لوړي نسخه : "او دښمن ته عیب خپل پخپله وايې".
(۴) قلمي نسخې : "اې رحمانه د بلبلو لفظ زده کړه".
د "خ" لوړي نسخه : "اې رحمانه د بلبل لفظ زده کړه ګوره".

Marfat.com

هر مرغه چې د بل غوښې خوري مردار دی — ځان حلال کړه لکه زاغي شاهين مه شه
د دې په خبر آفتاب په طلب خپل کړه (۱) — لکه تېره هسې پروت په زمين مه شه
کار په تش لستوڼي نه کېږي بې لاسه — لاس په ن يره کړه بې لاسه آستين مه شه (۲)
عاشقي او خود بيني دي سره لرې — که مطلب دې عاشقي ده خود بين مه شه
په خپل کور کې دې سفر دی که پوهېږې — مسافر د هندوستان او د چين مه شه
خپل تابوت د رته ولاړ زين کړې آس دی — ته په زين مه د بل آس و د زين مه شه
چې تقوی ديانت نه لري تاج نيم
د دې هسې همنشين همنشين مه شه (۳)

۲۱۲ — ۲۳۵۱

په اميد د گانډه ورځ ز به وړمه شه (۴) — نقد نسيه حُبله بېل کړه او تر مه شه
په اميد اميدي خلق نا اميد کړل — د فلک له رهزنې بې خبر مه شه
د دنيا بادشاهان خواست کړي له فقيره (۵) — ته بادشاه د هسې ملک شه خواستگر مه شه
د هُمای په خبر طمع کړه وچ هډوکي — لکه چې طالب د شهد و شکر مه شه
ځان صدف غوندې وخاورو ته کړه خړمه — لکه ځک هسې د بحر په سر مه شه
پېر عزيزي موم د لان ترسنگ د لانو — ته يو ځا ځلي شه (۶) دا و سنگو گوهر مه شه
حيوانات هم په تسبيح د خدای مشغول دي — ته انسان بې تر حيوانه بتر مه شه
نفس شيطان سره وکفر ته وياسي — رحم فهم په ځان وکړه کافر مه شه (۷)

---

(۱) ق چاپ او مصور نسخې کې د "خپل کړه" پر ځای "گرزي" راغلي دي.
(۲) "ق چاپ او "ق" ک چاپ: "لاس په نوره کړه بې لاسه آستين مه شه".
مصور نسخه: "لاس پکښې کړه بې لاسونو آستين مه شه".
(۳) چاپي ابوالوفا او مصور نسخه: "د دې هسې هم نشينو نشين مه شه".
(۴) چاپي ابوالوفا: "په اميد د آسنده و ز په وړمه شه".
(۵) قلمي نسخې: "د دنيا بادشاهان خواست کاله فقراو — ته بادشاه د هسې ملک بې خواستگر مه شه".
[illegible] د "فقراو" پر ځای "قصرونو" راغلي دي.
(۶) قلمي [illegible] "يو ځا ځلي" [illegible] "يو خوږ ځلي شه" راغلي دي.
(۷) [illegible]

تپ رانده وي عاشقان د یار په عیب
ته تپ روند د هغه یار په هنر مه شه

٢١٣ — ٢٢٦١

دغه ځای د بېدلانو دی لاچار نشه
د دلبر و په کوڅه د لاور مه شه

چې له سترګو مې خوناب د زړه عیان شه [1]
له نظره مې هر سنګ د ر و مرجان شه

خراب زړه چې مې ژړل د یار له غمه
بیا په اجر د هغې ژړا خندان شه [2]

کمینې له جملهٔ آفتو خلاص کړم [3]
لکه خاورې د دښمنو په چشمان شه

د عیسی زهر یې شهد شول په صبر [4]
د خلیل په خبر آتش پرې ګلستان شه

عشق یو داد دی په عاشق له خیله خدا (په)
هسې نه چې وهرچا وته عیان شه [5]

چې د یار زلفې رخسار مې په زړه نقش شو
خیل خلوت مې خراسان و هندوستان شه

د رنځور علاج تارخه تارخه دارو دي
دغه درد دی چې هم درد و هم درمان شه

چې د استاد خولو بوی وربانډې راغی
د عطار په مخ د اوښکو رود روان شه

علامت د استغنا به یې څرګند وي
هغه خوله چې تېر تر ځان و تر جهان شه

د ګریوان په چاک کول یې څه لا رغه وي [6]
چې ځیګر یې رومبی چاک تر ګریوان شه

عشق د یار په زړه وچولې ولجه دی
خو چې وچولي یې غوټه کړ تاوان شه [7]

نادانان به د دنیا غمونه کاندي
مرد هغه دی چې په زړه مړ د خپل ځا شه

---

(١) په "ق" چاپ کې "روان شه" راغلی دی.
(٢) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(٣) "ق، ک" چاپ کې لومړی مسرې داسې ده: "کمینې ته له جملهٔ افتو خلاص کړم".
(٤) "ق" چاپ: "د خضې زهر یې شو بدل په صلح".
د "خ" د دوهم نسخه: "د عیسی زهر یې شهد شو په صبر".
(٥) دا بیت په قلمي نسخو کې نشته.
(٦) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
په "ق، ک" چاپ او "ب" په لومړي نسخه کې د "لارغه" پر ځای "پروا" راغلی دی.
(٧) دا بیت د "خ" له لومړي نسخې او مصوري نسخې نه نقل شو.

Marfat.com

نشانه د نادانۍ به نوره څه وي ‏ ‏ چې سړی په خپل ګوزان[1] باندې پښېمان شه

آدمیت څه په دولت نه دی رحمانه

بتا که جوړ شه د سرو زرو نه انسان شه

۲۱۴ ‏ ‏ ۲۳۷۵

که په عقل پسې لاړم په کار نه شه ‏ ‏ که له بخته مې یاري غوښته یار نه شه

غروته غروته خوب په ښاخکي اوبو تښتي[2] ‏ ‏ یار مې په سیند زما د اوښکو بېدار نه شه

معلومېږي چې زه کم بخت د درست جهان یم ‏ ‏ چې د درست جهان دلدار مې دلدار نه شه

ماغندې او رقیب ستا لې طالع ګوره ‏ ‏ چې سړی ورته د سپي په مقدار نه شه[3]

که مې سل ځله اقرار راسره وکړ[4] ‏ ‏ دا زما ناقرار زړه په قرار نه شه

د بې غمو نه د چې بې خوږ مې بخپله[5] ‏ ‏ په دنیا کې مې بل هېڅوک غمخوار نه شه

که مې سل نصیحتونه ورته وکړل[6] ‏ ‏ هغه خدای بې لارې کړی په لار نه شه

سهل کار دی که رحمان په زړه ازار شوم

چې خاطر د هغې مستې آزار نه شه

۲۱۵ ‏ ‏ ۲۳۸۲

هر ساعت که څه ګوزران دی بې مخلصه ‏ ‏ هزار بار ارمان ارمان دی بې مخلصه[7]

که خوک وايي چې له ځانه شېرین نشته ‏ ‏ ولې ما نه ځان تاوان دی بې مخلصه

لکه شمع په ورځ مرمر د شپې سوځم ‏ ‏ تمام عمر مې نقصان دی بې مخلصه

په بلبل کله بهار که خزان وي ‏ ‏ په ما کل واره خزان دی بې مخلصه

---

(۱) په "ب" چاپ، "ق" چاپ، "ر ب" لوړنی نسخه او "خ" په نسخو کې "کردار" او په "ق ک" چاپ کې "عمل" راغلی دی.

(۲) د "خ" لومړی نسخه او مصور نسخه: "غروته غروته خو په یوښا خکی اوبه شي".

(۳) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

(۴) د "خ" دوهمه نسخه: "که سل ځله نه اقرار راسره وکړي".

(۵) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته، په لوړو قلمي نسخو کې لومړی مسری داسې ده: "بې غمو نه چې بې وخوار ه خپله".
"خ" لومړی نسخه او مصوره نسخه: "بې غمو نه چې بې وخوار یې د بله".

(۶) قلمي نسخې: "که مې سل نصیحتونه ورته ووکړه".

(۷) دا غزل په قلمي نسخو کې نشته.

Marfat.com

که شبنم همیش د نور له بانده وي — په ماکاني د آسمان دي بي مخلصه
د بې غمونه د هجران له بانده تېر دي — اوس بو دم له بانده گران دي بې مخلصه
د آشنا د مینې اور وما ته گل دي — گل د اور په دود سوزان دي بې مخلصه
په وصال کې مې نه مرگ لیده نه تبه — اوس مې مرگ په هر زمان دي بې مخلصه
زه حیران د هغو خلقو په روزگار یم — چې ژوندون ورته آسان دي بې مخلصه

د حمید د زړه دمه په هیچا نه شي
مسافر غوندې حیران دي بې مخلصه

۲۱۶ — ۲۳۹۳

چې سکاره شو راته راز د یار له پطه (۱)(۲) — پرېشان شوم په نظر حیران له دې لمطه (۳)
خوک به خبر د وفا طمع کا له سنګلیو — چې د طمع لفظ خالي دي له نقطه
په کشتۍ د عاشقۍ به پل کښېنې دم — که شم داخله خارج د غم له شطه
پرې کړه سر چې شې منصور وهر اثباته — تېره والي د قلم راځي له قطه
بیا به خوږ زړونه محبوبه په منګل وړي — هسې راخله لکه تکه سپینه بطه
د یار غم به دې هاله په زړه مېشته شي — که دې غیر غمونه شي له دله حطه
نن کاغذ راته ژبار د یار راوړي — ګوره خه به شي معلوم له دغه خطه

چې مې قد د یار دراز او نه کوتاه دي
د حمید ولخسته په لاس خکه اوسطه

۲۱۷ — ۲۴۰۱

د هغو چې په هجران شي سینه داغه — نور بې خبر دي له آرامه له فراغه (۴)
د غه ځای دي د بلبلو د توتیانو — د چمن له ګلو بهرته اوسه زاغه

---

(۱) دا غزل د "خ" له دوهمې نسخې نه نقل شو.
(۲) د یار له پطه = د یار له بیته ، د قافیې د سمون د پاره غرض یې "بیت" په "بط" لیکلی دی.
(۳) لمطه = لمت = دالې هم د قافیې د سمون د غرض د پاره "ط" لیکلی دی.
(۴) دا غزل د "خ" له دوهمې قلمي نسخې نه نقل شو.

په شمام یې سر تر پایه معطر شوم — تن د بیان د زلفو بوی راغی له باغه
تر قیامته به مخمور یې خوده اوسم — که یو گوټ راکا ساقي له دې ایاغه
زه به ستا په دړکې عمر وار تیر کړم — د مجنون مې تل روزگار کیږه له راغه

٢١٨ — ٢٤٠٧

ستا په نور به زه د ځان صورت ستي کړم
که یې وونیم یو ځل جبین چراغه

ما به ولې کړو فریاد او فغان دریغه — که آشنا وي راسره جا ودان دریغه (١)
له فراقه مې د زړه په وینو ویښم — کاشکې نه وي مرگ بېلتون پښتان دریغه
فرزانه بلبل په وخت د بهار ژاړي — چې آخر به باندې راشي خزان دریغه
زه حیران ورته ولاړ په ستر گو وینم — چې دایم راځي دروې یاران دریغه
یو ذره مې په طاعت کې تیره نه کړه — گران بها عمر مې لاړ رایگان دریغه

٢١٩ — ٢٤١٣

سرکښي کې تیر تر حده بیچاره یم
که قوت د طاعت راکړو ځان دریغه

که یو ځل مې هغه یار ولیدې دریغه — سرفرازې مې سرگردان ولیدې دریغه (٢)
چې تمام جهان په عقل غلبیل کړمه — ریزه ریزه مې پیکان ولیدې دریغه
د وجود گلزار یې درست سره اغزي شو — خارستان مې باغستان ولیدې دریغه
روغ صورت لکه بادشاه صحت یې تخت دی — ناست په تخت مې شاه جهان ولیدې دریغه
د تن ښهر یې خرابه خرابي شوه — بیا مې دا خراب ودان ولیدې دریغه
لکه زه چې له مخلوقه گریزان یم — سگ مې هسې گریزان ولیدې دریغه
دا سبق راته تعلیم شکستگي کړه — چې روغ کار مې شکستگان ولیدې دریغه

---

(١) دا غزل بوازې او بوازې د "ب" چاپي دیوان کې راغلی دی په نورو چاپي دیوانونو او قلمي نسخو کې نشته.
(٢) دا غزل د "پ" چاپي دیوان نه نقل شو.

Marfat.com

سخت ساعت ځمکه آسمان راته یکسان کړه … فرق د ځمکې د آسمان ولیدی دریغه

و دې خپلې حیرانۍ وته حیران یم … چې حیران صورت شادان ولیدی دریغه

د قرآن او د حدیث په کتو خوښ شوی … بیا په لاس حدیث قرآن ولیدی دریغه

چې زما زحمت پېغور ګڼي و ما ته … ما هغه د ځان په شان ولیدی دریغه

خپل یاران مې له زحمته په ژړا دي … ما د غه یاران خندان ولیدی دریغه

د آشنا زلفې مې ولیدی په لاس کې … بند په لار د هندوستان ولیدی دریغه

صبح و شام مې ګدايي د یار د در کړې … په دا کار مې ځان تمام ولیدی دریغه

درخانۍ او آدم خان په ارمان لاړل … لرې ما له زړه ارمان ولیدی دریغه

محامخ مې ګفتګوی له یار سره کړې … د یار ما د غه احسان ولیدی دریغه

چې خطا دې واړه عفوه کړې رحمانه
(۲۴۰) یار مې هسې مهربان ولیدی دریغه ( ۲۴۳۰

ته ناحق په ما کینه کړې کینه نا که … په کینه به آئینه نه کړې ته پاکه[1]

[2] خواږه بې وچې چاته توره تیره اخلې … خپل عمل دی چې د نبا بې کړه هلاکه

چې خندا یې د بلبل په آه سړه کړه … خدای د ګل ګریوان پاره کړ سینه چاکه

خلکه سپینی شوې اول د حباب سترګې … [3] چې له بغضه به دریاب جوی نا که

که تن ځمکه کړې زړه تخم باران او نلې … لکه نخل سر به وکاږې له خاکه

---

(۱) د "ب" نسخې: "په کینه به آئینه نه کړې خپاکه".
د "ج" لومړۍ نسخه: "په کینه به آئینه نه کړې خپل پاکه".
د مصور نسخه او "پ" په دوهمه نسخه کې راغلي دي: "په کینه به آئینه نه کړې خدپاکه".
د "خ" په دوهمه نسخه کې راغلی دی: "په کینه به آئینه خ کړې پاکه".

(۲) د "ب" په لومړۍ نسخه کې د مصرې [illegible] راغلی دی: "خواږه بې وچې چاته تور تو تیره اخلې".
د "ج" په دوهمه نسخه کې "توره تیره" راغلی دی او د "ب" په دوهمه نسخه کې [illegible] د "وچې" [illegible] ناحق [illegible].

(۳) د امسری: قولو چاپي او لو لو ن [illegible] راغلی دی: "چې له بغضه به دریاب جوی نه که".

Marfat.com

بالا دست به شي هاله په نور و نو[1] ... که تعلیم د زبردستي واخلي[2] له تاله
بیا به نه مومې د ترکو واك وحکم ... خو ونه وځې د جهان له جمله[3] واکه
د هغه جهان ژوندون به هغه[4] مومې ... چې لاس وکا بې د دې جهان له ژواکه[5]
نه چې ژغورې سر ومال په عاشقۍ کې ... عاشقي دا هسې چېرې وي کا واکه[6]
چې دا هسې بزرگ مېلمه وکور ته بیایې ... اول غولي پاکېزه کړه له خاشاکه[7]
په دوئي کې به ورنه شي تر توحیده ... خو ضمیر دې خالي نه شي له اشراکه[8]
دا همه واړه حجاب دی چې لېده شي ... نور دې حسن بالاتر دی تر افلاکه[9]
په ظاهر لباس غلط د سړي مرشد ... مېنځ یې ګوره له چغزې او له مټاکه[10]
اولیاء به جهان خلک خبر ګنډ نه دي ... چې پاك ژوی یې خپسر[11] نغاړي له ناپاکه

۲۲۱ ... ۲٤٤٥

هېڅ وفا یې له هیچا سره و نه کړه
تر و تاج[12] په خرمانه کالرا فلاکه

---

(۱) "ب" په "ح" نسخه کې "خلق" راغلی دی.
(۲) "ب" په لومړۍ نسخه ---------- کې "اخلي" راغلی دی.
(۳) په جاپي دیوانونو کې د "درست جهان له واکه" راغلي دي او "ب" په لومړۍ نسخه کې "له جمله ژواکه" راغلي دي.
(٤) په جاپي دیوانونو کې "هاله" راغلي دي.
(۵) "خ" په "ح" نسخه کې دا مسری داسې ده: "چې خان وباسي د دې جهان له شراکه".
(٦) "ب" چاپ او "پ" چاپ کې داسې ده: "عاشقي دا هسې چېرې ده کا واکه".
او د "ق ک" چاپ کې داسې ده: "عاشقي دا هسې کله ده کا واکه".
مګر په مصوره نسخه کې داسې ده: "اول غولي پاکېزه کړه له خاشاکه".
(۷) دا بیت په مصوره نسخه او "خ" لومړۍ نسخه کې نشته.
لومړی مسری یې په جاپي دیوانونو کې داسې ده: "چې دا هسې لوی مېلمه ته کور ته بیایې".
(۸) دا مسری په مصوره نسخه کې داسې ده: "خو د خیلسه خالي نه شي له اشراکه".
(۹) په جاپي دیوانونو، مصوره نسخه، د "خ" لومړۍ نسخه او "ب" په "ح" نسخه کې "له ادراکه" راغلي دي.
(۱۰) قلمي نسخې: "په ظاهر لباس غلط د دنیا مرشد میان یې ګوره چې چغزی دی که مټاکه".
"ب" په "ح" نسخه کې یې لومړی مسری داسې ده: "په ظاهر صورت غلط د دنیا مرشد".
(۱۱) په مصوره نسخه، د "ح" په "ح" نسخه کې "خیل سر" او "خ" په لومړۍ نسخه کې "خپل خان" راغلي دي.
د "ح" مسری یې د "ق ک" چاپ کې داسې ده: "چې پاك ړوی ځ سر نغاړي له ناپاکه".
په "پ" چاپ کې داسې ده: "چې پاك روی پښه وسر نغاړي له ناپاکه".
(۱۲) په "ب" چاپ کې "مسانه" راغلي دي.

Marfat.com

هسې نه چې زما يار واړه جفا کا — صد چندان لکه جفا هومره وفا کا[1]

لکه نا چې په خپل يار باندې مين يم — لو په سله هومره مينه يار په ما کا

نه[2] يې وهي په احسان د مې نه په جور — مجنون څکه په ليلى پسې ژړا کا

درست جهان د خوبرويانو نازبردار دى[3] — نه پوازې دغم نار[4] په ما او تا کا

۲۲۲ خشکل نه گوري ځان[5] وهغه څ ته — چې فرښتې يې هم د حسن تماشا کا[6] ۲۴۵۰

چې خيمه يې[7] د سيلاب په مخ شوه لکه — د حباب تماشا ګوره ترڅه د مکه

هيڅ وپسا نه ده په کار د يار په سوري — که تري لاندي وي دا وسينو کوړيکه[8]

دا دلاندې به همه واړه چيت پيت شي — مګر سر وي چا وکښلى تر فلکه

چې په اصل خداى نسکور وي پيدا کړي — خولې[9] به څه خوري دې دهر له سانکه

چې دښمن يې وي له دوسته اې ولى[10] — دهغو احتياط بوبه له کومکه

زاښه واچوه د نفس وخولې ته خاورې — خوږې نه ده خوله د ګور به خاورو ډکه

هرچې په کې يې دګور په خاورو خوله شي — په هغو باندې حرام ده نوره خکه

(۱) دا غزل د "ب" په دهمسه نسخه کې نشته.
(۲) د "ب" په نسخه کې د "يې" پرځاى "ې" راغلى دى.
(۳) په مصوره نسخه او د "خ" د همسه نسخه کې "نازبروردار" راغلى دى.
(۴) د "خ" په لومړى نسخه کې "يار" راغلى دى.
(۵) دا مسرى په "ب" چاپ او "ب ب" چاپ کې داسې ده: "نه به ګورې رحمان خشکل هغه مخ ته".
دپښور په لږو دوو چاپي ديوانونو کې داسې ده: "نه به ګورې رحمان خرنګ هغه مخ ته".
د "خ" په دهمسه نسخه کې داسې ده: "خشکله به نه ګورې رحمان د هغه مخ ته".
(۶) دا مسرى په چاپي ديوانونو کې داسې ده: "فرښتې چې يې د حسن تماشا کا".
په مصوره نسخه کې داسې ده: "چې فرښته يې هم د حسن تماشا کا".
(۷) په قلمي نسخو کې "چې يې خونه د سيلاب په مخ شوه لکه" راغلى دى.
(۸) چاپي ديوانونه: "لاتري لاندې وي دخولو ګوړکه".
د "خ" دهمسه نسخه: "که ترلاندې خولې دا وسينو کړيکه".
(۹) قلمي نسخې: "خولې به څه خوري د سيمو له سانکه".
په "ق" چاپ کې لومړى مسرى داسې ده: "چې په اصل خداى نسکور دي پيدا کړي".
(۱۰) قلمي نسخې: "چې دښمن يې د دوست نما دي اې ولى".

Marfat.com

۲۲۳ — ۲۴۵۸

که نور څوك مبارکي کا وبله نوري
و صاحب[ان] ته دې خپل یاران وي مبارکه

گبهٔ وتره په پرې سره کلکه(۱) — در و مې طمع و مدکره له فلکه
هر سایل چې سوال د نان کا له آسمانه — گویا غواړي په کچکول کې اوبه مکه(۲)
له آسمانه چې څوك طمع د وفا کا — دغه طمع یې طاعون گڼه(۳) بې شکه
له باران سره یې هسې بلې وورې — چې هر زخم یې بدتروي(٤) تر تبوکه
که په چایې شفقت او مرحمت شي — ظلم جور یې بدتروي(۵) تر . . .
مومه به نه شي هیڅ سړي بې قناعته — که یې خونه وي په سیم و زر ډکه
بیا به نه مومي کمال بې د کیمیه — که خیمه یې وي(٦) په عرش د پاسه لکه
که جهان په نور عالم باندې فراخ دی — په تنگ چشم باندې تنگ وشي تر څپله(۷)
د دې دهر په یارانو کې آب نشته — که یې غواړې ترسما وتر سمکه
ترخې(۸) اوښکې د عاشق آب و نمك دي — خدای دې نه کا څوك بې آب وبې نمکه

۲۲٤ — ۲٤٦۹

دا درازې اندیښنې مه کړه صاحب(ان الله)
د دنیا چارې په تله دي تر دمکه

که په هجر کې څوك ما پوښتي لحاله — حال خو دا دی چې ناتوان یم بې مجاله
زه دیا به دیدن ځکه شتابي کړم — چې د عمر بقا نه وینم تر کاله

---

(۱) دا غزل په مصوره نسخه کې نشته.
(۲) "ق" چاپ او "ق ـ ک" چاپ: "گویا خیر غواړي کچکول کې له اوزبکه".
(۳) د "خ" په دوهمه نسخه کې "گڼم" راغلی دی.
(٤) د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه کې "ستیره وي" راغلی دی.
(۵) دا بیت په "ق ـ ک" چاپ او "ق" چاپ کې نشته په لوړ چاپي دیوانونو او "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې "بتروي" پرځای "بتروي" راغلی دی.
(٦) په چاپي دیوانونو کې "دې دي" راغلی دی.
(۷) په چاپي دیوانونو کې "ترچشمکه" راغلی دی.
(۸) په "ق" چاپ، "ق ـ ک" چاپ او "خ" لومړۍ نسخه کې "ترشي" راغلی دی او "خ" په دوهمه نسخه کې "ډیری" راغلی دی.

Marfat.com

چې تر حسن تر جمال دې زار نه شوم     شرمنده یم د خوبانو تر جمال له

ته و ما ته نصیحت مه کړه ناصحه     عشق بې نیاز دی له ثواب له وبال له

بې د خپل آشنا د حسن له تعریفه     هېڅ مې مه پوښته له نورو قیل و قال له

ما د عشق په درس کې نور څه لوستي نه دي     بې له زلفو بې له خطه بې له خال له

په دنیا په آخرت مې دې خدای نه کا     بې نصیبه د مهرویانو له وصال له

۲۲۵ کړیار سر په د بدن غوارې مجاروځه ۲۴۷۷
دغه حکم رحمان کړی دی د لاله

خو تر میانه و دانه نه کړې د تن پوله     و به نه رسې تر خدایه تر رسوله

خدای و تا ته دین دنیا په غوره کښېښوه     تا دنیا کړه په داد وار وکې قبوله

تر حرص په هوړ ته بله بلا نشته     دا بلا دستا په خونه شوه نزوله

یو ساعت د خدای په ذکر مشغول نه شوې     تمام عمر د خپل ځان په غم مشغوله

چې باقي زندګاني په فاني پلورې     ځان په کوم دانش دانا بولې مجهوله

له خالقه رو ګردان شوې و مخلوق ته     بیا و ځان ته عاقل وایې نامعقوله

نصیحت لکه هلاک دربانديې تریخ شو     د دنیا په شیرینۍ پسې ماتوله

۲۲۶ چې رحمان غونډې خوږ سند نه شي په زړه کې ۲۴۱۸
خلاص به نه شي په هېڅ رنګ د زړه له زوله

خبر نه یم چې یې راوستم له کومه     بیا مې کومې خواته استوې چې درومه

لکه پروند چې لاس د بل په اوږه کېږدي     هېڅ ترو دلوري نه وي ور معلومه

خدایه راپېښه نه کړې لار کړه نابلدې     لکه ورانه ما شوره چې وې[1] سر ګومه

---

(۱) په قلمي نسخو کې د "چه وي" پر ځای "هسې" راغلی دی.

Marfat.com

خراب زړه مې تورو زلفو ته هوس کړي — باړې کبوت دمارغه په ځېر په لومه[1]
هسې کوږې عاشقي راباندې وکړې — چې سنګين خاطر مې نرم شو تر مومه
چې بې هيڅ له خدايه ترس او ويره نه شي — الغياث د دلبرانو له رسومه[2]
کله راکاندې شراب دلعلو لبو — کله جام دزهرو راکاندې چې شومه[3]

۲۲۷ — ۲۴۹۳

دمطلوب له طالبانو چې ځان شمېرې[4]
اې (رسانه) ماځه اول سيال شه بيالې مومه

اعتماد[5] به په دنيا کوې تر کومه — دار فتار به پسې شاکوې تر کومه
خوبه پټ له مرګه ګرزې سپينه ږيره — په روښانه ورځ به غلا کوې تر کومه
چې ددهر له يارانو وفا غواړې — صيادي به د عنقا کوې تر کومه
دېبرې علاج به د انګ په لوړ نه شي[6] — دغه کار به په عصا کوې تر کومه
په غفلت به د خدا اميد د مرحمت کړې — د ناسور د رنځ دوا کوې تر کومه[7]

۲۲۸ — ۲۵۹۹

نه چې پند واوري ناصحه و (رحمانه) ماځه ته
شکايت به د قضا کوې تر کومه

شمع د دلبر ستر ګې عاشق پرې پروانه[8] — ځان پرې خپل جليا کاشي لې خونه وېرانه
مطرپه معنې کې د دلبر دمينې بحر — شو صدف دستر ګو وارو پر په دردانه[9]

---

(۱) دابيت د "پ" په نسخه کې داسې دی: "خراب زړه مې تورو زلفو ته هوس کړه — ولې کبسوتم دمرغه په ځېر په لومه".
"ځ" په درې وارو نسخو کې يې دوهمه مسرۍ داسې ده: "ولې کبوت دمرغه په ځېر په لومه".
(۲) قلمي نسخې: "الغياث دی ددلبر وله رسومه".
(۳) په مصوره نسخه او "ځ" په لومړۍ نسخه کې دا مسرۍ داسې ده: "کله جام دزهرو راکه چې يې شومه".
(۴) قلمي نسخې: "نه چې ځان طالب شمېرې دمطلوبانو — اې رحمانه تر وکه سيال يې بيا يې مومه".
"ځ" په دوهمه نسخه کې يې لومړۍ مسرۍ داسې ده: "چې يې ځان طالب شمېرې له مطلوبانو".
(۵) په ټولو قلمي نسخو کې "اعتبار" راغلی دی.
(۶) دا مسرۍ په قلمي نسخو کې داسې ده: "دېبرې علاج په دانګ وپه لوړ نه شي".
"ځ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "دېبرې علاج په دانګ وپه دول نه شي".
(۷) دابيت پوازې او پوازې د "ځ" په دوهمه نسخه کې راغلی دی په نورو ټولو قلمي نسخو او چاپي ديوانو کې نشته.
(۸) دا غزل پوازې او پوازې د "پ" په لومړۍ نسخه او "ځ" په دوهمه نسخه کې راغلی دی. ددې بيت دوهمه مسرۍ د "پ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: "ځان په خپل جليا کړه شه يې خونه وېرانه".
(۹) دابيت د "ځ" په دوهمه نسخه کې نشته.

Marfat.com

غم مې د زړه وینې تر چشمانو رابهر کړې — اوښکې نه دي وینې وې لېږې شوې دانه (۱)

زه به دا لږ سترګو سپند د اوښکو بیا لم — لې چې ماهي د وصال وي په آب خانه (۲)

شوه چشمه د سترګو ستا د غم په وینو صافه — خکه مې همېش اوښکې بهېږي روانه (۳)

خیر د بدن و خوار عاشق ته ارزاني کړه — نه دلبر غني لې د خپل مخ په خزانه

اوښکو د فراق دریاب نه بې زور وکړه زمانه — هېڅ پروا یې نه شي لې پروا هم مستانه (۴)

۲۲۹ — ۲۵۰۷

عقل د جهان دې په جفا سره مسلوب کړ
مکره مکره مکره هسې بده یارانه (۵)

د بې عمر مې تېر کړ بېهوده په زمانه — نور دې زما سر وي او د تر کو آستانه

هېڅ مې حاصل نه کړه په شیخي او په تقوی کې — پس له دې مې وار دی هر چې شي په مېخانه

شیخ و شیخي ورد و وظیفه او ذکر فکر — زه او ساقي جام و باده چنګ و ترانه

زه و زاهدانو ته حیران یم د وی وماته — دیوانه به ده خند د وده به دیوانه (۶)

ګنج د درو زار شه د عاشق تر شا خلې اوښکو — نه خروار د عقل نه د عشق یوه دانه (۷)

تیغ دیار له لاسه به مري د عاشقانو — هسې لذت کاندي جوړ د میو پیمانه (۸)

خدای لره به ورشم په سودا دیار له مخه — بل مقصود مې نشته په کعبه په بتخانه

زه له دېره مینې پښتو دیار شیدا شوم (۹) — تل د لمد وختولېن او به دي بهانه

---

(۱) د "خ" دوهمه نسخه : "غم مې د زړه وینې له چشمانو راوبهرې — ولې چې بهېږي د وصال دی آب خانه".
(۲) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۳) د "خ" دوهمه نسخه : "شوې چشمې د سترګو ستا د غم په اوښکو صافي — خکه همېش اوښکې تری بهېږي روانه".
(۴) د "خ" دوهمه نسخه : "هېڅ پروایې نه شي لې پروا یار دی مستانه".
(۵) د "خ" دوهمه نسخه : "عقل د جهان د دنیا سره مسلوب کړ — مکره یاره مکره هسې نه ده یارانه".
(۶) قلمي نسخې : "دیوانه به ده مېخند د وده به دیوانه".
(۷) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۸) چاپي دیوانونه : "هسې لذت کا لکه د میو پیمانه".
(۹) په چاپي دیوانونو او د "خ" په قلمي نسخو کې "شیدا یم" راغلی دی.

Marfat.com

څه زاهد زهد کا د یو جنت د پاره ‖ سربلندی نه شي په اوربل د جانانه(۱)
ګوره د منصور هسې په دار نه شي رحمانه ‖ مکړه دا د عشق خبرې مستي زندانه(۲)

۲۳۰ — ۲۵۱۸

بله نښانه د عاشقۍ نشته رحمانه(۳)
بې نام و نښانه شه کړې غواړې نښانه

تل ژړا فریاد کړم د دلبر پر آستانه ‖ کله به وما ته مخ ښکاره که مستانه(۴)
زه لکه مجنون ولاړ په طمع ذلیلا یم ‖ اوس به لیلی راشي پر سپین مخ زلفې شانه
راغلم ستا زیارت له که مې زړه یقین نو نه شلي ‖ تیک پر وان یې دواړه پېره ستا دې شکرانه
تېغ د معشوقو دې په ګردن دی عاشقانو ‖ هسې رنګه زیب که لکه مې په پیمانه

۲۳۱ — ۲۵۲۳

چېرې د منصور په شان دود سنګسار نشي رحمانه
مکوه د عشق خبرې د پرې رندانه

که له څه لوه خوا کا حجابونه(۵) ‖ خدای به ورکا وخوبانو ثوابونه
کله ویې چې یو په رنګ د هغه یار شي ‖ که هزار شي په آسمان کې آفتابونه(۶)
په ګرداب د زنخدان یې هسې غرق یم ‖ هیڅوک مه شه غرق په هسې ګردابونه(۷)
لکه زه چې یې له غمه په عذاب یم ‖ خدای دې نه ندي په چا هسې عذابونه
ګفتګوی مې هیڅ اثر ورباندې نه کا ‖ که له غمه یې تصنیف کړم کتابونه
په یو ځواب مې رد کا هزار سواله ‖ هسې کاندي د سوالونو ځوابونه

---

(۱) دا دوه مصرعې په قلمي نسخو کې نشته.
(۲) د "خ" دوهمه نسخه: "مه وایه رښتیا خبرې د پرې رندانه".
(۳) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۴) دا غزل د "خ" له دوهمې قلمي نسخې نه نقل شو.
(۵) د "خ" شپږمه نسخه: "ستا لوه خوا کاله څه حجابونه".
(۶) د "خ" شپږمې نسخه: "که هزار شي افتابونه مهتابونه".
(۷) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

Marfat.com

هېڅ پایاب (۱) د فن غریب پېښ موندونه شي | خوک به څه غواړي د بحر پایابونه
کړل ستړي ویلې کېږي دم راته والي | په یارۍ کې عالم نه کاندي خوبونه (۲)
مال و ملک یې همه واره اوبه یوسي | د هغو سترگو چې دروي سیلابونه
د کږو وروځو محراب ته یې حیران (۳) یم | څه نسبت لري بتان و محرابونه
ماهالله ربا رسالي و ولاس وکښلي (۴) | چې په لاس کړل مطربانو ربابونه

۲۳۲ — ۲۵۳۵

ارغواني جامې یې واغوستې تاج ته
بیا یې جوړ کړل ستا د قتل اسبابونه

راکوي د سپېدو دمه (۵) پېغورونه | بلوي مې په تندي باندې اورونه
نور څه نشته واړه خوبي دي د زړونو | چې وژلي شي (۶) د ترکو په تېغونه (۷)
هر نگاه یې په وکښو د زړونو شېږي | همېشه را باندې ازمایي زورونه
خدای دې تور د تورو سترگو چاته نه کا | عالمونه یې وکړي په تورونه (۸)
یو حسن او ربې بل کړم پڅهان کې | په دا اور باندې لي (۹) وسوځي کورونه
زه دیار په مینه غل کړم رقیبانو | گڼه نور یې کوم راپورې رپورونه

۲۳۳ — ۲۵۴۲

د تاج د عاشقۍ رهسې غن وشو (۱۰)
چې بریا یې شو په هر ښهر کې شورونه

---

(۱) په "ق" چاپ او د "خ" نیمگړې نسخه کې "پایان" راغلی دی.
(۲) دا بیت په مصوره نسخه او د "خ" په نیمگړې نسخه کې نشته.
(۳) د پېښور چاپي دیوانونه او قلمي نسخې: "دابرو دیو د محراب ته یې حیران یم".
(۴) په چاپي دیوانونو، مصوره نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې "وللي" راغلی دی.
(۵) د "ق، ک" چاپ کې "راکاوه شي د سپېدو دو پېغورونه". په مصوره نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې "یې تنگوي" راغلی دی.
(۶) د پېښور چاپي دیوانونو کې "وژلي" راغلی دی.
(۷) په قلمي نسخو کې "پېغورونه" راغلی دی.
(۸) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۹) په چاپي دیوانونو کې په دواړو مصرعو کې د "لې" پر ځای "دې" راغلی دی.
(۱۰) په "ق" چاپ کې "زورن شو" راغلی دی.

Marfat.com

په خاطر مې غلبه شول ستا غمونه | لښ د خدای د یاره کښېږده قدمونه
خه خو قیاس زما د پرهار و بنکو کړه | چې مې چېرې وو په تن کې دا زخمونه(١)
هر چې ستا په دم ژوندي وي(٢) نه رغېږي | که بې تا په ځان پوکې هزار دمونه
که هزار هزار دمونه په ځان پوکا | نور به نه کا په دمونو قسمتونه(٣)
له قسمته خلاصېږه د هېچا نشته | که داخل شي د مکې په حرمونه
سړی کله په کوښښ ترځایه رسي | خو د خدای له لاسه نه وځي(٤) کرمونه
چې توانګر د قناعت په خزانه شي | نور به خه کاندي دینار و درمونه(٥)

٢٣٤

قسم وخوري له خوبانو بیا یې مات کا
خه باور دی د رنځ په قسمونه

٢٥٥٠

ژوندي کاندي د دنیا کاروبارونه(٦) | په مړو پرېواته د خاورو انبارونه
خولک سرتور، سپین ږیري خاورو له درومي | چا کاږه دي په سر البني دستارونه
سنه استوګنه د دوو ورونو سره نه شي(٧) | بلکه یو ځبله اخلي ازارونه
دیوې ولې(٨) له سناخه پیلکېږي | په چمن کې هم ګلونه هم خارونه
هومره خلق هره ورځ له دنیا درومي | چې یې نه په چا حساب شي نه شمارونه
یو یو وار دی په هر چا باندې تېر شوی | همېشه په هېچا نه وي دا وارونه
د برتو دکې بازارګې مې تر سر تېر دي | خولک دې نه کا په ما قنج و بازارونه

---

(١) په چاپي دیوانونو او "خ" په دوهمه نسخه کې "زرودونه" راغلي دي.
(٢) د "ب" په چاپ کې: "ستا د حسن مار چې یې وخوري نه رغېږي".
(٣) د "خ" په دوهمه نسخه کې "قلمونه" راغلي دي.
(٤) دا بیت په "ق" چاپ او "ق ک" چاپ کې نشته.
(٥) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(٦) د "ب" په نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې "کاروروزګارونه" راغلي دي.
(٧) په "قلمي" نسخه کې "سنه تو منه" راغلي دي.
(٨) د "ب" په نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې "دیوې دالې" راغلي دي.

Marfat.com

۲۳۵ — ۲۵۵۸

جدایي د آشنایانو هر دم کا ندي
په رحمان باندې د تورو ګوزارونه

پټ پناه مې په خاطر لګي اوړونه — چې را یاد شي د مینو بشرونه[1]
تل جرس درته واهه د کوچ دلیال شئ — پردیسانو زلمو وتړئ بارونه
راشه ورشه حال يې وګوره چې څه دی — پر مینو باندې پرېواته قبرونه
تا چې دا شیرین بشر خاورې بیابان کړه — تر شیرین بشر يې وخاته خارونه
هامین چې تا لیده اوس لیده نه شي — دې بند شوي د لحد په حصارونه

۲۳۶ — ۲۵۶۴

یوه ذره د محبت ورکړه رحمان تاله
چې يې تالې په زړه نور نه شي فکرونه

دریغه ولیدی یو ځل هغه مخونه[2] — چې دراز لري مژګان دراز قدونه
دراز قد دراز مژګان درازې زلفې — وړې شونډې وړه خوله واړه غاښونه
د آسمان شمس و قمر به ترې قربان کړم — هم د ځمکې په سر واړه سره ګلونه
چې يې ووینم په مخ مې اوښکې درومي — د سپرلي له مخه ووري بارانونه
که یو ځل يې مخ ووینم په سترګو — ما په زړه کې قبول کړي دي نذرونه
د هجران په شپه سوړ کټ راته سور اور شي — یو زمان مې باندې نه لګي اړخونه[3]
چې په سپینو انګو دې زلفې ځانګي[4] — ښاماران دي د چندنو په ښاخونه

۲۳۷ — ۲۵۷۲

که خدای غم د جدایي ورته آسان کا
و رحمان ورته اسان دي نور غمونه

---

(۱) دا غزل د "خ" دواړو قلمي نسخې نه نقل شو.
(۲) د "ب پ" چاپ: "دریغه دې لیدی یو ځل هغه مخونه".
"ق" چاپ او "ق ک" چاپ: "دریغه ووینم یو ځل هغه مخونه".
(۳) دا او ورپسې بیت په قلمي نسخو کې نشته.
(۴) "ب" چاپ: "لوڼې زلفې دې په سپینو لیچو ځانګې".

که ستا خپل سیاه روي نه وي دښمنه — آیینه زما د زړه نه ده خجنه[1]

ته چې ما ته په نظر د عیب ګورې — دغه عیب وار په ستا دی عیب جنه

خپل حسن به په آیینه کې هرڅوک ویني — که خبره د چا صفا وي که ریمنه[2]

چوهار چې د حلال خوري په نامه بولي — له سو خلقو بدګویي نه ده ممکنه

ته چې بد له بد وایې زه وېرېږم — چېرې خپله بدي نه کړې معینه

تر هغه به ړوند مې عیب ستا څرګند شي — وهرچا وته چې کړې د چا غندنه[3]

هر رنګ تخم چې کرې هغه به راخلې[4] — خپله خپله میوه نیسي هره ونه

که له خپله عیبه ځان ژغورې تانه

د هیچا له عیبه مه کوه پوښتنه

۱۳۸ — ۲۵۸۰

ما وې زه به نه کړم په خوبانو باندې مینه — مینه د خوبانو وچوي د صورت وینه[5]

خدای زما په بخره عاشقي کړه له ازله — خوښ یم په دا بخره که ترخه ده که شیرینه

څکه هغه سوځم چې اور وربانذې بل وي — روغه خلق شوه د زړه ورو تماشبینه

سبه توسبه مې نه شي په تن د داد کورو کلي — مرد بو به چې واخلي د غم پیتی له غمګینه

نور عالم به خدمت کړم زه مرید د هغه کس یم — هر چې وما ته راکا یو پیغام له نازنینه

خوب به سوک په سترګو غروم له هسې غمه[6] — خوب مې تل وینې د زړه خاخي له آستینه

سر د رحمان د روي د هجران په تبره توره[7] — ته یې نګاهبان شي یا اله العلمینه

---

(۱) دا غزل د ... په ... نسخه کې نشته.

(۲) د ... په لومړۍ نسخه کې «ریمنه» راغلی دی.

(۳) چاپي دیوان: «چې هرچا وته دې کړې ده غندنه».

... په لومړۍ او مصر ... نسخه کې ... «دخان» راغلی دی.

(۴) په چاپي دیوان کې «یوسې» او ... په ... نسخه او ... لومړۍ نسخه کې «موې» راغلی دی.

(۵) قلمي ... «به زما نه کړم په ښائستو باندې مینه» ... کښلي که مي خوك کښيان تورا ورانه کاله حینه».

(۶) دا بیت د ... په نسخه کې نشته او ... په چاپي دیوان کې لومړی مسری داسې ده: «خوب د دوارو سترګو غروم له هسې غمه».

(۷) دا بیت د ... په لومړۍ نسخه او مصر ... نسخه کې نشته. ... چاپ کې لومړی مسری داسې ده: «سر د رحمان دردي د رحمان په تبره توره».

Marfat.com

١٣٩ اورد جدائي په (ن: ځان) تخ دی لګیدی (١)
وخت دی که مدد کړي یا میران محي الدینه ١٥٩٨

یادوي په خوله مکه او مدینه | نسکور یې روت لي دعوې په سینه
زور یې نه سر لکه غوټه مراقبه کړي | پټ دي نفس د زړه رخت د(ی) رنګینه (٢)
د اطلس و قبا (٣) غواړي نه یې مومي | لډ نا کا مرد يې (٤) خرقه کړه پشمینه
عبادت دې خوږتیرې تر معصیت (٥) کا | خه خو نه یې وځانته آیینه
کینه بده ده بې شکه جنګ حرام دی | نه له نفس و(له) شیطان سره کینه (٦)
تر ناپاکو ناړینه و (٧) وې بهتر ده | پاک دامنه په رهبري کاره ارتینه
د مردانو کار له نفس سره جنګ وي | نه زنان (ن) غوندي له نقش ونګینه (٨)
د دیندار به ارتیني تر یوې کوشني | صدقه شه سل یې دیندارینه (٩)
نیکوکار سړی بهتر دی که خور د سال وي | تر سپین ږیري بدکرداره د ری پینه

١٤٠ بدکردار که صد ساله شي (١٠) و (ن: ځان) تخ ته
خر ګڼه یې لکه طفل شبینه (١١) ٢٥٩٨

بیا دې مخ دی جار وتلی خه بلا شوه | دا بلا له کومه لوري را پیدا شوه

---

(١) دا بیت په چاپي دیوانو کې نشته. د "تخ" په لومړي نسخه او مصوره نسخه کې داسې دی: "اورد جدائي په (ن: ځان) تخ دی لګیدلی ته یې نګهبان شې یا الله العلمینه"
(٢) د "تخ" په لومړي نسخه کې دا مسرې داسې ده: "پټ دې نفس د زړه رخت دی رنګینه".
د "تخ" دوهمه نسخه: "اندرون دې لکه نقش رنګینه".
(٣) د "تخ" لومړي نسخه: "جامه".
(٤) "ق، ک" چاپ: "یې".
(٥) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته، لومړي مسرې یې په "ق، ک" چاپ کې داسې ده: "معصیت به دې خپل تېر تر عبادت کړي".
(٦) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(٧) چاپي دیوانونه: "ده"، مصوره نسخه: "دی". د "تخ" دوهمه نسخه: "...".
(٨) دا بیت د "تخ" په دوهمه نسخه کې نشته، "پ" چاپ: "نه ښځو غوندې له نقش نګینه".
د "تخ" لومړي نسخه: "نه زنانو غوندي نقش نګینه".
(٩) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته او د "تخ" په دوهمه نسخه کې د "کوشني" پر ځای "خوکه" ایلی دی.
(١٠) چاپي دیوانونه او نوري قلمي نسخې: "وې".
(١١) "ق، ک" چاپ: "بدکردار که صد ساله دې خو ځان ته هسې ښکاري لکه طفل شبینه".

Marfat.com

جمیل احمد شرقپوری نقشبندی ... لاهور پاکستان

ورځ چې واوړي دغه هسې نه وي خړوبې — لکه نن چې د خپل یار و ماته شا شوه[1]

دا زما په یار کې هر و وفا نشته — که دنیا واړه لې مهره بې وفا شوه

چې یې هیڅ له خدایه ترس او وېره نشي — په نصیب مې پوه هسې دلربا شوه

چې و حسن ته یې ګورم حیرانېږم — راڅرګند یوه هسې تماشا شوه

څه د حد و د حساب خبره نه ده — بې صبري مې تر حسابه زیاته لا شوه[2]

قرارې مې په طلب کې شوه حرامه[3] — بې غمي مې په مذهب کې ناروا شوه

چې رابنکلې مې پرې غښتې د دعا وو — هغه نشوې ونه وېښته خطا شوه

لکه پوچ بادام بې مغزه بې حاصله — هسې پوچه بې حاصله مې دعا شوه

عاشقي چې مې له خلقه په غلا کړه — هغه غلا مې په تمام جهان رسوا شوه

خطره بد له نسیا معاملو هم — چې مې نغده په ودعوې کې نسیا شوه

د دبېرته جار و توشو راته پېوړې — په نصیب مې بله نه وه داوه دا شوه[4]

یوه بخره هر سړي له خدای ورکړه — زما بخره آشنایي د خپل آشنا شوه[5]

د تدبیر په دام به څه شکار کېنیوزي — معشوقه چې مې په مثل د عنقا شوه

ورځ چې واوړي دغه هسې نه وي خړوبې — لکه نن چې د خپل یار و ماته شا شوه[6]

چې یې زړګی زېړ رخسار زما د خاوړو — عاشقي نه وه په باب زما کیمیا شوه

څه حکمت د یار په مینه کې خدای کېښود — چې عاشق له هم درد شوه هم دوا شوه

٢٦١٩ دا باران نه دی چې ورېږي له آسمانه — د مرغانو په ځنځ باندې ژړا شوه ٢۴١

---

(١) دا بیت په چاپي دېوانونو کې نشته.
(٢) قلمي نسخې: "په هغه خوا شوه" راغلی دی.
(٣) چاپي دېوانونه: "قرارې مې په طلب کې بې حرام شه".
(۴) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۵) د "خ" په لومړۍ نسخه او مصوره نسخه کې "هر آشنا" راغلی دی.
(٦) دا بیت په چاپي دېوانونو کې نشته.

Marfat.com

چې په نور خه لوری زړه نه ږدې بې خدایه — خه پوهېږې چې په ځای کړې که بې ځایه [1]
داخو نشته چې به تل تر تله پاتې — که بیا پاتې خو تر سلو کالو پایه
که دې سل کاله شي عمر خو به تېر شي — دغه پسه بیا به خه کړې راته وایه [2]
سم له لاسه چارې نه شي مُرد هنه دی [3] — چې بېدار وې وغلیم وته له وړایه
ته په اصل کې سړی یې خاروی نه یې [4] — د چارپایو چارې مه کوه دوپایه [5]
مرتبه به دې د هج اردمېږي شي — زړه په غوړ و غوښو مه تړه هُمایه [6]
موړ به نه شې ته په حرص بې قناعته — اې په تخت داورنګ زیب ناسته ګدایه [7]

ورانده سرای لره توښه تړه راځه [8]
خو سفر دې کړی نه دی [9] لره سرایه

٢٤٢ — ٢٦٢٤

په حالت د عاشقانو نظر بویه — په زیارت د شهیدانو ګذر بویه
بې مرشده خبر څوک د مریدا خلي — نوح په غم د فرزندانو پېدر بویه
بې رېباره رسیده ویار ته ګران دي — په کوڅه د هر و یانو رهبر بویه
بې هنره ځا دولت موندلی نه دی — په خدمت د صاحبانو هنر بویه
ستا له سترګو مې هر ګور ملاحظه شي — له دې هسې سیاه دلانو [10] حذر بویه

---

(۱) د "ق . ک" چاپ : "راته وایه دا یه ځای کړې که بې ځایه".
د "خ" لومړی نسخه : "خه دې زده چې خدای به ځای کړې که بې ځایه".
د "خ" دویمه نسخه : "خه دی زده دی چې په ځای کړې که بې ځایه".
د "ب" لومړی نسخه : "خه دې زده چې دا بې ځایه کړه کا بې ځایه".
(۲) د "خ" دویمه نسخه : "دغه پسه به لوړ خه کړې راته وایه".
(۳) د "خ" لومړی نسخه : "هم له لاسه".
(٤) د "خ" لومړی نسخه : "چارپای نه یې". مصره نسخه : "خاروی مه یې".
(۵) "ق . ک" چاپ : "خودرایه". "ق" چاپ : "مه شره چارپایه".
(٦) قلمی نسخې : "زړه په غوښو په غوړ مه تړه همایه".
(۷) د "ب" نسخه : "موړ به نه شې په حرص بې قناعته که بې په تخت داورنګ ناسته ګدایه".
(۸) د "خ" لومړی او مصره نسخه : "واخله".
(۹) د "خ" لومړی نسخه : "نه وی".
(۱۰) د "خ" په لومړی نسخه کې د "سیاه دلانو" پر ځای "سیاه مارانو" راغلي دي.

Marfat.com

بنه چې ستر ګې خدای ملالې کړې تر کوم     لن په زړه د ظالمانو اش بویه
ستا په داغ[1] به هر یو زړه مشرف نه شي     دغه تاج د بزرګانو په سر بویه

٢٤٣     ٢٦٣٢

چې خبر د تماشاع نه اخلي یار بد کا
بادشاهان له ګدایانو خبر بویه

---

ره مې وکړه خود رای     هر چې شي تکیه په خدای
په سودا د عاشقۍ کې     یا به شاه شم یا ګدای
یا به کېنم و د وهځه ته     یا په سیوري د همای

---

(۱) "سپ پ" چاپ کې د "داغ" پر ځای "یار" او د "خ" په لوړې نسخې کې "تاج" راغلی دی.

چې خدای کا هغه به وشي — نه بل خدای لرم نه ځای
بې دلبره به ور نه کړم — بل هېڅ‌ها ته د زړه رای (۱)
پای بوسي به یې پرې نږدم — خو مې رسي دست و پای
یا خندا ده په جهان کې — یا ژړا ده په وای وای (۲)
تر دا دوو چارو پسې ورته — نور څه نشته په دا سرای
عاشق بویه چې صادق وي — نه خودکام و نه خود رای
خالي دې نه کا خوک په عشق کې — جو فروش ګندم نمای
زه رحمان په کان پوهېږم — که مې ملشي کار فرمای (۳)

۲۶۴۳ ۲۴۴

کشکې زه خاورې ایرې د ستا در وای — چې قدم دې همېشه زما په سر وای
خو یو ځله زما ستا وبله مخ شوی — نور مې موخه ستا د غشیو په ته‌ور وای (٤)
تمام تن مې د رنجو په خېر اوره شوی (۵) — خو په ما د تورو سترګو یو نظر وای
په زېړ رنګ په سپینو اوښکو به ما بیا مو نه لې؟ — که د ترکو ملاقات په سیم و زر وای
ملامت به په ما څه لره وایه شو — که د ستا د دلبرې نه خوک خبر وای (۶)
مرتبه که ستا د عشق شي ورڅرګنده — ملایک به واړه والي چې بشر وای (۷)
تماشا به زما هله درښکاره شوه — که ته ما غوندې بې دل وای زه دلبر وای

---

(۱) قلمي نسخې: "نور هېڅ‌ها د زړه رای".
(۲) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.
(۳) د "ب" په نسخه او د "خ" دویم او مصوره نسخه کې د "ملشي" پر ځای "مل وي" راغلی دی.
(٤) قلمي نسخې: "نور مې موخه ستا د غشیو ته بهر وای".
(۵) د "خ" قلمي نسخې: "تمام تن مې د رنجو په خېر وور وور ولې".
(۶) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.
(۷) په قلمي نسخه کې "که بشر وای" راغلی دی.

Marfat.com

په خوبانو به زمانتر کوم خوندي نه وي — که په خه مې دنيا وتو و پر هر وای

ستا په درد کې طبيب والي وحمان ته
لا به نه وي نه دې حال تر دا بتر وای

٢٦٥٢ — ٢٤٥

يو يو داغ په تن تر اينبي د هر چا دی — که بادشاه د ولايت(1) دی که گدا دی

سيرابي په سرچشمه د دنيا نشته — تشنه لب يې گوښې گوښې په غوغا دی

لږ راحت په ډېر زحمت باندې مومنده شي — د دې دهر خس حرام شه(2) که وريا دی

د دنيا بنادي بې غمه مومنده نه شي — لږ خيرات د شوم له کوره په بلا دی

فراغت پرې باندې ولې حرام نه وي — چې داخل په سراچه د دې دنيا دی

د مجنون د حال پوښتنه به خوک څه کا — جهان واړه کور په کور مجنون ليلا دی

عشق يوه سې رنگ افسون په عالم پو کړ — چې عاشق په تور وسترگو نابينا دی

د هر چا لې بخره وکړه گوښې گوښې — خپل قسمت د هر سړي جدا جدا دی

ورکړه راکړه ټولې د بل په لاس دي — د لته دخل نه زما دی نه دستا دی(3)

په هر څه(4) چې د صاحب د زړه رضا شي — په بنده که ناروا دی هم روا دی

خوا ناخوا که يې رضا وي که يې نه وي — د قسمت رسد(5) رضا او نارضا دی

خان جهان سپارلی بويه و هغه ته(6) — چې يې حکم جاري شوی په هر چا دی

---

(۱) د "خ" په دوهمه نسخه کې د "ولايت" پر ځای "زماني" راغلی دی.
(۲) په چاپي ديوانونو کې "حرام دی" راغلی دی.
(۳) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته په "ب" چاپ کې دا بيت داسې دی:
"ورکړه راپېروده ټول د بل په لاس دي — هلته دخل نه دستا دی نه زما دی".
"ق" "س" چاپ: "ورکول او اخستل د بل په لاس دي".
"پ" "ب" چاپ او "ق" چاپ: "ورکول راپېرودل د بل په لاس دي".
"ب" لومړی نسخه او "خ" لومړی نسخه: "ورکړه راپېروده هم د بل په لاس دي".
(۴) د "خ" په دوهمه نسخه او نيمګړې نسخه کې "په هر کار" راغلی دی.
(۵) د "خ" په دوهمه نسخه کې "د قسمت شوی" راغلی دی.
(۶) د "خ" دوهمه او نيمګړې نسخه: "خان ايمان سپارلی بويه وهغه ته".

Marfat.com

دهر چا په لاس چې حکم حاکم ورکا　　جهان واره دهغه په مدعا دی

چې مولا ورسره مل نه وي تاځ

۲۴۹　　۲۶۶۶

که لښکر یې ورسره وي یک تنها دی

هسې رنګ نعمت راکړی خدای وما دی　　چې هیڅ څیز بهاې نشته بې بها دی (۱)

یوخو دا چې یې په شکل د آدم کړم　　دویم دا چې محمد ﷺ مې رهنما دی

لاس وښپې غوږ وسترګې خوله او ژبه (۲)　　یو صورت مې په خواسه مسما دی

آسمان ځمکه، لمر، سپوږمۍ او روښا ستورې　　درست جهان مې ونظر ته تماشا دی

شپه او ورځ دماه ومهر له پرتوه　　غم دځمکې راته درست نقره طلا دی

په شپه مښک په ورځ کافور رابانده ورې　　درست صورت مې پکې غرق سرتر پا دی

په هردم زندګاني بخښي وما ته　　هر نسیم دیار له لورې مسیحا دی (۳)

دچمن وسروګلونو ته چې ګورم　　هرهر ګل راته دفدا یه په خندا دی

دګلګونو میو نا وې راته ناسته　　زنګاري قمیص اغوستی دمینا دی

خیلې وینې په ورغوي کې نیولې　　هر ساغر دمی فروشو جان فدا دی (۴)

دشنه رود (۵) په غاړه ناست سرود په لاس کې　　هر مطرب لکه بلبل هسې ګویا دی

سپین مخونه سرې لښتې دي د دلبرو　　هر دیدن یې د آفتاب په څېر رڼا دی (۶)

---

(۱) قلمي نسخې: "چې هیڅ هیڅ بهاې نشته بې بها دی".
"ق، ک" چاپ: "چې بهاې هرګز نشته بې بها دی".
(۲) د "خ" دوهمه نسخه کې "لوړه" راغلې دی.
(۳) دابیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۴) "ب" لومړۍ نسخه او "خ" دوهمه نسخه: "هر ساغر دمی پرستو جان فدا دی".
د "خ" لومړۍ نسخه: "هر ساغر دمی پرخښتکو جان فدا دی".
(۵) په چاپي دیوانونو کې "سنه رود" راغلی دی.
(۶) دابیت په "ب" چاپ، "ق" چاپ، او "ق، ک" چاپ کې نشته. په قلمي نسخو کې یې لومړی مسری داسې دی:
"سپین مخونه سرې لښتې د دلبرو".

۲۴۷ — ۲۶۷۹

چې دا هسې معرفت یې پرې پېرزو کړ[1]
په تاج (ان) باندې منت د پاك مولا دی

دا چې مست په میو راغی یار د چا دی　　بیا به تاخت کا په کوم غولي ولاړ د چا دی[2]

چې زړه سوی یې د حرم په صید هم نه شي　　دا چې دړد او یې صرفې گوزار د چا دی[3]

ما خو نه دي خولې بې وچې آزار کړي　　دا چې ما آزار وي آزار د چا دی

چې یې د رست جهان دخ په زنار یست کا　　دا آفتاب غونډې روښان رخسار د چا دی[4]

چې بلبل یې رسبدې تر گلو نه شي[5]　　دا د ننه په حرم گلزار د چا دی

۲۴۸ — ۲۶۸۵

چې هیڅ ترس په زړه کې نه لري تاج (نه)[6]
دا نا ترس او بې پروا نگار د چا دی

غواصان که گوهر غواړي گوهر دا دی　　بېدلان که دلبر غواړي دلبر دا دی[7]

زما یار غونډې به بل یو دلبر نه وي　　د جمله وُ دلبرانو سرور دا دی[8]

خوند دلبو او د چاه زنخدان یې[9]　　راشه گوره زمزم دا دی کوثر دا دی

چې یې وصل او هجران و ته نظر کړم[10]　　زه گومان کړم جنت دا دی سقر دا دی

---

(۱) د "خ" دوهم نسخه : " چې نعمت د معرفت یې پرې پېرزو کړ".
(۲) دا غزل د "خ" په مصوره نسخه کې نشته او "خ" په دوهم نسخه کې د "غولي" پر ځای "لوري" راغلی دی.
(۳) قلمي نسخې : " چې زړه سوی یې د حرم په صید نه شي　　دا د غنچې یې صرفې گوزار د چا دی".
د "خ" دوهم نسخه : " دا یې دړبغه یې صرفې گوزار د چا دی".
(۴) دا بیت د "ب" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۵) د "ب" په قلمي نسخه کې " تر گله " راغلی دی . د "خ" لومړۍ نسخه : " چې بلبل یې رسبدی نه شي تر گلو".
(۶) د "خ" لومړۍ نسخه : " چې هیڅ ترس یې په زړه نه کړي رحمانه　　دا نا ترسه نا فرمان نگار د چا دی".
" ق ، ک " چاپ او " ق " چاپ : " دا نا ترسه بې پروا گوزار د چا دی".
(۷) دا غزل په مصوره نسخه او د "ب" په دوهم نسخه کې نشته.
(۸) د "خ" دوهمه نسخه : " زما یار غونډې به بل په جهان نه وي　　د جمله و دلبرانو سردار دا دی".
(۹) د "خ" لومړۍ نسخه : " خوند دلبو و د چاه زنخدان دې".
د "خ" دوهمه نسخه : " خوند دلبو یې او چاه یې زنخدان دې".
(۱۰) د "ب" نسخې : " چې د وصل و هجران ته یې نظر کړم".
د "خ" لومړۍ نسخه : " چې د وصل و هجران و ته یې گورم".
د "خ" دوهمه نسخه : " چې و هجران و وصال و ته یې نظر کړم".

Marfat.com

ته خطبه په منبر ښه لولې خطيبه | قدم کېږده په ځان باندې منبر دادی
دکعبې سفر آسان دی مرد هاله نې | کـه له ځانه سفر وکړې سفر دادی (۱)
هر منعم چې دلجويي د قلندر کا | هغه نه دی قلندر، قلندر دادی
چې توانګر د قناعت په خزانه شي | بل توانګر په جهان نشته توانګر دادی

٢٤٩ — ٢٦٩٤

داهغه نه دی چې خاوره په خوله شي درند کا
چې نر خاورې کا صاحب هغه نر دادی

هغه زړه چې ستا د عشق په اور کباب دی | که مرهم ور باندې کېږدې ډېر ثواب دی
حجابونه له اغيارو مناسب دي | د يارانو په يارۍ کې څه حجاب دی
بې له تا چې ښايست رېږي بې حسابه | نور ښايست د جهان واړه په حساب دی (۲)
ښاپېرۍ که هر څو ډېرې ښايسته دي | په هغو کې هم ستا حسن انتخاب دی
لکه ګل (۳) چې تر آفتاب پورې خجل دی | دغه هسې ستا تر مخ پورې آفتاب دی
دا د ميو څه مستي او سرخي نه ده (۴) | تېغ د سترګو دې په وينو کې غرقاب دی

٢٥٠ — ٢٧٠١

زه صاحب په خوب ښه کوم ويار نه
وړ و نديو ته د مړيو ښه خوب دی

د ساقي په لاس کې جام د ميو ناب دی | مطرب ايستلی په زانو باندې رباب دی
ته چې ما وته توبه وايې ناصحه (۵) | په دا وخت کې چا څه د توبې تاب دی
زه چې ځان منع کوم د عشق له کاره | په داسې کار کې کوم سود او ثواب دی (۶)

---

(۱) چاپي ديوانونه : " دمکې سفر آسان دی مرد هغه دی چې له ځانه سفر کاندی سفر دادی ".
(۲) چاپي ديوانونه : " په هغو کې هم ستا حسن انتخاب دی " لېن دا دی بيت د دوهم مسرۍ او دپسې بيت لومړی مسرۍ په چاپي ديوانونو کې نشته.
(۳) په قصه خوانۍ چاپ او " ق " ، " ک " چاپ کې د " ګل " پر ځای " شمع " راغلی ده.
(۴) قلمي نسخې : " دا د ميو د مستي سرخي نه ده ".
(۵) د " خ " لومړی نسخه : " ته چې ما ته توبه فرمايې ناصحه ". مصور نسخه : " ته چې ما وته توبه ښيې ناصحه ".
(۶) دا بيت اول دې نه دروسته بيت دی ؛ په مصوره نسخه کې نشته. په " ق " ، " ک " چاپ او " ن " چاپ کې د " کاره " پر ځای " لاره " او " خ " په دوهمه نسخه کې " اوره " راغلی دی.

Marfat.com

د آسمان چې لوی په عقل کې باله شي — په محیط د عاشقۍ کې یو حباب دی[1]
محتسب په رقص گردش باك بې نشته — صوفي پروت په میخانه کې مست خراب دی[2]
هر چې زغوري سر و مال په عاشقۍ کې — هغه کړی کور په مخ کې د سېلاب دی
په رقیب باندې غفلت راغی ویده شو — یار پېلوله مخه واخیست بې حجاب دی[3]
نه چې خوب غواړې په عشق کې راته وایه[4] — کوم چاکړی د مزدې په خوله کې خواب دی
بې عمل که کتاب کېږدې په سرخه شو — گویا الیسی بې تر پېټولاندې کتاب دی
چې د شر له عملونو نه خیر غواړې — تشنه لب غوندې سر شوی په سراب دی[5]
د دښمن له مکارۍ نه و ویرېږه — په نرمۍ بې غلط مه شه سنگ در آب دی

۲۵۱

۲۷۱۳

عبادت په شتاب هسې کړه ~~لکه~~ ~~غم~~ رحمانه[6]
لکه غم چې دې تلونې په شتاب دی

چې تر سنگ و تر آهنه بې زړه سخت دی — زړه هغه لره ورکړی ما کم بخت دی
خدایه کله به هغه غل راته اسیر کړې[7] — چې لوټلی یې زما د خاطر رخت دی
هو مره غم به نور په هېچا باندې نه وي — لکه غم چې د خپل یار په مایك لخت دی

---

(۱) د "خ" دوهمه نسخه: "په محیط د عاشقۍ یو حباب دی".
(۲) دا بیت د "خ" له لومړۍ او دوهمې نسخې څخه نقل شو.
(۳) دا بیت د "خ" له لومړۍ او دوهمې نسخې څخه نقل شو.
(٤) "ق" "ک" چاپ: "کوی" او "ق" چاپ کې "والي" راغلی دی.
دا مصرع د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "ته چې خوب په عاشقۍ کې له ما غواړې".
(۵) د "خ" لومړۍ نسخه: "که سر و لعلونه خیر خیر غواړې".
د "خ" دوهمه نسخه: "چې د شر عمله لعملونو خیر غواړې تشنه لب غوندې سېر شوی په سېراب دی".
(۶) د "خ" دوهمه نسخه: "عبادت په شتابه کړه رحمانه".
(۷) قلمي نسخو کې "یاغیان" راغلی دی.

Marfat.com

مګر بېل په تېره تېغ شي يار له ياره — ګنه بناخ له خيله شاخ سره درخت دی[1]

د پالنګ او د پېرې[2] حاجت بې نشته — د يارانو نشستن د زړه په تخت دی

چې له دېره درده وخت پېژندی نه شي

۲۵۲ — په رحمان باندې بې يار هسې وخت دی[3] — ۲۷۱۹

ستا له لاسه په ماجوړ دی که داد دی — زما مراد خو واړه ستا د خاطر مراد دی[4]

ستا په مينه کې زما له څخه تښتي — که آفت دی که آسيب دی که فساد دی

هر اهداد چې راکاوه شي ستا په مينه — په لبمه زما قبول هغه اهداد دی

که تمام جهان مې پرېوځي په لبمه کې — بې تا نه راخر ګنده ږي نه مې ياد دی

ماچې غوږ دا ستا د عشق په ترانه کړ — نصيحت مې نور د زړه په غوږ ويناد دی

اوس زما له ننګ و نامه سره څه دي — چې دې نام د عاشقۍ را باندې زياد دی

هر ګلشن چې له ګلرخه بې بهره وي — د عاشق په نظر غولی د صياد دی

د رحمان و توان ته ګوره هومره ناز کړه

۲۵۳ — چې دا و سينو روغ نه دی آدم زاد دی — ۲۷۲۷

که بې مهر و محبت که بې عناد دی — ما ديار په ياری کړی اعتماد دی[5]

زه او يار که په تن دوه په معنی يو يو — هزار خوبې واړه [illegible] ياد دی

هيڅ بېلتون زما ديار و بله نشته — کار همه واړه موقوف په خپل ميعاد دی

زه خپل آه آتشين له خدايه غواړم — د آشنا خاطر که موم دی که فولاد دی

هيڅ موقوف د معشوقې په حسن نه دی — د عاشق خاطر په خپله مينه بناد دی

---

(۱) دابيت د نسخ په دوهمه نسخه کې نشته . په نورو قلمي نسخو کې لې دوهمه مسرۍ داسې ده : ګنه بناخ له خيله دېنه سره درخت دی

(۲) د نسخ په لومړی نسخه کې «شرې» راغلی دی.

(۳) قلمي نسخې : «په رحمان ديار له غمه هسې وخت دی».

(٤) په چاپي ديوانونو کې «زړه» راغلی دی.

(۵) په قلمي نسخو کې «اعتقاد» راغلی دی.

چې د آه و د فریاد طاقت یې نه وي — هر سکوت د بې طاقتو آه فریاد دی
سل په دا رنګه نمونه د عشق نور دي — لکه نوم چې د مجنون او د فرهاد دی
چې یې زړه شي هلته کېني هلته پاڅي — عشق د عقل و دهن کرم داماد دی
بادشاهان په عاشقۍ کې ملنګان شي — ما او تا غوندې وګړي د چا یاد دی
چې پرېشان د یار د زلفو په خبر نه وي — جمعیت د هغو زړونو لوی فساد دی
که رښتیا له خرابې سره ګنج وي — خرابات د بې بنیاد و بېخ بنیاد دی
که کمال د کمینه په اندازه دی — فوقیت د شاګردانو په استاد دی
که په یار پسې ترخان تر ځان تېر شي[1] — په رحمان زمونږه هسې اعتقاد دی

۲۵۴ — چې دا نور شاعران کاندي هغه نه کا — ۲۷۴۱
رحمان کړي نوې نوې اجتهاد دی[2]

په خاطر باندې مې ستا د غم غبار دی — همېشه مې په زړه پروت انبار انبار دی
که رهبر وي ګمراهانو لره خضر — عاشقانو لره خضر ستا رېبار دی
ګوندې چېرې خولې د خدای په درقبول وي — ستا له لاسه مې فریاد په هر دیار دی
د شهید و په رخسار و نو ته نظر کړه — هسې رنګه مې له دوستۍ ګوخونبار دی
چې د غم په بار یې زړه دی زما کښلی — هم هغه مې په زړه کښلی په بار بار دی[3]
چې هر دم مې د غمزو په تورو وژني — لا مې زړه د هغه ستر ګومنت بار دی[4]
د آسمان دې د هغو په مدعا وي — چې په ما باندې یې کړی ستا اخبار دی

۲۵۵ — که یار سل ځله جفا ور سره کاندي — ۲۷۴۹
د رحمان داهسې کله اعتبار دی

---

(۱) د ابیات «ب» چاپ او «ق» ب کـ «چاپ کې نشته.
(۲) ابیات «ب» لوړي نسخ کې نشته.
(۳) ابیات «خ» «ج» نسخ کې نشته. «ب» لوړي نسخ کې «هم مسری داسې ده: «لا مې زړه د هغو ستر ګو منت بار دی».
(٤) ابیات «ب» لوړي نسخ کې نشته.

کمینې یو نادرکار دی — چې کمال ځنې اظهار دی
چې اختیار ئې کمینې کړه — په دانه کې پټ خروار دی
چرګ په دوه پیسې حلال شي — باز په سل روپۍ مردار دی
چې آسمان شو سرګردان شو — چې زمین شو برقرار دی
نستر ګوره سرکښي کا — انګور ګوره نګونسار دی
ذره خواره شوه آفتاب شوه — ابر خور ب دی غبار دی (۱)
کوه بلند شو سیه سنګ شو — لعل ووړ شو بزرګوار دی (۲)
لوی آسمان توره تبې شو — هلک لمر خوره انوار دی (۳)

۲۵۶ — ووړ سړی ګوره رحمانه — چې لوی خیل ئې بار بردار دی — ۲۷۵۸

زلفې دې له ډیرې درازیه پای تر سر دي — یا د بنفشې لښتې خورې په صنوبر دي
لب دې آب حیات دي یا شکرې یا نبات دي — یا خوږه غلط شوم (۴) تر همه وار و بهتر دي
قد ته دې خوک نه شي رسیدی له بلندۍ — ولې چې معراج وته خاته د پیغمبر دي
ما چې ستا بنایست و لمر سپوږمۍ سره په تول کړه — تللې په میزان کې تر آسمانه سپوږمۍ لمر دي
خاخلې له آسمانه په هر ځای ووري یکسانه — برخه په واښه شي په صدفو کې ګوهر دي (۵)
بخت دی چې ئې خوک متمکن کړه په تخت باندې — خوک د غم په خار ورته پاره پاره جګر دي (۶)

---

(۱) قلمي کې : " ذره ضعیف شوه افتاب شوه — ابر خور ب شو تش غبار دی
(۲) په ق . ک . چاپ کې " ابدار دی " غلط دی .
(۳) ق . ک . چاپ : " هلکت نور الانوار دی "
نور چاپي دیوانونه : " هلک لمر سره انوار دی "
د پ . لومړی نسخه : " هلک لمر شو خوره انوار دی "
(۴) په قلمي نسخو کې " بیم " راغلی دی . دغه بیت لومړی مسری په ق . چاپ کې داسې ده : " لبې ستا آب حیات دی یا شکر دی یا بانات دی . "
(۵) دا بیت د ځ . په لومړی او دوهمه نسخه کې نشته .
(۶) دا بیت د ځ . په دوهمه نسخه کې نشته .

Marfat.com

بادچې دې په زلفو باندې قصد د پرېشانۍ کړ — خلک یې ګردونه د جهان واړه په سر دي

هله به سرې شي چې دې نوم عبدالرحمان شي — اوس سرې په خپه یې که دې لوستي زېږ وزر دي[1]

۲۵۷ — سپینې اوښکې زېړ خسار مې له دولته[2] — ۲۷۶۷

ای رانجه دا د عاشقانو سیم و زر دي

دنیا دار که مستغني په سیم وزر دی[3] — هنرمند و ته خزه ګنج د خپل هنر دی

بېهوده به زور وروځان ته وایې[4] — د دنیا سړی که هر څو زور ور دی

هسې مه وایه چې زه یم په جهان کې — پیدا کړی خدای د سر د پاسه سر دی

ځینې ځینې یې ولیان پیغمبران کړل — نه چې هر سړی ولي او پیغمبر دی[5]

جو دانه قدر یو لعل یکې پیدا شي[6] — نور جهان واړه د تور و کاڼو غر دی[7]

یو بادشاه دی چې لښکرې پسې درومې — نه په هر یوه سړي پسې لښکر دی[8]

پیدا کړي خدای سړي په تفاوت دي — هسې نه چې جهان واړه برابر دی[9]

که د حمر و رفتن ته څوک نظر کا — دا به وایې چې آفتاب د نماز دیګر دی[10]

چې یې[11] سر په حمکه ایښی وي ویار ته[12] — په آسمان باندې ختلی لکه لمر دی

---

(۱) دا بیت په قلمي نسخو کې نشته.

(۲) دا بیت په ... چاپ کې نشته.

(۳) د "ب" لومړی نسخه: "دنیا دار که دنیا دار په سیم وزر دی".

(۴) د "ب" لومړی نسخې کې د "به" پر ځای "و" راغلی دی.

(۵) د "ب" لومړی نسخه: "ځینې ځینې یې ولیان پیغمبران کا — هر سړی نه اولیا نه پیغمبر دی".

د "خ" لومړی نسخه: "نه چې هر یو اولیا او پیغمبر دی".

د "خ" دوهمه نسخه: "ځینې ځینې اولیا ځینې نبیان وو — نه چې هر یو اولیا و پیغمبر دی".

مصوره نسخه: "ځینې ځینې اولیا و پیغمبران کړه — نه چې هر یو اولیا و پیغمبر دی".

(۶) د "ب" لومړی نسخه: "جو دانه قدر چې لعل یکښې پیدا کا".

نورې ټولې نسخې: "جو دانه قدر یو لعل یکښې پیدا کړه".

(۷) د "خ" دوهمه نسخه: "نور جهان واړه تورکاڼی او تور غر دی".

(۸) د "ب" لومړی نسخه: "نه په هر چا پسې کړی خدای لښکر دی".

(۹) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته. لومړی مسری یې په "ق ب ک" چاپ او "ق" چاپ کې د "سړي" پر ځای "هر څوک" راغلی دی.

(۱۰) د "خ" دوهمه نسخه: "دی به وایې چې رفتن د نماز دیګر دی".

(۱۱) "ق ب ک" چاپ: "چا چې".

(۱۲) "پ" "چاپ": "خپل یار ته".

Marfat.com

تعجب زما د ډېر وا وښکو مه کړه[1] ماموندلی په دا بحر کې ګوهر دی
دریا خرقه بې خدای مه کړه په غاړه[2]

۲۷۷۸ — ۲۵۸

تاج د کون دستار ترلی قلندر دی

دواړه سترګې مې کړې دستا په لور دي مدام د وینې د فراق په آب شور دي
زه بوسېږم چا چشمه دستا له سیبو چې مې ستا وړه ته دوه سترګې خلور دي[3]
کنډولي مې دوه سترګو ستا په طمع وهر ډېر[4] وته نیولي کوډ په کوډ دي
چې مې خیال دترکو ولید په چیل زړه کې[5] د واړه کسي مې وږه وته نسکور دي
اعتبار د زمانې په اشنا مه کړه همګې واړه دخپلو رختو چور دي[6]
ماقبول د رقیب ناز کړ ستا د یاره سود و زیان په دا جهان کې خه لا وور دي

په تاج باندې ګمان د اهسې مه کړه[7]

۲۷۸۵ — ۲۵۹

چې بې تا په نور خه غولیږي هغه نور دي

ستا له غمه مې په سر کې هسې شور دی ګو یا میشت[8] مې په سر شهر دلاهور دی
په افسون و په جادو د تور و سترګو خراب دل مې له جمله عالمه تور دی

---

(۱) د "ب" لومړی نسخه: "ته زما په ډېر وا وښکو عیب مه کړه".
د "خ" لومړی نسخه: "ته زما د ډېرو اوښو ته عیب مه کړه"
د "خ" دویمه نسخه: "ته زما د ډېرو اوښکو غیبت مه کړه".
(۲) د "خ" دویمه نسخه: "دریا خرقه دې خدای مه کړه په غاړه".
(۳) دا بیت د "ب" چاپ کې نشته. د "خ" لومړۍ نسخې لومړی مسری داسې ده: "زه ولې سېږي چا چشمه دستا د سیبو".
دویم مسری په مصورې نسخې کې داسې دی: "چې ستا داوړ ته مې دوه سترګې خلور دي".
(٤) چاپي دیوانونه: "وهر لور ته".
(۵) مصوره نسخه او د "خ" لومړۍ نسخه: "چې مې خیال د ترکو ولید په خپل خان کې".
د "خ" دویمه نسخه: "ما چې خیال د ترکو ولید په خپل خان کې".
(٦) دا بیت د "خ" دویمې قلمي نسخې نه نقل شو.
(۷) چاپي دیوانونه او لومړۍ قلمي نسخې: "په جهان باندې داهسې ګومان مه کړه".
دویمه مسری د "خ" دویمې قلمي نسخې کې داسې ده: "چې بې تا په نور خه غولیږي لور دي".
(۸) "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې "مجوړ" راغلی دی.

کـه مې نړه له غمه چوي راتـه والي — غم د هجر دغم مه ګڼه لا نـــوي دي

د هجران په بیمارۍ کې را معلوم شو — چې اخستي مي آزار د پلار و مور دي

دا دنیا په مثال کور شو د غمو نو — چې په هسې کور نازېږي هغه کور دي

دا جهان نه د چا خپل دی نه به خپل شي — چا په خپله رضا پرېښو چا په زور دي

چې د مرګ په پور وړیو کې یو ومري — دي دواړه یو پور وړي زوی او رور دي(۱)

کـه رحمان(۲) په عاشقي بې عزت کـېږم

ما په سترګو قبول کړې دا پېغور دي

۲۹۰ — ۲۷۹۳

کـه دلدار په دلدارۍ زما قدم ږدي — ګویا هر قدم په لاره(۳) د حرم ږدي

ځای لري که بې منته بوسه راکا — کوم کریم په چا منت د خپل کرم ږدي(۴)

معشوقه مشفقه بویه مهربانه(۵) — نه قارون چې په ځان اسم د حاتم ږدي

خلک وما وته ګلونه د جنت کړل — کـه دا غوټې په نړه باندې د غم ږدي

هسې پټ سالوم(۶) دا زېړ رخسار له خلقو — لکه زر چې خوک له خلقو پټ په نم ږدي

هېڅ مانه دی خوک له مستو(۷) سترګو نه کا — کوم یو مست دی چې قدم په لاره سم ږدي

راحت بې زحمته نه دی چا موندلی(۸) — کوم طبیب دی چې په دروغ صورت مرهم ږدي

---

(۱) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۲) د "خ" لومړۍ نسخه: "که رحمان په عاشقۍ کې غیرت نه کړې".
(۳) مصوره نسخه: "په لوري".
(۴) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۵) "ب" چاپ: "معشوقه مشفقه بویه مهربانه".
د "خ" دوهمه نسخه: "معشوقې مشفقې بویه مهربانې".
(۶) "ق" چاپ او د "خ" دوهمه نسخه: "پټ ګرځم".
"ق، ک" چاپ او مصوره نسخه: "پټ ساتم".
(۷) د "خ" لومړۍ نسخه: "بې‌ننده وستو ګو".
(۸) چاپي دیوانونه: "راحت نه دی بې زحمته چا موندلی".

Marfat.com

زه هرګوره تر خپل صمد لوړې شرمیږم[1] — برهمن چې سر په پښو دخپل صنم بندي
واسمان ته لاس دعقل نه رسیږي[2] — داخو عشق دی چې په عرش کرسي قدم بندي

۲۶۱
زه د خان بې تاج ګېم دیار له لاسه
که مې پښه په سر د جم وو د ستم بندي
۲۸۰۳

د دنیا کار ونه واره غولول دي[3] — داګمان په هیچا مه کړه چې مې خپل دي
هیڅ مزه په داجهان کې پاتې نه شوه — دا یخ خوړي په اوبو پورې کول دي[4]
که دې د وه کاسې دانې وې په کندو کې[5] — پس له شامه هسې وایه[6] چې د بل دي
پوه غوږ د غوښو شته په هر چا پورې — که دښمن[7] پوه نه غوږ غواړې باطل دي
که ته دوه[8] اوړې عیبونه د بل شمار کړې — بل به تا ته هسې وایي چې ستا شل دي[9]
نصیحت د ناصحانو اثر نه کا — د سړې او سپینې خوښي تړل دي[10]

۲۶۲
دانا اهل همدمان دي نه پوهیږم
که مې د خان پښې په ګوګل دي
۲۸۱۰

---

(۱) "ب" چاپ او د "خ" لومړی نسخه : "زه هرګوره تر خپل صنم لوړې شرمیږم".
"ق" چاپ : "زه هرګوره خپل صنم لوړې شرمیږم".
"ق ک" چاپ : "زه هم ګوره خپل صنم لوړې شرمیږم".
"ب ب" چاپ : "زه هرګوره تر صنم لوړې شرمیږم".
مصوره نسخه : "زه هرګوره تر خپل یار لوړې شرمیږم". نو موړی بیت د "خ" په دوهمه قلمي نسخه کې نشته.
(۲) "ب ب" چاپ : "واسمان ته لاس د عقل نه رسیږي".
"ق ک" چاپ : "دې اسمان ته لاس د هیچا نه رسیږي".
(۳) "ب ب" چاپ : "د دنیا چاري همه واړه غولول دي". د "ب" لومړی نسخه : "د دنیا و ن ګار همه و جمله غولول دي".
د "خ" لومړی نسخه : "د دنیا و ن ګار همه واړه غولول دي". د "خ" دوهمه نسخه : "د دنیا کار و بار واړه غولول دي".
(٤) د "خ" دوهمه او مصوره نسخه : "هیڅ مزه په داجهان کې طمع مه کړه دایخ خوړي په اوبو پورې کول دي". د "خ" لومړی نسخه :
"هیڅ مزه په داجهان کې طمع مه کړه یخ خوړي د اوبو پورې کول دي". چاپي دیوانونه : "د یخ سوړې په اوبو پورې کول دي".
(۵) د "خ" لومړی نسخه : "په کندو لکې".
(۶) چاپي دیوانونه او د "خ" لومړی نسخه : "وایي".
(۷) مصوره نسخه : "سر".
(۸) چاپي دیوانونه : "یو او دوه". د "خ" لومړی نسخه : "دوه دري". د "خ" دوهمه نسخه : "دوې دري"، مصوره نسخه : "دوه".
(۹) چاپي دیوانونه او نورې نسخې : "سل".
(۱۰) قلمي نسخې : "بیهوده د سړې او سپینې کوتل دي".

سپین رخسار و مشکین خال دې ویله ضم دې — یا محمود او ایاز ناست سره همدم دي
که دې مخ په زلفو پټ شو باک یې نشته (١) — د حیات اوبه هم پټې په تورتم دي
ستا د زلفو له رخساره سره شو نه دي — پیدا شوي شام شفق د صبحدم دي
په دهن کې دې ښا شونډه تجلي کا — یا غوټۍ په غوټۍ کې د شبنم دي (٢)
نه چې اوس زما زړه غوټ ستا په غمزه دی — چاره غوښې لا قدیم سره په غم دي
بې زړه وچاته نه ګوري سیه چشم — د نرګسو غوړېدل د جوی په نم دي
راحت نه دی چا موندلی بې زحمته — ستا جفا و وفا دواړه منقسم (٣) دي
ستا د حسن د تعریف له برکته
د رحمان د شعر کوکې په عالم دي

٢٦٣ — ٢٨١٨

چې د ښنګه مې دلبر په لاس کې جام دی — نن اورنګ د نړماني زما غلام دی
مدام کله وي د دنیا د دنیا دارو — بې له عشقه چې دولت یې مستدام دی
دهاړون خرخ پای نیلې دی د سپهر — ځو به دوکا چې یې دو په سر د بام دی (٤)
د دنیا چارې په مثل دي د سیوري — د آفتاب په مخ د سیوري څه مقام دی
که یې صبح ښایسته دی خنده رویه — بیا یې هسې په هر صبح پسې شام دی
نه په مهر کې آرام شته نه په ماه کې — په دنیا راغلی هر یو بې آرام دی
ښېغې په دنیا چېرې ده رحمان نه
یو ښېغم دې خوړک را وښیي کرام دی

٢٦٤ — ٢٨٢٥

ما د ستا ولمن ته اچولی د اچیل خان دی — ستا دی زما نه دی که دانا دی که نادان دی

---

(١) «خ» لومړی او دوهمه نسخه: «که دې مخ په زلفو پټ دی باک یې نشته».
(٢) «ق» چاپ او «ق.ک» چاپ: «یا غوټۍ چې په غوټۍ کې د شبنم دی».
(٣) قلمي نسخې: «مغتنم».
(٤) دا بیت د «خ» په دوهمه نسخه کې نشته.

Marfat.com

خپله سرکشي لویې واړه فراموش دي — هسې مې ځان ستا ولوی قامت ته حیران دی
بې له تا که مسیل[1] په گلستان کړم د گلونو — نه پوهېږم هېڅ چې گلستان دی که زندان دی
چا پېژاندم زه چې عاشق نه وم په جهان کې — اوس مې ستا له رویه نوم رسوا په ټول جهان دی
د پرهېز ولې تېر شول د مجنون بې نام ونښه[2] — عشق دی چې عاشق له ده نام دی هم نښان دی
لوی ترکوم چېنجې دي پس وانه چې افسانه شو — واړه په سبب د عاشقۍ دي نمایان دي
واړه د خپل ځان په نظر گوره که دانا یې
اې عبدالرحمانه ځان د بت عبدالرحمان دی

(٢٦٥) (٢١٣٢)

پـه نامه د هغه خدای مې دا بیان دی — چې یو نوم یې په نومو کې سبحان دی
هم[3] بادشاه دی د جمله و بادشاهانو — هم د هر لوی سلطان په سر سلطان دی
هغه کار چې وهرچا وته مشکل دی[4] — هغه کار واړه وده وته آسان دی
خوك آفتاب شي په آسمان راخېژولی[5] — ده آفتاب راخېژولی په آسمان دی
خوك د نمر په مخ حجاب شي غوړولی — ده پټ کړی نمر په ابر کې پنهان[6] دی
خوك په شپه کې شي مهتاب[7] پیدا کولی — ده په شپه کې پیدا کړی مهتابان دی
خوك یو څاڅکی پرېښودی شي له آسمانه — نزول[8] کړی ده په مونږ باندې باران دی
خوك شي روح ننویستی په یوه ما شي — ژوندی[9] کړی ده په روح باندې انسان دی

---

(۱) "ب" او "ق" چاپ کې "سیر" او په قلمي نسخو کې "گذر" راغلی دی.
(۲) "ب" په لوړي نسخو کې "نام ونشانه" راغلی دی.
(۳) "ب" په لوړي نسخو کې د "هم" پر ځای "دی" راغلی دی په "ب" چاپ کې ... "هم د هر لوی سلطان په سر سلطان دی"
(٤) "ق ک" چاپ کې "هغه کار واړه یه ده ته ډېر آسان دی".
(٥) "ق" چاپ کې "خوك افتاب شي واسمان ته خېژولی".
(٦) د مصري نسخې نه پرته په لوړو نسخو کې "پنهان" راغلی دی
(۷) د "خ" لوړي نسخو "افتاب". او دا بیت په "ق ک" چاپ کې داسې دی:
"خوك په شپه کې شي مهتاب راخېژولی — ده په شپه کې خېژولی ماهتابان دی"
(۸) "ق ک" چاپ او "ق" چاپ کې "نازل" راغلی دی.
(۹) قلمي نسخه: "زنده".

Marfat.com

خوك وسنګ شي رنګ د ګلو ورکولی ‌ ‌ ده وسنګ ورکړی رنګ د ارغوان دی (۱)
خوك له خاورو شي بوګل پیدا کولی ‌ ‌ ده له خاورو پیدا (۲) کړی ګلستان دی
خوك له اوره شي اوبه پیدا کولی ‌ ‌ ده له اوره پیدا کړی زمستان دی (۳)
خوك له سنګه شي ګوهر پیدا کولی ‌ ‌ پیدا کړی ده له سنګ در و مرجان دی (۴)
خوك شي رزق و هر (۵) مخلوق ته رسولی ‌ ‌ دی د هر یوه مخلوق روزي رسان دی
خوك بنده لره ایمان شي ورکولی ‌ ‌ ده ورکړی هر مومن لره ایمان دی (۶)
خوك له ځمکې و آسمان ته شي ختلی (۷) ‌ ‌ ده عیسی لره ورکړی دا مکان دی
خوك له خدای سره خبرې شي کولی ‌ ‌ ده موسی مشرف کړی په دا شان دی (۸)
خوك ایسنودی په توسن د هوا (۹) زین شي ‌ ‌ ایسنی ده په هوا تخت د سلیمان دی
خوك په سینه ژیره پایي تر قیامته (۱۰) ‌ ‌ ده په خضر باندې کړی دا احسان دی
څوك په ده شي هغه کار په هیڅ نه شي ‌ ‌ هر توانا د ده تر توان پورې ناتوان دی
په اوبو کې یې ذکاني کوټ بنا کړ ‌ ‌ ده ورکړی یکي او د لره امان (۱۱) دی

---

(۱) "ق" "ب" چاپ : "خوك شي سنګ ته ورکولی رنګ د ګلو سنګ ته ده ورکړی رنګ د ارغوان دی".
"ق" چاپ : "خوك شي سنګ ته ورکولی رنګ د ګلو ده وسنګ ورکړی رنګ د ارغوان دی".
"خ" لومړی نسخه : "خوك شي سنګ لره د ګلو رنګ ورکولی ده وسنګ ورکړی رنګ د ارغوان دی".
"خ" دوهمه نسخه : "ده ورکړی سنګ ته رنګ د ارغوان دی".
(۲) "خ" له دوهمې نسخې نه پرته په لورو نسخو کې "ارغوان کړی" راغلی دی.
(۳) دا بیت په "ب" چاپ، "ق ب" چاپ او "ق" چاپ کې نشته.
(۴) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته.
(۵) "خ" دوهمه نسخه : "د کل مخلوق ته". په "ق" او "ق ب" چاپ کې د مسرۍ دغه ده : "خوك شي رزق رسولی هر یوه ته".
(۶) دا بیت د "ب" په لومړی نسخه کې نشته. د "ح" لومړی او مصوره نسخه کې د "مومن" پر ځای "بنده" راغلی دی
(۷) قلمي نسخې : "خوك له ځمکې و آسمان ونه ختی شي".
"ق" او "ق ب" چاپ : "خوك له ځمکې و اسمان ته دی ختلی".
(۸) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۹) په چاپي دیوانونو کې د "هوا" پر ځای "اسمان" راغلی دی.
(۱۰) "ق" چاپ : "خوك تر ده په دنیا پایي تر قیامته".
(۱۱) چاپي دیوانونه : "مکان دی"
لومړی بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
په "ب" چاپ او په نورو چاپي دیوانونو کې د "کوټ" پر ځای "کوټ" راغلی دی.

Marfat.com

په سجده[1] یې ځملي سردي لګولي — هم یې زوړند په رکوع سره آسمان دي

هر وڼه په قیام ولاړه ولاړه — هر ګیاه یې په تسبیح سره زبان دي[2]

همه واړه په تسبیح د ده مشغول دي — که ملك دي که پیري دي که انسان دي[3]

هر ماهي یې په دریاب کې حمد[4] وایي — هر مرغه یې په چمن کې ثنا خوان دي

حق په حق یې ثنا هیڅ کړې نه ده[5] — نه له هیچا واقع شوې د ا بیان دي

مخلوقات هسې نه دي پېژندلي — لکه ده سره[6] چې قدر د خپل ځان دي

حد پایان یې هیڅ سړي موندلې نه دی — معرفت یې هسې بحر بې پایان دي

نه هیڅوك د ده په خبر د ده په شان دي — او نه دي د چا په خبر د چا په شان دي[7]

نه یې زیان نه یې زوال نه یې نقصان شته — دی[8] بې زیانه بې زواله بې نقصان دي

نه یې مثل نه مثال نه یې مکان شته — دی بې مثله بې مثاله بې مکان دي[9]

پاك یې وګڼه بې شکه بې ګمانه — له هغو چې د چا شك د چا ګمان دي[10]

نه یې خوك په سترګو ویني نه لیده شي[11] — او یې چونه بې چګونه نمایان دي

که خوك وایي لیده نه شي لیده نه شي[12] — او که وایي وهر چا ونه عیان دي

---

(۱) په چاپي دیوانونو کې "سجود" راغلی دی.
"پ پ" چاپ کې دوهمه مسره داسې ده: "زوړند سر هم په رکوع سره آسمان دي".

(۲) د "خ" دوهمه نسخه: "ګویان دي"

(۳) قلمي نسخه: "که سړي دي که پیري دي که حیوان دي".

(٤) د "خ" دوهمه نسخه کې د "حمد" پر ځای "ثنا" راغلی دی.

(٥) "پ" چاپ، "پ پ" چاپ او "ق ک" چاپ: "حق په حق یې هیچا نه ده ثنا کړې".
"ق ک" چاپ کې دوهمه مسره داسې ده: "نه هیچا نه واقع شوې دا بیان دي".

(٦) قلمي نسخه او "پ" چاپ، "ق ک" چاپ او "ق" چاپ کې د "سره" پر ځای "څخه" راغلی دی.

(۷) دا بیت په "پ" چاپ، "ق ک" چاپ او "ق" چاپ کې نشته.

(۸) د "خ" دوهمه نسخه کې د "دی" پر ځای "او" راغلی دی.

(۹) دا بیت په "ق" چاپ کې داسې دی: "نه یې مثل نه مثال نه یې پایان شته — دی بې مثله بې مثاله بې پایان دي".
په "ق ک" چاپ کې او د دوهمه مسره د "ق" چاپ سره یوشان ده. په نورو چاپي دیوانونو او قلمي نسخو کې یې لومړۍ مسره داسې ده: "نه یې مثل نه مثال نه یې مکان شته".

(۱۰) مصوره نسخه: "له هغو چې د چا فکر په بل شان دي".

(۱۱) "ق" چاپ او "ق ک" چاپ: "که یې خوك په سترګو ویني لیده نه شي".

(۱۲) د "خ" دوهمه نسخه: "که خوك وایي چې لیده شي لیده نه شي".

Marfat.com

منزه دی له جملهٔ جهتونو / او بیا هر جهت په ده باندې ودان دی [1]

بې پردې به حسن چا ندوي لیدلی / که څوک وایي چې لیده شي تش گومان دی [2]

له زر گونو صفتونو راشه گوره / چې یې کړي نیم صفت عبدالرحمان دی [3]

٢٤٦ — ٢٨٦٨

زړه مې ستا په ذکر فکر گلستان دی / تن مې ستا له غمه پاڼه د خزان دی

ستا د غم له هجره هسې لړه منديم / چې په سترگو کې مې جوړ د ره روان دی [4]

ستا کتو مې عجب زخم په زړه وکړو [5] / چې هم ویښ ترې لهیږي هم خندان دی

هسې رنگ مې د خپل زړه له وینو واخست / چې ځان درست راته په شکل د جانان دی

که د ستا د زلفو مار کاندي خونه / ما موندلی ځني عمر جاودان دی

ځنگدن که هر څو تریخ و تلخ وایه شي / ستا د لبو په مدد آب حیوان دی

آشنایي تر چه اله کمه ورپې نه ده / معطر په بوی د مصر درست کنعان دی

لکه لمر په خلوم آسمان لیده شي / محبت په سل حجابه کې عیان دی

نور د شمع په فانوس کله پټېږي / عشق د عقل په پرده کې نمایان دی

که د ستا په مخ کې بوی د حجاب نشته / زه له پېرې ځلې [6] وایم چې نهان دی

---

(١) دا بيت په مصوره نسخه کې نشته.

(٢) دا بيت د "خ" له دوهمې نسخې نه نقل شو.

(٣) د "ب" لومړۍ نسخه: "له هزار و صفتونو باور مه کړه / چې یې کړي دا صفت عبدالرحمان دی".
"ق" چاپ او "ق، ک" چاپ: "له زر گونو صفتونو راشه گوره / یو صفت یې کړی ما عبدالرحمان دی".
"خ" لومړۍ نسخه: "له هزار صفتو یو یې ادا نه کړ / چې یې کړي دا صفت عبدالرحمان دی".
"خ" دوهمه نسخه او مصوره نسخه: "له هزار و صفتونو باور وکړه / چې یې کړي نیم صفت عبدالرحمان دی".

(٤) دا بيت او وروستي دوه بیتونه د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته. په چاپي دیوانونو کې دا بيت داسې دی: "ستا د هجر په غم هسې لړم منديم / چې په سترگو کې مې جوړ د ره روان دی".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې دوهمه مسره داسې ده: "چې له سترگو مې د مینو جوی روان دی".

(٥) په "ق، ک" چاپ کې "ستا لیدو" راغلي دي.

(٦) په "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې "مینې" او د "خ" په دوهمه نسخه کې "حیا" راغلې دی.

Marfat.com

طاوس رنگي زلفې چا دي سمې کړي[1] — چې هر موی يې په ځونګه په خوشان دي

بې پردې به حسن نه وي چا ليدلی — که خوك وايي چې ليدل شي تش ګمان دي

ښادي غم خوندې اسانه موندل نه شي — سود په خپلو وينو لعل د بدخشان دي

که وصال په هر زمان وای حسې دريغه — لکه غم چې د هجران په هر زمان دي

بې د ستا له ملاقاته چې مشکل شو — نور مشکل واړه په ما باندې اسان دي

هم په دا رالته اسان شوه نور غمونه — چې ستا غم د حد په هو رته رالته ګران دي

قافله د صبر هيڅ وېساپرې[2] نه کا — ستا له غمه مې منزل د زړه ويران دي

يو نفس به دې له دره بېرته نه شم — ځو مې يو نفس[4] باقي په دا جهان دي

لکه سر و سامان ستا د زلفو نشته — هسې زړه زما بې سر و بې سامان دي

لکه تا چې تور ګېسو په مخ پرېشان کړه — هم مې هسې خراب زړه پسې پرېشان دي

خوار خاطر به د رحمان سلامت څوک وي

۲۶۷ — چې ګذر يې ستا په چاه زنخدان دي — ۲۸۸۹

ستا د عشق حرفونه تور زړه ګلګون دي — هم په دا چې نوشته په جګر خون دي[5]

تش به نه شي هغه غم د عشق له ميو — چې يې خاورې د فرهاد و د مجنون دي[6]

د دنيا چارې همه واړه فاني دي — دا د ستا جور و فا ولې افزون دي

مقتولان ستا د غمزو دي لا له نه دي — چې په سره کفن له ځمکې رابرون دي

---

(۱) چاپي ديوانونه : " طاوس رنګه زلفې دې چا هسې ګرګر کړي".
" خ " د همه نسخو : " طاوس رنګه زلفې نه دي چا ليدلې — که خوك وايي چې ليده شي تش ګومان دی".
(۲) دا بيت د " خ " په دوهمه نسخه او نيمګړې نسخو کې نشته.
(۳) د " پ " لومړۍ نسخه او د " خ " په لومړۍ نسخو کې : " را باندې نه کا " راغلی دی.
(٤) " ق " چاپ او " ق ، ك " چاپ کې " دم نفس " راغلی دی.
(٥) دا غزل په قلمي نسخو کې نشته.
(٦) " ق ، ك " چاپ : " يار ، ستا جور د جفا ولې افزون دی".

چې يې هيڅ بها زلميو څخه نشته — جونه نه دي سکه ګنجونه د قارون دي

بادشاهان په يوه دم کې ګدايان کا — مال به لې فسادونه د ګردون دي

۲۶۸ — د (رباعي) دزړه خوناب مګر قبول شي — ۲۹۹۶

چې مخونه د دلبرو پرې ګلګون دي

غم دې هسې غلبه شو په ما بانديې — چې مې ځای نه شي د ننه نه د باندې

له زګيروي مې نور خلق په عذاب شول — تل د وچوله کبله سو ځي تاندې

زه د ستا په غم کې شمع غوندې زارم — ته زما په ژړا صبح غوندې خاندې

زړه مې هسې ستا په لورې آوېزان دی — لکه زلفې دې په مخ دې آوېزاندې

ما دې ستا دانه پښو په اوږي سو ي — د دنيا اندېښني واړه لکه سپاندې

دا دستور دی چې لوی[1] غم په سړي ورشي — نور غمونه يې هم شي ترپښو لاندې

هر چې ما په نصيحت له تا جار باسي — بيا دې ستا په لورې دروي تر ما وراندې[2]

۲۶۹ — سړه لمبه ګوره چې څه کا په وچ ډکي — ۲۹۰۴

مخ د يار په (رباعي) هسې چاړې کاندې

په دنيا کې که څه کار دی خو دين دی — د دې کار په کننده ؤ آفرين دی

چې تقوی او دينداري يې شي په برخه — د هغو د سعادت ستوري قرين دی

قناعت مې هسې خوند په خوله کې کښېنود — چې وچ ټوک مې په دهن کې انګبين دی

بې حاصيانو يې اوښانو بادشاهي کا — د زاړه پوزي تو کر کې يې قالين دی

چې په خواست د حاجت يو د ته کا لاسونه — د آسمان د ملايکو پرې آمين دی

چې قبوله لمتری کا په دنيا کې — د هغو په بهتري باندې يقين دی

---

(۱) په قلمي نسخو کې "يو" راغلی دی.
(۲) د "خ" او "م" نسخه: "هغه تله کا ستا د لوري ته تر ما وراندې".

Marfat.com

تل د لوړې اوبه درومي وښکته — حق تعالی کمال ورکړی و مسکین دی

خاکسارۍ د خاکسارانو مرتبه ده — که زمکه کې یې خیرن وي زړه یې سپین دی

د سرکښو سرکه وړ شي و آسمان ته — په دوه ورځې پسې ځای زېر زمین دی

چې ښبوه یې وي په سر کې اولوي کا — د رحمت لیاقت نه لري لعین دی

که صورت یې د سړي، سړی بالرشي — په معنی کې سړی نه دی د شیاطین دی

که څه نشته سره متاع د دنیا نشته — شکر دا چې نه خودرای دی نه خودبین دی

۲۷۰ — ۲۹۱۶

مخ د یار شمس و قمر دواړه یو دي — قد د سرو صنوبر دواړه یو دي

حاجت نه لرم په شهدو په شکرو[1] — لب د یار شهد و شکر دواړه یو دي

که یې یار په بستر د پاسره پروت یم — نار و خار و د ابستر دواړه یو دي

چې و در و دیوار ته یې نظر کړم — باغ بوستان او ږغر دواړه یو دي

چې غبار یې د کوڅې را باندې راشي — دا غبار مشک و عنبر دواړه یو دي

خدای د یار له هجره هیڅوک خبر مه کړه — تاخت و قتل دا خبر دواړه یو دي

هغه دم چې سړی درومي له جهانه — توري خاورې سیم و زر دواړه یو دي

قلندر چې په رښتیا قلندري کا — خان، سلطان و قلندر دواړه یو دي

ورته نه شي په پردي ملک حمله هیڅوک[2] — کوڼ و کړ او مبصر دواړه یو دي

چې دې نه لګي یو یار نه دې آشنا وي — هغه بحر و بر دواړه یو دي

په دکان د نابینا و جوهر پانو — خرمهره لعل و ګوهر دواړه یو دي

پسران دې عار زما له عشقه نه کا — پاک عاشق پسر[3] پدر دواړه یو دي

---

(۱) د "خ" لومړۍ نسخه: "حاجت نه لري په شهدو په شکرو".

(۲) په قلمي نسخه، "ب" چاپ، "ق" چاپ، او "پ" چاپ کې دا مسرکه داسې ده: "ورته نه شي په پردیه حمله هیڅوک".

(۳) دا بیت په "ب" چاپ کې نشته او په مصوره نسخه کې د "پسر" پر ځای "پیسر" راغلی دی.

Marfat.com

په سبب د ظالمانو حاکمانو — ګور وا ور او پېښور درې واړه یو دي[1]

غزل وشوه که ځان ستايي و ريښتيا نه
بې هنره ګاو خر دي واړه يو دي

۲۷۱ — ۲۹۳۰

چې دا هسې لاس په لاس دنيا پېښور دي — خو چو چندل په ځان پورې منسوب دي
دا دنيا په مثال پوله مرګ سېلاب دی — د سېلاب په مخ کې څه پوله اېښودي
جل ځلې لا واده ندوي سره کونډه وي — دا رنګ چارې د مرګي د خښنو دي
قافلې چې په دنيا کې شوې داخلې — بيا هم هسې معلومېږي چې دلېښودي[2]
دا سفر به په هغو باندې آسان وي — چې تر کوچ مخکې په زېرمه د توښو دي
چې بې وخته رهان کا په وخت اوده وي — د هغو عالمو بېرې د وکښو دي
په هر شان چې يار خوښېږي زه هغه کړم[3] — خېلول د صاحبانو په پېښو دي
د يار غم مې لکه تاج وي په سر اېښی — نور غمونه مې همه لاندې تر پښو دي
معشوقې په عاشقانو خود پوهېږي — دلته څه د عاشقه نښې د ښنو دي[4]

مې خواران که بې خبر شي له مستۍ نه
د ريښتيا د مېخانې شراب د خښنو دي

۲۷۲ — ۲۹۴۰

زه بلبل ستا د وصال بوستان خر دی — ستا د وصل په نسبت ګلستان خر دی
چې آشنا شي ستا له دره له دبواره — انتظار بې په روضه د رضوان خر دی
چې روزي بې شهادت شي ستا له تېغه — احتياج بې په چشمه د حيوان خر دی
چې مسکن بې د زړه ستا د زلفو خم شي — وهغو ته د عطارو دکان خر دی

---

(۱) دا بيت د "خ" په نسخه کښته، په "ق" چاپ او "ق ک" چاپ کې "مسرى" دی، "ګورا وکورا وپېښور درې واړه يو دي".
(۲) "ق" چاپ، "ق ک" چاپ په "مصهر" په او د "خ" په دو بېم نسخه کې "دتلو دي" اغلی دی.
(۳) تلمېر نسخې: "په هر رنګ چې يار خوښېږي زه يې کړمه".
(۴) د "خ" دو ممد نسخه کې "اېښودي" اغلی دی.

Marfat.com

هر چې لاندې خپل وجود تر خپل قدم کا
عرش یې لاندې تر قدم شي آسمان خه دی

بوالهوس که بوسه غواړي له تا خه شي
هر رنګ هر رنګ ویل کاندي نادان خه دی

زه چې ستا له غمه ژاړم آه فریاد کړم
برق وریځ چکاره دي باران خه دی

ځان جهان مې هسې ستا په مینه هېر دی
نه پوهېږم چې ځان خه دی جهان خه دی

ته چې نه ګورې وماته لږ مې پوه کړه
په دا کار کې دې ضرر او نقصان خه دی

که ستا سترګې دې قاتلې زه مقتول یم
وایه نوره دې په خاطر کې ارمان خه دی

زه بې صبره یم که مهر د ستا نشته
له دې دوا روږې په زړه کې ګومان خه دی

چې مې وینې تر ومې خه پوښتې له حاله
له عیانه احتیاج د بیان خه دی

۲۷۳ هر چې والي ستا رحمن د مداح غاړه
وتوانا وته حجت د ناتوان خه دی ۲۹۵۳

سینه مې ستا د بنو غشي په سینه دي (۱)
پورې وورې مې وتلې ترا ینه دي

تل یې مخ دیان په مخ باندې وی الښی
هغه زړونه چې بې زنګه آیینه دي

هسې نه چې زه نن ورځ په تا شیدا یم
ستا غمونه مې په زړه کې دیرینه دي

لکه ستوري چې برېښنا کا په آسمان کې
په تهمې مې ستا داغونه نګینه دي (۲)

درته وایم چې له آهه یې پرهېز که (۳)
دهغو چې پوښاکونه پشمینه دي

که د ستا رخسار سوزاني لمبې وي
ولې کسي زما تور سوي نبینه دي

خدمه سم په صبحدم ګوري وچاته
چې دې سترګې په مې مستي شبینه دي (۴)

هغه سترګې چې پیدا کړي خلک خونړي
بې غصه (۵) په غضب او په کینه دي

شرابیان (۶) چې شراب مومي خوږې شومي
کله منعم په اختي (۷) په آدینه دي

---

★ . دوې مخ پا یلیکونه: دې په (۲۰۵) مخ کې دې وکتل شي.

Marfat.com

٢٧٤ — ٢٩٦٣

چې تمام د خپل ځيګر په وينو رنګ شو
د رحمان خبرې ځکه رنګينې دي

د عاشق نظر په خور دوبه خواب نه دی — مراد يې بې ديار له دره بل باب نه دی
تر نظر يې خپل هنر په عقل مه کړه — دا اسباب په عاشقۍ کې اسباب نه دی
چې د يار سره حساب د دنيا کاندي — د غه هيڅ په عاشقانو حساب نه دی
چې عاشق په عاشقۍ کې ارباب نه شي — که د دستګان ارباب شي ارباب نه دی
هر چې يار منعکوي له خپله ياره — دا کتاب د عاشقانو کتاب نه دی
دا حجاب چې نور عالم يې حجاب بولي — دا زما د يار تر ميانه حجاب نه دی
که ثواب دی هم سيوا د يار له مخه — ما ګڼلی د غه کار په ثواب نه دی
که لېدلی زليخا يوسف په خوب و — ما په وينه دی لېدلی په خواب نه دی
صبر و نيسه په مخ کې که مراد غواړې — هيڅ اکړی د غه کار په شتاب نه دی

٢٧٥ — ٢٩٧٣

سوال د بوسې کړې دی له ياره
رحمان لا يې هيڅ ځنې موندلی جواب نه دی

د عشق زخم خه د زخم په شان نه دی — د بل زخم په څير سهل و آسان نه دی
عاشقان و معشوقې سره پوهېږي — د غه راز و نور عالم ته عيان نه دی
عاشقي نه ده که ګوره بې حيراني ده — کوم سړی په د غه کار کې حيران نه دی
يو عاشق دی خوک راوښيي په عشق کې — چې يې رود په مخ دا ونسکو روان نه دی
هو ره او ښکې د عاشق په ګريوان وي — ته به وايې چې يوسيند دی ګريوان نه دی
دا هجران دی چې يې مرګ په عاشق ګران کړ — که هجران وه سره نه وي هيڅ ګران نه دی

---

* ددې مخ د متن پاملیکونه دې په ( ٢٠٥ ) مخ کې وکتل شي.

نور غمونه که په ځان د سړي بد دي — غم د ترکو بد د هیڅ په ځان نه دی (۱)
د دوزخ داور که تا ولره حده تېر دی — برابر د بېلتانه لره نه دی (۲)
چې بالښتي خوک په عشق کې کم عقل — دا لم عقل د پر هوښیار دی (۳)
چې بې یاره جهان و ته نظر کړم

۲۷۶ — ځای تر ان — والم چې ویران دی ویران نه دی (۴) — ۱۸۳

---

د (۲۰۳) مخ د متن پاملکونه :

(۱) په قلمي نسخو کې "خرج" راغلی دی.
(۲) د امیت د "خ" په لومړي نسخي کې نشته، په "ق" چاپ او "ق ت" چاپ کې "داعونه" پرځای "مکونه" راغلی دی.
(۳) د "ب" لومړي نسخو او "ت" لومړي نسخه کې : "دېته وایه چې له آهو مي وهلی که"
د "خ" دوهمې نسخه کې : "دېته وایه چې له آهو مي پرهیز که".
(٤) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.
(٥) "ق" چاپ او "ق ت" چاپ کې "لې سیبه" راغلی دی.
(٦) د "خ" په دوهمې نسخه کې "مې حوزت" راغلی دی.
(۷) د "خ" په لومړي نسخه کې "په جمعه" راغلی دی.

د (۲۰٤) مخ د متن پاملکونه :

(۱) دا بیت د "ب" په نسخو او مصر نسخه کې نشته.
(۲) "ق ت" چاپ، "ق" چاپ او "خ" لومړي او دوهمې نسخه کې "دیار له بابه" راغلی دی.
(۳) د "خ" لومړي او دوهمې نسخه کې : "دا اسباب د عاشقې اسباب نه دي".
(٤) د "خ" لومړي او دوهمې نسخه کې : "د غه هیڅ په عاشقه کې حساب نه دی".
(٥) د "خ" نسخي : "اسباب نه دي".
(٦) د "خ" دوهمې نسخه : "عام عالم".
(۷) د "خ" لومړي نسخه : "ځکه ثواب دی هم ثواب د ډېر په عشق کې".
(۸) "ق ت" چاپ : "د عاشق رحم د زړه پښتان نه دی
د غه پاک و لوی عالم ته عیان نه دی".
"ق" چاپ : "د غه پاک و سیال عالم ته عیان نه دی".
د "خ" دوهمې نسخه : "د عاشق رحم خه د زړه په ښه دي".
(۹) "ق ت" چاپ : "دا د عشق اسرار په هاخا میان نه دي".
"ق" چاپ : "دا د عشق اسرار په جاهلانو بیان نه دي".
د "خ" دوهمې نسخه : "د غه پاک د هر سړي ته عیان نه دي".
(۱۰) دا بیت د "ب" په لومړي نسخو کې نشته.
(۱۱) "ق" چاپ : "باران نه دی".
(۱۲) د "ب" لومړي نسخه : "هو مره او سکي د عاشق په ګریوان د ه وي".
"ق ت" چاپ : "هو مره او سکي د عاشق په مخ راد ه وي".
(۱۳) چاپ د بوت او د "خ" دوهمه نسخه : "هو مره او سکي په ګریوان د عاشق د ه وي.
(پاته په (۲۰۶) مخ کې) که هم ځان د ر مخه د ه ر یو ځیګر نه دي"

Marfat.com

هر نګار چې بې وفا دی نګار نه دی — په ګلزار کې چې ګل نه وي ګلزار نه دی (۱)

هغه یار چې اخلاص نه لري یار نه دی — هغه کار چې بې فایده دی ښه کار نه دی (۲)

په تلخۍ د میو مست خلق (۳) مې خوښ دي — هغه خار چې بوی د ګل لري خار نه دی (۴)

دیندار چې د دنیا داري ده خبله (۵) لري — مال یې د لې هیڅ دیندار دنیا دار نه دی

که روزګار دی په جهان کې عاشقي ده (۶) — د دې نور عالم روزګار ښه روزګار نه دی

چې تصدیق یې په خپل زړه کې محکم نه وي — دا په خوله ظاهر اقرار ښه اقرار نه دی (۷)

په هر زړه چې د خپل یار د غم غبار دی — د خدای د رحمت دی غبار نه دی

حیا به سبب یې له عشقه نور ښه نه کړه — باري ګنج دی چې هر چا ته اظهار نه دی (۹)

معشوقه وفا نه هیچا ... — ګنه کوم یو د دې رخت خریدار نه دی

---

د ۲۰۵ مخ د متن پاملکونه .

(۱) دا بیت د مصور نسخې نسخه . د ځ لومړی نسخې لومړی مسری داسې ده : " لو ښمونه که په ځان ډیر دی " .
(۲) دا بیت او ورپسې بیت په قلمي نسخو کې نشته .
(۳) " ق . ک " چاپ : " نه جهان وایم چې وران دی ودان نه دی " .

د دې مخ د متن پاملکونه :

(۱) دا غزل د ... نسخو او مصور نسخو کې نشته . د دې غزل لومړی بیت د " ځ " په لومړۍ نسخې کې داسې دی : " هغه یار چې بې وفا دی ښه یار نه دی
هغه کار چې بې بقا دی ښه کار نه دی "

د " ځ " دوهمه نسخه : له اغیار سره سودا ښه په کار نه دی
له مکار سره یارانه ګار ښه روزګار نه دی

(۲) دا بیت د " ځ " له دوهمې نسخې نقل شو .
(۳) " ق . ک " چاپ : " انسان " .
د " ځ " دوهمه نسخه : " په تلخۍ د میو مست عالم خرم دي " .
(۴) دا مسری د " ځ " په لومړي نسخې کې داسې ده : " هغه کار چې بوی د خدا لري خار نه دی " .
(۵) " ق . ب " چاپ او " ق " چاپ : " سره " .
د " ځ " لومړی نسخه : " وسله " .
(۶) د " ځ " لومړی او دوهمه نسخه : " که روزګار دی په دنیا کې د عاشق دی " .
(۷) د " ځ " لومړی او دوهمه نسخه : " چې بنا یې د تصدیق محکمه نه دی
د ظاهر په خوله اقرار ښه په کار نه دی

(پاته په (۲۰۷) مخ کې)

Marfat.com

دد لدار وصال دخدای په داد موندې شي (۱)     دغه کار مي دهیچا په اختیار نه دی

۲۷۷     په ماخ باندې منت دمعشوقو دی (۲)     ۲۹۹٤

دبې حسنو معشوقو منت بار نه دی

هغه یار چې بې وفا دی خه یار نه دی (۳)     هغه کار چې بې بقا دی خه کار نه دی

که د سر بښندل د شوار په ما وتا دي     دا په عشق کې تهل کار دی دشوار نه دی

اند پښنه سړي بېدار کاندي لخوبه     کم اندېښنه که بېدار دی بېدار نه دی

که خه عمر دی عاشق لره وصال دی     دهجران عمر دعمر په شمار نه دی (٤)

دچشمانو په حنبل کې تېر و بېر شي (۵)     اعتبار د زمانې اعتبار نه دی (٦)

که دسلون ویوبېلار شي به يې خه کا (۷)     بې وقوفه زوي دېلار خه په کار نه دی (۸)

۲۷۸     معشوقې همېشه ناز په عاشق کاندي     ۳۰۰۱

ماخ هیڅ لدخپله یاره آزار نه دی (۹)

عاشقان دي په اور سوي دي که نه دي     ستا دعشق په اور الوي دي که نه دي (۱۰)

---

د (۲۰٦) مخ د پایلیکونو پاته برخه:

(۸) "ب" چاپ، "ق ک" چاپ او "ق" چاپ: "باري ګنج دی چې هر یو ته اظهار نه دی".
د "خ" لومړی نسخه: "چا به کسب دعشق نه کړ باری خه کړي چې داګنج هر یوه ته اظهار نه دی".

ددې مخ دمتن پایلیکونه:

(۱) "ب" چاپ او "ق" چاپ: "دخپل یار وصال دخدای په داد موندې شي".
"ق" چاپ: "دخپل یار وصال دخدای په امر موندې شي".
د "خ" لومړی نسخه: "دخپل یار وصال دخدای په داد موندې شي دغه کار و هیڅ بنده ته اظهار نه دی".

(۲) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

(۳) د "خ" لومړی نسخه: "که د سر بښندل د شوار دی وتا ته".

(٤) د "ب" لومړی نسخه: "دهجران عمر په عمر خه شمار نه دی".
د "خ" لومړی نسخه: "دهجران عمر په عمر شمار نه دی".

(۵) د "خ" دوهمه نسخه: "وهل".

(٦) د "خ" دوهمه نسخه، "ق ک" چاپ او "ق" چاپ: "اعتبار دزمانې خه اعتبار نه دی". او هم دا بیت او ورپسې بیت د "ب" په لومړی نسخه کې نشته.

(۷) "ق ک" چاپ: "که دسلون ویوبېلار شي خولې به بې خه کا". "ق" چاپ: "که دسلون ویوبېلار شي خولې به بې خه کاندي".
د "خ" دوهمه نسخه: "که دسلون ویوبېلار شي ته به بې خه کړې".

(۸) د "خ" لومړی او دوهمه نسخه او مصوره نسخه: "بې وقوفه زویه زویه دېلار نه دی".

(۹) د "خ" لومړی نسخه: "معشوقه همېشه ناز په عاشق کاندي دا جهان لدخپله یاره آزار نه دی". په "ق" چاپ کې اسم معشوقه راغلی دی.

(۱۰) دا غزل د "خ" په لومړی نسخه، مصوره نسخه او نورو نسخو کې نشته.

Marfat.com

زخمتونه د هجران واړه په عشق کې — تا وما وته ښو ولې دي که نه دي
په دنیا کې خو یا سر و مال وېل شي — د واړه ما په تا بایللي[1] دي که نه دي
تل د دوه څو په لیندو د ښو غشي — تا په ما باندې راکښلي دي که نه دي
چې مدام یې زمانه له غمه چوي — تورې زلفې دې پېچوې دي که نه دي
راشه وګوره احوال د عاشقانو — مړه د عشق په تېغ کوټلي[2] دي که نه دي
ناصحان چې نصیحت وما ته[3] کاندي — چېرې دوی هم مین شوي دي که نه دي
ښایسته که په ښایست کې ملایک وي — په وکښه د رحمان نوي دي که نه دي

۲۷۹ — ۳۰۱۰

بلبلان پسې نارې وهي رحمانه
د بڼهار ګاونه شوي[4] دي که نه دي

دا ګروندې چې معلومېږي واړه مړه دي — که څه دي هم هسې وایه چې څه نه دي[5]
یا د باد په مخ کې خاورې دي دا تورې — یا د اور په مخ کې واړه وچ واښه دي
د خپل عمر شپې او ورځې چې په خوب کړم — هسې درومي ګویا څنډه اوبه دي[6]
غافلان که وېنې اوري به یې څه کړي[7] — دا یې خوب دی نه لیده نه اورېده دي
چې د خدای له معرفته خبر نه وي — هغه واړه که بېدار دي هم اوده دي[8]

۲۸۰ — ۳۰۱۶

د رحمان د زړه له حاله خدای خبر دی
چې په زړه کې یې دیار له غمه څه دي[9]

---

(۱) په قلمي نسخو کې "پا سلوي دي" راغلي دي.
(۲) "ب" په لومړي نسخه کې "په شېر کوټي دي" او "ج" په دوهمه نسخه کې "په ستړ ګوټي دي" راغلي دي.
(۳) په "ب" "ج" او "د" [illegible] کې "وما ته" راغلي دي.
(۴) په قلمي نسخو کې "نوي دي" راغلي دي.
(۵) [illegible]
(۶) "ب" لومړي نسخه: "هسې درومي چې [illegible] ګویا اوبه دي". "ج" دوهمه نسخه: "هسې درومي ګویا بحري اوبه دي".
(۷) [illegible] "غافلان چې وېنې اوري تحمل نه کړي".
(۸) "ج" لومړي نسخه: "[illegible] بېدار نه دي".
(۹) "ج" لومړي او دوهمه نسخه: "چې په زړه کې داستان له غمه څه دي".

Marfat.com

په ظاهر صورت چې ستا د در ګدای دی — په معنی کې د جمله وکدخدای دی[1]
مجنون بېد غوندې رونق د ګلستان شي — چې يې ستا له غمه سر په پښت پای دی
چې له غمه د جرس غوندې نالان دی — د جمله ګمراهانو رهنمای دی
چې خوك نن د ستا وتوره وستر ګورکا[2] — ستا د ورو ځو تر محراب لاندې ځای دی
چې مسکن يې د زړه ستا د زلفو خم شي — د هغو نا ستی په سيوري د همای دی
چې تا وويني وما ته نصيحت کا — شك پرې مه کوه بې شکه چې خودرای دی

٢٨١ — ٣٠٢٢

که زردار دي آشنايان د زردارانو
د رحمان د آشنايانو تکيه خدای دی

که مطلب وم دعا سره يې خدای دی — هر هر مرې د ژوندېو رهنمای دی
مسافر چې په رحلت کې خبله غږ کا — هر او از يې خواب آلودله درای دی
که سری و حقيقت وته نظر کا — ژوندی خلق واړه ناست د مړو په ځای دی
داخو بخت دی خوك يې سپين او خوك يې تور کړ — ګنه عيني لکه زاغ هسې همای دی
لکه فرق چې همای او د زاغ نشته — هم د غه دليل د شاه و د ګدای دی
ته نظر د کاريګر و په کار مه کړه — کار همه واړه موقوف په کارفرمای دی
سالکان چې جهان تماشا کاندي — له جهانه يې مطلب جهان آرای دی
که خوك خېل د دست و پای و پاسې له ميانه — خدای بخپله د بې دستو دست و پای دی
په هغه جهان نېکي و بدي نشته — هر مطلب د طالبانو په دا سرای دی

٢٨٢ — ٣٠٢٣

زه رحمان يوازې نه يم په دا کار کې
همېشه ديار په يار پسې وای وای دی

---

(۱) قلمي نسخې: "په معنی کې د جمله جهان کدخدای دی".
(۲) "ب" په لومړي نسخه او "خ" په دويمې نسخه کې "توره و زلفو" راغلي دي.

که د خلقو و نظر ته آدمی دی — خوار عاشق د معشوقې د کوڅې سپی دی

هر چې ځان دیار په سپیو کې داخل کا (۱) — تر و هاله به ورته وایم چې سړی دی

ما د خدای دیار له غمه بې غم نه کا — دا په ملك د عاشقۍ کې لوی والی دی

زه د یار په غم کې زړه خپه خوښ یم — دا زما خزان خزان نه دی سپرلی دی

زه ژوندون د یار و وصلت ته وایم — ګنه هر یو دوزخي په ژوندون ژوندی دی

ته چې ما منع کوې د یار له دره — کوم یو ډیر له دغه دره بریالی دی (۲)

زه د یار مینې په یار باندې شیدا کړم — که څوك ما ګڼي زه نه یم وابره دی دی

چې وحشي مجنون يې بېهر له راوست — د لیلی د زلفو هسې غم ژوندی دی (۳)

زرداران که اوبه څښي په جام د زرو — خوښ زما دا خپل د خاوړو کنډولی دی

اورنګ زیب که د ډیلي په تخت نازیږي — خپله خوښه هر ګدای له ډیلی دی

چې له خپله کوره ووځي مسافر شي — خوك يې پېژني ساهو دی که مړی دی

چې يې خاورې شي له خاورو سره ګډې — تر و چا څه زده چې د کوم نیکه لمسی دی

توره شپه په آشنایانو رڼا ورځ ده — رڼا ورځ په نا آشنا و توروږمی دی

نه دي سترګې پوزه غوږ د کم شناختو — په معنی کې یو دیوال سوری سوری دی (۴)

عاشقان يې د دنیا له غمه خلاص کړه — عشق په مثل د سلیمان بادشاهي دی

هر چې حب د عاشقۍ لري په زړه کې — که په قطع (۵) صد ساله وي هم حاجي دی

دا هلال دی چې لیده شي په شفق کې — که په لاس د ګل نداپي سپین نیی دی

نا آشنا به څه ښکل ځني مومي — چې مدام يې په آشنا باندې غوږ نیی دی (۶)

---

(۱) د "ب" چاپ کې "حساب کا" راغلی دی
(۲) دا بیت د "خ" په بیګړي نسخه کې نشته
(۳) دا بیت د "خ" په "وهمه" نسخه کې نشته
(۴) دا بیت په بیګړي نسخه کې نشته.
(۵) په "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې "حمر" راغلی دی.
(۶) په "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې "زبیرګی" راغلی دی.

خر بوي مې قرباني لره پوهېږم — دا چې کړي دې په ما باندې زړه سوی دی

چې په نوم باندې بالښي لېدۀ نه شي — معلومېږي چې نرحور يا ښاپېرۍ دی [(١)]

چې د خط په دود خلق يې پرېوځي — زنځدان يې تر سبزې لاندې کوهی دی [(٢)]

٢٨٣ — ٣٠٥٥

زۀ رحمان له ياره خوښ يم که جفا کا

که جفا ندکا وفا کا خو تېر دی

ستا الغم مې په مخ باندې ولې دی — لږ مې وپوښته له حاله چې ولې دی؟

زۀ په تا پسې مجنون يم قارون نه يم — چې مطلب مې غوا و غيلي يا غلي دي [(٣)]

هغه کوڅې لکه تا دې په ما کړي — کله کړي په مجنون باندې ليلی دي

لکه ما چې مصلي درپسې لنګ کړې — کوم ملنګ هسې لنګ کړې مصلی دی

بوي هم ستا د وفا نه دی رالوتی [(٤)] — ما يې ځيله خيلي کړي تسلي دي

نصيحت اثر په زړۀ د عاشق نه کا — ګڼه يادې زما ډېرې مسلې دي [(٥)]

٢٨٤ — ٣٠٦٢

که رحمان د عاشقۍ په تېغ شهيد شي

د جنت حورې همه واړه د لې دي

چا چې کړي و دنيا وته اسرې دي — د همه واړو په سر خاورې ايرې دي [(٦)]

نادانان که د دنيا په چار نا رېږي — و دانا ته واړه وشتې [(٧)] مسخرې دي

چې بې خدايه محبت کا هغه خلق — نا رېنه يې واړه خره او سخې خرې دي

و سپين ږيري وته مه وايه سپين ږيره — هګي واړه طفلان د هګوارې [(٨)] دي

(١) دا بيت په نګرهي نسخه کې نشته. «ح» او لومړۍ نسخې [illegible] «معلومېږي چې نه حور نه ښاپېرۍ دی».
(٢) دا بيت د «ح» په [illegible] نسخه کې نشته.
(٣) «ب» «ځ» «ب»: «زۀ په تا پسې مومن يم قارون نه يم — چې مطلب مې غوا او غيلي يا ګلي دي».
د [illegible] چاپي دېوان: «زۀ په تا پسې مومن يم قارون نه يم — چې مطلب مې غوا، غلي او يا ګلي دي».
(٤) په قلمي نسخو کې «رابلودلی» راغلی دی.
(٥) دا بيت په «ب» «چاپ» کې نشته.
(٦) چاپي دېوان: «د هغو په سر همه خاورې ايرې دي». (٧) «ق» «ک» «چاپ»: «توکې». «ح» لومړۍ: «[illegible]».
(٨) «ب» لومړۍ نسخه: «دا همه واړه طفلان د ګوارې دي». «ح» د همه [illegible]: «و سپين ږيري وته مه وايه چې سپين ږيره».

Marfat.com

هسې وايه چې خمرې دي د زنانو — که يې ايښي په دستار کې قرقرې دي
نه خو فيض نه خطره ځني مونده شي[1] — همګي واړه بې فيضه بې خطرې دي
٢٨٥ ذخيره د دنيا مه کوه رحمانه ٣٠٦٩
دا همه واړه د خاورو ذخيرې دي[2]

په هر ځاے چې ستا ثنا شي سبوګري — خوږه شي هلته د رو مرغلرې
د هغو سترګو به او ښکې وي ګلرنګې — هر چې ستا په ګل رخسار وي منتظرې
هغه کله د نا صح خبرې اوري — هر چې اوري ستا خوبي خوبې خبرې[3]
مرور کاندي عاشق له جمله خلق — معشوقې له هيڅ ما مه شه مرورې
په ساعت کې سړي مړ هم بې ژوندي[4] کا — طالع دي د خوبانو سحر ګرې
زه ځان د وب ګڼم بې تا په خپلو وينو — که مې د وب کا څوک په شهدو په شکرې
لرې لرې غم دې واړه رانژدې کړ — چې له مخه دې حجاب کړ راته لرې
چې مې نوم د ستا د تورو زلفو واخيست[5] — را پسې شوې د بلا تورې لښکرې
هيڅ په حق د حقدارانو نه ګرو هېږي — هميشه زما د زړه په ورو منکرې[6]
زما ستا مينه ښکاره ګنده په جهان ده — ولې دا رنګه ښکاره ګواهي[7] نغري

(١) حبالي ديوان: "چې نه فيض نه خطره ځني مونده شي".
مصور نسخه: "نه خو فيض نه خطره ځني مونده شي".
(٢) "ب" لومړۍ نسخه: "دا همه واړه په سر خاورې ايرې دي".
"ح" دويمه نسخه: "د دنيا ذخيرې کل خاورې ايرې دي".
مصوره نسخه: "دا همه دا ايرو خاورو ذخيرې دي".
(٣) "ح" په دويمه نسخه کې "ورې ورې خبرې" راغلي دي.
(٤) حبالي ديوان: "په ساعت کې سړي مړ کا هم ژوندي کا".
"خ" دويمه نسخه: "په ساعت کې سړي مړ بيا بې ژوندي کا".
(٥) حبالي ديوان: "چې مې نوم د ستا د زلفو په خوله واخيست".
(٦) "ب" لومړۍ نسخه: "هميشه زما په زړه ورې منکرې"
مصوره نسخه: "هميشه زما په ورې زړه منکرې". نوموړی بيت د "خ" په دويمه نسخه کې نشته.
(٧) "ح" په دويمه نسخه کې د "ګواهي" پر ځای "دعوی" راغلي دي.

Marfat.com

زه چي ستا له غمه ژاړم آه فرياد کړم — د رقيب کړه هم د ول وي هم سندري (۱)
چي ميوه يې د کابل خوړلې نه وي — د هغو له خمه وخلي شي ګرګري (۲)
د رندو سترګو (۳) حاجت د رانجه نه وي — په بد رنګه ناوې خه والې سندري
که په غره په سمه ګرځم باک مي نشته — مزري تل ګرځي په لوړو په ژوري

د رحمان شعر به ولې نادر نه وي
چي ثنا کاندي د تاغوندې نادري

۲۸۹ — ۳۰۸٤

عاشقي را باندې سوري کړې مري — هيڅ مي نه درومي لې باره ترمري (٤)
خداشر به يې د عقل وي په سر کي (۵) — د هغو په سر چي کېني سنا پېري
د مژګانو په پنجو مي زړه راکاږي — خداى د ترکو بربندې (۶) سترګې کړې زمري
علو فربه يې بې غمه نور خه نه وي — هرچي کاندي د خوبانو چاکري (۷)
لږ د صبر سبق ماله هم راکړې — که په عشق کې خوك د غه طاقت لري (۸)
خدايه خه دې د کوتوال په لاس کې ورکړم — چي شپه وورځ مي غروي لکه توري (۹)
په صورت مي نړه تبه شوه ولاړه — تاچي د واړه سترګې توري کړې نري (۱۰)
د وصال د لالان کوم طرف ته غواړم؟ — چي بندي شوم د هجران په کچري
نور د شمع په فانوس کله پټېږي — تاچي واغوستې د خيال جامې نري

---

(۱) د "خ" دوهمه نسخه: "زه چي ستا له غمه تل ژړا فرياد کړم — د رقيب کره هم د ول شته هم سندري".
د "ق.ک" چاپي ديوان کې دوهمه مسره داسې ده: "د رقيب کره مي د ول دي يا سندري".
(۲) دا بيت او ورپسې دوه نور بيتونه په "ب" چاپ، "ق.ک" چاپ، "ق" چاپ، د "خ" لومړۍ نسخه او مصوره نسخه کې نشته.
(۳) د "ب" په لومړۍ نسخه کې "په رندو سترګو" راغلي دي.
(٤) د "خ" دوهمه نسخه: "عاشقي را باندي سوري کړې ژړيږه — هيڅ مي نه درومي لې باره ترحلقې".
په "ب" چاپ او "ب.ب" چاپ کې لومړۍ مسره داسې ده: "عاشقي را باندې سوري کړې مرې".
(۵) مصوره نسخه: "خداشربه يې په سر کې وي د عقل".
(۶) چاپي ديوانونه: "مستې".
(۷) د "خ" لومړۍ نسخه: "که په عشق کې خوك د غه طاقت لري".
(۸) دا بيت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۹) دا بيت په لوړ قلمي نسخو کې نشته، په نوره نسخه کې داسې دى: "خدايه د عشق د پير دلاوه په لاس کې ورکړم — شپه وورځ مي لغم وي لکه تبري".
(۱۰) دا بيت او ورپسې دوه نور بيتونه په قلمي نسخو کې نشته.

Marfat.com

٢٨٧ — ٣٠٩٤

زه (ساقي) په زړه نري کم م هغو ترکو (١)
چې يې ملاو دي دو پښتو په دودنري

که له تا يې شرم نه کيږي هر پري
مخ به پټ نه وو دحوري پا پريه (٢)

چې آفتاب دي تر رخسار پورې خجل شو
له دې وېرې ځي زيست په شپه کا تري

ستا تر حسنه پورې حسن وار هيڅ دي
نيست به څه له هستو کا برابري

بې د ستا د تورو سترګو چا دوګر و
کوم آهو د بيابان زده وې پادم ګري

ستا د عشق د تورې هسې نګ ګوزاري
چې لمحه يې حباب شي ککري

دلبري او دلجويي لکه چې ستا زده
چا زده هسې دلجويي او دلبري

حسن وار د عاشق په عشق موقوف دي
معشوقه که فرښته وي که چوري

وعاشق ته د يار غم وار به سنا دي ده
درضا په ملک کې نشته دلګيري

دا دستوري چې له درده زګيري خبري
ګنه څه و د (ساقي) له شاګري

٢٨٨ — ٣١٠٣

ستا د تورو سترګو په ياد امې وښلي اوږدي
حق دي که پر بوځي په شرابات د غم ستوري (٣)

زلفې دي سايه کړې مخ دې او رپه تهابل کا
هر چا ترچې ګودم نيم په نور و نيم په سيوري (٤)

خوله دي په وصال کې قند نبات خوله ځګر خوري
چاو کړي ويد د چا شوه سپين دسترګو توري (٥)

اور ستا د رخسار دي ما په خپلواو ښکو بل کړو (٦)
تل په آتش سوزي آيينه چې لمر ته ګوري

ستر ګې مې د استا له خياله پر بوتې وزه ته
څه شو که مې بې سترګو صورتي په بل لوري (٧)

---

(١) د "خ" د همې نسخه: "زه (ساقي) رحمان په زړه هغو ترکو زخمي کړم" په مصوره نسخه او چاپي ديوانونو کې د "ترکو" پر ځاى "جونو" راغلى دى.
(٢) دا غزل په قلمي نسخه کې نشته.
(٣) دا غزل د "خ" په نسخه کې نشته، دوهمه مسره يې په "ب" چاپ ـــــــ کې داسې ده: "حق دي که پر بوځي په شرابات د غم کې ستوري".
(٤) د "ب" چاپ او قلمي نسخه: "زلفې دي سايه کړې مخ دې نور يه تهان کړې"، د "ب" لوري نسخه: "زلفې دې سايه کړې ... اصلي ... م په د سيوري".
(٥) د "ب" لوري نسخه: "يو اصل دي چې خوله قند نبات خوله ځيګر خون خوري ... حال ستا دلبا ... او ما دسترګو توري".
(٦) د "ب" لوري نسخه: "اور ستا د رخسار په ما د خپلو سترګو بل کې".
(٧) د "ب" لوري نسخه: "څه شو که بې سترګو تش د دي په بل لوري".

Marfat.com

کله رقیبانو ته نظر کړې کله ما ته — ستا باران د مهر په ښو بد و یکسان اوري

ځان په مستو سترګو باندې مه غلوه رحمانه (۱)

۲۸۹ — ۳۱۱۰

دا مستان هوښیار دي له حکمته سره ښوري

غمخواري د اسې چېرې بې غمخوري — چې به ما د لته کې ناست لرې ته دوري (۲)

هغه خدا چې بې ستا مخ بله لمبه کړي — د المبه یې کړه زما په ګوګل پوري

هم هغه دې زما تورې لیمې سره کړي — چې یې ستا لاس نه سره کړه سترګې توري (۳)

غل د سرو د مال غلا په توره شپه کا — ته په ورځ زما د سر و د مال چوري

اصیل نه دي چا پیر و دی نه یې پلوري — ته اصیل په دیدن پیرې هم یې پلوري

د الوم رنګ د آشنایۍ او دیارۍ دی (۴) — چې زه ستا د مخ ثنا کړم ته مې زوري

د رخانۍ په سل غمونو خلاصې اخته کړمه — زه به ولې له تا زار کوم که ګوري (۵)

زه وتاو ته د ستا له جوره زار یم — ته را واخلې (۶) سل ګیلې نادرې نوري

۲۹۰ — ۳۱۱۹

د رحمان مخ په عاشقۍ به آفرین کړي

که لمن مخ په آئینه کړې ځان وګوري (۷)

ته په هره ګړۍ (۸) غم د سیم وند خوري — زه دې هره ګړۍ وینم چې خپل سر خوري

عاقبت به دې یو څښتن تر سیني وړي — ته چې تل په هرهر (۹) شاخ باندې ثمر خوري

---

(۱) د "ب" لومړی نسخه: "مه غولېږه د سترګو په وهلو یې رحمانه".
(۲) قلمي نسخې: "چې ما دلې وته ناست لرې ته دوري".
(۳) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۴) په چاپي دیوانونو کې د "یارۍ" په ځای "ورورۍ" راغلی دی.
(۵) دا بیت د "ب" په لومړی نسخه، د "خ" په دوهمه نسخه او مصوره نسخه کې نشته. د "خ" په لومړی نسخه کې د دوهمه مسرۍ داسې ده:
"زه به ولې له تا زار کړم خپلې مورې".
(۶) "ق" چاپ او "ل. ک" چاپ کې "را وښکې" راغلی دی.
(۷) د "ب" لومړی نسخه: "که لمن مخ د آئینې ته کړې وګورې"
د "خ" لومړی نسخه: "که لمن مخ د آئینې وته وګورې".
د "خ" دوهمه نسخه: "که ته مخ د آئینې وته وګورې".
(۸) د "خ" دوهمه نسخه: "چې په هره ګړۍ".
(۹) چاپي دیوانونه: "هر یو ښاخ"، د "خ" دوهمه نسخه او مصوره نسخه: "په هر ښاخ".

Marfat.com

معلومېږي چې خپل غم د سره نشته — خلک غم د براد راو د پسر خوري (۱)
په عوض يې کوم طاعت کړي الله وايه — د انعمت چې (۲) په هر شام په هر سحر خوري
روژتي هم په خلو پار يسو افطار کا — نه خلو خلک طعام په هر پهر خوري (۳)
که يو څلک تر کماله ورسېږي — نو به غوښې د خپل ځان لکه قمر خوري
بې هنر ولره قند هم زهر قاتل دی (۴) — قند يې وګڼه که زهر په هنر خوري
که سپينه د نام ونګ دې شي تر څنګه — دهر چا په کږ روی به خپل ځيګر خوري (۵)

۲۹۱ — غمال په زړه د صبر (۶) غل کړه رحمانه — ۳۱۲۸
چې (۷) مدام د بر خوردار و په خير بر خوري

له چشمانو مې د غم پراو ښې ايږي — چې اغيار (نه) يار زما له قصد ګوري (۸)
سر و مال به د قاصد تر راتلو جار کړم — چې خبر له دلداره د يار له لوري
تر سرکي پيزوان يې چارشه قلندره — لکه مست هاتي مدام په ځنځير سنوري
تر چي راغلي خوبان واړه پسي شا شول — لا چې وخېژي نو څې پېښي ستوري
شينکي خال دې د جبين په مخ کې زيب کا — لکه حوره د طوطي ونې تر سيوري

۲۹۲ — په مخ د بېغمي ساعت حرام شو — ۳۱۳۴
لکه بيد مجنون چې شا له سنوري

---

(۱) دا بيت په چاپي ديوانونو کې نشته.
(۲) د "خ" دوهمه نسخه، "چې نه هر شام"، "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ: "چې ته په هر شام و سحر خوري".
(۳) دا بيت د "خ" په لومړۍ نسخه او مصوره نسخه کې نشته، "ق، ک" چاپ: "ته به څرنګه روژه نيسي په صبر چې خلو خلک طعام په هر پهر خوري". په نورو چاپي ديوانونو او د "خ" دوهمه نسخه کې لومړی مسری داسې ده: "روژتي په خلو پار يسو افطار کا".
(۴) "ق، ک" چاپ او قلمي نسخې: "بې هنر ولره قند زهر قاتل دی".
(۵) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته لومړی مسری يې د "ب" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: "که سپينه د نام ونګ ده تر څنګه".
(۶) مصوره نسخه، "د خير غل کړه".
(۷) "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ: "که مدام".
(۸) دا غزل د "خ" له دوهمې نسخې نه نقل شو، په نورو نسخو او چاپي ديوانونو کې نشته.

ترا به د وخت پورې به جفا کړې — کله به مهر و وفا هم چېرې پیدا کړې
معشوقې کله جفا کله وفا کا — مېینا یه چې کله هغه کله دا کړې
ما ستا خوې دې وهر چا و ته ستا یلی (۱) — چېرې نه چې در و غږن مې ترهر چا کړې
ستا خو لاس لا باندې نه رسي دلبره — چې په لاس د رقیبانو مې سزا کړې (۲)
مرم په دا چې د رقیب (۳) په رضا درومې — نه په دا چې ته په ځان خپله رضا کړې
چې د غما و بنکي زما د غه خوی ستا وي (٤) — دا پټ راز به مې په درست جهان رسوا کړې
په درست عمر به هیڅ بدلې نه وي (۵) — هغه چارې چې ته هر ساعت پرما کړې
ما ځوړ په کټ کې پرېږدې چې کړېږم — ته لاګرزې د رقیب سره خندا کړې (۶)
لاس ترغاړې د رقیب سره خندا کړې — چې ما وویني له قصده را ته شا کړې (۷)

هر بېګاه والې چې خوله به سبا درکړم (۸)
دا بېګاه به په ما ځکه سبا کړې

۲۹۳ — ۳۱٤٤

په پیرۍ کې چې هوس د مې و ناب کړې — بې هوده ګمان په صبح د مهتاب کړې (۹)
بې طاعته عنایت له خدایه غواړې (۱۰) — د عتاب په ځای امید د ثواب کړې
دانسته ګناه کوې تونې و کاږې — لکه بت هسې په غم و ستر ګو خواب کړې
په هغو غوږو چې ذکر د خدای اورې — بیا سماع په هغو غوږو د رباب کړې

---

(۱) د "ب" په نسخه کې "وسلي" راغلی دی.
(۲) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.
(۳) په چاپي دیوانو کې "اغیار" راغلی دی.
(٤) چاپي دیوانه: "چې دستا دغه خصلت دی زما و بنکې".
(۵) د "خ" لومړي نسخه: "په درست عمر به بې هیڅ لبدلی نه دي".
(۶) دا بیت د "ب" په لومړي نسخه، د "خ" په دوهمه نسخه او مصوره نسخه کې نشته. د "خ" په لومړي نسخه کې د "کړېږم" پر ځای "نولېږم" راغلی دی.
(۷) دا بیت د "ب" په لومړي نسخه، د "خ" په دوهمه نسخه او مصوره نسخه کې نشته.
(۸) چاپي دیوانه: "هر بېګاه والې سبا له به خوله درکړم". د "خ" په لومړي نسخه کې د "خوله" پر ځای "حق" راغلی دی.
(۹) دا غزل په مصوره نسخه کې نه دی راغلی.
(۱۰) د "ب" لومړي نسخه: "په طاعت عنایت له خدایه غواړې". په "ب ب" چاپکې دې راغلي دي: "بې طاعته عنایت غواړې له خدایه" او دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلی دی: "بې طاعته عنایت له خدایه غواړم د عتاب په ځای امید د آب وتاب کړې".

Marfat.com

په هغو شونډو چې حمد و ثنا وايي | هم هغه شونډې بيا د ونې پر شراب کړي
علم وکړې هيڅ(۱) عمل ورباندې نه کړې | لکه طفل هسې لوبې په کتاب کړي
په شپه پروت يې د مغانو په ميخانه کې | او په ورځ مخ په لوري د محراب کړي(۲)
تمام عمر د دنيا په طلب ګرځي | بيا د خدای په طالبانو حساب کړي

له خالقه دې نه شرم نه حجاب شي(۳)
له ربانه ګوښه ونيسي حجاب کړي

۲۹۴ — ۳۱۵۳

چې مدام د بل و عيب و ته نظر کړي | خدای له خپله عيبه ولې ناخبر کړي(۴)
که لوی جود دانه عيب وينې په بل کې(۵) | هغه لوی جود دانه عيب به يې لوی غر کړي(۶)
که دې خپله ګناه لويه لکه غر وي(۸) | په حيله حيله به غر د مچ وزر کړي(۷)
که خوک تله د انصاف په لاس کې درکا | خپل تن او د بل آس به برابر کړي
تو لعنت دې په داسې منصفي شه | چې له حقه و باطل وته ګذر کړي
خدای و تا د ملائکو مقام درکړ(۹) | ته دا خپل صورت په خپله ګاو خر کړي
په نعمت يې شکرانه کولی نه شې | چې زحمت درباندې درشي شور شر کړي(۱۰)

---

(۱) د جمهور په "ق، ک" چاپ کې د "هيڅ" پر ځای "بيا" راغلی دی.
(۲) دا مسری په "ب" چاپ کې داسې راغلی دی: "او د ورځې مخ په لوري د محراب کړي"
د "خ" په لومړي نسخه کې داسې راغلی دی: "د ورځ د ورځې مخ په لوري د محراب کړي".
(۳) دا مسری په "ب" چاپ او "ب ب" چاپ کې داسې راغلی دی: "له خالقه دې نه شرم نه حجاب دی".
د جمهور "ق، ک" چاپ کې داسې راغلی دی: "د خالقه دې نه شرم نه حجاب شته".
د "ب" په دوهمه نسخه کې دا مسری داسې راغلی دی: "له خالقه دې هيڅ شرم حجاب نه شي".
او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "د خالقه دې نه شرم شي نه ډېره".
(۴) دا غزل د "ب" په لومړي نسخه کې نشته. د "خ" په لومړي نسخه کې د "ناخبر" پر ځای "کوروکړ" راغلی دی.
(۵) د "خ" په لومړي او دوهمه نسخه کې "د بل و" راغلی دی.
(۶) د "خ" په لومړي او دوهمه نسخه کې "لوی غر" راغلی دی.
(۷) دا بيت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.
(۸) د "ب" نسخې او "خ" لومړي او دوهمه نسخه: "که خوک تله دانصاف درته په لاس کا".
(۹) د "ب" لومړي نسخه: "خدای د تا ته ملائکو مقام درکړی".
(۱۰) دا بيت په "ب" چاپ، "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې نشته.

Marfat.com

چې خلق ستا په رضا کار کا ستا هم بویه — چې دا خپله رضا واړه وخدای ورکړي (۱)

نه هغه چې دې به ستا په رضا کار کا — ته خپل ځان ددې په کار کې مقصر کړي

که دې بو و بهشته د ځان دپاسه کوي شي — ځان هغه ساعت له خدایه مرور کړي

چې بندګي دې په خدای وي بوکلوي — نمایان یې په جهان کې لکه نمر کړي

لکه څوک تر ملکي لار شي بېرته راشي — د دنیا د پاره هسې لوی سفر کړي

که بوه ریتي ځي زر په لاس کې کښېوځي — خرځ خروله د عبادت په رنځه ور کړي (۲)

د ځوانۍ عمر دې تېر کړو په غفلت کې — په پیرۍ کې به خرزبر مړه د محشر کړي (۳)

په دنیا پسې دې ملي دي رنګ کړي — ځان وخلقو ته درویش و قلندر کړي

لکه وار چې د زړې لولپه تیر شي — اوس تو یې له ضرورته پېښن سر کړي

په پیرۍ کې د ځوانۍ چارې (۴) نه شي — ته په ورځ د عاشقۍ به خدا اختر کړي

لکه بیخ د زړې ونې څیچي وخوري — په داتبر ثمر به څه بناخ وثمر کړي

د غم باغ به دې خلاص نه شي له خزانه (۵) — که چاپیر ورځني سد د سکندر کړي

۲۹۵ — ۲۱۷۳

ردیف: ی

ویر د خواه و ته څوک نیک نصیحت نه کا
ستا په غم شریک دی که باور کړي

خدایه مه کړه ناامید هغه وګړي — چې امید یې وي د ستا په کرم کړي

ستا له رحمه به زه ولې نومید یم کرم — چې دې ځان دی د رحیم په نام نوم کړي (۶)

خواست زما قبول کړې ای ملک الملکه — ستا د اسم اعظم روی مې دی درود کړي (۷)

---

(۱) دا دوهم بیت نه په چاپي دیوانونو کې نشته.
(۲) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته. د "پ" په لومړۍ نسخه کې یې دوهمه مصرۍ داسې ده: "خرواره د عبادت په رنځه ورکړي"
(۳) دا بیت په مصور نسخه کې نشته. دوهمه مصرۍ د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: "د پیرۍ په وخت به څرنګه اختر کړي".
د "خ" دوهمه نسخه: "د پیرۍ په وخت به زبر مړه د محشر کړي".
(۴) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته. په "ق، ب" چاپ کې د "چارې" پر ځای "کار و بار" راغلي دي.
(۵) د "خ" په دوهمه نسخه کې "له زاغانو" راغلي دي.
(۶) د "خ" دوهمه نسخه: "چې دې ځان دی د رحیم په نام یاد کړي".
(۷) اخلاو بیتونه په چاپي دیوانونو او قلمي نسخو کې نشته. ملا مستنفان په نامه له قلمي څوک څو نقل شول. لومړی قلمي څوک د ستا غلي رفیع په کښي کتابي را...

خلاص یې مه کړه بند بوان بند د چې مې بنه ‌ ‌ ‌ چې په غاړه یې وي استا د مینې پړی
همېشه به رنځوری او ړلمن ګرځي ‌ ‌ ‌ چې یې ښکال وي په سینه د مینې زړې
که ملاح ستا د الطاف وي چې خلاص کا ‌ ‌ ‌ ګنه نه شي خلاصېدی د عشق سیندو لې
دا نیمګړي سړي ننګ هم د خیل نام کا ‌ ‌ ‌ ته خو خدای یې چې په هېڅ نه یې نیمګړی[1]
هېڅ بنده دې په بندګۍ[2] کې لېده نه شي ‌ ‌ ‌ چې تا خط د ازادۍ[3] نه دی ورکړی
دا همه واړه شومیت دی د شومانو ‌ ‌ ‌ ګنه ته د چا په زېړ مه نه یې ستړی
چې یې تالې په زړه باله هوا ګرزي ‌ ‌ ‌ تر مقصوده به و نه رسي وګړی[4]

۲۹۶ ‌ ‌ هر چې ستا په لاره قدم د راستۍ کېږدي
که یې زیان وي به زه ملاح یې پوه وي ‌ ‌ ۳۱۸٤

د آشنا له لاسه ناست یم په زړه ستړی ‌ ‌ ‌ په فلوس مې په کار نه دی درست وګړی
چې په ژوندي طمع پرېکړه شي له ژونده[5] ‌ ‌ ‌ نور په خه باندې ویرېږي سړي پکې
که ژوندون د عاشقانو په وصال وي ‌ ‌ ‌ زه مهجور یم په دغه روایت مړی
خوږ ژوندون مې جدلی هسې راتېر کړ ‌ ‌ ‌ چې د غم له تلخۍ دم نه شم رانغړی
دا صورت[6] په مثال خس محبت اور شو ‌ ‌ ‌ تروږاوره په مخ کې څه کاندي خسړی
لا علاج به لګه او ښ باربرداری کا ‌ ‌ ‌ چې په پوزه یې پېزوان شو د عشق پړی[7]

۲۹۷ ‌ ‌ له احواله یې وو وو وپوښتې یارانو
بېلتانه د ملاح واړه دی خطا کړی ‌ ‌ ۳۱۹۱

---

(۱) «ب» «پ» چاپ : «ته خو خدای وې چې په هېڅ نه دی نیمګری».
«ق» «ک» او «ق» چاپ : «ته خو خدای یې په هېڅ شي نه یې نیمګړی».
(۲) «ب» «پ» چاپ او «ق» «ک» چاپ : «بزرګۍ».
(۳) «ب» «پ» چاپ : «بزرګۍ».
(٤) «ب» لومړی نسخه او «خ» لومړی نسخه : «دووړی» ـ «خ» دویمه نسخه «خوب وړی».
(۵) «خ» لومړی نسخه : «په ژوندون چې طمع بری کاله ژوند وینه».
(٦) «خ» دویمه نسخه : «داش وندون».
(۷) «ق» «ک» چاپ : «د غم پړی».

Marfat.com

خو به هسې آزادي په داځهان کړي … چې خبرې به د سرو د سـ ـار کړي[1]

همېشه به دا ځهان د ربانۍ نه وي … چې به سيل په بوستا … په ګلستا کړي

واره دُر دي بدلوي (بې) په مشکېنيو … هر تلاش چې د دنيا په سود … کړي

غمخواري د آل عيال دې حمقي د ه … چې د بل په زېر … ګرځي … کړي

په نفاق کې به ضايع شي مر دهاله … که نخوات د ښمن جمع … کړي

چې په دوو به پېښي بدي هغه روب شي … بېهوده دلبستګي په اين … کړي

د تېر عمر امان مه کوه حمانه

## ۲۹۸

چېرې نه وي چې بيا دا ساعت ارما کړي

خاليه زړه د رقيب نرم په حسان کړي[2] … مال د يار … يار له ما سره يکسان کړي

هغه درد چې د آشنا د بېلتانه دی … دفع رفع[3] يې د وصل په درمان کړي

ته چې ما منع کوې د يار له لوري … کښلې باد د سحر منع په بوستان کړي[4]

غم د هجر چې تيري، تر ورو سخت دی[5] … له دې غمه مې په امن په امان کړي

کار و بار د عاشقۍ ډېر مشکل دی[6] … دا مشکل زما په ما باندې آسان کړي

حجاب لرې[7] کړه زما د يار تر ميانه … بې حجابه مخ د يار را ته عيان کړي

که مطلب د نور چا نور تېر من تېرې دی … ما ګدای په آستانه د خيال جانا کړي

که دا نور عالم و بله خواته ګوري … ما په لوري د دلبر[8] نګران کړي

(۱) … د "خ" … قلمي نسخې نقل شو.
(۲) دا غزل په مصوره نسخه کې نشته … دا بيت لومړی مسرې … چاپي ديوانو … قلمي نسخو کې … دی: خاليه زړه د … کړي
(۳) په "ب" چاپ کې "دفع و رفع" راغلي دي.
(۴) دا بيت په قلمي نسخو او د … قصه خواني "ق ک" چاپ کې … دی راغلي
(۵) دا مسرې د "ب" په لومړي نسخه کې راغلې ده: "غم د هجر چې بتر تر کافې اور دی".
په … چاپي ديوانو کې داسې راغلې ده: "غم د هجر چې تېرې تر کافې اور دی".
د "خ" په لومړي نسخه کې "غم د هجر چې تېر تر کما او وير دی".
(۶) … قولي د لومړي نسخې … په نورو نولو کې دا مسرې داسې راغلې ده: "کار و بار د عاشقۍ چې ډېر مشکل دی".
(۷) دا مسرې په … چاپ کې داسې راغلې ده: "حجاب لرې کړه زما له يار تر ميانه".
(۸) د "خ" په لومړي نسخه کې "دلبرانو" راغلي دي.

Marfat.com

نه به ما منع کړي نه، له خپله یاره — نه به کوز په حمله ستوري د آسمان کړي (۱)
نه چې یار له ره ورځم په هغې لار ې — همت خضر همت الیاس مې رهبران کړي (۲)
تاریکي د معصیت راځخه واخلي — د طاعت په روښنائي مې زړه روښان کړي
چې زما په پریشانۍ ئې زړه سوځېږي (۳) — زړه ئې ما غونډې په یار پسې پریشان کړي
چې زما په چمن راشي ګستاخي کا — د شبنم په څېر ئې عمر یو زمان کړي (٤)
چې ازاده د منګ ترسره پرېږدي — د فلک په څرخ مې تول د زیان کړي (٥)
هغه غشي چې د ترکو د غمزو دي — هر کلام مې د هغه غشي پیکان کړي (٦)
چې کشور د افغانانو معطر کا (۷) — د هر بیت مسرۍ (۸) مې زلفې د خوبان کړي
چې هر حرف مې د نافې په څېر خوشبوئي (۹) — برکت مې په جزدان په قلمدان کړي

٢٩٩

الهي د خیل حبیب له برکته (۱۰)
داساده انشا رنګینه د ارغوان کړي

٣٢١٦

ما په تا پسې د اسپینې جامې رنګ کړي — ته لا بیا په ما ګومان د نام و ننګ کړي (۱۱)
هیڅ اثر ئې په سنګین خاطر و نه شو — که هر څو مې مصلې در پسې لنګ کړي (۱۲)

---

(۱) دا بیت په ټولو نسخو کې نه دی راغلی.
(۲) دا مسرۍ د "ب" په چاپ کې داسې راغلې ده: "همت خضر او الیاس مې رهبران کړي".
"ق . ک" چاپ کې داسې راغلې ده: "نه چې یار له ره ورځم په کوم لاری همت خضر او الیاس مې رهبران کړي".
(۳) د "خ" په لومړۍ نسخه کې "ئې" پر ځای "دې" راغلی دی.
(٤) دا بیت د "ب" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.
(٥) دا بیت د "ب" او د "خ" په لومړۍ او دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.
(٦) دا بیت د "خ" په لومړۍ او دوهمه او د "ب" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.
(۷) په "ب" چاپ او په پېښور ملولو چاپي دیوانونو کې د "کا" پر ځای "شي" راغلی دی.
(۸) دا بیت د "ب" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.
(۹) دا مسرۍ په "ب" چاپ کې داسې راغلې ده: "چې هر حرف ئې د نافې غوندې خوشبو دی".
"ب" چاپ: "چې هر حرف ئې د نافې په څېر خوشبوئي دی"
د پېښور "ق . ک" چاپ: "چې هر حرف د نافې غوندې خوشبو دی".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې: "هر چې حرف ئې د نافې په څېر خوشبوئي دی". دا بیت د "ب" په دوهمه نسخه کې نه دی راغلی.
(۱۰) دا مسرۍ د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "الهي د پیغمبر له برکته".
(۱۱) دې بیت لومړۍ مسرۍ په "ق . ک" چاپ کې داسې راغلې ده: "ما په تا پسې د اخپلې جامې رنګ کړي".
دوهمه مسرۍ ئې د "ب" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلې ده: "ته لا بیا ګومان په ما د نام و ننګ کړي" او ټول غزل په معروف نسخو کې نه دی راغلی.
(۱۲) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی دی: "هیڅ اثر ئې په سنګین خاطر و نه شو که هر څو مې مصلې در پسې رنګ کړي".

دلسوزي به دې په نور وګړي خو وي (١) چې له ما غوندې مخلص سره جنګ کړي
ته په عشق کې ما هاله در وغږن بوله که (٢) یو بل هم هسې ما غوندې ملنګ کړي
دا نارې سوري غمازي دي په عشق کې ګنه ما به د بلبل په څېر اهنګ کړي (٣)
عاشقي و معشوقي ته سپینه لار ده ته وما وته دا سپینه لار ګړنګ کړي (٤)
چې یو دم مې له نظره پناه کېږي (٥) دا جهان لکه لحد را باندې تنګ کړي
په سنه خوی سره دخلقو افسانه وي خدای زما له کم بختیه په زړه سنګ کړي (٦)

٣٠٠

دا دې خوی له ځنګه ناست د نه لوهېږي (٧)
چې خبر یې له ناصح سره په ځنګ کړي (٨)

٣٢٢٥

که د عشق شکې تېرې تر ګلو کړې نور لذت به لکه زهر هسې ترو کړي (٩)
که دې وشي ملاقات له سرو قدو د فاختې په څېر به کوکي په کوکو کړي (١٠)
عاشقي به د عشق تور در په لاس کا ترور صبر د سکوت په ملک به هو کړي (١١)
په انصاف په عدالت به نوشیروان شي هر عمل به (١٢) د خوشحال خان په ترازو کړي

(١) دا مسرې په "ب" چاپ او "ب ب" چاپ کې داسې راغلې ده: "دل سوزي به دې په لور وګړي خه شي".
په "ق ، ک" چاپ کې داسې راغلې ده: "دل سوزي به دې په لور دخلکو خه شي".
(٢) د "خ" په دواړو نسخو کې د "که" پر ځای "چې" راغلې دی.
(٣) دا بیت په دواړو چاپي دیوانونو کې داسې راغلی دی: "دا نارې سورې غمازي دي په عشق کې ګنهٔ تل به د بلبل په څېر بنګ کړي".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی دی: "دا نارې سورې غمازي دي په عشق کې ګنهٔ تل به د بلبل په دود به بنګ کړي".
د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "دا نارې سورې په عشق کې دي غمازي".
(٤) دا بیت په "ب" چاپ او د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلی دی: "د عاشق و معشوقي ته سپینه لار ده ته وما وته دا سپینه لار ګړنګ کړې".
(٥) دا مسرې په قولو دواړو چاپي دیوانونو کې داسې راغلې ده: "چې یو دم مې له نظره نه یو خوا شي".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې دا مسرې داسې راغلې ده: "چې یو دم مې له نظره یوه خوا شي".
(٦) په "ب" چاپ کې داسې راغلی دی: "په سنه خوی سره دخلکو افسانه شي خدای زما له کم بختۍ نه به زړه سنګ کړې".
د "خ" په لومړۍ نسخه کې: "چې سنه خوی لری دخلکو افسانه لي".
(٧) په پېښور چاپي دیوانونو کې او د "خ" په لومړۍ نسخه کې "ملاند دوایه" راغلی دی.
(٨) د "ب" او لومړۍ نسخې نه پرته په قولو کې "ځنګ" راغلی دی.
(٩) دا ردیف په مصوره نسخه کې نه دی راغلی.
(١٠) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی دی: "که په قد د سر وقد ودې ګذر شي د فاختې په دود به کوکي په کوکو کړي".
په "ق ، ک" چاپ کې په لومړۍ مسره کې د "په خیر" پر ځای "هسې" راغلی دی.
(١١) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نه دی راغلی او په قولو دواړو چاپي دیوانونو کې یې دوهمه مسرې داسې راغلې ده: "لو به صبر د سکون په ملک به هو کړي".
(١٢) په "ب" چاپ او د "خ" په دوهمه نسخه او "ق ، ک" چاپ کې د "به" پر ځای "چې" او په "ب" چاپ کې "لکه" راغلی دی.

Marfat.com

٣٠١

د سکندر په خبر جهان به د رخ ګند شي(۱) — که سر کوز په آینه د خپل زانو کړي

ترنج لوګي به لې د قند و په خبر نغړ شي(۲) — که صورت د عشق په اور کې تماکو کړي

و به نه ویني د ترکو مستې سترګې — مګر ځان به په خپلو وینو کې سالو کړي(۳)

که یو ځله تورې زلفې په شانه کړي — خاکستر به په چمن کې کشالو کړي(۴)

د ریست جهان به قاف تر قافه معطر شي — که یو ځله شانه ګډه په ګیسو کړي(۵)

ستا د زلفو مار خوړلي به روغ نه شي — که افسون د مسیحا ورباندې پو کړي

لاس وینې دې چې زړونه بنایسته دي — خدمت به د پایلو(۶) د باهو کړي

که سوزن د بڼو او ړي تار د زلفو(۷)
د جاح د زړګي زخم به رفو کړي

٣٢٣٧

تا چې مخ د پرې سترګې د آهو کړې — نه پوهېږم چې آهو چې که جادو کړې(۸)

دعا ګوي چې د چا و مرې خو بنادي ده(۹) — ته په خو زما و مرګې و تراړ و کړې

په محراب د عاشقانو کاڼي وو ځي(۱۰) — ته چې چین د جبین غوټه په ابرو کړې

تا چې رنګ د ګلو واخیست نه پوهېږم — زرغونه به په څهره زما ګنګو(۱۱) کړې

ستا له دېره ډېره خوره معلومېږې — چې به ما په خپلو وینو(۱۲) کې لاهو کړې

---

(۱) دا مسرۍ په "ب" چاپ کې داسې راغلې ده: "د سکندر په خبر جهان به دې روزي شي" په "پ" چاپ او "خ" لومړۍ نسخه کې "د سکندر په خبر شاهي به دې روزي شي" او پېښور "ق. ک" چاپ کې "د سکندر په شان جهان به دې روزي شي" راغلې.

(۲) د "ب" په لومړۍ نسخه کې "نغړ"، په "ب" چاپ کې "نغوده" او "خ" په دوهمه نسخه کې "نغر" راغلی دی.

(۳) د "ب" لومړۍ نسخه: "مګر ځان په خپلو وینو کې لاهو کړي".

(٤) دا بیت په دواړو چاپي دیوانونو، د "خ" په لومړۍ نسخه او "ب" په دوهمه نسخه کې په دریمې ردیف کې راغلی دی.

(٥) دا بیت په چاپي دیوانونو، د "خ" په لومړۍ نسخه او "ب" په دوهمه نسخه کې په دریمې ردیف کې راغلی دی.

(٦) د "خ" په دوهمه نسخه کې "پا و لیو" راغلی دی.

(۷) لومړۍ نسخه، پېښور په چاپي دیوانونو کې په "تا چې مخ د پرې سترګې دې آهو کړې" غزل کې راغلی دی.

(۸) دا غزل د "خ" په لومړۍ نسخه او مصوره نسخه کې نه دی راغلی. او دا بیت د "ب" په لومړۍ نسخه کې داسې راغلی دی: "تا چې مخ د پرې سترګې د آهو کړې / تر وېرې که آهو چې که جادو کړې" دوهمه مسرۍ یې د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې راغلې ده: "نه پوهېږم چې پرې یې که آهو یې که جادو کړې".

(۹) د "خ" په دوهمه او "ب" په دوهمه نسخه کې د "بنادي ده" پر ځای "بنادي که" راغلی دی.

(۱۰) د پېښور "ق. ک" چاپ کې "یو یو ځي" راغلی دی.

(۱۱) په "ب" چاپ کې "کنګو" راغلی دی.

(۱۲) په "پ" چاپ، د "خ" دوهمه او "ب" په دوهمه نسخه کې د "وینو" پر ځای "اوښو" راغلی دی.

Marfat.com

(۱) زوغ به نه شي چې دیار له سره دید نه — که سل پنده سپېلنۍ ځانه [ن] لوګي

دغفلت لېچن لېمه به دې روښان شي — که دیار دکوڅې خاورې ته خښلکو کړي (۲)

دادارو ته بد دوالي کوي طبیبه — چې دیار په درد وغم کې مې دارو کړي (۳)

نصیحت په عاشقانو اثر نه کا — دا محنت واره بې ځایه بې قابو کړي

۳۰۲ — ۳۲۴۷

په هماغ [ربان] باندې بې یاره خوب حرام دی

که بې سل پالنګه (۴) لاندې [بي] تر هلو کړي

(۵) که نظر په ماتو ګوډو ورونګار کړي — هومره نه دی چې حساب یا به بې شمار کړي [سي]

په هر غم کې خاموش اوسه او که نه وي — د بدخواه خاطر به سره (۶) دد [ست] وست ازار کړي

صبر ونیسه په محکې که مراد غواړې — په تلوار به هېڅ ونکړې که تلوار کړې (۷)

رضا یاسله وقضا ته فراغت سره — او که نور خه نور خوالې ځان به خوار کړي (۸)

آزادي او کار وبار دي وبله لري (۹) — لاس له کار و باره وباسه که کار کړي

۳۰۳ — ۳۲۵۳

چې بخیله بې فاني بولي [ناانه] هماغ

تر و بیا خه په هغو چارو اعتبار کړي (۱۰)

---

(۱) دغه بیت لومړی پنځه بیتونه په "ب" او "ق" چاپ دیوانونو کې د "که دعشق شکري تیري ترګلو کړي" غزل کې راغلي دي.

(۲) دا بیت په "ب" چاپ او "ق" "ک" چاپ کې داسې راغلی دی: "دغفلت لېچن لېمه به دې بینا شي — که دیار دکوڅې خاورې دې خښلکو کړي".
په "ب" "لومړي نسخه" کې یې ورومبی مسری داسې راغلی دی: "که دیار دکوڅې خاورې خښلکو کړي".
"خ" په "د وحمد نسخه کې دا مسری داسې راغلی دی: "که دیار دکوڅې خاورې په خښلکو کړي".

(۳) دا بیت د "ب" په لومړي نسخه کې داسې دی: "دا دوا که بد دوا کوي طبیبه — چې دیار په درد وغم کې مې دارو کړي".
په "ب ب" چاپ کې داسې راغلی دی: "دادارو ته بد دوا کوي طبیبه — چې دیار په درد وغم کې مې دارو کړي".
"خ" په "د وحمد نسخه کې داسې راغلی دی: "دارو دې دادې که دوا کوي طبیبه — که دیار په درد وغم کې مې دارو کړي".

(۴) په قلمي وارو چاپي دیوانونو کې د "پالنګ" پر ځای "بالښت" راغلی دی.

(۵) دا غزل په مصور نسخه او "خ" په لومړي نسخه کې نه دی راغلی. په "ب ب" چاپ کې دا مسری داسې راغلی ده: "هومره نه دی چې حساب او یا بې شمار کړي".

(۶) په "ب" چاپ، د پېښور "ق اک" چاپ او د "ب" په "د وحمد نسخه کې "بیا د" او "ب ب" چاپ کې "حوښ" راغلی دی.

(۷) دا بیت د "ب" په "د وحمد نسخه کې نه دی راغلی او لومړی مسری یې په "ب ب" چاپ کې داسې راغلی ده: "صبر ونیسه په محکې مراد غواړه".

(۸) ددې بیت لومړی مسری په "ب ب" چاپ کې داسې راغلی ده: "رضا وسپاره قضا ته فراغت سره".

(۹) دا مسری په چاپي دیوانونو کې داسې راغلی ده: "آزادي او کار وبار دي سره لري"؛ خو د "ب" په "د وحمد" او "خ" په "د وحمد نسخو کې د "وبله" او "سره" پر ځای "حنبله" راغلی دی.

(۱۰) دا مسری د "خ" په "د وحمد نسخه کې داسې راغلی ده: "تر و په خه په هغو چارو اعتبار کړي".

Marfat.com

ولې ولې وعاشق ته نظر نه کړې — داگدای(۱) په دیدن ولې توانګر نه کړې
ستا دې د بڼې حیا د بڼکو ونه وران کړل — چې وهچا ته کاته برابر نه کړې(۲)
ستا په د حسن مې دا عقیده نه شي — چې دا دروغ وګړي واړه او تر نه کړې
ته پلوله مخه واخله زه ضامن یم — کړاو ننګ د زمانې قلندر نه کړې(۳)
زما هر زمان هر دم په تا ګذر دې — ته یو دم زما په لوري ګذر نه کړې
لکه ته چې د لاور زما په مرګ یې — چېرې دا ننګه رقیب د لاور نه کړې
زه دستا په جفا خوښ یم تل تر تله — که غمازې له دې رازه خبر نه کړې
ګذشته جور وجفا دې اواره وي(۴) — که دا جور وجفا بار دیګر نه کړې
هغه څوک دي چې په ستا له دره درومي — کړې ته له خپله دره بدر نه کړې
سنګدلي ده هغو خلقو لره ختمه — چې یې ته په مجلس ورشې اثر نه کړې

٣١٤

رانجه ستا میني رسوا کړې بازي حیف دی
چې ته هېڅ په دا خبره باور نه کړې(۵)

٣٢٦٤

وخوبانو ته ولې نظر نه کړې(۶) — دچمن په ګلو ولې ګذر نه کړې
دا ګهار چې د بستان بې معطر کړ — دماغ ولې په دا بوي معطر نه کړې
رضا ولې په قضا سیا لې نه شې — دغه زهر په ځان ولې شکر نه کړې
جاك زده چې په نار و د مرګ خبر یې(۷) — ځان بچوا تر مرګه ولې خبر نه کړې
چې د نور خلقو په سراچوي خاوري(۸) — ته په خپله خاوري ولې په سر نه کړې

(۱) "خ" په لوړي نسخ کې "خولګدای" راغلی دی.
(۲) "خ" لوړي نسخ: "ستا دې د بڼې حیا د بڼکو ونه مات کړل — چې هچا وته کاته برابر نه کړې".
(۳) دا بیت په مصوره نسخ کې نشته
(۴) چاپي دیوانونه: "ګذشته جفا دې واړه آواره وي". "خ" لوړي نسخ: "ګذشته جور وجفا واړه معاف دی".
(۵) مصوره نسخ: "چې یې ته په دا خبره باور نه کړې"
(۶) دا غزل د "خ" په لوړي نسخ او مصوره نسخ کې نشته. لوړي مسري د "خ" په دوهمه نسخ کې داسې ده: "ولې ولې په خوبانو نظر نه کړې".
(۷) په "ق، ک" چاپ کې "خواب آلود" راغلی دی.
(۸) "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ: "چې نور خلك دې په سراچوي خاوري". د "خ" دوهمه نسخ او په لوړي نسخ: "چې د نور خلکو په سراچوي خاوري"

پس له مرګه چې پیا مرې له لوبې تندې ... ولې نن ساعت تو ښه د محشر نه کړې

۳۰۵ ... داویل چې دې اثر کاندې په نورو[1]
اے رباحَ نه په ځان وې اثر نه کړي ... ۳۲۷۱

چا چې لمرې وي په خپلو وینو ولللي[2] ... د شبنم په څېر به تل وي سپین سپېڅلي
چې صیاد څخه د اوښکو دانې نه وي ... د هوا مرغان هیڅ‌ه نه دي نیولي
هر یو مخ کله لایق د آبرویې وي ... اوښکې نه درومي په مخ د هر نا ولي
هره شپه به شمع څه له ژړا کا ... که یې نه وي په ژړا کې خه موندلي
چې سیلاب د عاشقۍ وربانډې راغي ... مخلوقات په مخه لاړل لکه خلي[3]

۳۰۶ ... مال رباح به ژړا نه کړه له خوبانو
که مې نه وي په قسمت دا هسې شکلي ... ۳۲۷۷

دلبر مخ چې ستا له مخه نه شرمېږي ... ترو دا رنګه ولې زیر زغونه ښکارېږي[4]
د اسپوږمۍ چې نه لې سرشته نه لې یسبې شته ... په کوم حسن به له تا سره سمېږي[5]
نره مې یو وو ستا د مخ په رنا زلفو ... باري غلې په سپین سبا کله پټېږي
خم ابرويي د پناه د زلفو تم شو ... دلبرم لښه له مار سره تا وېږي[6]
که قامت دې څوک شمشاد بولي غلط دي[7] ... دلګیو په نرخ سپین نه نه یافتېږي
ودنانو ته دې ژر ویلي نه شم[8] ... کاڼي کله د برېښنا په دود ځلېږي

(۱) چاپي دیوانونه: "داویل دې اثر کله کا په نورو".
(۲) دابیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته، د "خ" په لومړۍ او د "ب" په لومړۍ نسخه کې لومړی مسری داسې ده: "چا چې لاس وي په خپلو اوښکو للي".
(۳) دابیت د "ق. ک" له چاپي دیوان نه نقل شو، په نورو چاپي دیوانونو او قلمي نسخو کې نشته.
(۴) چاپي دیوانونه: "لمر سپوږمۍ که ستا له حسنه نه شرمېږي ... ترو دوی ولې نه غوټه اوربن ښکارېږي".
(۵) د "ب" په لومړۍ نسخه کې "سمېږي" راغلی دی.
(۶) دابیت او دوه نور بیتونه د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته، د "ب" په لومړۍ نسخه کې دابیت داسې دی: "خم ابرو یو د پښم د زلفو یم شو ... دلبرم له نښه مار حبله تاوېږي".
(۷) په چاپي دیوانونو کې "ستا قامت" راغلی دی.
(۸) "ب" چاپ: "وسپین غابنو ته دې ژر ویلي نه شم".

ستا د زلفو د ابرو یو له وحشته[1]   همګي لړم ماران دي چې ورېږي
لکه لوند زړه وکی تاوکړي نوي ووزي   ستا له غمه مې رنګ زېړ پوې وچېږي[2]
سپوږمي هم دا هسې تا وخوړې ستا له مخه   چې په هره میاشت کې دوه دوه نیمه کېږي
مخ دې او دخط دې سبزه د نرګسان زهیر ایږ   چې سبزه په اور کې څرنګ زرغونېږي
او ورا او به سره چا ګډ لیدلي نه دي   دا قدرت دی ستا په لبو کې نمایږي[2]

۳۱۷
باریك خطلي زلفولاندې کم ساتانه
مورچګان دې شي لمخه پایمالېږي
۳۲۸۹

صبحدم چې هغه یار راباندې را شي   عجب لمر دلمر د پاسه هویدا شي
ښکلي مخ لره حاجت د سینګار نشته   بې ترېسه چې لمر وخېږي رڼا شي
چې یې ووینم له ورایه پورې ښسلم   لکه پېښېږي چې وبله کاه وکهربا شي
ما له دېري بالچاري ویار ته شا کړه   ناروا د ضرورت په ځای روا شي
زه په وصل کې خواري دهجران ژاړم   د هر کار فکر ترکاره لا ښخوا شي
لا ښخوا تر جدائي نه ژړا بویه   ګنهه تهر یو ژاړي چې جدا شي
وصال نه دی چا په سر و مال موندلی   مګر غاره په دا کار د چا ادا شي
زه به سر و مال د یار ترنامه جار کړم   دا په عشق کې سهل کار دی که په دا شي

۳۱۸
د ساتان په اوښکو هسې رنګ پوهېږم
چې آخر به په تمام جهان رسوا شي[4]
۳۲۹۸

کړد ګلو کمه چې سیمه دې ګلزار شي   اغزي مه کره په پښو کې به دې خار شي

---

(۱) په قلمي نسخه کې "له ورېږي" راغلی دی
(۲) دا بیت او ورپسې بیت په قلمي نسخه کې نشته
(۳) د "مخ" په دویمه نسخه کې "ښکاریږي" راغلی دی.
(٤) د "ب" لوړي نسخه: "چې دا پټ راز به په تمام جهان رسوا شي"

Marfat.com

ته چې بل په غشو ولې هسې پوه شه — چې هم داغشي به ستا په لسو ګوزار شي
کوهې مه کنه د بل سړي په لار کې — چېرې ستا به د کوهي په غاړه لار شي
ته چې هر چاته په خوار و ستر ګو ګوري — لا به و مې به ستا صورت ترخاورو خوار شي
آدم زاد په معنی واړه یو صورت دی — هر چې بل آزار وي هغه آزار شي
که ته نه کوي نظر د چا و عیب ته — هر سړی به ستا د عیبو پرده دار شي
دهقان کر په لوړه ځمکه باندې نه کا — سر کوزي کوه چې بن دې مرغزار شي[1]
دمات لوښي آواز کله ثابت خبرې — د هر چا حمل خر ګند په خپل ګفتار شي
نر چې صبح دی روښانه لار سمې کړه — ناګهان به دې د اصبح شب تار شي[2]
لږ یې مه ګڼه که هر څو ګناه لس وي — چې لږ لږ و یله جمع کړې بسیار شي
که بل بد کاندي ته ښه ورسره وکړه[3] — هر یو نخل چې میوه لري سنګسار شي
تل و ښو و ته آزار د بدو رسي — هر چینجي و نرم چوب ته د وخار شي[4]
هغه زړه به له طوفانه په امان وي — چې کښتۍ غوندې د خلکو بار بردار شي

۳۱۹

خدای دې بد له لاسه مه کړه او کړي هم
د رحمان دې له کل بدو استغفار شي

۳۳۱۲

هر ګړی چې منصور غوندې په دار شي — دار یې پس له مرګه نخا میوه دار شي
روغ صورت که روغ عالم له کمال دی[5] — لیونی له کماله دی چې سنګسار شي
هر ګیاه چې و کمال ته ورسېږي — سر ځمکې ته کوز وي نګونسار شي
نري باد به یې په خپل منزل د خاک کا — که څوک پاڼه د خزان غوندې ظیار شي[6]

---

(۱) قلمي نسخې: "سر کوزی کړه چې پیتی دې مرغزار شي".
(۲) دا بیت په "ق، ک" چاپ او "خ" په "دوهمه نسخو کې نشته.
(۳) قلمي نسخې: "که بل بد کاندي ته ښه کړه مه رنځېږه".
(۴) "ب" چاپ او "ب" چاپ "چاپ کې "چوب ته ورو دوخار شي" راغلی دی.
(۵) "خ" په "دوهمه نسخو کې" په کمال دی" راغلی دی.
(۶) "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې "ګذار" راغلی دی.

غفلت هیڅ مناسب نه دی په سپین ږیرو — صبح دم که خندا ورته هم بېکاره شي
چې یو موټی اېرې ناز په آینه کا — په دغه خبره فخر د خاکسار شي[1]
کریمانو سود موندلی دی په زیان کې — لکه ښاخ د ونې وتراشي باردار شي
خزانه په سخاوت سره زیاتېږي — د کوهي اوبه چې وکاږې بسیار شي
منزل د ونې ګېډې مشکل نه دی — منزل د ونې پوستګو مشکل کار شي
کم خوراک سړی نژدې کا فرښتو ته — هر سړی چې بسیار خوار شي بسیار خوار شي
صاف دلانو لره لږ نصیحت بس دی — د ګوهر و پېوستون په نري تار شي
غلبه د عشق بانه د حسن غواړي — توره شپه په عاشق زلفې د خپل یار شي[2]
د توفیق له مخه هر مشکل اسان دی[3] — وسني وته داوړلې ګلزار شي
ناز د حسن پرورش مومي له عشقه[4] — هسې نه چې د خوبانو په سینګار شي
راحت بې محنته نه دی چا موندلی[5] — د وصال خوښي د هجر په مقدار شي
عاشقانو لره واړه سعادت دی — کړې سر و مال د یار تر نامه[6] ځار شي
یاره ! یاره ! هر څوک وایي په جهان کې — زه به پس له مرګه وایم چې یار یار شي[7]
لکه دار کاندي و ځوی له ګرګانو — هسې رنګ له جدایۍ نه زما دار شي

۳۱۰ — ۳۳۳۱

د رحمان دا پوچ ګویځه په کار نه دی
عاشقي په ګفتار نه شي په کردار شي

تبسم مې دوګړې په روزګار شي — چې بې نه له خدایه وېره نه یې دار شي[8]

---

(۱) دا بیت د "خ" په "دوهمه نسخه کې نشته.
(۲) دا بیت د "خ" په "دوهمه نسخه کې نشته.
(۳) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته او د "خ" په نیګړي نسخه کې د "توفیق" پر ځای "توکل" راغلی دی.
(۴) چاپي دیوانونه او د "خ" دوهمه نسخه: "ناز د عشق پرورش مومي له عشقه".
(۵) چاپي دیوانونه: "بې محنته چا راحت موندلی نه دی" او دا بیت او ورپسې دوه بیته د "خ" په لومړی نسخه کې نشته.
(۶) په "ق" کې ـ چاپ کې "ځان ته" راغلی دی.
(۷) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته.
(۸) چاپي دیوانونه او د "خ" لومړی او دوهمه نسخه: "چې له مرګه بې نه وېره نه یې دار شي".

لە دە وزېږي د دە د ورانده ومري — لا يې مېنه د دنيا په کار و بار شي
که يې هر قدم د مرګ په سر لاړ وي — يو قدم هسې وا نخلي چې په لاړ شي
دغو ونډيو نصيحت پرې اثر نه کا — مګر مرګ قبر يا څې په ګفتار شي
دا اميد مزې يې هسې رنګ دراز وي — چې له خضره ورته خپل عمر بسيار شي
سپينه ږيره په اوږنې کې زوړ راواخلي — چې به مال سپاهي او منصبدار شي [1]
د خپل نه وي نهال کا ورته ګوري — چې دا سيورې د امېوه به مې په کار شي
هر فصل چې ترې پرې بي هوسېږي [2] — چې به ګاندره راته بل فصل تيار شي
لا يې لپه تخم هم کړلې نه وي [3] — نا کښته يې څنې طمع د خروار شي
غوندې د ناز وکړ يو خسيو غمي — چې سبا بېګاه به مالره ګوهار شي
لکه ورکې کموړې غواړي له زانې — په دا هسې پوچ ګويي يې اعتبار شي
چې هر ګز په تمر نه وي چېرې شوي — د هغو ناسند نيو اميد وار شي [4]
هلکانو غوندې پاس په کوته څغلي — خو چې دوه قدمه واخلي نو حصار شي
په زحمت د تن له ماله هم پرهېز کا — هغه ندکا چې له هې پرهېز ګار شي
د دروندون په تېرېده يې نظر نه وي — چې دا ګنج به مې له لاسه تار په تار شي

## ردیف

۳۱۱ — ۳۳٤۷

خه دي خه به پند والي وچا ته
هدايت د هر بنده په کردګار شي [5]

چې شهيد د تورو سترګو په خنجر شي [6] — خوشنودي يې د سرو شونډو په کوثر شي
چې رايادېږي سپين رخسار دراز مژګان کم [7] — هغه دم مې زړه سپند سينه مجمر شي

---

(۱) دا بيت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.
(۲) قلمي نسخه: "هر فصل چې تېرېږي هوسېږي".
(۳) "ق" چاپ: "لا يې پا نه تر بيند هم نه وي رېبلې".
(٤) دا قلور بيتونه په چاپي ديوانونو کې نشته.
(۵) "خ" لومړی او دوهم نسخه: "هدايت د هر بنده په خپل کردګار شي". (٦) دا غزل د "ب" په لومړي نسخه کې نشته
(۷) "ق" چاپ: "چې رايادېږي تور مژګان او سپين رخسار کم". "ق ک" چاپ: "چې را يادې تورې سترګې سپين رخسار کم"

Marfat.com

عندلیب خاطر مې الوزي په ګلو — که د ترکو سنبل زلفې یې شهپر شي
که یاں سل ځله جفا راسره کاندې — زما ځله په جفا د یاں باور شي
د ناصح په نصیحت به منع نه شم — که هزار ځله مې ورور(1) او برادر شي
د رقیب او زما صلح سره نشته — که مو چیرې لاس و دست و بله بر شي(2)
صبوري او قراري له ما خطا دي(3) — تر هغه ساعته پورې چې محشر شي
تر ساعت به د هجیا په لاس کېنوزي — مګر تبلي آشنا بیا په آشنا ور شي

٣١٢ — ٣٣٥٦

خوبرویان به د سیو مې تو کړه راواخلي(4)
که رحمان کچکول په لاس کې قلندر شي

چې غبار د ستا له لارې په خوا ور شي(5) — که په دوارو سترګو روند وي مبصر شي
تازه نوې سر پیدا کا لکه شمع — چې یې غوځ د ستا په مینه د زړه سر شي
چې کیمیا د قناعت یې په لاس کېوزي — که ګدای وي د قارون په څېر توانګر شي
ستا د در ګدایان واړه پادشاهان دي — خو چې ستا له دره ووزي در په در شي
تل یې مخ وي له عالمه جار وتلی — د هغو چې ستا په مخ باندې نظر شي
که د درست جهان له حاله خبردار وي — چې تا ووینې له واړو بې خبر شي

٣١٣ — ٣٣٦٣

آیینه که د جمال کمي ورځ ګنده
دا ګدای د رحمان به شاه سکندر شي

که دې غم د درست جهان تر زړه چاپېر شي — دلګیر مه شه هسې وایه چې به تېر شي

---

(۱) د "خ" دوهم نسخه "یاں".
(۲) "ق. ک" چاپ: "که مو چیرې لاس په یو بل سره بر شي".
"ق" چاپ: "که مو چیرې لاس و بله سره بر شي".
د "خ" لومړی نسخه: "که دم لاس و دست چې و بله برابر شي". دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۳) د "خ" لومړی نسخه: "له صبوري له قراري زما توبه ده".
(۴) د "خ" لومړی نسخه: "خوبرویان به د سیو مې تو کړه ور واخلي — که رحمان کچکول په لاس قلندر ور شي".
(۵) په "ق" چاپ او "ق. ک" چاپ کې "په ځیا ور شي" راغلی دی.

غم هغه دي هر چې خرم وي وچاته [۱] ورومبی واره تر وروستيه پوره شي
بې له خدايه چې مدام په يوه حال دي سری کله شه شاهي شي کله سر شي
يو آدم دي چې په څو رنګه جلوه کا يو رقم دی کله زور شي کله زر شي [۲]
د دنيا چارې مدام په قرار نه وي د بنو په څنګول کې په بل پر شي
په لر غم کې د بر غم له کومه راغي [۳] خوله خپله بې صبري په سري ډېر شي
خريدار و فروشنده چې سره خوښ شي [۴] په سودا کې سختي نه کا تېر و بېر شي

۳۱۴ بنا يسته په جهان ډېر دي بې حسابه
بارې ښوګ به د ترنج ديار په څېر شي ۳۳۷۱

له دې کمه له يو زيه خوبه ولاړ شي تر و بيا خداى خبر چې کوم خوا به لاړ شي [۵]
په ظاهر صورت خوشي [۶] معلومېږي چې به خس غونډې تر پښو لاندې لتاړ شي
د آسمان څرخ به وي او ته به نه يې په ورانه ودانۍ کې به وېجاړ شي
د بهار د ګلو څس مدام نه وي عندليب غونډې به پاتې په اهار [۷] شي
په وېلاړ وېلاړ به ځان وړ پسې ورک کړې [۸] چېرې نه وي چې د ترکو په وېلاړ شي

۳۱۵ که ليلی غواړې څمانه بايد دا دي [۹]
چې مجنون غونډې ساکن د کوه و کار شي [۱۰] ۳۳۷۷

---

(۱) د "خ" لومړی نسخه: "غم هغه دي هر چې خرم وي وځان ته".
(۲) د "خ" دوهمه قلمي نسخه: "يو قسم دي کله زور شي کله زر شي".
(۳) د "خ" لومړی نسخه او مصوره نسخه: "په لس غم کې د بر غم له کومه راغی".
(۴) قلمي نسخې: "خريدار و فروشنده و بله راضي شي".
(۵) د "ب" نسخې او د "خ" دوهمه نسخه: "له دې کمه له يوزي خوبه لاړ شي تر و بيا خداى نه ده چې په کومه خوا ته لاړ شي"
مصوره نسخه او د "خ" لومړی نسخه: "تر و بيا خداى خبر چې کومې خوا ته لاړ شي".
(۶) په "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ کې "دامي" راغلي دي.
(۷) "ق، ک" چاپ: "په سوبهار شي"
(۸) د "خ" لومړی نسخه او "ق، ک" چاپ او "ق" چاپ: "په ولاړ ولاړ به ځان ور پسې ورک کړې".
د "خ" دوهمه نسخه: "په ژړا ژړا به ځان ور پسې ورک کړې" او لومړی بيت په مصوره نسخه کې نشته.
(۹) چاپي ديوانونه: "که ليلی غواړې بايد دي دا ځمانه" او لومړی بيت په مصوره نسخه کې نشته.
(۱۰) د "خ" لومړی نسخه: "کوهسار"

Marfat.com

که درو میرو سړی خوڅې مړ شي ـــ نه یې نوم په خوله اخیست شي نه نوم مړ شي[1]
که هیڅ پرکړې نه وي په جهان کې ـــ واجل ته الکه خر په خټه پړ شي
راشه راشه د برناوي او کړه مه کړه ـــ یاره څو به دې دا ناز په جهان ور شي
داخسار چې دې روښان ترآیینې دی ـــ عاقبت به د لحد په خاورو خړ شي
مراد خو واره دلبرې دي غزاوشوه[2] ـــ که د سړي په خبر خوك په قامت لوړ شي
نیکنامي له نیك خویه نه پیدا کیږي ـــ دغه چاره نه په سوك نه په لوړ شي[3]
عاشقان چې پښیمانیږي هغه نه کا ـــ هغه سوك دې هن وي چې خپ شي[4]
دهوا په نغوته مه که دانا یې[5] ـــ دهوا[6] ویشتلي غتی نه په زور شي
داخوزه له شفقته تا ته وایم ـــ گنه ځان له سر نوشته په چا تر شي
ولان به نه کاندي یو حرف خپلي بخرې ـــ که پیدا وشکو د چا درست جهان چغر شي
په تدبیر به د تقدیر کښلي نو نه کړي ـــ د قسمت علاج په عقل کله کړ شي

۳۱۶ ـــ ۳۳۸۹

په رحمان بې یاره صبر هسې گران دی[7]
که زهر چې دیده دانسته نغر شي

هغه دم چې زړه ملال شي ـــ یو ساعت ور باندې کال شي
حیران تللی وي په فکر ـــ فراموش یې قیل و قال شي
نه یې گفت نه یې شنود وي ـــ په غوږ کوڼ په ژبه لال شي
نه خواب وچانه کاندي ـــ نه یې غوږ د چا په سوال شي[8]

---

(۱) چاپي دیوانونه: "که د سړي وندرو سړي دي خوڅې مړ شي ـــ نه یې نوم په خوله څوك اخلي نه نوم مړ شي".
(۲) قلمي نسخې: "مراد محمد له دلبرې ئې غزا وشوه".
(۳) دا بیت په "ن" چاپ او "ق، ک" چاپ کې نشته.
(٤) قلمي نسخې: "عاقلان چې پښیمانیږي هغه نه کا ـــ هغه سکوی دې هن و وي چې سپړ شي".
(٥) "خ" لوړي نسخه: "دهوا په فریب فهم کمه که دانا یې".
(٦) په قلمي نسخو کې "هوایي" راغلي دی.
(۷) چاپي دیوانونه: "په رحمان باندې بې یاره صبر گران دی".
(۸) "ن" چاپ او "ق، ک" چاپ: "قال شي".

Marfat.com

علم عقل ځني لاړ شي — درست صورت لې خواب وخيال شي [١]
په ژړنو سترګو ويده وي — لکه نقش دديوال شي
قوت لې وينې د ځګر وي [٢] — هم دغه لې اشتغال شي
دچشمانو له باړانه [٣] — په رخسار لې پشکال شي
په سبب د عاشقۍ — تبر [٤] تر آل وتر عيال شي
هم تر آل وتر عياله — تبر تر مال وتر منال شي [٥]
په خپل درد و په خپل غم کې — له [٦] عالمه فارغبال شي
که ژوندی وي په جهان کې — د مړه ؤ په مثال شي
نه طاقت نه لې مجال وي — بې طاقت وبې مجال شي
په خشکۍ کې ماهي ګوره — هسې بې تبغه حلال شي [٧]
باخبر ی نه شي له ځايه — په زره غوڅ په تن نهال شي
د ويشتليو په خبر يون کا — د کل خلق په د نبال شي
لکه خس د لوېې لاړ ي — تر قدم لاندې پايمال شي
خدای له غمه سرې ژغوره [٨] — بيا لا ګوره چې [٩] خوشحال شي

(١) دا بيت د "خ" په دوهم نسخه کې نشته. په چاپي ديوانونو او نورو قلمي نسخو کې د لومړي مسرې "لاړ شي" پر ځای "پاڅي" راغلی دی.
(٢) "ب" لومړی نسخه: "خوري".
(٣) "خ" دوهمه او مصري نسخه: "له بارانه".
(٤) "خ" دوهمه نسخه: "هم تر آل وتر عيال شي".
(٥) مصري نسخه: "هم تر آل تر عيال تبر شي — هم تر مال وتر منال شي".
"خ" لومړی نسخه: "هم تر آل تر اولاده — هم تر مال وتر منال شي".
په چاپي ديوانونو کې بې او دوهمه مسرې داسې ده: "هم تر مال وتر منال شي".
(٦) "ب" چاپ، "ب" چاپ او "ق" چاپ: "تر عالمه".
(٧) "خ" لومړی نسخه: "هم بې تبغه حلال شي".
"خ" دوهمه نسخه: "د ماهي په خبر چې ګوره — هسې بې تبغه حلال شي".
(٨) "ق" چاپ: "ژغوره".
(٩) چاپي ديوانونه او نورې قلمي نسخې: "بوسه".

Marfat.com

چې د زړه وینې شي و چې　　　نوې وینې په محال شي (۱)

د باغبان سترګې کا سپینې (۲)　　　چې تازه نخل و نهال شي

روئیدن (۳) د کښت آسان دی　　　پرورش یې لوی (۴) جنجال شي

ویراني په یوه دم شي　　　آبادي په ډېر اشکال شي

چې پلار ومري بیا الا بویه　　　چې یې زوی باکمال شي (۵)

خوک خبر دی له دې دوره　　　چې په ما به پښتن خوشحال شي (۶)

چې په حال کې یې حال نه وي　　　خو امید په استقبال شي (۷)

دیوه ساعت له مخه　　　خدای بې زده خو رنګه احوال شي (۸)

د دنیا چارې فاني دي　　　رفت آمد یې په یرغال شي (۹)

په مثال لکه د سیورې　　　خو اوښا د هر د بوال شي (۱۰)

عتماد په او ابو مه کړه　　　چې استاد یې په غربال شي (۱۱)

---

(۱) چاپي دیوانونه : "چې د زړه ولې شي غوټې　　لوز ژوندون یې په اشکال شي"

د "خ" دوهم نسخه : "د زړه ولې یې شي غوټې　　دوا کول یې په محال شي"

مصوره نسخه : "لوز یې ولې په محال شي"

(۲) د "خ" دوهم نسخه : "د باغبان که سترګې سپینې".

(۳) د "ب" لومړی نسخه : "د روئیدن".

د "خ" دوهم نسخه : "داروړن".

(۴) چاپي دیوانونه : "ډېر جنجال شي".

(۵) قلمي نسخې : "چې یې زوی په کمال شي"

د "خ" دوهم نسخه : "چې فرزند یې په کمال شي".

(۶) "ق" یک چاپ : "خوک خبر دی له خپل دوره　چې به پښتون راته خوشحال شي".

قلمي نسخې : "چې زمان له ره خوشحال شي".

(۷) مصوره نسخه : "بې طاقته یې مجال شي".

د "خ" دوهم نسخه ، لومړی مسری : "چې په حال کې یې نه وینې"

(۸) "ب" چاپ او "ب ب" چاپ : "خدای زده څو رنګ به احوال شي".

مصوره نسخه : "ګوره څو رنګه احوال شي".

(۹) د "خ" دوهم نسخه : "رفت آمد یې په غربال شي".

مصوره نسخه : "رفت آمد به ډېر غال شي".

(۱۰) د "ب" لومړی نسخه : "دهر د حال شي".　　د "خ" لومړی نسخه : "ددې دېوال شي"

مصوره نسخه : "دهر بحال شي". مګر دا بیت د "خ" په دوهم نسخه کې نشته.

(۱۱) دا بیت د "خ" په دوهم نسخه کې نشته. (پاته په ۲۳۷ مخ کې)

Marfat.com

د بنو په ځنبول کې　　شال شړې کاشړې شال شي
که بادشاه د ولایت وي　　کندولې په لاس کنګال شي[1]
په ثواب یې غلط مه شه　　په یوه ساعت[2] وبال شي
په کمال یې مه نازېږه　　په یوه ګړۍ زوال شي
دهاتیانو سوداګر وي　　بیا د ګاوخر د لال شي[3]
جوهري وي د ګوهرو[4]　　خاورې اغزي د کلال شي[5]
کلالي او ګل کاري کا　　فروشنده د مات سفال شي[6]
په هستۍ کې یې اشراف وي　　په نیستۍ کې یې ارزال شي[7]
د ځوانۍ په وخت کې شېر وي　　د پیرۍ په وخت شغال شي[8]
چې مشهور په صداقت وي　　پوچ ګویي واخلي بطال شي
محتسب وي احتساب کا　　کوتوالي واخلي کوتوال شي
نېکوکاره نېک افعال وي　　بدکردار او بد افعال شي[9]
مرنوشت د سړي ګوره[10]　　یو عیسی وي بل دجال شي
چې نېکبخت وي نېکوېي کا　　چې بدبخت وي بدسګال شي[11]

---

د (۱۳٦) مخ د پایلیک پاته برخه:
- په چاپي دیوانونو کې د "اعتماد" پر ځای "اعتبار" راغلی دی.
د "پ" چاپ: "استاده به په غربال شي"
پېښور نور دوه چاپي دیوانونه: "چې ولاړې به غربال شي".
د "خ" لوړی نسخه: "چې استادي په سفال شي".
مصوره نسخه: "چې استادې په غربال شي".

---

(۱) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۲) د "خ" دوهمه نسخه: "په یوه ګړۍ".
(۳) قلمي نسخې: "ګاو د لالو خر دلال شي".
(٤) چاپي دیوانونه "جوهري دي جوهر پلوري"
مصوره نسخه: "جوهري وي ګوهر پلوري".
(٥) د "خ" لوړی نسخه: "خاورې اغزي د کلال شي".
د "خ" دوهمه نسخه: "فروشنده د مات سفال شي" (پاته په ۲۳۸ مخ کې)

Marfat.com

لاس و نیسې د هغو نیسه — چې خوش خوی وخوش خصال شي (۱)
په هجران کې نا امید مه شه — خدای قادر دی که وصال شي (۲)
په حرامو کې امید که په — ګوندې مخ دې په حلال شي (۳)
کافر و باسي له کفره — په یوه ساعت ابدال شي (٤)
تور هستي کا ندي تر سپینو — په سپین مخ باندې تور خال شي (۵)
ارزومند د یوه خره (۶) وي — خداوند د ملك و مال شي
چې سیالي یې کړې نه وي — له سیالانو سره سیال شي
چې په عمر مفصل وي — په ساعت کې اتصال شي (۷)
ممکنات به منع نه کا (۸) — که غوك سل ځله سنبال شي
چې د خدای رضا شي پېښه — رمل پاتې د رمال شي

۳۱۷ — فال به څه ګوري رحمانه — خپل افعال (۹) د سړي فال شي — ۳٤٤۳

---

د (۲۳۷) مخ د پا ملیك پاته برخه :

(۶) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته . دوهمه نسخه : "خادري اغزي کلال شي".
(۷) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.
(۸) دا بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته . د "خ" دوهمه نسخه : "د خوالحه په ساعت ښېروي دپیرځه په وخت شغال شي".
د "ب" لومړي نسخه : "په پیرځه کې شغال شي".
(۹) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته او په چاپي دیوانونو کې لومړی مسری داکې ده : "نېکو کار وي نېك عمل کا".
دوهم مسری په "ق" چاپ کې داکې ده : "او بد کار ه بد افعال شي".
(۱۰) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته . په چاپي دیوانونو او لومړۍ قلمي نسخه کې یې لومړی مسری داکې ده : "سرنوشت د سړي خپل دی".
(۱۱) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته د "خ" په لومړي نسخه کې یې دوهمه مسری داکې ده : "چې بد بخت شي بد شکال شي".

---

(۱) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته . په چاپي دیوانونو او د "خ" په دوهمه نسخه کې دوهمه مسری داکې ده : "چې خوش خویه خوش خصال شي".
(۲) دا بیت د "ب" په لومړي نسخه او مصوره نسخه کې نشته لومړی مسری یې د "خ" په لومړي نسخه کې داکې ده : "په هجران کې نا امید شي".
(۳) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته . د "ب" لومړي نسخه : "په حرامو امید مه کړه ګنده مخ دې په حلال شي".
د "خ" لومړي نسخه : "په حرام کې امید دار شه" او د "خ" دوهمه نسخه : "په حرام امید وار مه شه".
(٤) دا بیت او دوه پسې بیتونه په مصوره نسخه کې نشته . (۵) قلمي نسخې : "په سپین مخ د پاسه خال شي".
(۶) په چاپي دیوانونو او د "خ" په لومړي او دوهمه نسخه کې "خس" راغلی دی.
(۷) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته د "خ" لومړي نسخه ، "ب" چاپ او "ق" چاپ کې لومړی مسری داکې ده : "په د بر عمر منفصل دی". د پېښور په لوړو دوو چاپي دیوانونو کې داکې ده : "په د بر عمر منفصل دی". (۸) د "ب" لومړي نسخه : "ممکنات به منع نه کا".
(۹) "ق" "ب" چاپ : "عمل". د "خ" دوهمه نسخه : "ممکنات یې طبع نکه"

Marfat.com

هر چې ستا په زنخدان کې[1] یې منزل شي | لکه خس په تناره کې به جلبل شي
چې څوک نوم دستا دشونډو په خوله واخلي | که یې زهر وي په خوله کې هم عسل[2] شي
په عاشق باندې ګمان داهسې مه کړه | چې یار زړه وڅخه یوسي تش کوګل شي
زه په هجر کې بې برګ وبې نوا یم[3] | لکه کښت چې او به نه مومي شډل شي
په جهان تر آشنائي خوږه څه نشته | ولې حیف دی چې هجران یې حنظل شي[4]
په خپل حسن باندې مه نازېږه ګله | دغه رنګ به دې په دوو ورځو بدل شي[5]

۳۱۸

زه رحمان بې یاره هسې شول و شل یم[6]
لکه کب چې بې محیطه شول و شل شي[7]

۳۴۵۰

که سل ځله هم کنار وهم بغل شي | د دنیا مین به واره سره بېل شي[8]
دا چې اوس په یوه کوټه کې سره ناست وي | عاقبت به یې جدا جدا منزل شي
دا ګلونه چې یې ځای دی په دستار کې | همه واره به تر پښو لاندې غوبل شي
دا مخې چې یې مخ دلبر په خبر دی | تور وپښته به یې په مخ باندې ځنګل شي[9]
دا شیرین شربت چې د وصال دی | د هجران په وخت به[10] زهر هلاهل شي
ما دیار په بېلتانه کې دی لېدلی | که دانا د زمانې وي مبدل شي

---

(۱) د "خ" دوهمه نسخه: "زنخدان باندې منزل شي".
(۲) د "خ" لومړی او دوهمه نسخه: "که یې زهر وي په خوله کې یې عسل شي".
(۳) چاپي دیوانونه: "په هجران کې زه بې برګ ولې نوا یم".
د "خ" لومړی نسخه: "زه په هجر کې د ترکو بې نوا یم".
(۴) د "ب" لومړی نسخه: "په جهان کې تر آشنائیه خوږه نشته ولې حیف چې په هجران کې یې حنظل شي".
د "خ" دوهمه نسخه: "په جهان د آشنا یانو خوږه نسته ولې حیف چې یې هجران د زړه صیقل شي".
او دغه مورې بیت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته
(۵) دا بیت د "خ" له دوهمې قلمي نسخې نه نقل شو، په لومړۍ قلمي نسخه او چاپي دیوانونو کې نشته.
(۶) د "ب" چاپ: "شم".
(۷) د "پ" لومړی نسخه: "لکه کب چې بې محیطه شل وشل شي".
د "خ" لومړی قلمي نسخه: "لکه کب چې بې محیطه شل وشول شي".
د "خ" دوهمه نسخه: "لکه کب چې په محیط کې شول وشل شي".
(۸) چاپي دیوانونه: "د دنیا په مینه واره سره بېل شي".
(۹) دا بیت د "خ" په نسخه کې نشته.
(۱۰) د "ب" په لومړي او د "خ" په لومړي نسخه کې "کې" راغلی دی.

Marfat.com

پښه له وېرې د وصال په حمله نه درېږي — چې خبر د جدائي په دلیل شي (1)

د دې هسې رنځ علاج به څوک په څه کا — چې نه فهم د چا رسي نه اټکل شي

که د غرونو په سر ګرزي سرې تبېږي — هر چې زړه لري د خوبانو ور غمل شي

319 — 3460

د رحمان خاطر غونې هسې زنګ کړم

مګر جام د میو ناب وي چې صیقل شي

که د زړه په وینو رنګ د چا ګوګل شي — چې بلبلتون په ګمان شته دی خوبه بلبل شي (2)

که داوبو په دریاب (3) باندې غمال ګرځي — نېشکر به نېشکر شي نل به نل شي

مشقت د سرې واړه ابتر دی (4) — په سبوره کې چې د ګل بوټي نهل شي

د دنیا یارې دوستي څه په کار نه ده — لا اول له یارۍ دوست وي پسې غل شي

که هر څو یې وبله هم و محبت وي — نهایت سره په جنګ وبه جدل شي

په مثال د درو غږلې مس غلې — آب وتاب لي په دوه ورځې کې بدل شي

که لې زنه د ځوانۍ په وخت سبب وي — هغه سبب لي په پیرۍ کې بیا حنظل شي

د رقیب له بده خویه به څه وایم — تر ودا ګوره چې لا یاں ودسره مل شي (5)

320 — 3469

زه رحمان په سنه وبل دیاں پوهېږم

کشتې زهر په دهن د چا عسل شي

هغه زړه چې خدای روښان کا جام د جم (6) شي — په دا جام کې ورښکاره تمام عالم شي

په آدم کې د حیوان خوی نه شته (7) — بیا هاله یې آدم بوله چې آدم شي

---

(1) "ق" چاپ : "چې خبر د جدائي په تزلزل شي".

(2) چاپي دیوانونه ، "خ" لومړی ، ناقصه او مصوره نسخه ، "چې بلبلتون په ګمان ګرزي خوبه بلبل شي".

(3) د "خ" په دوهمه نسخه کې "جوبیار" راغلی دی.

(4) په چاپي دیوانونو او د "خ" په نیمګړې نسخه کې "ابتر کا" راغلی دی.

(5) دا بیت د "خ" په لومړی نیمګړې او مصوره نسخه کې نشته.

(6) د "خ" لومړی نسخه ، "جام د جم دی".

(7) د "ب" نسخې : "په آدم کې د حیوان خوی نه شته دی".

، د "خ" په دوهمه نسخه کې د "حیوان" پر ځای "حیوان پای" راغلی دی.

چې خوی نه د چار پایو پکې نه وي[1] سړی هو بس په سړي هاله مسلم شي[2]

چې اغوستې یې لباس وي د پاکانو د ناپاکو چارې کاندي خوبه ګرم شي

که هر څو لذیذ طعام وي مزه نه کا چې یوه ذره نمک یې زیات و کم شي

ښادي هر چېرې د غم په اندازه وي ده غو به څه ښادي وي چې بې غم شي

هر چې خپل رضا پاسلي[3] و قضا ته که هر څو په ځان ناخوښ وي خوښ خرم شي

عاشقي چې تر کماله ورسېږي د خپل یار له لاسه زخم[4] یې مرهم شي

٣٢١

که په ځان باندې قدم کېږدي تمامه
نه فلکه به دې لاندې تر قدم شي[5]

٣٤٧٨

چې مجنون غوندې یو موټې استخوان شي په قوت د عاشقۍ به پهلوان شي

عاشقانو په شکست کې برې بیا موند[6] دلته توان د هغه سي چې ناتوان شي

زېړې رنګ د عاشق هسې مرتبه ده[7] چې آفتاب غوندې ځرګند په درست ځا شي

له چشمانو یې باران د رحمت ورېږي زر غونه یې په چهره باندې زعفران شي

له رخساره حال د زړونو معلومېږي له بهاره نېک و بد د کال عیان شي

له نکتې نه تمام علم حاصلېږي[8] درست خروار له یوه مشته نمایان شي

په کار نه دي مخالف خوار تقریره موافق له حاله یم[9] کلام داستان شي

لکه مېله کاروبار وي و تلی ده غو ځا ورپې په سر چې غافلان شي

---

(1) "خ" دوهم نسخه: "چې خصلت د چار پایانو پکې نه وي".

(2) د پښور چاپي دیوان: "سړی توب په سړي هاله مسلم شي". او "خ" په لومړۍ نسخه کې "له سړي" غلطي دی.

(3) "پ" چاپ او "ب" چاپ: "پاسلوی". "ق ک" چاپ او "ق" چاپ: "وسپارې".

(4) "خ" دوهم نسخه: "برې مرهم شي".

(5) "ب" چاپ: "آسمانونه به دې لاندې تر قدم شي".

(6) دا بیت "خ" په دوهم نسخه کې نشته. "خ" په لومړۍ نسخه کې لومړۍ مسرې داسې ده: "عاشقانو په خپل بېست کې برې بیا موند". "خ" نیګړې نسخه: "عاشقانو په خپل شکست برې بیا موند" او "ب" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: "عاشقانو په خپل شکست کې برې بیا موند".

(7) "ب" په لومړۍ، "خ" په لومړۍ او دوهم نسخه کې "مراتب دی" غلطي دی.

(8) "ب" لومړۍ نسخه: "له یوې نکتې تمام علم حاصلېږي".
"خ" قلمي نسخه: "له یوې نکتې حاصلېږي تمام علم".

(9) "خ" نیګړې نسخه کې "یو کلام" غلطي دی.

Marfat.com

کړي دې دین عمر په کار د غفلت مړه | په اوده باندې سل کاله یو نیماشي
د غفلت بنیاد دا وسکو په موج خېزي | یو څڅکي خواب آلود لره طوفان شي
ږوند په خپله عصا پر بوځي وکوهي ته(۱) | خپل دلیل د کم دلیل د ځان تاوان شي
سرکښي د عاجزانو په کار نه ده | هر هغه چې وزر وکاندې پښیمان شي
موم دلان به یې لړ شره لمن زغوږي(۲) | سنګدلان که عین لعل د بدخشان شي
چې کیمیا د قناعت یې په لاس کښېوځي | د شړۍ(۳) په خرقه کې بادشاهان شي
بل پوشاک یې په کار نه وي یې لمده | هغه زړه چې آیینې غونډې روښان شي
عاشقي ده تر جمله بلاو زیاته(٤) | ومجنون ته دیو ودد واره حیران شي

۳۲۲

پرې به ورکا دُرتان دخپلو غوږو(۵)
کړې تېر تر غوږو شعر د رحمٰن شي

۳٤۹۵

آشنایي بده بلا ده آشنا مه شي | حاللي به دې فنا کا فنا مه شي(٦)
دغم(۷) به دې د زړه ولې کاغوښې | ګرفتار په درد وغم د جانانا(۸) مه شي
په زیر رنګ به دې تل سرې اوښکې بهیږي(۹) | د دو رنګو په شېر ګل د رعنا مه شي

---

(۱) د "ب" لومړی نسخه: "ږوند په خپله عصا پر بوځي په کوهي کې".
د "خ" لومړی نسخه: "ږوند په خپله عصا پر بوت وکوهي ته".
د "خ" دوهم نسخه او نیمګړې نسخه: "ږوند په خپله عصا پر بود شي پڅنګه".
(۲) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته او د "ب" په لومړی نسخه کې د "شړه" پر ځای "شړم" راغلی دی.
(۳) د "خ" په لومړی نسخه کې "دشړلو" راغلی دی.
(٤) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته. په لوړو قلمي نسخو کې د "زیاته" پر ځای "پیمورته" راغلی دی.
د "خ" په لومړی نسخه کې یې دوهمه مسرۍ داسې ده: "ومجنون ته دیو ودد خلکه حیران شي".
(۵) د "ب" لومړی نسخه: "پرې به درکا تبان درد خپلو غوږو".
په "چ" چاپ چاپ کې: "کلتان به ورکا دُرد خپلو غوږو".
د "خ" دوهم نسخه: "ښایسته په درد خپلو غوږو ورکه".
"ق" چاپ او "ق ک" چاپ: "هم دیان به ورکه در دخپلو غوږو".
(٦) دا غزل د "خ" په دوهم نسخه کې نشته. د لومړی مسرۍ "بده بلا" په چاپي دیوانونو او لوړو قلمي نسخو کې "توره بلا" راغلې ده.
(۷) چاپي دیوانونه: "درد وغم".
(۸) "ق ک" چاپ او "ق" چاپ: "آشنا مه شي" او د "ب" لومړی نسخه او د "خ" لومړی نسخه "جانان مه شي".
(۹) د "خ" لومړی نسخه: "په زیر رنګ به دې تل او ښې بهیږي".

Marfat.com

هم[1] په دا چې د رو غږن د خدای دښمن دے — وهچا ته د روغږن په وینا مه شي
کاعلی مرتبه غواړې عاشقي ده — نو همه واړه ادني دي ادنا مه شي[2]

٣٢٣ — همېشه به سرنګون په خاکر ناست یې
د رحمان په خبر مشغول په ثنا مه شي[3] — ٥٠١

دعاشق یې خپله یار قرار نه شي — بې طبیب قرار ي د بیمار نه شي
چې په لوح محفوظ کښلي لیونی وي — په تعلیم دمعلم به هوښیار نه شي[4]
دخپل پلار په غېږ کې پروت وي روح یې[5] — دقضا علاج په مړو او په پلار نه شي
دهغو چې خدای کمال حسن روزي کړ[6] — هېڅ نقصان یې د منکر په انکار نه شي
درد وغم دعاشقي چې د بر مشکل دی[7] — هېڅ سړي دې په دا غم ګرفتار نه شي
زه همه عمر دغه له خدایه غواړم — چې دې یار دیار له لاسه ازار نه شي[8]
یار له یار سره جفا کا هسې د بره — چې هېڅ فرق یې داغیار او دیار نه شي[9]

٣٢٤ — که هر څو یې دلبري او دلجویي کا[10]
د رحمان په ترکو هېڅ اعتبار نه شي — ٥٠٩

---

(1) د "پ ب" چاپ: "غم په دا".
(2) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(3) چاپي دیوانونه: "د رحمان هسې مشغول په ثنا مه شي".
(4) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته. لومړی مسرۍ یې د "خ" په لومړۍ نسخه کې داسې ده: "چې په لوح د محفوظ سبکلي لیونی دي".
(5) چاپي دیوانونه: "زوی د پلار په غېږ کې پروت دي روح یې لاړ شي".
(6) قلمي نسخې: "دهغو چې خدای کمال دحسن ورکا".
(7) قلمي نسخې: "درد وغم دعاشقۍ د بر مشکل دی".
(8) چاپي دیوانونه: "زه همه عمر له خدایه دغه خواست کړم — چې دې یار له خپله یاره بېزار نه شي".
د "خ" لومړۍ نسخه: "زه همه عمر دغه شان له خدایه غواړم — چې یو یار دیار له لاسه ازار نه شي".
د "خ" دویمه نسخه: "زه همه عمر له خدایه دغه خواست کړم — چې یو یار دیار له لاسه ازار نه شي".
مصوره نسخه: "زه همه عمر دغه خواست له خدایه غواړم — چې دې یار دیار له لاسه ازار نه شي".
(9) دا بیت په "پ ب" چاپ، "ق ک" چاپ او "ق" چاپ کې نشته او د "خ" په لومړۍ نسخه کې دا بیت داسې دی: "یار له یار سره جفا که هسې د بره — چې هېڅ فرق مې داغیار ودیار نه شي".
(10) د "خ" لومړۍ نسخه: "که مې هر څو دلبري او دلجویي کا".

Marfat.com

د سکوت په تیغ چې ژبه بریده شي — لا قلم غوندې په قال کې دوېده شي
هومره اور د عاشقۍ په زړه کې لوېږي — چې لا لا یې له تربته دمیده شي
همبستر یې د خپل یار په لوري ذوق بې — نهایت چې په داغ کې رسیده شي
خم ابرو د یار مې نقش په لیمه دی (۱) — لکه میاشت چې په لوی بحر کې لیده شي
څه حاجت دی چې زه یار وچانه ستایم — کار همه د خپلو سترګو په دیده شي
کله وي چې یو به په ویل غولېږي — مګر صافه د چا خپله عقیده شي
خود خرګند وي لکه صبح پټهان نه بې — هر ګریوان چې په یارۍ کې دریده شي
آبرو یې د عاشق هله څان خرګند کا — چې یې نم د زړه له سترګو چکیده شي
د آه غشي یې په ځمکه کله لګي — هر قامت چې کمان طور خمیده شي
بې مطلوبه یې هیڅ فهم په چا نه وي — هر طالب چې په طلب کې فهمیده شي (۲)
هر چې زړه په مهرویانو باندې بایلي — بې درمه یې دیناره خریده شي
ما دیار په څېر بل مخ لیدلی نه دی — مګر پس چې له نن ورځې آفریده شي (۳)

۳۲۵
یا به شهد یا به قند یا به نبات وي
هر کلام چې له رحمانه شنیده شي
۳۵۲۲

چې سړی له بله بد وایي بدګوی شي — لا ترې بله خوله روان دده بد بوی شي (٤)
مرده شوي چې هوس کا د بل ومرګ ته — بل هم پس دده له مرګه مرده شوی شي
دوست دښمن د سړي واړه خپل عمل دی — هم په دا مقدار یې اجر موی په موی شي
هره ونه چې کږه په یوه لور وي (٥) — عاقبت یې پرېواته په هغه لوري شي

(۱) د "خ" د همدې نسخه: "خم ابرو یې دیار نقش وي په زړه کې".
د "خ" لوړې نسخې او د "ب" لوړې نسخه: "خم ابرو یې دیار نقش وي په لیمه کې".
(۲) دا بیت د "خ" په لوړۍ نسخه کې نشته.
(۳) قلمي نسخې: "مګر پس له نن ورځې آفریده شي".
(٤) قلمي نسخې: "لا ترېنه خوله روان دده بد بوی شي".
(٥) د "ب" لوړې نسخه: "هره ونه چې کږه وي په هغه لوري".
د "خ" لوړې نسخه: "هره ونه چې کږه په هغه لور وي" او دا بیت د "خ" په لوړې نسخه کې نشته.

Marfat.com

په اولني کې نور څه نښتر نې زواله — هلکان به هلکتوب په سبب لوی شي (١)

داویوا اصل له خاوره پیدا کېږي — خاکساري د خاکسارانو آبروی شي

هومره زیان له خوګ و خرسه نه رسېږي (٢) — لکه څو لك په آدمیانو کې بدخوی شي

سړي هومره چې د سړي له تنه پاځي — دسړیو په جامو کې څربشوی شي

٣٣٦ — ٣٥٣١

وهغو ته چې خدای بخښلې وي سود

څه حاجت یې د ناصح (یاران) په ګفتګوی شي

وخت د عیش و طرب تېر شو خزان راغی — ځنګلون د بلبلانو په ځان راغی

دلداري مې ترا مید وه باري څه کم م — هغه یار د دلبرانو په شان راغی

آشنایي مې په هوس وه خو چې بېل شوم — دوار ملاس مې و بله مېنوا رمان راغی

سود سودا د عاشقۍ که نفع مند وي — ماهېڅ سود پکې و نه لید تاوان راغی

تمام عمر که وصال و هومره نه و — لکه یو زمان د شکایو هجران راغی

ګوی زما د زړه یې یوړ په چوګان کې — بیا د ناز په نیلي سور په جولان راغی (٣)

غونچه لب چې په خندا کاندي پرېشانه — په شبو زما دا و شکو باران راغی

٣٣٧ — ٣٥٣٩

د میرزا دا زاني دعوی به پرې کا (٤)

قدردان د شاعرانو ناصح (یاران) راغی

په اول کې تا د عشق و هلې لا فې — هغه لافې دې اوس وي کم تېر خلافې (٥)

اوس خیل سر ورته محکم نبولی اوسه — چې د غم مصی دې ځان ته کړې مصافې

سپین چلتار په یوه ټکي بدنما شي — دا دالوچاتې مدکم که اشرافې

---

(١) په نسخه ا و نسخه پ کې "لوی شي" غلط دی.
(٢) د نسخه ا او مزاړلنو ... له سنګمرنې په هر لوري عوغاري
(٣) دا بیت د نسخه ... په دوهمه نسخه کې نشته.
(٤) د نسخه ... دوهمه نسخه ... د میرزا د شاعرۍ قدر به کم کا.
اغال ... د نسخه ... له دوهمې نسخې ... لغات شو.

Marfat.com

بې تميز خو معرفت کولای نه شي ۔۔۔ ته کړه او کوټ معلوم کړه که صرافي

ځان دې ولې بې حيا کړې بې ځايه ۔۔۔ چې پټ کړي دې دميني په غلافي

که داهسې لوټې غواړې لوټې داده ۔۔۔ که په اصل کې منصور غوندې نه لافي

د دوران له فساده نه امان غواړه ۔۔۔ که په عقل د خپل فکر موي شګافي

د تقصير سبب يې کوم دی را معلوم کړه ۔۔۔ مين وژنې بې الجرمه ناانصافي

## ۳۳۸ — کوم صفت به زه د يار داستا بيان کړم — په کامل صفت موصوف په کل اوصافي — ۳۵۴۸

يا داستا چشم و ابرو وينم په خواب کې ۔۔۔ يا مستان دي او ده شوي په محراب کې[1]

يا په جام کې ستا د مخ عکس ليده شي ۔۔۔ يا خوتنده تجلي که په حباب کې

يا تر خط لاندې غوټه ستا د خولې ده ۔۔۔ يا کوکب دی غرق شوی په شهاب کې

يا دې زلفې په مخ دواړه راخورې کړې ۔۔۔ يا سنبل دی ګيجک شو دا ورپه تاب کې

يا دې زلفو په مخ توره تاريکي کړه ۔۔۔ يا خوتند دې ځان څرګند کړ په آفتاب کې

يا داستا پيزوان زما په ځيګر ننغ دی ۔۔۔ يا سيخ ننه دې پيېلې په کباب کې

يا خوستا په غم کې غرق زما صورت دی ۔۔۔ يا خسهي دې جاروزې په ګرداب کې

## ۳۳۹ — چې د يار کاتره لې وورې بيا له سترګو — د يار به خره عزت وي په حساب کې — ۳۵۵۶

ستا د ميني ګوهر نشته په هر آب کې ۔۔۔ مګر بيا موندشي دا و ښکو په درياب کې[2]

که ته ويني زما پټې ښنې دلبره ۔۔۔ رنګ دلبو دې ګواهي لي په دا باب کې

په هر ځای چې ستا د لبو نام آغاز شي ۔۔۔ د لاله و بالان ووړې په حساب کې[3]

---

(۱) دا غزل لواری او يوازې د "خ" په دوهم قلمي نسخه کې راغلی دی.
(۲) دا اول د "خ" په لومړی او مصوره نسخه کې نشته.
(۳) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

له خسته زړونو به څه دلستاني کا | د خراج گنجایش نشته په خراب کې
زه حیران دستا د وروځو په تور خال یم | کافر څه شکل سجده کا په محراب کې (۱)
گل له ډېرې باریکۍ په شبنم خوړ شي | نازک زړونه بد وي په صاف خوب کې
د ځان په گلو اوري باراني نه | د څڅکي طاقت نشته په حباب کې

د ... غلطي وبښه ای خدایه
دا وترو چارې نه وي په حساب کې

۳۴۰ — ۳۵۶۴

زه مې بایلو ستا په مهر محبت کې | عاشقي دې زهر راکړه په شربت کې (۲)
لاړ زما و یار ته مه تره ناصحه | ما موندلی دی دایار په ډېر محنت کې (۳)
که صورت د هغې مستې در ښکاره شي | عقل هوښ به دې هېڅ نه وي په صورت کې
که د عشق ترکس لگي غاښ به بایلې (۴) | ته چې ما ته غاښ چیچې په نصیحت کې
زه توبه په هغه تېر عمر وکاندم | چې صرف شوی دی بې یاره په غفلت کې
د آشنا د مینې پت به را مات نه شي (۵) | که مې سر له تنې درومي په دا پت کې
له ادبه یې ورځ ته کتی نه شم | خدای را بښه جدایي کړه په وصلت کې
په قیامت که خولك له نیسته پورته شي | زه د یار د کوڅې خاورې یم په نیت کې
لکه زه چې یې د در په خاورو خوښ یم (۶) | خوښ به نه وي سلطانان په سلطنت کې
د درگاه په خاك نشینو یې تل سخ وي (۷) | د څمونو دخل نه وي په جنت کې

---

(۱) د "خ" دوهمه نسخه: "کافر هیڅکله سجده نه کا په محراب کې".
(۲) دې غزل پاتې برخه مصوره نسخه کې خپرې شوې ده.
(۳) دا بیت په "ب" چاپ کې نشته.
(۴) چاپي دیوانونه: "که د عشق ترکس پر بوزې سر به بایلې".
"خ" لومړۍ او دوهمه نسخه: "که د عشق ترکس پر بوزې غاښ به بایلې".
(۵) چاپي دیوانونه: "پت به مې مات نه شي".
(۶) دا بیت په "ب" چاپ کې نشته په نورو چاپي دیوانونو کې یې لومړی مسره داسې ده: "لکه زه چې ستا در په خاورو خوښ یم".
(۷) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته په چاپي دیوانونو کې د "تل سخ وي" پر ځای "سختې نه وي" راغلي دي.

Marfat.com

۳۴۱ — ۳۵۷۵

ددنیا له دولتونو یې پروا یم[1]
زه رحمان دعاشقۍ په بند دولت یم[2]

مغرور مه اوسه دعشق په کاروبار کې[3] — هر خسمنی تبره تیغ وي په دا لار کې

دا سور ګل به دې دستان په وینو سور کا — چې دې ایښې زما لې دی په دستار کې

مخ د ترکو چې تر آب حیات صاف دی — زه دې آب حیات سوی یم په نار کې

چې او سپینه آیینه یې او به کېږي — ترو زما هستي یې خړه په دیدار کې[4]

په هر وار چې یې وسترګو ته نظر کړم — لا سې وللي دې له ځانه په هر وار کې

یاره نه چې له ما صبر و قرار غواړې — عاشق کله وي په صبر و په قرار کې

کړمې سره و مال دستا په مینه دروي — زه ترسره و تر مال تېر یم په دا کار کې

هیڅ صرفه مه کړه د نیمو آزار اخله — که دچا سود دې زیان شي په آزار کې[5]

عشق دعقل په کوڅه استوګنه کا — چا موندلی نه دی یار په دا دیار کې[6]

ستا له دره له دربار به وانه وړم — خو ونه مړم ستا په دره په دربار کې[7]

کم بختان دیار په وصل کې مهجور وي — دوچ کې نهره نه وي په بهار کې

مفلسانو له عین کوهستان دی — که هم عمر یې کوردی په بازار کې

وهغو چې خدای حق بیني سترګې ورکړي — دیوسف تجلی ویني په دیوار کې[8]

---

(۱) [illegible] ح: [illegible] نسخه کې "فراغت یم" راغلی دی.
(۲) قلمي نسخې: "زه رحمان دعاشقۍ په دولت کې".
مصور چاپي دیوانونو: "زه رحمان دعاشقۍ په دا دولت کې".
(۳) [illegible] نسخه کې "کاروبار" راغلی دی.
(۴) [illegible] چاپ او [illegible] چاپ: "چې دا وسپینو دانه بري اوبه کېږي — ترو زما دهستۍ خړه دې په دیدار کې".
[illegible] چاپ او [illegible] چاپ: "چې دا وسیني داني بري اوبه کېږي — تاب زما دهستۍ خړه دې په دیدار کې".
[illegible] "خ" او په قلمي نسخه: "چې دا وسیني آهین بري اوبه کېږي".
(۵) دا بیت په چاپي دیوانونو کې نشته.
(۶) دا بیت په چاپي دیوانونو او د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.
(۷) چاپي دیوانونو: "ستا له دره له دیاره به وانه وړم — خو ونه مړم ستا په دره په دیار کې".
(۸) دا بیت په چاپي دیوانونو او د "خ" په لومړي نسخه او مصوره نسخه کې نشته.

Marfat.com

وعیب جن ته واره عیب ښرګند بري (1) ښایسته که ځان یوسف کا په سینګار کې
چې هنر د عاشقي یې خدای نصیب کړ (2) بې هنره نور څرنده وینې په یار کې

۳۴۲
دا داغونه د خپل زړه ورله بس دي (3)
څه حاجت دې د ناصح په لاله زار کې
۳۵۹۱

مدام ناست یم وچ کوګل سترګې په نم کې عشق را وښوه څروبن په خپل حرم کې
ما چې ستا د تورې زخم په خوله (4) ښکل کړ نور مې دا لذت بیا نه موند په مرهم کې
خوار مجنون چې سر په پښو د لیلی کېښود (5) سرفراز شو په عرب په عجم کې
زورور مدام غالب وي په کمزوره زه له نوره غمه خلاص یم ستا په غم کې
لکه زه چې ستا په غم کې مستغرق یم بل به نه وي په جمله بني آدم کې
لکه مړي د ژوندیو تر میان پروت وي هسې بېل یم له عالمه په عالم کې
هیڅ صحت (6) مې د مګرو په دم نه شي هم په دا چې زما دم دی ستا په دم کې
نه مې بې تا تنګ وېوي نه جستجوي شته مرادمې تر لې په هر دم په هر قدم کې (7)
که نصیب مې شي کوڅه غالي ستا د سپیو و به نه کړم نور نظر په جام د جم کې
زړه مې هسې ستا په زلفو پسې ورک شو لکه غوټه د چا پرېوځي په تورم کې
مړه په وېښو د سرو ګاو په دود ژانګي هزار زړونه ستا د زلفو په هر خم کې

۳۴۳
زه ناصح کناره خوښ یم له عالمه
باري ستا سترګو رسوا کړم په عالم کې (8)
۳۶۰۳

---

(1) چاپي دیوانونه: "وعیب جو ته واره عیب ښرګند بري".
(خ) لومړی نسخه: "عیب حق واره عیب ښرګند بري".
(2) "ق"، "ک" چاپ او "ق" چاپ: "که هنر د عاشقۍ یې رب نصیب کړي".
(3) قلمي نسخې: "خپل داغونه د خپل زړه ورله بس کا".
(4) "ب" په لومړي نسخه کې "ن" "ړ" راغلی دی.
(5) "خ" دویمه نسخه: "چې مجنون سر خپل په پښو د لیلی کېښود" په چاپي دیوانونو کې "خوار" پر ځای "خود" راغلی دی.
(6) "خ" په دویمه نسخه کې "صحت" پر ځای "دمه" راغلی دی.
(7) دا بیت "خ" په لومړي نسخه کې نشته.
(8) "خ" لومړي نسخه او مصوره نسخه: "باري ستا سترګو رسوا کړم په عالم کې".

Marfat.com

هسې بې یاره خفه یم په جهان کې[1] | چې مې ځای نه شي په ځمکه په آسمان کې
سره ګلونه د چمن راته سور اور شي[2] | چې قدم بې یاره کېږدم په بوستان کې
چې بې مرنه یم له درېغه بې نیا زیه[3] | حیران یم د ناتوان صورت په توان کې
که هر څو فکر له ځانه سره وکړم | هیڅ د صبر طاقت نه وینم په ځان کې
هیڅ ساتنه د سرکښ خاطر رانه شي | څوک ساتلی شي بخرې په ګرېوان کې
تر هغه به نادان بل په جهان نه وي | چې څوک مهر وفا غواړي په نادان کې
که بې سل ځله په زلو[4] و قربان بولم | غوږ رانه باسي په زاړو په قربان کې
هسې رنګ زما په ډېره ژړا خاندي | لکه ګل د سپرلي خاندي په باران کې
جوهري شي در و لعل کاندي برسېره | چې مې کېښني دد وستګو په دکان کې[5]
چې مې هیچېږي په خوا په خاطر نه وي | زمانه بې را ښکاره کا په زمان[6] کې

٣٤٤

چې په وصل کې بې اوښکي نه وچېږي
تروبه حال د تالان خروي[7] په هجران کې

٣٦١٤

د بلبل له حاله زده کړه په خزان کې | بیا د ګلو تماشا کړه په بوستان کې
خوږې نه ره تلخالي ترستو نې نه شي | شیرینې به خوند درنه کا په دهان کې[8]
ما په هجر کې لذت د وصال بیا موند | له یوسفه ملاقي شوم په زندان کې
لکه متن له معنی، معنی له متنه | یار هم هسې دی زما په دل و جان کې
عاشقي اسانه مه ګڼه خبر شه | سر بازي ده هر نفس په دا میدان کې

---

(۱) "ب" چاپ او "ب ب" چاپ: "هسې بې له یاره زه یم په جهان کې".
(۲) "ب" په لومړي نسخه او "ج" په لومړي نسخه کې "دی" راغلی دی.
(۳) "ج" په دوهمه نسخه کې "بې رحمې" راغلی دی.
(٤) "ج" په لومړي نسخه کې "یاره" راغلی دی.
(۵) دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(٦) په "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې "یوآن" راغلی دی.
(۷) "ب" په لومړي نسخه او "ج" په دوهمه نسخه کې "خوشی" راغلی دی او دا بیت په مصوره نسخه کې نشته.
(۸) مصوره نسخه: "شیرینې به دې خوند نه کا په دهان کې"

د ناتوان له ناتوانۍ نه وویرېږه — که هزار ځله توانایي په خپل ځان کې[1]

هم هغه به پس له مرګه ازار ورېږي — هر چې بل ازاروي په دا جهان کې

٣٤٥ — ٣٦٢٢

په رباعي (ړانځ) باندې بې یاره هسې حال دی

لکه حال د زندانیانو په زندان کې

زړه مې ډوب ډوب کړی ستا د غم په غلبو کې — هسې لکه څوک چې مستغرق شي په اوبو کې[2]

ستا د عشق له موجه هیڅ لوري وتی نه شم — دوا مې لاس مې پرېوا ته د عشق[3] په لامبو کې

سل توبې مې مالي کړې وانه وښتم له عشقه — ساه و یساه مې نوره پاتې نه شوه په توبو کې

ته چې له ماځې دادا وښکو باران ګوره — رخ د سفر هیڅ نه دی په داګهو شپېبو کې

نه یوه سپوږمۍ نه په سمان کې هزار ستوري — بې تا به څوک څه کا ندي خلق په څنبو کې[4]

عشق و عقل دواړه سره ضد دي که پوهېږې — کله کړي ارام داواړه څوک په ملبو کې[5]

٣٤٦ — ٣٦٢٩

هر څوک چې د عشق په آتش ځان سېځي ګله[6]

خدای دې ابراهیم غوندې څوک نه کا په لمبو کې

هسې خوښ یم ستا د در په خاکسارۍ کې — لکه خوښ وي سرداران په سرداري کې[7]

عاشقي که نور و خلقو ته خواري ده[8] — ما موندلې دی دولت په دا خوارۍ کې[9]

و بیمار ته که نا خوښ والي و ګرځي — خوښ یم زه د ستا د عشق په بیمارۍ کې[10]

---

(١) د "خ" په لومړي او دوهمه نسخه کې "په خپل توان کې" راغلي دي.

(٢) دا غزل د "خ" په لومړي نسخه او مصوره نسخه کې نشته. د "خ" په دوهمه نسخه کې بې لومړی بیت داسې دی: "زړه مې ډوب ډوب کړی ستا د غم په غموکې — هسې لکه څوک چې مستغرق شي په اوبو کې".
د "ب" لومړي نسخه: "زړه مې ډوب ډوب کړی ستا د غم په غلغلو کې — هسې رنګ لکه چې څوک مستغرق شي په اوبو کې".
د "ق ک" چاپ: "زړه زما ډوبېږي ستا د غم په غلبو کې — هسې لکه څوک چې شي غرقاب په اوبو کې".

(٣) په قلمي نسخه کې "عقل" راغلی دی.

(٤) قلمي نسخې: "نه یوه سپوږمۍ نه هزار ستوري له آسمانه — بې تا نه به څوک څه وکا د حلق په کېښو کې".

(٥) دا بیت د "ب" په لومړي نسخه او "خ" په دوهمه نسخه کې نشته. "ب" چاپ، "ق چاپ" او "ق ک" چاپ کې د "ملبو" پر ځای "ینبو" راغلي.

(٦) قلمي نسخې: "هر څوک چې د عشق په اتش سوی دی رحمانه".

(٧) دا غزل د "ب" چاپي دیوان کې نشته.

(٨) د "خ" دوهمه نسخه: "معاشقي که لو د عالم وته خواري ده".

(٩) چاپي دیوانونه: "ما موندلې دا دولت دی په خوارۍ کې".

(١٠) دا بیت د "ب" په لومړي نسخه کې نشته. د دوهمې د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې دی: "خوښ یم زه د عشق په درد په بیمارۍ کې".
د "ق ک" چاپ: "خوښ یم زه د یار د عشق په بیمارۍ کې".

Marfat.com

دخپل بام وروزیږو وته نظر کړه — هسې ستر‌ګې دې زما په بېدارې کې[1]
یاں دیار لدسته ګوا وښکې پاکیزه کا — تادریاب[2] کړې زما اوښکې په یارې کې
مال دېرې ناچارې و یاں تهشا کړه — سرې[3] عذر دی په ډېره ناچارې کې
غم به هیچ یو هوښیار خوښ کړي نه وي — ما خوښ کړی دی ستا غم په هوښیارې کې

٣٤٧ — د صاحب[الزمان] اوښکې به څرنګ په قرار وي — ٣٦٣٧
چالېدلی دی دریاب په قرارې کې

سپین مخونه تورکو دي شي په پیرې کې — سم قد ونه کوږ لږ ګې شي په پیرې کې[4]
لکه شمع د سحر آفتاب د ژمي — هم بې تاب وهم زېږی شي په پیرې کې
یو طرف ته یې سر بند دی بل خوا درومي[5] — خپل صورت تمام پردی شي په پیرې کې
دمړه ؤ په حساب وي خو او شوه — که څرګند لیده ژوندی شي په پیرې کې
مړ لا نه دی پس له مرګه بیا ژوندی شي — نشته داچې خوږ کله شي په پیرې کې
که څه وخوړي لکه زهر نه هضمېږي[6] — نه څه ښې نه څه خوږي شي په پیرې کې
دا خواني ده چې څه اوري یا څه وینې — نه لیده نه اورېدی شي په پیرې کې

٣٤٨ — ای صاحب[الزمان] پیرې هسې عاجزي ده — ٣٦٤٥
که ستم وي زړه پرې سوی شي په پیرې کې[7]

یو څل ولېدای دیار پریشانې زلفې — په عارض باندې حلقه پیچانې زلفې[8]
که تورلم لري ظاهر سیاهي د زلفو — حقیقت لري سفېدې روښانې زلفې

---

(۱) «است د «خ» په دهمه نسخه کې نشته. په چاپي دیوانونو او نورو قلمي نسخو کې یې لومړی مسرې دا ده: «دخپل بام وند دان وو وته نظر کړه».
(۲) په چاپي دیوانونو کې «جارتي کړې» راغلي دي.
(۳) د «خ» په لومړي نسخه کې «څره» راغلي دي.
(٤) چاپي دیوانونو: «ښایسته مخ دې تورکو دي شي په پیرې کې — سم قامت دي کوږ لږ ګې شي په پیرې کې».
(٥) قلمي نسخې: «که بل بوسه‌ږن دی بل خواته درومي».
(٦) «است» «خ» په دهمه نسخه کې سند «پ» په لومړي نسخه کې «ارناړېږي»، «خ» په لومړي نسخه کې «ورزېږي»، په مصوره نسخه کې «زې تیرېږي» او «خ» په بهګړي نسخه کې «ونه جوړېږي» راغلي دي.
(۷) په قلمي نسخه کې «زړه سوی شي» راغلي دي. (۸) — دا غزل د «خ» د دوهمې قلمي نسخې نه نقل شو.

Marfat.com

د قدرت الهي دي را ښه ګوره — د دانا ګردن طوق ناداني زلفې
هم په خبرې د خپل ځان په زړه حيران يم — په اوبو دريابو پرتې حيرانې زلفې
په شميم د خوشبويۍ يې زه خوشبو شوم — خدای دې نه کا په خپل داد پښيمانې زلفې
په کوم لوري به زه سر تر پښو وکاږم — وګردن ته مې پرتې رېسمانې زلفې
ځکه زار يم له دوو سترګو اوښکې وينې — چې رحمان وينې د يار خندانې زلفې

۳۴۹ — ۳۶۵۲

چې وصال د خپل جانان مې دی موندلی — ګنج د دُر و د مرجان مې دی موندلی (۱)
هومره طمع مې له خپله بخته نه وه — نه پوهېږم چې خستان مې دی موندلی (۲)
که په ډېر مشقت لاس لره خدای راوست (۳) — زه خو وايم چې آسان مې دی موندلی
چې مې يو نفس وصال ورسره وشو (۴) — وا ره اجر د هجران مې دی موندلی
خه عجب (۵) دی که تمام جهان زما شي — چې بادشاه د درست جهان مې دی موندلی
زه رحمان په خپل شعر شکرګذار يم (۶) — چې داسې رنګ ديوان مې دی موندلی (۷)

۳۵۰ — ۳۶۵۸

ما چې سترګې وګلاخ ته واړولې — په هغو سترګو مې وينې وڅڅولې (۸)
د عمل جزا يې بيا مونده برحقه (۹) — دا دستور دی چې کړې هغه اخلې
ترخمن ولې يو په سله زه قاتل دی — تل چې مې تور يې په کاڼي تېرولې

(۱) مصوره نسخه: "وا ره اجر د هجران مې دی موندلی".
(۲) دا بيت په مصوره نسخه کې نشته
"ق" چاپ او "ق ،ک" چاپ: "نه پوهېږم په خرستان مې دی موندلی".
(۳) د "خ" دوهمه نسخه: "که په ډېر مشقت لاس له راغی"
(۴) د "خ" دوهمه نسخه: "ورسره وشي".
(۵) "ق ،ک" چاپ: "خه تعجب دی".
(۶) د "خ" دوهمه نسخه: "زه رحمان په خپل شعر مدام خوښ يم".
(۷) "ق" چاپ: "چې داسې رنګ داستان مې دی موندلی".
(۸) دا غزل د "خ" په لومړۍ نسخه او مصوره نسخه کې نشته
(۹) "ق" چاپ او "ق ،ک" چاپ: "د عمل جزا مې بيا مونده برحقه".

Marfat.com

خو دکرده بدښتناوان له چانه غواړي — چې يې غوښې په خپل تيغ کړې سينې خپلې

ما دامرګ داستا په مينه کې هاله ليد — چې ګدای د بادشاهۍ لافې وهلې

له خوبانو به څوک څرنګ وفا غواړي(1) — سروي کله کشمشي ميوې نيولې

په دربار يې سندا سي شه ورته کښېنه — تار په تار د سر وېښته اېرې مښلې(2)

کړ دفتر دخپل قسمت دچا په لاس وي — بدې نېکې به چا کاله قبلولې

چې نېکي يې وکوله و نېکانو — دي بدانو څه بدي يې نه وي غوښتلې(3)

څوک له خاوره وايرو پاخو تخت وکړي — څوک له تخته دا ايرو په ډيران ولې

ستا چې نيت د آشنايۍ نه وصنمه — د رحمان ستر ګې دي ولې ندګنلې

دازل په ورځ د بخرو جوړي وه
اې رحمانه چا بابلودي چا ګټلې

٣٥١

٣٦٧٠

بدلوې په دنيا دين واړه ولې؟ — نه پوهېږې په خپل سودا و په زيان ولې؟

همېشه په ځای د شکر شکايت کړې — منکرېږې په عطا د سبحان ولې؟

د رېښتيا خدای دې چارې توان دی — په دې بې توانۍ کې خپسر بولې ناتوان ولې؟

مدام او سېلې توبېږې د رزق له غمه — د ګوهر په بها پلورې ارزان ولې؟

چې په هر بېګاه سامان د هر سبا کړې — کور وکړ شوې د محشر په سامان ولې؟

هېڅ ګياه له ځايه نه خوځي نه موږي — ته د رزق په طلب من يې جهان ولې؟

چې بې خوا تر قضا خپله رضا غواړې — بېهوده په لوټېو ولې آسمان ولې؟

په ژوندو مړه چې د مرګ له غمه خلاص شې — اسان کار دې کړم په ځان باندې ګران ولې؟

غېرې ميني دې په زړه باندې انبار کړې — په کعبه کې ننه باسې بتان ولې؟

---

(1) په "ق" چاپ کې د "وفا" پر ځای "ميوه" راغلې دی.
(2) دا بيت او دربېسي څلور نور بيتونه په قلمي نسخه کې نشته.
(3) "ق" چاپ او "ق ک" چاپ: "دي بدانو څه بدي نه دي غوښتلي".

Marfat.com

نه له دنفس په پیروي درځنه لاړ شو — دخبیث په لاس دې ورکړ قرآن ولې؟
چې یوسف دحبشي په بها مومې — دمطلوب په بها(۱) نه سپندې ځان ولې؟

۳۵۲ — بد په بدو پښېماني کاندې ګټې نه — ۳۶۸۲
ته په خپلو بدو نه شې(۲) پښېمان ولې؟

په نور خره(۳) پسې لې خلیه زاړې ولې؟ — دچارپای په خبر لې ځایه ناړې ولې؟
چې روغې مېنه کوې په شخوند خوجولې — ترو خبرې کوې لواړې ولې؟
نه داخپل کلام مېنه په داخپل شخوند کړه — تا داړلو ته تېرې کړې داړې ولې؟
هغه کاږچې دې په نرم ویل کېږي — بېهوده په بېړته ولې لاړې(۴) ولې؟
نېك له نېكو بدله بدو مناسب دي — نېك و بدو بله بربله نغاړې ولې؟
یو قدم دخدای په لور اېښود نه شې — تمامې عمر په پراته لاړې ولې؟
تل دې طوق دتعلق په غاړه کېښوست(۵) — وکښې نه شې دغه طوق له غاړې ولې؟

۳۵۳ — چې په ورځ دشېخي لافې کړې ګټې نه — ۳۶۹۰
په شپه مې له مېړو شه غواړې ولې؟

ته چې خپله لې عقلي هوښیارې(۶) بولې — کاشکې(۷) بیا مومې دغوښتو په نخ شولې
عشق یو دادې په عاشق باندې له خدایه(۸) — هسې نه دې چې لې پېړې یا یې پلوړي
زلیخا غوندې به بله شیدا نه وي — که دمصر مستورې شي واړه تولې(۹)

(۱) د "ب" په لومړي نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې "طلب" راغلی دی.
(۲) د "ب" په لومړي نسخه او د "خ" په دوهمه نسخه کې "بې" راغلی دی.
(۳) په قلمي نسخو کې "لورچا" راغلی دی.
(۴) دا او وروسته بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته د "خ" په لومړي او د "ب" په لومړي نسخه کې "لوني لاړې ولې" راغلی دی.
(۵) د "خ" په دوهمه نسخه کې "ګرزي" راغلی دی.
(۶) "ق ك" چاپ: "هوښیارشیا".
(۷) د "خ" دوهمه نسخه: "دربعد".
(۸) "ق" چاپ او "ق ك" چاپ: "رب". دوهمه مسرئ یې په عدې کتابونو کې داده: "هسې نه چې لې پایرې یایې پلوړي".
(۹) "ق ك" چاپ او "ق" چاپ: "که دمصر مستورانې شي راټولې".
د "خ" لومړي نسخه: "که دمصر مستورې کړې واړه تولې".
په مصور نسخه کې د "واړه" پرځای "خبله" راغلی دی.

Marfat.com

همه بحر خه په بحر حساب نه دی — چې او به یې خاك آلوده وي ختولي [1]
لا هغوسره به خه فکر د یاران وي — چې په غم وي د کاله یاد کولي
عاشقي د خپ... غرې په غاره نه شي — خو په یار پسې وانخلي ځلي ځولي [2]
د وصال په خوند غره مه شه — جدایي یې خلقي کړې په زړه زمولي

۳۵۴ — د گوهر په تله ندی چا تللي
د ..... شعر گوهر دی خه یې تولي — ۳۷۹۸

هسې ډوب یم ستا د غم په دریاب تللی — چې ماهي غوندې یې تښته یم کوتلی
مالېدلي چې لېندې وه راکښلي — تا د وروځو په لېندو یم زه ویشتلي [3]
په خپل ځان مې تر هغه پورې نظر و — خو مې ته په نظر نه وې کتلی
اوس مې ستا په مینه ځان وجهان هېر شو — دسېلاب په مخ کې لا دم لکه خلي
عاشقي به یې د باد په مخ بنه کا — که چا ځای وي کوه قاف غوندې نیولي [4]
چې د عشق له بحره روغ سلامت وځي — زه یې نن گڼم له مور زېږېدلي
هر چې واوري په بلا د تورو زلفو — هغه بیا ترکوره [5] نه دی ورغلی
چې له غرو نه پرېوتلي وي بیا پاڅي — پاڅېدې نه شي له زړونو پرېوتلي
چې داو لمبو هلی وي بیا روغ شي — نه رغېږي د آزار [6] لمبو وهلي

۳۵۵ — زه ..... یې هر دم وینم ستا په غم کې
که خپل مرگ په سترگو نه د چا لیدلی — ۳۸۰۸

(۱) "خ" د دوهم نسخه: "یا ختولي".
(۲) "ب" لومړی نسخه: "شلي شولي" "ب ب" چاپ: "غلي زړولي" "ق ک" چاپ: "زالي نږدولي".
"ق" چاپ: "زلي نږدولي" "خ" لومړی نسخه: "نرمي ژړولي" او "خ" دوهم نسخه: "زالي ژړولي".
(۳) دا بیت د "خ" د دوهم نسخه کې نشته. د "ب" چاپ او "ب ب" چاپ کې "راکښلي" او په "ق ک" چاپ کې "وژلي" راغلی دی.
(۴) دا بیت د "خ" د دوهم نسخه کې نشته.
(۵) د "ب ب" چاپ کې "ترمورې" راغلی دی.
(۶) په چاپي دیوانونو کې "هجران" راغلی دی.

Marfat.com

هر چې کښت یې په باران او په سیلاب وي ... دهغو ځمکه به واړه په عذاب وي (۱)

هغه ملک چې یې سیند او رود باران نه وي (۲) ... دهقانان به یې همه خانه خراب وي

و آسمان ته به یې سترګې وي خښتلې (۳) ... د باران له انتظاره به بې خواب وي

لکه غوښه چې کړوي په کمڅي کې (۴) ... دهغه ماهي په طور به کباب وي

لا به کله باران ونه پرې نزول شي ... چې نخیل و زراعت به یې سیراب وي (۵)

همېشه له خدایه خواست داوبو کاندي ... که یې چېرې خواست په ځمکه مستجاب وي (۶)

لکه تل چې یې په زړه داوبو غوږ وي (۷) ... هومره غوږ یې نه په چنګ نه په رباب وي

که هم ځمکه باران ورباندې ورېږي ... لا ګرمي یې په صورت کې د آفتاب وي (۸)

د ګرمې او د خشکۍ له دهشته ... د آفتاب په خبر ګومان یې په مهتاب وي (۹)

داوبو له ډېرې ډېرې قیمتې نه ... لر ګي لوښي یې مردار په منجلاب وي (۱۰)

فرق د پاک و د ناپاکو اوبو نه کا ... که او به یې ګډې وې په پېښاب وي

داوبو په وېش چې وشي انصاف نه کا (۱۱) ... که په لاس یې ورقونه د کتاب وي

---

(۱) دا غزل په مصوره نسخه کې نشته.

(۲) "ق.ک" چاپ : "سیلاب". د "خ" په لومړی نسخه کې دا مسری داسې ده : "هغه ملک چې یې په سیند په نه وړ باران نه وي".

(۳) د "خ" دوهمه نسخه : "و آسمان ونه یې سترګې وي خښتلې".

(۴) "ب" چاپ : "لکه غوښه چې کړوي یې په کمڅي کې".
"ب" په چاپ او "ق.ک" چاپ : "لکه غوښه چې تلدوي په کمڅه کې".
د "خ" لومړی نسخه : "لکه غوښه چې تلدوي په کټوړي کې".
دوهمه مسری یې په دوهمه نسخه کې داسې ده : "دهغو په طور به درست سر کباب وي".
"ق.ک" چاپ کې دا مسری داسې ده : "دهغې ماهي په شان به کباب وي".

(۵) د "خ" لومړی او دوهمه نسخه : "چې یې نخل دزراعت به یې سیراب وي".

(۶) د "خ" لومړی نسخه : "که یې کاندې خواست به چېرې مستجاب وي".

(۷) د "خ" لومړی نسخه : "لکه تل چې یې په غږ داوبو غوږ وي".
"ق.ک" او "ق" چاپ : "لکه تل چې یې په زړه داوبو غږ وي".

(۸) د "خ" دوهمه نسخه : "له ګرمه یې په صورت کې هسې تاب وي".

(۹) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کې نشته. په "ق.ک" چاپ کې داسې دی : "د ګرمې او د خشکۍ له ډېره دهشته ... په آفتاب ماند ګومان یې د مهتاب وي".

(۱۰) قلمي نسخه : "لرګي لوښي یې مردار د منجلاب وي".
د "خ" دوهمه نسخه : "لوښي کوزې یې واړه منجلاب وي".
د "ب" لومړی نسخه : "لوښي لرګي یې مردار د منجلاب وي".

(۱۱) د "ب" لومړی نسخه : "انصاف پرې نه وي".

Marfat.com

دا و بو په غلا چې ور شي نه جار و ري — که ساکن د خانقاه او د محراب وي
دا و بو ثواب یې نه کیږي له لاسه — که په ګوټ اوبه یې عین د حج ثواب وي(۱)
د باران امید یې نه کیږي له خدایه — که یې شپې او ورځ په سر باندې سحاب وي(۲)
پلیتي به یې له تنه څه رنګ درومي(۳) — چې اوبه یې کې نایاب تر ګلاب وي
چې د نوکو اچولو په ځای ور شي — تر تنخه یې ځان بتر کا که عقاب وي(۴)
هیڅ یې مه پوښته له غسله او دسه — چې یو ځلې څلی پرې ګوهر غوندې نایاب وي
په سبب د دېره د بره تیمم — همیشه یې سپېره ان بیره په تراب وي(۵)
د للمي سرې(۶) په خ کې وي آب چیرې — هغه خلق چې یې آب وي خو یې آب وي
په آتې کې لاهم وي خونه ویرانه — هغه کلي چې د بل کلي پایاب وي
یو به نسي هیڅ برې له سرې(۷) ورځه — پایاب سرې که زوی دار باب وي
سم حساب له عزیزانو کله مومي — تل تر تله یې د بل لاندې(۸) حساب وي
نه طاقت د بد و یل لري نه صبر — لکه مار په ملا وهلی پېچ و تاب وي(۹)
نه یې مرګ نه یې فتنه له لاسه کیږي — لاس تړلی د خپل شرم په طناب وي
چې یې زیست روزګار په کار وي تحمل کا(۱۰) — همیشه یې له بدیه اجتناب وي

---

(۱) د "خ" دوهمه نسخه: "که یو ګوټ اوبه عین د حج ثواب وي".
(۲) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۳) "ق" او "ن ک" چاپ: "دور شي".
(۴) دا بیت په چاپي دیوانونو او د "خ" په قلمي نسخو کې نشته.
(۵) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته، لومړی مسری یې په "ق ک" چاپ کې داسې دی: "په سبب د دې چې د بره د بره تیمم کړي".
د "خ" په دوهمه نسخه کې د "سپېره ده بیره" پر ځای "سپینه ده بیره" راغلی دی.
(۶) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته، په "ق" او "ن ک" چاپ کې د "سرې" پر ځای "ځمکې" راغلی دی. د "خ" په لومړۍ نسخه کې یې دوهمه مسرۍ داسې ده: "هغه خلك چې د بل کلي پایناب وي".
(۷) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته، دوهمه مسرۍ یې په "پ" چاپ کې داسې ده: "د پایناب سړی که زوی هم دارباب وي".
"ق ک" چاپ: "پایناب سړي که زوی هم دارباب وي".
(۸) قلمي نسخې: "تر بل لاندې".
(۹) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته "ن ک" چاپ کې داسې دی: "نه طاقت لري د کښلو وي نه صبر لکه مار په ملا وهلی پېچ و تاب وي".
نورې قلمي نسخې: "نه طاقت د بد د بدل لري نه صبر لکه مار په ملا وهلی په پېچ و تاب وي".
(۱۰) دا بیت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته. په چاپي دیوانونو او د "خ" په دوهمه نسخه کې یې لومړۍ مسرۍ داسې ده: "چې یې زیست یا یې روزګار په تحمل شي".

Marfat.com

کړي به وېنالي تر خولې وو زي — هغه دم لې په خپل ځان باندې عتاب وي (۱)
يو هغه سړی تېرې ور باندې کاندي — چې په عمر نه د سوال نه د ځواب وي (۲)
همسايه وي چرېکار د پښتانه شي — او په اصل يا موچي وي يا قصاب (۳) وي
ملايم ويل اثر په هغو څه کا (۴) — چې په زړه کې يې نه شرم نه حجاب وي
لکه ديو چې د سړيو په صورت (۵) شي — نه گومان کړه چې سړي وي دې دواب وي
په هيڅ رنگ له بده خويه نه جاروزي — هسې مست د جاهلۍ په شراب وي
چې اشراف د هسې خرسو په لاس کېوزي — نو خلاصی به يې له خونه په کوم باب وي (۶)
هسې رزق دې خدای چا له ور نه کا — که به رزق د چا په هسې رنگ اسباب وي (۷)
تر داهسې زميندارۀ هغه سنه دی — چې نوکر د ديوه تور کافر کلاب وي (۸)
نوکري د ديوه سپي ورله سنه ده — هغه پر بنده چې لا نوم يې د نواب وي (۹)

۳۵۶ — ۳۷۴۵

د خشکي له ځمر قوم د خوش دي
که رفتن يې له تهانه په شتاب وي

تل دې ستا د خواب آلوده سترگو خواب وي — چې فتنې په خوب اوده شي ډېر ثواب وي
لکه مې چې په مېنا کې تجلي کا — نور د حسن په حجاب کې بې حجاب وي

---

(۱) دا بيت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته. دوهم مسری يې د "ب ب" چاپ کې داسې دی: "هم هغه لې په خپل ځان باندې عتاب وي".
(۲) دا بيت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته لومړی مسری يې په نورو نسخو کې داسې دی: "يو هغه سړی تېرې ور باندې و کا".
(۳) دا بيت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته، "ب" چاپ: "همسايه چې چرېکار و پښتانه شي — او په اصل به موچي يا به قصاب وي".
"ب ب" چاپ: "همسايه او چلېکار يې پښتانه شي — او په اصل به موچي يا به قصاب وي".
"ق، ک" چاپ او "ق" چاپ: "همسايه يې چرېکار او پښتانه شي — او په اصل به موچي يا به قصاب وي".
(۴) چاپي ديوانونه: "ملايم ويل اثر ور باندې نه کا".
(۵) د "خ" دوهمه نسخه کې د "صورت" پر ځای "صفت" راغلی دی.
(۶) "ق، ک" چاپ: "چې اشراف د هسې خرسو په لاس کېوزي — نو خلاصی به يې له خونه په کوم باب وي".
د "ب" لومړی نسخه: "چې اشراف د هسې حريصو په ميان کېوزي — تر و خلاصی به يې له خونه په کوم باب وي".
د "خ" لومړی نسخه: "چې شراب د اهسې حرصو مينا گوري — تر و خلاصی به له هغو نه په کوم باب وي".
د "خ" دوهم نسخه: "چې د اهسې اشراف د حرصو په ميان کېوزي — تر و خلاصی له هغو نه يې په کوم باب وي".
(۷) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته. دوهم مسری يې د "ب ب" چاپ کې داسې دی: "چې د چا رزق په هسې رنگ سيلاب وي".
(۸) دا بيت د "خ" په لومړي نسخه کې نشته.
(۹) دا بيت د "خ" په دواړو نسخو کې نشته.

Marfat.com

ترڅې ما ته لولوې په تته د صبر ‎ زه هم د بر په دا راضي یم که مې تاب وي
نه په دا سبب په ترکو پسې ژاړم ‎ چې ژړا د عاشقانو د مخ آب وي
که نادان وي هم دا هومره خو پوهېږي ‎ چې څوک نه ژاړي په یار پسې کذاب وي
د عاشق سترګې په دا سبب شوې پاکې ‎ چې مدام د جوې په سر لکه حباب وي
لخالي خونې به څه وړې چې څه نه وي ‎ که ختلی د حباب په سر سیلاب وي[1]
هم په دا ې د غمې اثر پیدا شو ‎ چې په تشه ګنبده صبح د رباب وي
د حریص[2] لخیله نقده بهره نشته ‎ لکه مار د ګنج د پاسه پېچ و تاب وي
کاملان تعلقات د دنیا نه کا ‎ لکه پاڼې د خزان پښه په رکاب وي
غفلت هېڅ عجایب نه دی په دنیا کې ‎ ساکنان د خرابات واړه خراب وي[3]

۳۵۷

چې ساده غواړې بې شماره بې حسابه
په رنځ به د غمونو څه حساب وي

۳۷۵۷

د هغو چې و بله مهر و محبت وي ‎ په هستۍ او په نېستۍ کې فراغت وي
عاشقي ده تر هغه مقام پورته ‎ چې د چا مقام په رنځ یا په راحت وي
څه دا ورپه لمبو سوي څه په وارو ‎ واړه عشق دی که هجران وي که وصلت وي
چې مطلب و مدعا د سړي خدای شي ‎ ناست و لاړ به همه واړه عبادت وي
که په دوه قدمه و سړي هم حاجي شي ‎ چا چې کړې د مکې په لوري نیت وي
هغه څوک چې په روي د اولیا کا ‎ دا یې واړه په معنی کې ولایت وي
خاوري نه په سړي واړه برابر شي ‎ هغه دم چې له جهانه په رحلت وي
که د ننوپه تخت کېني غرا شو ‎ و فهیم و ته کم فهم بې[4] عزت وي

(۱) د "خ" لومړی او دوهم نسخه کې "په کوه سیلاب وي" راغلی دی.
(۲) په "ق" چاپ او "ق ب" چاپ کې "د رقیب" راغلی دی.
(۳) چاپي دیوانو: "ساکنان د دهر کل واړه خراب وي".
(۴) د "خ" په دوهم نسخه کې "بې فهمه" راغلی دی.

Marfat.com

د دانا و د نادان ترمیان یو حد دی — هوښیار یې تر حد په هورته قدم وې
تجاوز له خپله حده په کار نه دی — د هر چا په خپله خونه کې حرمت وې

۳۵۸ — ۳۷۶۸

نور عالم که د دنیا غمونه کاندي
لره رحمان سره دې غم د آخرت وي

دهغې بناچې نوم محنت آباد وي — تر و خاطر به پکې څرنګ د چا ښاد وي
په خوار او په خښو کله و بې نیسي[1] — هر مرغه چې په قفس کې د صیاد وي
د نجوړ په خوله کې کله مزه کاندي — که سل رنګه نعمتونه یې معتاد وي
پای بسته ولره هرچیري زندان دی — هغه هرچیري آزاد دی چې آزاد وي
عشق تغییر و تبدیل نه لري یکرنګ دی — د آشنا له لاسه داد وي که بیداد وي
د بنا دی نښه هغه وي په جهان کې[2] — چې په پای پسې یې بیخ یې بنیاد وي
بودني هغه باله شي په معنی کې[3] — چې د تن په نابودۍ یې اعتقاد وي
نقصاني وي د دنیا عمارتونه — که تري لاندې سل ستونه د فولاد وي
زندګي که څوک پوهېږي حضور دم دی — آینده و رفته کله د چا یاد وي
دا دنیا لکه سیلاب هسې بهېږي — نه یې چا ځای استوګه نه استاد وي
و هغو ته چې خدای خود بخپله و ښود — څه حاجت یې په ښوونه د استاد وي[4]
چې کامل اراده لري په زړه کې — د مرشد له اشارته یې ارشاد وي[5]

---

(۱) د "خ" لومړی نسخه : "په خوارو او به خښه کله غوښه نیسي".
د "خ" دوهمه نسخه : "په خوارو په خښه به کله وبینه نیسي".
(۲) د "ب" لومړی نسخه : "بیخې و بنیادي هغه دی په پایه کې".
د "خ" لومړی نسخه : "بنیادي بیخې هغه دی په دنیا کې".
د "خ" دوهمه نسخه : "د بنیادي بیخ هغه دی په پایه کې".
(۳) د "ب" په لومړی نسخه کې "په دنیا کې" راغلی دی.
(٤) دا بیت د "خ" په لومړی نسخه کی نشته، لومړی مسری یې د "خ" په دوهمه نسخه کی داسې ده: "و هغو ته چې خدای بخپله وښود".
(۵) دا بیت هم د "خ" په لومړی نسخه کی نشته.

Marfat.com

۳۵۹ — ۲۷۸۱

د بې یارانو دې څوک بل شي هیڅ ګرم نه دی
که رحمان له جدائي نه په فریاد وي

په دنیا کې که هر څو و بله پیوند وي — پس له مرګه به یې درست صورت بند بند وي
زه به و خوړم په دا باب هزار قسمه — که باور دې په قسم او په سوګند وي
یا به ولاندې تر تا درومي یادوه سبق — که دې ورور که دې عزیز که دې فرزند وي
زمانه به یې تر پښو لاندې پایمال کا — که په قطع تر آسمانه سربلند وي
هم یې هسې پیمانه ګڼه په خاورو — که دې(۱) پکه خوله تمام عمر په قند وي
هر چې کاندي آزادي په دا جهان کې — پس له مرګه به همه واره په بند وي
هر چې غاړه یې و حق ته ایښې نه وي — همېشه به یې په غاړه کې کمند وي
دا چې نه وتا ته وایم که یې خدای کا — په آیاتو په حدیث کې به څرګند وي
ته چې نه کوې باور په آیتونو — تر و زما ویل به څه درله پند وي
ناپسند به د منکر په انکار نه شي — هر کلام چې دلپذیر او دلپسند وي

۳۶۰ — ۲۷۹۲

خدایه ګنج د قناعت و رحمان ورکړې(۲)
چې بې ملکه بې حشمته دولتمند وي(۳)

که د درستې دنیا غم مې په سر بار وي — واړه سهل دي که یار راسره یار وي
هزار وار به یې دیان تر نامرده کړم — که په قطع مې دا یو صورت هزار وي
هغه نه دي(۴) په شمار د عاشقانو — چې د خپل تهتن داغونه یې په شمار وي
مشکل کار د عاشقۍ چې خدای پیدا کړ — کله بل په جهان هسې مشکل کار وي(۵)

---

(۱) په چاپي دیوانونو کې "که یې پکه خوله" راغلی ده.
(۲) "ق" چاپ او "ق" کس چاپ: "خدایه ګنج د قناعت رحمان ته ورکړې".
(۳) قلمي نسخې: "چې بې ملکه بې حشمه دولتمند وي"
(۴) "ب" چاپ کې "هغه کس" راغلی دی.
(۵) "ق، ک" چاپ: "بل به کله په جهان دا هسې کار وي".

خو چې او ښکې په مخ لاړې روغې نه کا | دغه خو معشوق ته کله لاړه وي
ته چې ګل زما دیار په شکل(۱) غواړې | کله داسې نګه ګاونه په ګلزار وي
نه مونده شي په بازار کې نه په ښهر | هغه رخت چې د خوبانو په بازار وي
نه دیار په خبر مخ نه وینم په سترګو(۲) | که په هره خوا خوبان هزار هزار وي
د عاشق نظر په ډېرو په لږ نه وي | که د بدن دیار په لږ که په بسیار وي(۳)
ښته هزار هزار خوبان ولې سوګند دې | که زما دیار په خبر به د چا یار وي(۴)

مرګ له هجره سره وار نه کا رحمانه
یار به ځان تر یار رومبی کا که په وار وي(۵)

۳۶۱

۳۸۰۳

له هغو سره به څه فکر د یار وي | چې یاران یې په هر لور هزار هزار وي
په آشنا پسې وېښتلي هم هغه وي | چې له نورې آشنایۍ یې استغفار وي
صبوري او قراري دې په ما نوم شي(۶) | که بې تا به مې یا صبر یا قرار وي
هر ژوندون دیار په وصل ښایسته وي(۷) | بې مینه که ژوندون وي څه په کار وي
په یارۍ کې آزار ښتر خدای دې نه کا | که ذره به زمانه له تا آزار وي(۸)
و هغو ته عاشق نه ویلې بویه | چې یې فکر یاد سر یا دستار وي(۹)
که دیار له لاسه اور په یار بلېږي(۱۰) | هغه اور د عاشقانو ته ګلزار وي

---

(۱) "ق، ک" چاپ کې "رنګه"، "خ" په دوهم نسخه کې "حسن"، په "ق" چاپ، "ب" په لومړي نسخه او "خ" په لومړي نسخه کې "جنس" راغلی دی.
(۲) "خ" لومړي او دوهمه نسخه: "نه دیار په خبر بل نه وینم په سترګو"، او "ب" په لومړي نسخه کې "د بلاغ" راغلی دی.
(۳) دا بیت په قلمي نسخه کې نشته.
(۴) په قلمي نسخه کې "په بل دیار" او "په هیڅ دیار" راغلی دی.
(۵) "ب" چاپ او "ب ب" چاپ: "که یې وار وي" او "ق، ک" چاپ کې "که یې یار وي" راغلی دی.
(۶) "ب" په لومړي نسخه کې "نه وي"، "خ" په لومړي نسخه او دیګري نسخه او "ق، ک" چاپ کې "نه دي" او "ق" چاپ کې "ګم" راغلی دی.
(۷) "خ" لومړي نسخه: "لږ ژوندون دیار په وصل کې ښادي ده".
(۸) "خ" لومړي نسخه: "که هزار ځله مې ذره له تا آزار وي".
(۹) دا بیت په قلمي نسخه کې نشته.
(۱۰) "ب" چاپ، "خ" په دوهم نسخه او دیګري نسخه کې "په ما" او په "ق، ک" چاپ کې "په چا" راغلی دی.

Marfat.com

خای یې اوس شي چې زنار یې شي په غاړه — ولې نه چې ستا د زلفو زنار دار وي(۱)

ستا د زلفو زنار دار که په اور سوځي — د غاوړ به هم همه ستا د رخسار وي(۲)

٣٩٢ — ٣٨١٣

هغه څوک به لیلی غوندې رسوا شي

چې رحمان غوندې مجنون لې په دیار وي(۳)

که د ستا د خاطر مینه په اغیار وي — ستا پاره دې اغیار هم زما یار وي

چې سرې په یوه مخ باندې مین شي — له یوه مخه لې سل مخه په کار وي

هر چې کاندې نوکري د بادشاهانو — خواه ناخواه به در دربانو منت بار وي

زه به ستا له رقیبانو خه ماندکرم — دا دستور دی چې له ګله سره خار وي

خوشحال خان لې خبر نه شي په تاتر کې — ګله وي چې د بلبل و ګل ته لار وي

سجاده به د ساقي دلارې فرش کا — هر صوفي چې د سرو سترګو(٤) خیال دې

په جذبه د عاشقي به لیوني شي — که په قطع افلاطون غوندې هوښیار وي

٣٩٣ — ٣٨٢١

په رحمان باندې به هیڅ ملامت نه کا

هر سړی چې ستا له حسنه خبردار وي(۵)

د وصال په هوا والوتې مرغه شوی — د هجران په اور کې درست صورت او به شوي(٦)

نه وزر کا، له هوس، نه مري له غمه — سړې سخت دی ګنه یو اش پرې وشوي(۷)

زره که چاودی هم له دې غمه به وچاود(۸) — چې دیار د بېلتانه خوارې په زړه شوي

(۱) دا بیت او وروستی بیت، "خ" په لومړي او دوهمه نسخه کې نشته.

(۲) چاپي دیوانونه: "د غاوړ به هم رښتیا ستا د رخسار وي".

(۳) د "ب" په لومړي نسخه کې "دربار" راغلی دی، او دا مسری د "خ" په دوهمه نسخه کې داسې ده: "چې رحمان غوندې خوابان لې په دیار ویا".

(٤) د "خ" په دوهمه نسخه کې "د سرو شونډو" راغلی دی.

(۵) "ب" چاپ او "ب ب" چاپ: "هر سړی چې ستا له مخه خبردار وي".
"ق" چاپ او "ق ک" چاپ: "هغه څوک چې ستا له مخه خبردار وي".

(٦) دا غزل د "ب" په لومړي نسخه کې نشته. د "خ" په دوهمه نسخه کې د "صورت" پر ځای "سر" راغلی دی.

(۷) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته. لومړی مسری یې په "ق" چاپ کې داسې ده: "نه دی ر کاله. هوس مري له ډېره غمه".
او په "ق ک" چاپ کې داسې ده: "نه د رکېږي په هوس نه مري له غمه".

(۸) د "خ" لومړي نسخه: "که د چا زړه له غمه چاودی له دې وچوي".

Marfat.com

د رقیب و ناکردو ته چې نظر کړم — د عاشق له آهه روند په تور لېمه شي
هیڅ پوره به دې نیمګړي نه شي خدایه — که بېلتون د دوه یارانو وبېله نه شي
چې بېلتون د دوه یارانو وبېله کاندي — د هغو خلقو له مرګه وا وربه شي (1)
خدای رضا له چا هسې تعویذ وکړي — چې لمن زه د هغه یار تر غمه بنه شي
یوځل یار په سترګو ولېده (2) چې دا دی — د غم پسه هر چې شولې بیا هاله شوي
نوم یې یوځل زما واخستی په ژبه (3) — نور مې نوم په دا جهان کې پاتې نه شي
لکه درست عمر په خوله د رقیب کاږکا — د غه هسې یو زمان زما په خوله شي (4)

زه ماتم (ریان) په دا خبره (5) حق حیران یم
نه پوهېږم چې د یار له غمه څه شوي؟

٣٦٤ — ٣٨٣٢

چې په مخ باندې دا ونکو یو قم وي — عین د توره ولې پره سره سم وي
که ګرېوان مې د سپوږمۍ دلم مشرق شي (6) — زه چې یار په سترګو نه وینم تور تم وي
کڼ و ورور څوغوندې نښې ولې هلنه شي — که په زړه د پاسه پروت د چا الم وي
دلته سرپوړ ته کول د چار سبږي — چې پخپله د یار زلفې خم د رخم وي
معشوقه چې د عاشق په غم وي غوڅه — د عاشق سترګې دې وځي چې بې غم وي
همه مې د قوم هموهسې بو یه — چې د دوار و زندګې په یوه دم وي (7)
که د درست جهان خوښي و ما باندې راشي — مګر خدای چې څوک بې یاره خوښ خرم وي
بل ستم د بېلتانه د پاسه نشته — که لېدلې چا په سل رنګه ستم وي

(1) دا بیت په "پ" چاپ، "ق" چاپ او "ق. ک" چاپ کې نشته.
(2) "ق" چاپ او "ق. ک" چاپ: "ودیم".
(3) د "خ" لوړی او دوهمه نسخه: "خولې نوم یې زما واخستی په ژبه".
مصورنسخه: "خو چې نوم یې زما واخستی په ژبه".
(4) دا بیت په "پ" چاپ کې نشته.
(5) د "خ" قلمي نسخې: "دا معامله".
(6) د "خ" لوړی نسخه: "که ګرېوان مې د سپوږمۍ له نوره غرق شي".
(7) چاپي دیوانونه: "چې د دوار ځمدمي په یوه دم وي".

Marfat.com

دا قضا خو په قاضي موقوفه نده — خود بخپله یار تر یاره پورې ګرم وي
راحت هرچیرې بغوله لازم وي — چې په درد و په محنت کې مقدم وي
چې خوناب يې د چشمانو مې ناب شي — پیوسته له دغه جام سره جم وي
هیڅ حاجت د هنر نشته و نصیب(۱) ته — که په اصل خولك عرب وي که عجم وي
هنرمند غواړه طالع له خدایه غواړه — بې سلیمانه په کار نه دي که خاتم وي

۳۶۵ — د رحمان خندل په اجر د ژړا د ه — ۳۸۴۶
تازګي د ګل په قدر د شبنم وي

(۲)
همیشه دې زما سره وستا قدم وي — تر هغه ساعته پورې خو مې دم وي
ستا له لاسه واړه مال ه نافع دي — که مې زهر بدې(۳) په زخم که مرهم وي
زه بې تا هسې ګومان کړم چې سفال دي(٤) — که نسکور مې په لبانو جام د جم وي
نور عالم که د دنیا په بنادي بناد وي — زما زړه دې مدام بناد د ستا په غم وي(٥)
که په زړه باندې مې سل غمونه راشي — دا ستا غم دې تر همه و مقدم وي(٦)
ما دې خدای د ستا له غمه بې غم نه کا — تر هغه ساعته پورې خو مې دم وي

۳۶۶ — رحمان ستا په مخ مین دی خدای خبر دی(۷) — ۳۸۵۳
که په دا کې به هیڅ بې زیات و کم وي

---

(۱) په چاپي دیوانونو کې "و رقیب ته" راغلی دی
(۲) دا غزل په "ب" چاپ، "ق، ک" چاپ، د "ب" په نسخو او د "خ" په لومړی نسخه کې نشته.
(۳) د "ب" چاپ: "که مې زهر وي".
(٤) د "ق" چاپ، "زه به بې هسې رنګ ګومان کړم چې سفال دی"
د رفیع صاحب شخصي کتابخانې نسخه: "زه به تا پسې ګومان کړم چې بې حال یم".
د "خ" دوهمه نسخه: "زه ګومان کړم چې په تا پسې بدحال یم".
د "خ" مصوره نسخه او دوېمه نسخه: "زه بې تا هسې ګومان کړم چې هیڅ نشته".
(٥) د "خ" دوهمه نسخه: "زما زړه دې مدام خوښ د یار په غم وي".
(٦) د "خ" دوهمه نسخه: "دا ستا غم مې تر همه و مقدم وي".
(۷) د "ق" چاپ "رحمان ستا په مخ مین دی باور وکا — که په دا کې به هیڅکله زیات و کم وي"
د "خ" مصوره نسخه، د رفیع صاحب شخصي کتابخانې نسخه او د "خ" دریمه نسخه: "رحمان ستا پر مخ مین دی که باور وکړې".

Marfat.com

تر چې ماته والې چې په چا پاندې شیدا یې — زه په تا شیدا یم وایه ترچې یار د چا یې[1]
زه به تا په کومه زړه کړه شم پر ولي — چا زده لکه تازده هومره وایه چې څه وایې
زه چې کبر چرته وم عاشقي مې گرځن دمات کړو — تر چې لکه ونې هم هغه هسې کبریا یې
ځان که ستا په مینه کې فاني کړم خبر و کړم[2] — تر چې په دا هسې زنگ له آهه بې پروا یې
مرگ مې په تا ولې خدای اختر کړو نه پوهیږم[3] — څه دې حاصل هم شته که مطلق په مرگ زما یې
څه شو که زه یم انگشت نما په مینه ستا کې — زیات له ما نه خوش تر د قاضي هم د ملا یې

۳٦٧ — ستا د عشق تر توري بگړي د رحمان زړه شه / دا هم سهل کار دی زما یاره که په دا یې — ۳۸٦۰

چې پخته شي آشنا یي — ترمیان وو زي جدا یي
و طالب وته وفا شي — د مطلوب بې وفا یي
بادشاهي کاندې بدله — د د بدن په گدا یي
خاني پلوري په ورېشو — میرزایي په میرزایي[4]
نظر نه کاندې هیچېرې — په لوی په بدایي
ورته کفر ترگند بریي — خود بیني او خود رایي
خود رایي په عاشقي کې — له عاشقه نه بنا یي
معشوقې که بې وفا دي — عاشقان خوبې ستایي
غوږ یې کوڼ ستر گې ړندې وي[5] — د خپل یار په خطا یي

(۱) دا غزل په قلمي نسخو کې نشته.
(۲) "ق" چاپ: "کړم، ځان ستا په مینه کې فاني کړم څه به وکړم".
(۳) "پ" چاپ، "ق، ک" چاپ او قلمي نسخې، "څه دې په مرگ هم شته که مطلق په مرگ زما یې".
(٤) دا بیت "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(٥) "خ" لومړۍ نسخه: "په غوږو کڼ په سترگو ړند وي"؛
"خ" دوهمه نسخه: "په غوږ وکوڼ په سترگو ړوندوي"؛
"سپ" لومړۍ نسخه: "غوږ یې کڼ وي سترگې ړندې وي"

Marfat.com

کړلي کړي وي سل علمه — هم ديني هم د نيا يي
همه واړه فراموش کا — چې پرې وشي شيدايي
و مطلب ته نه رسېږي — په شيخي په ملايي
اواره ننګ و ناموس کا — په سر واخلي رسوايي
تر ناموسه ور ته به شي — بې ننګي ، بېنوايي
هره چار يې په اخلاص وي — نه په روی و ريايي
قبلوي يې په دواړو سترګو — هر چې يار پرې فرمايي
نصيحت پرې اثر نه کا — که څوک سل ځله وايي
فايده نه لري په عشق کې — د دانا و دانايي (۱)
مشکل کار د عاشقۍ — اسان چېرې دی بايي
دغه کار کولی نه شي — هر کم فهم و کجايي
هر کم بخت يې کله مومي — د دلبر و همتايي
خه په کسب مونده نه شي (۲) — دغه کار دی عطايي
چې د عشق په لومه کېوزي — نور يې نه وي رهايي
بې د يار له مخه نه شي — د عاشق دلکشايي
د خپل يار په طلب ګرزي — غاړې غړوه پېمايي
له عالمه وي وتلی — لکه صيد صحرايي
تل تر تله يې وطن وي — ګوشه کُنج و تنهايي
مدام سوی لوغړن وي — د خپل آه په ګرمايي
هر زمان يې په اوښ نيسي — د خپل يار تمنايي

---

(۱) "خ" لومړی نسخه : " ددانا نه دانايي".
(۲) چاپي ديوانونه : " خه په کسب موقوف نه دی".

Marfat.com

نه يې ملك و نه يې مال وي ... نه يې زهد و پارسائي
په دا هسې ګرانو چارو ... معشوقې يې ارمانې
په يوه ديدن يې يوسي ... د درست عمر کمائي
هم مې هسې ننګه وژني ... يار ته ستا بې وفائي
چې په [1] ننه کړم زړه مې چوي ... د غم ستا خودنمائي
هم خودي لري بې قياسه ... هم د حسن زيبائي
ضرر نه لري بې نفع ... ستا د مينې سودائي
ستا سودا ماله سود ده ... حق به وايم خدائي
په هيڅ مخ کې ليده نه شي ... ستا د حسن صفائي
لمر به څه لره تا سيالي کا ... په دا چې سرو پائي
ادراك نه رسي د سرو ... ستا قد په رعنائي
لکه ستا قد و بالا دي ... نشته هسې بالائي
که د ستا وصال دريا دي ... زه ماهي يم د دريائي
د مګسو زندګي ده ... په دوکان د حلوائي
زه تو تا شکرپرست يم ... د استا شونډې مټهائي
دا ګمان په [2] عبد الرحمان مه کړه ... چې بې تا به و پائي

۳۶۸ ... ۳۹۰۵

خوږ ما په وده به ما تول شير بي ... که په مرګ د رقيب هم هسې شمشير بي [3]
مرګ خوږ نې چې بخپله راپسې دې ... څه محتاج زما و مرګ ته دير پير بي
کبر و خيال خولا له ځايه ستا عادت دی ... او که نن زما له قصده په بل پير بي [3]

---

(۱) له مصري نسخې نه پرته په نورو قلمي نسخو کې "له زړه کرم" راغلی دی.
(۲) "افزل دخ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(۳) دا بيت په "ق . ک" چاپ کې نشته.

د اې شمار عاقلان به شي کم عقله[1] — تر چې دا رنګه په زړه ونښکر دلبرې
ستا خويونه به پخپله ځان څرګند کا — زه به څه وايم چې ته تر بلا تېرې[2]
له حېرته دې تعريف کولی نه شم — چې په څه رنګ دې ستايم د چاپېرې
ما چې ستا د لبو خوند بيا موند محظوظ شوم[3] — که سل ځله به تر خوږيل ګندېرې

۳۶۹ (رباعي)
د جهان سنګلي که واړه د شي
خدای دې نه کا چې يې ته له دله هېرې
۳۹۱۳

په يوه ذره به وړی يا به موړ يې — په يوه ذره به ګرم يا به سوړ يې[4]
که ځواني له خدايه غواړې ځوان به مړ يې — او که پس له ځوانۍ پايې خو به زوړ يې[5]
بندګان خو کله جوړ کله ناجوړ وي — څه خدای نه يې چې به تل تر تله جوړ يې[6]
عاشقي به دې آسمان غوندې څرګند کا — که مجنون غوندې هر څو په صورت ووړ يې[7]
بدي واړه په بنده ونيسه رحمانه — چې پای بند دیان په مهر يا به مرور يې[8]

۳۷۰ (رباعي)
عاشقي بې جذبې چېرې ده
ته مجذوب دیان په مهر کې لا ووړ يې[9]
۳۹۱۹

---

(۱) "ب" لومړی نسخه: "کم بخته".
(۲) دا بيت او ورپسې دوه نور بيتونه د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته، د "ب" په لومړی نسخه کې د "ته" پر ځای "خو" راغلی دی.
(۳) "ب" چاپ: "محفوظ".
(۴) د "ب ب" چاپ او د "خ" دوهمه نسخه کې د "يې" پر ځای "دي" راغلی دی او نوموړی غزل په مصوره نسخه کې نشته.
(۵) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۶) "ب" چاپ: "سړی کله خو يا جوړ کله ناجوړ وي — خدای خو نه يې چې به تل تر تله جوړ يې".
د "ب ب" چاپ: "سړی کله خو يا جوړ کله ناجوړ وي — خدای خو نه دی چې به تل تر تله جوړ دي".
(۷) د "ب ب" چاپ: "وي".
(۸) دا بيت په چاپي دېوانونو او نورو قلمي نسخو کې نشته.
(۹) "ب" چاپ او "ق ک" چاپ: "ته مجذوب ديان په مهر کې مرور يې".
د "ب ب" چاپ: "د مجذوب ديان په مهر کې مرور وي"
"ق" چاپ: "ته مجذوب ديان په عشق کې کړور يې".
د "خ" لومړی نسخه: "بدي واړه په بنده ونيسه رحمانه — چې پای بند ديان په مهر يا به مرور يې".
د "خ" دوهمه نسخه: "عاشقي بې جذبې چېرې دي رحمانه — چې مجذوب ديان په مينه کې مرور يې".

Marfat.com

خدای دې وژغوره له هرې پرېشانۍ — اې زما د کوره کلي ودانۍ

عاشقي چې ما ګڼله نا داني وه(۱) — اوس خبر شوم له دې خپلې نادانۍ

تر وخت تېر ې او به بېرته نه جاروځي — څه په کار ده پوچ بې ځايه پښېمانۍ

وداني په يوه دم کې شي وېرانه — مرد هغه چې کړي يې دوراني ودانۍ(۲)

لکه باد چې ځان وهي له کوره ودشته — زه په تا پسې کوم سرګردانۍ

دا خوږه د ستا له غم سره لوښېږم — څوک له ديوه سره کا پهلوانۍ(۳)

چې په آب و په آتش په خاک و باد يې — څه امېد دی په څښتي زندګانۍ

تر چې دا رنګ او بې دې او بې وعدې کړې — کشکې راکړې و ما خط د امانۍ

که زه ته په هغه وخت وی چا به نه کړې — د مجنون او د ليلى قصه خوانۍ

زما ستا و ننداره به حيران وو — که ژوندي وی آدم خان او درخانۍ

٣٧١

وهر چا و ته چې ولم حيران يې
څه به ولم د رحمان له حيرانۍ

٣٩٣٠

په ځوانۍ کې بد دماغه بدګمان يې — چې پيری يې در باندې در شي بيا ناتوان يې(٤)

که په دا دې زړه بند کړې يې دا خو نشته — چې به تل تر تله ژوندی يې هم به ځوان يې(٥)

چې هرګز دې په لاس نه دي کبوتري — بيهوده د هغو چاره په ارمان يې

چې بې خدايه زړه تړې په نور څه پورې — هم په خدای هسې باور کړه چې نادان يې(٦)

پښېماني تر پښېمانۍ لا ښخوا بويه — نه هغه چې بيا په تېر ساعت پښېمان يې(٧)

---

(۱) په قلمي نسخو کې "دانايي" راغلی دی او د "پ پ" چاپ کې د "ګڼله" پر ځای "کوله" راغلی دی.
(۲) قلمي نسخې: "مرد هغه دی چې ودانې که ويرانه".
(۳) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته، د "خ" په لومړۍ نسخه کې د "لوښېږم" پر ځای "ښخښېږم" راغلی دی.
(٤) په قلمي نسخو کې "در شي ناتوان يې" راغلی دی.
(٥) چاپي ديوانونه او د "خ" لومړۍ او دوهمه نسخه: "چې به هم تر دېره ژوندی يې هم به ځوان يې".
(٦) دا بيت د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.
(٧) دا بيت او ورپسې اووه بيتونه د "خ" په لومړۍ نسخه کې نشته.

Marfat.com

هسې رنګ دې وهغه جهان ته شا کړه ‌‌ ‌ ګویا تل به مستقیم په دا جهان یې
هومره سر دې وخپل خدای ته ټیټ نه دی ‌ ‌ لکه ټیټ په لوړ د خان و د سلطان یې
یوه شپه به طاعت نه شې رڼو لې ‌ ‌ هره شپه په مال و ملك باندې پاسبان[1] یې
په تسبیح دې تا نه ژبه وچ لرګی شي ‌ ‌ پوچ ګویې لره بلبل غوندې ګویان یې
ولمانځه ته چې لمر خېږي هاله پا څې ‌ ‌ په قلبه پسې لا نیمې شپې روان یې
او داسه لره کوزه اخستی نه شې ‌ ‌ چې په لوا و په لوړ ورشې پهلوان یې[2]
د هلك په خبر لاس اچوې واوره ته ‌ ‌ نه خبر په خپل بهبود نه په نقصان یې
پښې سترګې لکه ستوري په ګانې ګرزې ‌ ‌ که پر بوزې وکوهي ته هم د وان یې[3]

چې وېل ته نصیحت کا ځان لې هېر وي
نو رخوك نه دی هغه ته عبدالرحمان یې

۳۷۲ ‌ ۳۹۴٤

زه د ستا له غمه ژاړم واړه وینې[4] ‌ ‌ واړه وینې، واړه وینې، واړه وینې
خود مې وینې چې په تش کاته دې مړمه[5] ‌ ‌ لا خنجر په کا ږې مړ بې دل سنګینې
هر زمان مې په حضور د ستا ګو وژنې ‌ ‌ لا یقین دې د زړه نه شي لې یقینې
عالم ستا په مینه ژوي نه پوهېږم ‌ ‌ زه په څه سبب وژلی یم ستا مینې
د بر عالم به نور ې[6] رنګ کا معلومېږي ‌ ‌ تا چې هسې جامې واغوستې رنګینې
پښې لې نه وي چې وبله خواته درومي ‌ ‌ هسې سکڼې په غمزه د عاشق سپینې[7]
که صورت مې پر بله پورې معلومېږي ‌ ‌ زړه مې ستا له غمه چاود دی نازنینې[8]

---

(۱) په چاپي دیوانونو کې "پسې" راغلی دی.
(۲) د "خ" دوهمه نسخه: "چې د لو په لوړي ورشي پهلوان یې".
(۳) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(٤) د "خ" لومړۍ نسخه: "زه دیار په غم کې ژاړم واړه وینې".
(۵) د "خ" په لومړۍ او د "ب" په لومړۍ نسخه کې "مړیم" راغلی دی.
(٦) د "خ" په لومړۍ، دوهمه نسخه او "ق، ک" چاپ کې "نوري" راغلي دي.
(۷) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(۸) دا بیت د "ب" په لومړۍ نسخه کې نشته.

Marfat.com

هغه شوك دى چې ترتا به ښه ترين وي   اې ته وايې هر و يا نو ښه تر يني [1]

۳۷۳   چې دې زلفې د رحمان په زړه وتې کړې [2]   ۳۹۵۳
تر ښو يې څه خالي او به سپيني

ورك شه ورك شه بدكردار او بد سړي   كه دې ورور كه دې عزيز وي كه يې يې

تر هغه لا ښكو كار بېگانه ښه دى   چې بدكار شي د چا زوى او يا لمسى [3]

لرگي لوښي همه واړه پرې مردار وي   بدكردار دى سو لنډى يا وړى سپې [4]

هغه خلق همه واړه لېوني كا [5]   چې په كلي كې يو سپى شي لېونى

بل علاج د لېونيو سپيو نشته   بې له مرگه چې ترې ړك كاندي كوهي [6]

حرام خور د مخنثو په حساب دى   كه په توره يا په تېغ وي مسمرنى

مرني ولې بو نه و هغه ته   چې بې وجه آزار نه كاندي يو شى [7]

ديگ بې اېښى په د يگدان رومې تر تېغ وې   چې يې سو ړ په آه سرد نه شي نغرى [8]

هسې فيض يې وهر چا وته رسېږي   چې باله شي د خپل وخت حاتم طى

۳۷۴   اې رحمانه چې بد فهم بدكردار شي   ۳۹۶۳
ر اته وايه سپى ښه دى كه سړى

---

(۱) دا بيت د "خ" په لومړي نسخه كې نشته.

(۲) "ق، ک" چاپ: "چې دې زلفې د رحمان په زړگي وېرې كړې".

(۳) د "پ" لومړۍ نسخه: "چې بدكردار شي د چا زوى او يا لمسى". "ق" چاپ، "ق، ک" چاپ او د "خ" لومړۍ نسخه: "چې بدكار شي د چا زوى د چا لمسى".
د "خ" دوهمه نسخه: "چې بد كار شي د چا زوى يه يا لمسى".

(٤) دا بيت د "خ" په لومړي نسخه كې نشته. د "پ" لومړۍ نسخه: "لوښي لرگي همه واړه مردار شي   بدكردار لكه سو لنډى يا وړى سپې".
د "ق" چاپ: "گوښي گوښي پرې همه واړه مردار دي   بدكردار سو لنډى او وړى سپې".
د "خ" دوهمه نسخه: "لوښي كودرې همه واړه مردار كه   بدكردار لكه سو لنډ وړي سپې".
مصوره نسخه: "بدكردار دي لكه وړى سپې".

(۵) د "خ" لومړۍ نسخه: "هغه خلك همه واړه پرې مردار شي".

(٦) د "پ" لومړۍ او د "خ" لومړۍ نسخه: "بې له مرگه چې يې ترې كمې يو كوهى". د "خ" دوهمه او مصوره نسخه: "بې له مرگه چې پرې ړانتې يو كوهى".

(۷) "ق" چاپ: "چې بې وجه آزار نه كاندي سړى".
نور چاپي ديوانونه: "چې بې وجه آزار نه كا هيڅ سړى".

(۸) دا بيت د "خ" په دوهمه نسخه كې نشته. د "پ" او "ب" چاپ كې دوهم مسرى داسې ده: "چې يې سوړ په آه تېغ نه شي نغرى".
د "خ" لومړۍ نسخه كې يې لومړى مسرى داسې ده: "ديگ يې اېښى په د يگدان او ترې لاندې".

Marfat.com

که له ډېره غمه دم د ځان ختی ... ناره به مړوم ستا په غم کې لړغونی[1]
نه مې هسې رنګ په تورو زلفو بایللو ... لکه ورک په توره شپه کا څوک کالی
په یوه ساعت مې ردهم مې قبول کا ... نه پوهېږم چې یې خپل یم که پردی
په یوه لاس یې مرهم په بل خنجر وي ... نه په مړو کې حساب یم نه ژوندی[2]
که په مرګ د عاشقانو دې رضا وي ... خدای دې ما کا ترهغه وار وړومبی
خون بها مې د ستي په مثل نشته ... ما پخپله قبول کړی دی خپل سوی[3]
وکوم دم ته به ادراک د یاره رسي ... هر وینسته یې د کاکل شو منګری[4]
څوک د لحې غم زما د ږیرو وښکو نه خوري ... کم به نه کا په خوړو دن سره ندی
د هجران په توره شپه کې ناوېږېږم ... چې یې نه وینم د وصل سپین سبون مي
دیار غم لکه مزری را باندې راشي ... خدای دې پېښ په هیچا نه کاندي مزري
چې پرې غم غلطوم د شپې پاڅم ... کله مې په شونډو کېږدم کله نی
ګاه کتاب ګهې رباب په لاس راواخلم ... باري دره دې په هیڅ رنګ نه کا کمی
همسایه مې وارو واته له خوبه ... که په سل کوتو د ننه کړم ځګېږي
که عاشق تر معشوقې پورې یو سي وي ... خدای د هجر په تېغ مړ و ته نه یو سي



رباعي
نه دیان په غم کې هسې ډوب یم
چې هیڅ نه وینم په سترګو مګر دي



چې دار و درد د غم دې هغه مې ... ساقي راکړه یو دوه جام پیالې
مې د خپلو لبو را نه د انګورو ... چې اول یې نوشیدن وي پسې قي

---

(۱) په "ب" چاپ او "ب ب" چاپ کې : "ناره به مړومه په عشق کې لړغونی".
"ق" او "ق ک" چاپ : "ناره به مې ومه په غم کې لړغونی". د "خ" لومړی او دوهم نسخه : "ناره به مړ دم په هجران کې لړغونی".
(۲) دا بیت په "ق ک" چاپ او د "خ" په دوهم نسخه کې نشته.
(۳) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.
(٤) دا بیت په چاپي دیوانونو او د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته.

Marfat.com

په هر تیغ کې چې آب نه وي د شرابو — څولک د غم په غلیم نه مومي بری (۱)
جام د میو چې غم خوار د کل جهان شو — زه به او سم (۲) په دا غم کې تا بکی
راشه یو ځل دې هسې مست خراب کړه — چې خبر نه شم (۳) له حاله د هیڅ شی
بیخودي هسې پناه ده زوروره — چې له هره غمه خلاص کاندي سړی
زه هغه تحصیل تمام ګڼم په عشق کې — چې یې روغ وګړي بولي لیونی
رحمان سوله له رقیب سره پیدا کړه
آشنا سبز دی البته خور ونکی سي

۳۷۶ ۳۹۸۶

د پرې خولې زما په یاد شکرخوږې شي — بیا زما (۴) په زمانه خاورې ایرې شي
یوه بخره خدای هر چا له ورکړې — د چا بخره خاموشي د چا نارې شوې (۵)
د چند نو ونې و سولېدې لارې — هزار ځانګې د شمشاد و په ارې شوې
په هغو ځمکو چې روغې پرې ماڼۍ وې (۶) — د ایام په ګردشونو هدیرې شوې
په دنیا کې چې بنیاد د آشنایۍ کا — د هجران توری هغوله تېرې شوې
د افلاک چې خدای پیدا کړي دا یې خوږ دی — چې وچا وته دعا چا ته ښېرې شوې
د دنیا د محلونو خښتې واړه (۷)
رحمان تر د سرونو منارې شوې

۳۷۷ ۳۹۹۳

---

(۱) د "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ: "څولک له غمه په غلیم مومي بری".
(۲) په "ق، ک" چاپ کې "سوځم" راغلی دی.
(۳) دا بیت د "خ" په دوهمه نسخه کې نشته. په نورو قلمي نسخو کې د "نه شم" پر ځای "نه دیم" راغلی دی.
(۴) د "ب" په لومړۍ نسخه او د "خ" په لومړۍ نسخه کې "زموږ" راغلی دی.
(۵) دا بیت د "خ" له دوهمې نسخې نه نقل شو. په چاپي دیوانونو او نورو قلمي نسخو کې نشته.
(۶) قلمي نسخې: "په هغو ځمکو چې روغې وې ماڼۍ".
(۷) د "خ" لومړۍ نسخه: "د دنیا د محلونو خښتې واړه —
رحمان تر دسرونو ګنګرې شوې"
د "خ" دوهمه نسخه: "رحمان د محلونو خښتې واړه —
د عالم تر دسرونو منارې شوې"

بوصل تو ما را کجا ہاتھ ہے — کہ وصل تو خیلی بڑی بات ہے
بگوی تو گفتم کہ مسکن کنم — ولی کی مرا این درجات ہے
خم زلف تو گوشہ ابروان — دلم را عجائب مقامات ہے
مکن پیش من وصف خورشید وماہ[1] — کہ از حسنت این کم علامات ہے
ہمی دادی دشنام وگالی مرا[2] — بسوم ہمین از تو سوغات ہے
نگاہت نہ امروز خونم بریخت — کہ دایم ترا ہمچو عادات ہے
ز آغوش جانان مرو بار قیب — کہ این سفلہ بدخوی وبدذات ہے[3]

۲۷۸ — ٤٠٠

## مخمس

رخه یا چې ښایسته دی تر آفتابه — مخ به کله راڅرگند کا له نقابه[4]
بېلتانه په زړه زهیر کړم بې حسابه — یو سبب وکړه چې مسبب الاسبابه
چې زما ملاقات وشي له احبابه

---

(۱) د "ب" لومړی نسخه: "خورشید وماه را".
(۲) د "ب" لومړی نسخه: "ہمہ داد دشنام وگالے مدام".
(۳) د "ب" لومړی نسخه: "کہ این سفلہ بدکار وبدذات ہے".
(٤) د پښنور چاپي دیوان: "حجابه". دا غزل د "ب" "چاپ" کې نشته.

Marfat.com

ملاقات د ښایسته ؤ مې نصیب کړې　　　　د ښایست په ګلستان مې عندلیب کړې

عندلیب مې په ګلشن د خپل حبیب کړې　　　　خدایه ما په دلبرانو کې قریب کړې

ومې ژغورې د دې اهل له عتابه

هغه یار چې زه یې مینه په دیدار کړم　　　　همیشه یې و دیدن ته انتظار کړم

شپه او ورځ پسې ناري وهم کوکار کړم　　　　که په روی تمام جهان ورته رویه کړم

ستر ګې نه یې ورته کوي د ناز له خوابه

بیلتانه یې پټ پټم په زړه تاراج کړم　　　　و دیدن ته یې په هسې رنګ محتاج کړم

چې غرقاب یې د لمونو په امواج کړم　　　　هیڅ پایاب یې مونده نه شي څه علاج کړم

د آشنا د مینې غم شو نا پایابه

ته چې کس یې د جمله ؤ بې کسانو　　　　هم کارساز یې د جمله ؤ کارسازانو[1]

الهی[2] په بزرګیه د بزرګانو　　　　زه وصال په دعا غواړم د خوبانو

لا به کله دا دعا کړې[3] مستجابه

اسیر کړې دې د زلفو په تناب یم　　　　تکبیر کړې دې د سترګو په قصاب یم

د کشتۍ[4] غوندې مدام په اضطراب یم　　　　لکه زه چې ستا له غمه په عذاب یم

خبر مه شه هیڅ بنده له دې عذابه

دریغه مه وی په دنیا کې پیدا شوی　　　　او که وی هم په دا هسې شان خو مه وی

لکه زه یم د هجران په لمبو سوی　　　　خوبه ګرزم په دا هسې[5] اور الوی

چې سینه مې په درست غم شوه کبابه

---

(۱) په "ب" چاپ، "ب ب" چاپ او "خ" قلمي نسخو کې "خام کارانو" راغلي دي.

(۲) "ب ب" چاپ: "هم په روی او".

(۳) چاپي دیوانونه: "شي".

(٤) "ب ب" چاپ: "د ماهي په شان".

(٥) چاپي دیوانونه: "د هجران په اور".

Marfat.com

هی هی خه مې دا خراب خاطر نابنادشو[1] | زیست روزګار مې همیشه آه و فریاد شو
عمارت مې دزړه هسې رنګ بربادشو | چې حباب غوندې بې بیخه بې بنیادشو
دبنیاد[2] طمع به څو کړم له حبابه

پټ پټ ګرځم د ناصح له نصیحته | رانه کاندې نصیحت په خوصورته[3]
چې توبه کړم د خوبانو له قربته | هیڅ جواب بې په ما نه شي له غیرته
درمانه ورته ولاړیم لاجوابه

دا جواب څه هسې نه دی چې په خوله شي | د عشق راز څه هسې نه دی چې وایه شي
دا مشکل حکایت نه په ما نه شي | ددې بحر بې پایان حساب په څه شي
چې بې زه وچاته وایم له حسابه

چاموندلی[4] ددې بحر پایان نه دی | دغه راز وهر سړي ته عیان نه دی
هیچا کړی ددې چارې بیان نه دی | دغه واره عاشقي ده رمان نه دی

## ۳۷۹ چې په خوله کې درولعل لري سیرابه ۴۰۲۷

ستا جفا ترحد په هو تیر ده صنمه[5] | تل مې اوښکې موج وهي دزړه له پیمه
خوبه پیمه دا قصدا وسې پنهمه | هسې ډوب په فکر یو تیم بې دمه[6]
نه پوهیږم چې په غره یم که په سیمه

که خبر[7] وی له دې هسې رنګ خوارۍ | ما به نوم اخستی نه ؤ د یارۍ
ستا دغم په دریاب ډوب یم ترمرۍ | بې تا نه لرم هیڅوك د دستګیرۍ[8]
مګر ته په خپله لاس راکړې همدمه

---

(۱) د "ب پ" چاپ: "ستا په هجر مې".
(۲) په چاپي دیوانونو او د "خ" په قلمي نسخه کې "بنادي" راغلی دی.
(۳) د "خ" دوهمه نسخه: "په خوګړته".
(۴) "ق" چاپ او "ق ،ک" چاپ: "ماموندلی"
(۵) "ب" لومړۍ نسخه: "دزړه له غمه"، "ق" چاپ، "ق ،ک" چاپ او د "خ" قلمي نسخې: "دزړه له غمه".
(۶) "ب" چاپ، "ق" چاپ، "ق ،ک" چاپ او د "خ" قلمي نسخې: "هسې ډوب په فکر تللی یم له غمه".
(۷) قلمي نسخې: "که مې نا ده وي". (۸) د "ب پ" چاپ: "دادګیرۍ".

Marfat.com

ما وې نور به آشنايي له هېچا نه کړم — هم په دا رنګه مې نيت ئې باري ښه کړم
د قسمت علاج په چا شي چې يې زه کړم — که په سل رنګه تلاش و تدبير کوم
خلاصي نه موم له لوحه له قلمه

خوبرويان که بې وفا دي خو هم وړه دي — عاشقان که وفادار دي خو هم پړه دي
ستا له غمه چې دي زما په زړه دي — اوس به حال و چا ته (غم) وايم چې مړه دي [1]
غرض دا دی چې زه ګرم يم ته نا ګرمه

يو خو دا چې په صورت يې پري رويه — هم په خوی و په خصلت فرښته خويه
هم په قد و په قامت هر ګوره لويه — بيا به نه مومې څوک تا غوندې دلجويه
که يې غواړې په هژده هزار عالمه

ستا له غمه [2] زه په ځان کړم هسې چاړې — چې د ښېښه لې ويله نه کا ګلعذارې
ته په څه سبب له مانه دل آزارې [3] — دا زما ګناه راوښيه دلدارې [4]
چې توبه کړم نصوحا غوندې محکمه

لاس تر غاړې له رقيب سره خندا کړې — چې ما ووينې له قصده را ترشا کړې
خدای يې وينې هغه چارې چې په ما کړې — تر ابده ورځې پورې به جفا کړې
که [5] به کله هم جاروزې له ستمه

تا چې هسې بې نيازي د ځان پېشه کړه [6] — په عاشق دې د خندا خوله متره کړه
بيا دې ورځ په غريبانو توره شپه کړه — نور دا هسې د جفا خو يو نه مه کړه
خلقه به دې له جوره شي برهمه

---

(1) "مخمس" په "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ کې نشته. غوره مسرې په "ب" چاپ او د "خ" په قلمي نسخه کې دي، "اوس به حال و چا ته خه وايم چې مړه دي".
(2) قلمي نسخې او "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ، "ستا د پاره".
(3) قلمي نسخې "ق" چاپ او "ق، ک" چاپ: "له ما لا ستړه"
(4) د "ب" نوري نسخه: "ته يارې"
(5) "ب ب" چاپ او "ق، ک" چاپ: "ته به کله" (6) "ب" چاپ، "ب ب" چاپ او "ق، ک" چاپ: "تو مېنه کړه"

Marfat.com

زما ستا له میني هر څوك خبردار دي — داخبره کوم اکوم په هر دیار دي
چې فلانا فلانا سره دوستدار دي — اوس په ښېرته جار واته وما نه عار دي
چې رسوا شوم تر عرب و تر عجمه

چغز شوي(1) چې په تا باندې مین وي — په وګړیا کې رسوا لکه کوهکن وي
همېشه انګشت نما په مرد و زن وي — چې دا نښې پکې نه وي دروغژن وي
که په هره ګړۍ خوري هزار قسمه

نښانه د عاشقانو ول داد ه — چې مدام یې سرې کار وي لږ زیاده
تل نامه د بدنامه وي پرې ښاده — نه وېرېږي له پېغوره له اهداده
بې دیاره د جدایۍ له ماتمه(2)

هرچې زړه یې مبتلا شي په بتانو — زیست یې نه شي یو ساعت بې محرومانو
که څوك ورکا بادشاهي د بادشاهانو — په نسبت د هغو سوي سوختګانو
دا متاع ده تر یوه خسني کمه

که سلیمان غوندې مسند یې په هوا وي — په سبب د عاشقۍ به خاکپا وي
همېشه به په فریاد و په غوغا وي — چې دا هسې نښانې پکې پیدا وي
تروهاله پرې عاشقي ده مسلمه

عاشقي دې هېڅوك نه ګڼي آسانه — داخبره ده له حد پوهو تر ګرانه
وصال نه دې چا موندلې بې هجرانه — ته له ځان(3) سره اتکل وکړه رحمانه
په دنیا کې ښادي چېرې ده بې غمه

۳۸۰ — ٤۰٦۲

(1) د پېښور چاپ دیوان کې: "چغز نه وینه".
(2) "خ" لومړۍ نسخه: "نه بېګاه پرې دیوې ستني تر سومه".
"ق" او "ک" چاپ: "بادشاهي ده له یوه خسري کمه".
(3) په قلمي نسخو کې "له نږه سره" راغلي دي.

Marfat.com

# ضمیمه

# وروستني لاس ته راغلي

## غزلونه او بیتونه

Marfat.com

## ۶۱

تېر شو په داطمع په دړستا عمر زما — ګوندې چېرې کېږدې یو قدم په سر زما[1]

تا وې چې د عشق پیاله خوږه ده تر شکره — وسو په هجران کې دې پیالې ځیګر زما

سل جفا که وینم په ستر ګو ستا له لاسه — ستا په جفا نه کیږي هرګز باور زما

یاله ما لاس ګاږه جفا مه کړه دلبره

یا لې تا راوښیه یو بل دلبر زما

۳۸۱ — ۴۰۶۹

## ۶۲

هر ګفتار هره وینا چې څوك عبس کا — تر عبس ویل دا بدده چې یې بس کا[2]

په هغې وینا چې دوست پښیمانیږي — له اوله دې خوله هسکه (له نفس) کا[3]

هره چارچې له اختیاره وي وتلې — بېهوده به یې څوك لاف د دبېت ورس کا

فقیري یا د خدای په مهر مونده کیږي — داهغه په کیږنه شي چې یې نس کا[4]

آدم زاد په معنی واړه یو وجود دی — یو وجود دی هم یې پاك هم یې نجس کا

کړي یې اصل یو وجود دی (په دې) خبر شوې — د ګلو نو هغه کله خار و خس کا

په اخلاص د نماز ګذار وي جنوب د ې — هر نماز یې چې (په) ریا تیمم[5] او دس کا

(که خود بین وي) ته یې څه کوې رحمانه

د خود بینو سر اخپله خودي بس کا

۳۸۲ — ۴۰۷۴

(۱) دا غزل د رلی جبوال د شخصي کتابتون د قلمي نسخې نه نقل شو.

(۲) دا غزل د حبیب الله رفیع د شخصي کتابتون د قلمي نسخې نه نقل شو په دې بیت کې د "عبث" کلمه د قافیې د سمون په غرض د "عبس" په شکل راوړل شوې ده.

(۳) اصلي نسخه: "لااول دې خوله هسکه". چاپي دیوان: "لااوله دې یې تکه تر خوله هسکه"

(۴) اصلي نسخه: "داهغه په کیږنه شي چې نصق کا"

(۵) په اصلي نسخه کې "تیمون" راغلی دی.

Marfat.com

## ۳۹

دلربا که د خپل حسن مخ عیان کا / د بلې غمزه جمع زړونه به لړزان کا
په کشور د صبا برانو به قیامت شي / اسرافیل غوندې آواز به هرنالان کا
چې یې چاجام د لعلو وي نوشلی / پیمانه چغلګیرې په دانا دان کا[1]
د جبین په چین یې هسې رنګ پوهېږم / چې محراب به د ګایلو زړونه ویران کا
د پرېشان ګیسو دلیل یې عین دا دی / چې وابسته زړونه په دا رنګ پرېشان کا
که جلوه یې د جمال شي معینه / په شعله به لمر، سپوږمۍ سوې نانان کا
که د باد ګذر (یې) وشي و خاکپای ته / د رندو سترګو دار و به خدای اسان کا
که شانه په تورو زلفو باندې کېږدي / مشک عنبر (به) دیوې پیسې ډېر کا
تورې زلفې یې هم مشک دي هم عنبر دي / خو زما له کم بختۍ (یې) خدای ماران کا
که پلوله مخه لرې کړ حمانه / په دیدن به هندوان واړه مسلمان کا

۳۸۳ ۴۰۸۴

## ۴۰

که په بخت کم بختان ندي خسته دل خوړک / په حضور به له تا ولې بېلېدل خوړک[2]
و دیدن وته د هر چا رضا کېږي / ولې حکم یې له تا نه لري بل څوک
که یې لاس د خدای په چار یې رسېدلې / بې مقصوده به یو دم نه شهېدل څوک
دا یو سر دی ما داستا شکرانه کړی / نور ناحق مې ویروي په سر وهل څوک
دا هم زما شومیت دی چې را رسي / ګنهګار تد او د چا نه پوهنه بد ول څوک[3]

---

(۱) اصل نسخه: "پیمانه چغلګیر په دانادان کا". او دا غزل د ردیف د کتا په ځای نه د نسخې نه نقل شو.
(۲) غزل د ردیف مختصر کتا په ځای نه د چاپي دیوان او قلمي نسخې نه نقل شو (۳) د ردیف کتا په ځای نه چاپي دیوان: "نه"

د دیدن په طمع وغلیدم بندي شوم — ګنهز او د هجران سختی زغمل خوك
په هیڅ رنګ به دې له میني منکر نه شم — هر شان قصد چې مې کوي په قتلول خوك
کړمې زړه ستا میني نه وای راپیدې[1] — په رضا الرس کله تیرېدل خوك
که اثر د محبت ورسره نه وي — روغ صورت دا هومره زړه زهیر بېلاك
که په مینه د لیلی مبتلا نه وای — (دا) غریب مجنون بېدیا، غرونه ځنګلاك

۳۸٤

مینه هره بلا کاندي (که با ورکړې)[*]
ګنهز عبدالرحمان هومره ویل خوك

٤۰۹٥

## ۵٩

د خپل ځان له خاکساری (نه) بلند شوم — لکه ګرد هسې شمسوان دهر هوایم[2]
کمېنی هسې کامل کړم چې زه درو م — لکه څمکه درست جهان راسره بیایم
ماچې خپل معراج د دان د پاسه ولید — د منصور په څېر رښتیا وینا (به) وایم
د منصور او زما هومره تفاوت دی — چې ده ناره کړه پا په ځمر زه خفایم

۳۸٥

له عیانه هیڅ حاجت د بیان نشته
زه رحمان به په خوله څه وایم چې دایم

٤۱۰۰

## ٦٠

هر چې خپلې مینې خوار کړ خوار یې مه ګڼه — عشق د رحمت ابر دی غبار یې مه ګڼه
کله تور سنبل کله تور مشك کله عنبر شي — زلفې که دماں په خوږي مار یې مه ګڼه

---

(۱) قلمي نسخه: "رایېږدولی"
(۲) دې غزل مطلع په نسخه کې نشته او دا غزل "په هند خوی له بدخواها نو نې پر والم" له غزل نه وروسته راغلی دی.
(*) چاپي دیوان: "مینه هره بلا کړې په عاشقانو — ګنهز نه عزیب رحمان هومره ویل خوك".

Marfat.com

یو مخ یې د سوزې سل مخه (یې) د سان دي — عشق په اصل نار دی نار یې مه ګڼه
ده بېن بېدار ویده دی لکه بت په غمو سترګو — بت که در تر غټې ګورې بیدار یې مه ګڼه
مراد خو یو اثر دی د خوبانو له رخساره — هر چې اثر نه لري رخسار یې مه ګڼه
خار چې په ګل پورې (وي) د ګلو په حساب دي — خو وشو که نام د خار دی خار یې مه ګڼه
پوه خلک هغه دي چې اقرار په ناپوهۍ کا — هر چې ځان هوښیار ګڼي هوښیار یې مه ګڼه
بد خو هم هغه دي چې خپل بد ور څرګند نه وي — هر چې ځان بدکار ګڼي بدکار یې مه ګڼه
هر چا چې اقرار د یار له زلفو سره وکړ — تل به ناقرار وي په قرار یې مه ګڼه

۳۸۶ — ۴۱۱۰
هر چې کمال غواړي کمیني (دي) د ځان کا
عین د غه چار ده بله چار یې مه ګڼه

## ۷

اې د نفس او د حرص په هوا لېوه — په ظاهر صورت ملک په معنی دېوه
شدادي خصلت دې ونیوه د ظلم — خبر نه شوې د مسکین د زړه له غرېوه
تا چې خپل مخ د فرعون په دود تور کړ(۱) — په دې خوی به برابر نه شې له نیکېوه
پېن وجود به دې په څه رنګ حاصل یږي — چې لېږې د یار له دره د د و د لېوه
په ظاهر صورت تندرست یې نه روح رنځوره — دریغه وسوې تر دغ پوست لاندې معتبوه(۲)
د نېستۍ له مکافاتو هغه خلاص شول — چې هستي یې د فنا په مخ اېر بوه

۳۸۷ — ۴۱۱۷
الله دې پاچا وه له خوبه (باور وکړه)
و ملایان وته په خپله په نار بوه

---

(۱) اصل نسخه: "تا چې فرعون په دود مخ تور کړ". (۲) چاپي نسخه: "دریغه وسوی تر دوغ پوستې لاندې مغتبوه"

Marfat.com

## ۸

یاداستا چشم ابرو وینم په خواب کې
یا مستان دي ویده شوي په محراب کې

یا په جام کې ستا د مخ عکس لیده شي
یا خورشید دی تجلا کا په حباب کې

یا تر خط لاندې غوټۍ ستا د خولو دي
یا کوکب دی را ډوب شوي په شهاب کې

یا دې زلفې په مخ دوارو را خورې کړې
یا سنبل دی کنځلکي داور په تاب کې

یا دې زلفو په مخ توره تاریکي کړه
یا خوښند رحمان ځرګند کړ په آفتاب کې

یاداستا مژګان زما په خاطر خښ دي
یا سیخونه دي ېټ شوي په کباب کې

یا خو ستا له غمه غرق زما صورت دی
یا خسرې دی جاورې په ګرداب کې

ته دې رحمان خطا کړه و ر معافه
داوتر وچاره نه وي په حساب کې [1]

٤١٢٦ چې د یار د مخ کاته له میانه ووزي ۳۸۸
د ایمان په خه عزت وي په حساب کې

---

(۱) دابیت زلمی هیوادمل د مخفی کتابتي د قلمي نسخې نه نقل شو.

Marfat.com

## ۹۶

مست د هغه مخ یم چې مستانې لرې سترګې / بې توري، بې تېغه، قاتلانې لرې سترګې
بې لید و کتو غایبان زړونه وړي له خلکو / هسې چشمان بندې ساحرانې لرې سترګې
هر څوک چې یې وینې نو یې سترګې کتې نه شي / ښکلي پریوار غونډې حیرانې لرې سترګې
لب آب حیات دي او نفس (یې) د عیسی دی / هیڅ عجب به نه دي که خوبانې لرې سترګې
هر چې عاشقان دي هغه کله بل خوا ګوري / واړه ستا په لوري نګرانې لرې سترګې
ای رحمانه اوښکې هم له تخمه د باران دي*
کښت د هغه شین شو چې ګریانې لرې سترګې

۳۸۹ — ٤١٣٢

## ۱۰۰

که په قطع د تمام جهان ملک یې / چې له ځانه خبر نه یې لا هلک یې
آدمیت خو څه په مال او په شال نه دی / ته چې خیال په شال په مال کړې سپک یې
منصفان دي د انصاف خبرې وایي / څه شو څه که په خپلو کې شریک یې
که د لمر په څېر څرګند شې په جهان کې / خو په زړونو پسندیده نه شې لا ورک یې
بزرګي په دلجویي کې ده د خلکو / ته چې خلک د وبې څرنګ بزرګ یې
په لویي کې لویي چېرې ده لایقه / کمینه وته مت کړه که سالک یې
فلک تا غوندې پیدا کړي بیا فنا کړي(۱) / ته لا نوې خواست کوې په نازنازک یې
دانایان به په دیوان ښکلي پند ځلي
چې رحمانه په خوار نظر ګوري فلک یې

۳۹۰ — ٤١٤٠

(۱) اصل نسخه : "فلک تا غوندې هزار پیدا کړي بیا فنا کړي". (*) چاپي دیوان : "ای رحمانه اوښکې دي هم تخم د باران دي".

Marfat.com

## ۶۱۴

دزړه حال و تا ته څه وایم په ژبه ـــ ته خبر د خوږ و زړو نو په منزل یې[1]
... خبر بلبل سبځي په مینه ـــ هم مین لکه بلبل هسې په ګل یې
بې لیدو دغرګند بې عیب واره ـــ په کمال د همګي چارو کامل یې
هم قاضي یې هم ملا هم محتسب یې ـــ هم ساقي د مې پرستو په محفل یې
یو دې ذات په دوارو کونو کې شهره دی ـــ بل په نام له هر چا لو یه یو په سل یې
چې ته مخ په عبادت کې نه جار باسې ـــ د رسته شیره یې (نفس) بد کاته یې خیل یې
ورکول او په رو دل دې په خپل لاس دي ـــ که وچاېي ورکوې که یې اخل یې
جار ترهسې رنځ نبولو شه رحمانه ـــ چې شفې یې په پوښتنه وي راغل یې

خدای طاعت، عبادت څه کوي
خوږې مینه دسري ده ازمیل یې

۴۱۴۹ ـــ ۳۹۱

# بیتــــونــــه:

په "چې یې نقش په زړه خیال شي د اشنا" غزل کی:

ترابده به یې بخره ملالي وي ـــ له هغو چې زړه ملال شي د اشنا

په "ته چې ما ته وایې چې په څه کوې ژړا" غزل کی دریم بیت:

څو به دا جفا کړې نه پوهېږم څه بلا شوه ـــ څو به وې ترکومه دا جفا او دا بلا

په "بنده ده بنده د دنیا" غزل کی له مقطع نه دمخه بیت:

که یې مال د دنیا ډېر وي ـــ هیڅ پرې نه کاندې پروا[2]

په "لاس مې د ترې د زلفو په تناب" غزل کی:

---

(۱) د دې غزل مطلع په اصل نسخو کی نشته.
(۲) اصل نسخه: "هیڅ ورنه کاندي پروا"

Marfat.com

لە فراقە چې يې آه کړم سوك پە ستر ګو     يو لستو نې مې ګرداب (شي) بل ګرداب

پە "هر مطرب چې غوږي تاوکا د رباب" غزل کې دوهم بيت:

هومره تاو د بېلتانه را باندې زور شي     چې حساب يې بيان نه شي پە کتاب

پە "چې مې يار وليد پە سيمه د اغيار ګډ" غزل کې لسم بيت:

سخت سفر د عاشقۍ ځوك او زه ځوك     خداى ناخاپه پرې راګډ کړم پە دا لار ګډ

پە "نظر بې بصر" غزل کې اوده ځلوېښتم بيت:

نه پخلا نه مرور وي     پرېشان ګرزي در پە در ل

پە "زه تېر شوى لم تر سر" غزل کې ١٦ - ١٧ - ١٨ بيتونه:

کله مې غواوې کله مې وزه وي     کله مې آس وي کله مې خر

کله مې ميږ وي کله مې من وي     کله مې اوښ وي کله غاتر

کله پە کور کې مې کالي وي     کله لنګى وي کله تغر[1]

پە "پس له مرګه ځوك ارت غوارى خپل ګور" غزل کې يوولسم بيت:

پە يقين بە بدکردار بدکردار کا     کشيده شي د بدکردار سرې پېغور

پە "بد اختر بە نيك اختر نه شي هرګز" غزل کې اوومه بيت:

که تر غره وربانديې وکړې کاله بە کېږي     مرغچه[2] بە د مرغوهر نه شي هرګز

پە "چې پاى بند شه دليلي پە اشتياق" غزل کې:

ځماى خوښ دى د خپل يار پە درد و غم کې     تر بە والي چې بادشاه دى د آفاق

پە "چې مشغول نه وي د ترکو پە جمال ځوك" غزل کې لسم بيت:

لېبنه خويې مخ روښنې له هيچا نه شي     که هر ځو يې پاکيزه کا پە رومال ځوك

پە "مرغوږ باسه د نا اهلو قيل وقال" غزل کې نولسم بيت:

---

(۱) اصل نسخه: "که لنګى وي که تغر"

(۲) پە اصل نسخې کې "مرغاچه" راغلې دى، پښتو قاموسونو "مرغچيچه" ـ خستي ده اصل شکل يې "مرغچه" ده چې د "صنوبر مرغه" يا "مشکښۍ" معنى ورکوي.

خراب دل مې نهی غواړي بلادا شوه          چې نهي را معلومېږي کال په کال

په " په یوه غمزه د ترګو یې فنا شوم " غزل کې ۶-۷ بیتونه :

په خپل کلي په خپل کور کې مې غربت دی          په صدف کې دریتیم غوندې یکتا شوم
مستورې را څخه یوړه مستو سترګو          رحمان ځکه په وګړیو کې رسوا شوم

په " چې له مرګه بې پروایې په هر دم " غزل کې ۲۸ بیت :

پس له مرګه به دې هوږ هم خانه وي          څه پوهېږې یا به مار وي یا الم

په " تر چې هسې ګامې تر شکرګامې خندان " غزل کې اتم بیت :

د سړي صورت څه روغ دکانې نه دی          نشته کانې څخه ستا د جور توان

په " څو به شمېرم زه غمونه د هجران " غزل کې شپږم بیت :

لکه غم د آشنایي په ما ورېږي          یاد به نه وي د چا هسې ګڼ باران

په " ناچې رنګ د میو د کړو لبانو " غزل کې ۶-۷-۸ بیتونه :

ستا د خولې له حقیقته صوفي څه زده          له دې رازه څوک خبر وي بې رندانو
د پېزوان غمې دې رب کا پر لبانو          دواړه زلفې دې چوړه د ملنګانو
تورا وربل دې لکه مار په جبین پروت دی          شینکی خال دی مواصل د ځوانانو

په " کله څو په صحرا سر شوم هم په کلیو " غزل کې دیم بیت :

هر آشنا چې مخ پټان کا نه یې موم          که یې غواړم شپه او ورځ په سپړولیو

په " ورځ دې تېره په شومې کړه شپه له خوابه " غزل کې اتم او نهم بیتونه :

اندرون به دې له اوره هسې داغ شي          چې نن داغ شي په شرابو په کبابه
چې د مخ و آب و تاب ته یې نظر کړم          واته هېڅ شي د ګلونو آب و تابه

په " ته شهابې شکر لبه " غزل کې :

نه د لې شوی نه هوري شوي          ترمیان ولاړي مه بد به

Marfat.com

په "خو به وران شي د دنيا بازار اسماره" غزل کي ٤-٥-٦-٧ بيتونه:

يو هسې بې سوزې مې شوه په برخه — چې سر مې يې لا بتره ده تر ماره
مصلي د نې ننګه و د سپي لنګ کړه — ډهوس مصلي قطره وي بې نغاره
يار زما د سترګو تور پرې چې ګر زيده لم — په هجران کې مې د سترګو رڼا لاړه
په خوا لحد موندنه شي له سګانو — په لوخ سر سره د روزي له بګاره

په "ما وې زه به نه کړم په خوبانو باندې مينه" غزل کي پنځم بيت:

راشه نجومي زما د يار فال وګوره — تللې يار به کله له سفره راشينه

په "کشکي زه خاورې ايرې د ستا دره واى" غزل کي لسم بيت:

يا شبنم د صبحدم يا عندليب شوې — چې د ستا په ګلشنو زما ګذر واى

په "ستا له غمه مې په سر کې همې شور دى" غزل کي اووم بيت:

د درد و غم د عاشقۍ جوړه سره کړه — خداى و د کړي و دنيا ته بې سر ودى

په "زلفې دې له ډېرې درازۍ پاى تر ستر دى" غزل کي اووم بيت:

داخو زه له کم بختي له تا زار کړم — ستا د نيک خوى کاڼي بوټي هم خبر دي

په "چې د ښکنګې مې دلبر په لاس کې جام دى" غزل کي اووم بيت:

ته چې خپل فراغت غواړې په جهان کې — فراغت د خاطر راو بنيه کډام دى

په "چې د اسې لاس په لاس دنيا په لېښو دي" غزل کي اتم بيت:

په خپل ځاى به نې هر کلام په کار شي — ځان . . . . طالب له د ښکو دى

په "خبر مې ستا د بنو غښې په سينه دى" غزل کي لسم بيت:

نه ښها زما په سترګو کې جلوه کا — ماه وهر يې سينه مخ يې آينه دى

په "غم دې هسي غلبه شو په ما باندې" غزل کې اووم بيت:

زه ځان بې شد نې په ځان ګڼمه — که يار سل ځله نا شد چارې کاندې

Marfat.com

په "آشنایي توره بلا ده آشنا مه شې" غزل کې شلوم بیت :

خپل سپینت وهڅاروي وته قصاب دی — توانایي د تن تاوان دی توانا مه شې

"ولي د عاشق ته نظر نه کړې" غزل کې دریم او اووم بیتونه :

خپلتان لا د سپي په سر باندې ارکان يې — ته تش سیوری د مخلص په سر نه کړې

زما هر زمان په تا باندې گذران وي — ته یو دم زما په لوري گذران نه کړې

په "مغرور مه اوسه د عشق په کاروبار کې" غزل کې اووم او دوولسم بیتونه :

هیڅ صرفه نه کړي د زړونو ازار ځلي — د چا سود دی ګوزي شوي په آزار کې

وهغوی چې خدای حق بینې ستر ګې ورکا — د یوسف تجلي ويني په دیوار کې

په "دغې بنا چې نوم محبت آباد وي" غزل کې شپږم بیت :

بیخ بنیاد به د هغوي په یاري کې — چې د تن په ناوړې يې اعتقاد وي

په "که د درستې دنیا غم مې په سر بار وي" غزل کې ۶ ، ۷ او ۱۱ بیتونه :

زه به ستا له رقیبانو څخه مانده کړم — دا دستور دی چې له ګله سره خار وي

که يې هر زمان په آب زمزم ونځم — بې مینډ مې په زړه باندې غبار وي

څو يې سل ځاره خبر شیې په تا شرکې — ګله وي چې د بلبل و ګل ته لار وي

په "د وصال په هوا والوتي مرغه شوې" غزل کې شلوم بیت :

چې بیلتون ورته اسان دی هغه خلک — از میینت له په بند د بیلتانه شوې

په "دهرې خولې زما په یاد شکر خورې شوې" غزل کې شلوم بیت :

خپل قسمت په سړي کاندې هر چې کاندې — د چا برخه خاموشي د چا ناري شوې

په "چې په مخ باندې داد بنکو بورقسم وي" غزل کې ۱۴ بیت :

قاعده د درد منده هسې نه ده
چې په درد کې یو درد من تر بل کم وي

Marfat.com

په " ترې ماته والې چې په چاپانډې شيدايي " غزل کې له څلورو بيتونو نه وروسته لاندې بيتونه :

هر چې په حيات صورت له مرګ سره اشنا شي
خلاص به د قيامت له خرخښو په دې دنيا يي

سخ د هغو ګلو چې برګ يې ريبي په بهار وي
ګل سره ابني وکا له خزانه استغنا يي

غم (خو) هم (هغه) کړي چې هيڅ غم ورسره نه وي
ولې چې ناګاه به يو وروح ورباندې زيا يي

حکم د نيستي په هغو دي هم (چې) هست دي
هر چې هستي پر بن دي له نيستي خبر وا يي

زړه د عاشقانو د دښمن له لاسه بغم دی
لکه شمع د مقراض له خصومته په خندا يي

لوی په تنده نشته د قانع په قناعت کې
دا کيميا چې زده کا په خرقه کې امرا يي

هيڅ څوک سر چشمې طالب نه کړي په خرمن کې
بلکه د قحطۍ په ملک که شاه يي هم ګدا يي

ما به ړنبتيا نه وي اې يارانو باري څه کرم
حقه کلمه نغوږ ده هر ګوره سخته بلا يي

زه وروسيلاب وار ته تړل په مقامات وي
زړه د خاموشۍ په ځای له نه (چې) ګويا يي

بې خس خاشاکه د آتش بقا په څه وي
آه و فرياد واره په مقدار د تمنا يي

زه د رقيب چارو ناوبسا لرم له حبيبه
زلفې په نسبت د مار خوږ لوا ژرها يي

اې ناصح هر راحت په اجر د زحمت دی
هر چې دېر (دېر) خاندي هسې دېر (دېر) په ژړا يي

په " چې بخت ئې آشنايي " غزل کې له مقطع نه وروسته بيت :

په پښتو کې رحمان وي
په فارسي کې سنايي

په " يوه ذره به دېرې يا به موريي " غزل کې پنځم او شپږم بيتونه :

عبادت خو په ځوانۍ کې دي رحمانه
په پيرۍ کې به څه زهد کړې چې زړو يې

بدي واره په سنه ونيسه ناصحه
چې پای بند د يار په هر ياپه ...



Marfat.com

په "هر گفتار هره وینا چې خوک عبس کا" غزل کې شپږم بیت (۱):

معتقد له اعتقاده مقصود بیا موند — د هغو طاعت غلط دی چې وسوس کا

په "که په بخت کم بختان نه وای خسته دل خوک" غزل کې ۲ او ۱۲ بیتونه:

زه لاړغم دستا په مینه کې شهره یم — نه چې نن کاندې خبرې پردي خپل خوک

ما دا یو سړی دی داستا شکرانه کړې — که دسر ما غزه مې خوري په داویل خوک

په "د زړه حال و تا ته څه وایم په ژړه" غزل کې ٤ او ۵ بیتونه:

که یې لاس نه رسي په چارو رسیدلی — بد یې مه مجې په چا چیرې قبلول یې

خوك له تخته داير و پاچا تخت وه کړي — خوك له تخته دايره په دیران ول یې

۴۲۲

د رحمان بابا دیوان د (۱۳۵۵) لمریز کال د زمري په میاشت کې د نصیر هنر پښتون په قلم خطاطي او نقاشي شو.

---

(۱) دا بیتونه د سباغلی رفیع د شعر کتاب کې په لوی زري چاپ نسخه کې لاس ته راغلل.

Marfat.com

ترتیبونکی: څېړنیار محمدعارف غروال

# د ویې پانګه کې د ناسپېڅلو لغتونو برخه

## لغت                معنی

### الف

| | | |
|---|---|---|
| ابتــه (حبطه) | | عبث، بې معنی، بې ځایه. |
| ابلق | | آس، برګ. |
| اختلاط | | ګډون، خبرې کول |
| ارهنډه | arhánda | بیدانجیر. |
| آدینه | | جمعــه. |
| اشام | | ؟ |
| اشراق | | دخاښت لمونځ، طلوع کول ځلېدل. |
| الوی | aláway | وریت شوی. |
| اعراف | | دجنت اودوزخ ترمنځ ځای. |
| افسون | | جادو، اوده، دم. |
| الغیاث | | پناه غواړم، فریاد. |
| الوس (اولس) | | ټبر، قوم، طایفه. |

Marfat.com

آماج — موخه، هدف، د توپک غشي او نښان.

آماس — پړسوب.

اوتاد (د وتد جمع) — یوه روحاني مرتبه، مونږي، مېخونه.

اوړنۍ *odә́nay* — یو ډول ښځینه پوړنۍ دی چې غالباً یې په ودونو کې پر سر وي.

اوراد (د ورد جمع) — دوعاګانې.

اورپښتی *orpәṣtay* — پتنګ، پروانه.

اوږمکه *oẓmáka* — میاشت، ماه.

اولاق (اُلاغ) — خر.

اهار — داوړي یعني ګرمۍ موسم.

اهداد (هیداد) — سزا، پاداش، سزنش.

ایاغ — د شرابو پیاله او کاسه.

## ب

باده — شراب.

باړه *bāṛá* — یو مشهور خوږ.

بالي (بهالي) — ورور.

بتان (بت) — مجازاً پېغلې، ښکلي.

بدسګال — بدذات، بدجنس.

برنا — ځوان، زلمی.

بساط — د ځمکې فرش.

بطال — بد ویونکی، باطل ویونکی، غلط ویونکی.

Marfat.com

| | | |
|---|---|---|
| بګاړ (ګجار) | *bagār* | لېوه، شرمښ. |
| بېچاونې (بېچارنه) | *bičāwna* | دغزن جاې، بستره، دوجاې. |

# پ

| | | |
|---|---|---|
| پارسا | | پرهېزګار، زاهد. |
| پارڅي | *pārci* | دجوارې کولو دانې. |
| پاسلل | | سپارل. |
| پایله | | پایزیب. |
| پخساك | | پرېشاني، غم او خپګان. |
| پرانه | | پرته، لې ځایه، لې موږده. |
| پسندل | | غوره کول. |
| پکو | | په ځان پورې تنګ اوله ځانه سترې. |
| پنم | | پپ. |
| پېڅل | *pecə́l* | زغمل، صبر کول، تحمل کول. |
| پېچوې (بچوې) | | دمچوغزي پرې (بچوکې) مځانګا او ندې خخي او ځه. |
| پېړې | | دکښناستو تخته، دناستي کټګې کنجي. |
| پېشاب | | متیازې، بولې. |

# ت

| | | |
|---|---|---|
| تبرا | | بېزاربدل، تېرا کېدل. |
| ترارة | *trāra* | تېره، کاني، دبرد. |
| تراهي | *trāhí* | وېره |

Marfat.com

| | | |
|---|---|---|
| ترو | *tru* | نو . |
| توسن | | نیلی . |
| تولا | | محبت ، دوستي ، رښتینګلوي ، مینه . |
| تېزل | *tezə́l* | ځغلول ، پرېږې سپړېدل . |

## ټ

| | | |
|---|---|---|
| ټوکرکی | | د پوزي يوه ټوټه يا ټوټکی . |
| ټنډ | *tə́nd* | په زړه موړ ، سخت ، محکم . |

## چ

| | | |
|---|---|---|
| چلیکار | | هغه کس وندګر چې په ټاکلې ځې یا مزدورۍ د چا حمله کړي . |
| چندن | | صندل . |
| چوړه | | چوړه ، چواړه . |
| چوك | | یو کم شی ، لنډ څه . |
| چوګان | | نیزه ، د ډېه ، یا توپنا ډنډه . |
| چووه | *čowá* | عطر ، خوشبویه مواد . |

## ح

| | | |
|---|---|---|
| حط | | ایسته کول ، الیري کول ، د یو بار کوزول ، پرېښودل . |

## خ

| | | |
|---|---|---|
| خاصا | | نېک خوبه ، خاص الخاص ، وتلی . |
| خاکروب | | جاروکښ . |

Marfat.com

| | | |
|---|---|---|
| ختول | | خټه لړونکی، ناپاک. |
| خپسر | *xpəsár* | خپل ځان. |
| خدنګ | | غشی، خندق، |
| خاړه | *xrāṛa* | یو ډول دښتي وړه مرغۍ ده. |
| خرام | | نازاو نزاکت (غالباً له تګ سره راځي). |
| خمر | | شراب، مُل. |
| خمسور | *xamsor* | همراز، همراه. |

## څ

| | | |
|---|---|---|
| څښکو | *caṣko* | یو بوټی دی چې میده کوي یې او په لیچنو سترګو کې یې اچوي (چشکو) |
| څرې | *carə́y* | د کېږدې د سراو ږده وښتان. |
| څلې څولې | *cale-cūle* | ګنډ ګوڼه، زوړ سامان، ګند او کچکول. |

## ح

| | | |
|---|---|---|
| حُبله | *ǰabə́la* | سره، یو لړ بله. |

## د

| | | |
|---|---|---|
| دد | | ځناور. |
| دښن | *daṣən* | دښمن. |
| دراج | | تنځری (تمری) یو مارغه دی. |

Marfat.com

| | | |
|---|---|---|
| درای | | زنګنه، ګونګرو، ژوژۍ، جرس. |
| دلق ازرق فام | | زرغون کنډ، ګودړۍ. |
| دمک | | یوه لحظه |
| دواب | | څاروي، څلوربولي، بوده‌ګان. |
| دوځار | *ducār* | څرګند، ښکاره، وړغانځ، نمایان. |
| دیبا | | وریښمین ښکلی ټوکر. میلک |

## ډ

| | | |
|---|---|---|
| ډبر | *dabár* | تباره، ټبر، کهول. |
| ډلیال | *dalyál* | د ډلې ملګری. |

## ر

| | | |
|---|---|---|
| راج | | راجا (واکمن) |
| راح | | خوښي، نشاط، مجازاً شراب. |
| رټی | *ratə́y* | ډېرلږ، ناڅیز، کم وزنه شي. |
| رسن | | رسۍ، تناو. |
| رصاص | | قلعي، سرپ. |
| رعنا | | ښکلی او متناسب اندام. |
| رنځوری | *ranjə́ray* | رنځور، ناروغ، علیل، مجازاً زېړ رنګی. |
| ریمن | *remə́n* | خیرن، بدرنګ، ناولی. |

## ز

| | | |
|---|---|---|
| زباد | | اثبات. |

Marfat.com

| | | |
|---|---|---|
| زبر | | یاد ، په یاد . |
| زمول | zmol | مراوی ، بې سېکه ، ضعیف . |
| زوبل | zwəẓ | لشت ، نابود ، جرام . |
| زوم | | کم ، کمی . |
| زیرمه | | تدبیر ، ذخیره ، پانګه ، پاسره . |

# ژ

| | | |
|---|---|---|
| ژغر | zǧər | ژغورلی . |

# س

| | | |
|---|---|---|
| سالکان | | زاهدان ، عارفان . |
| ساهو | sāhū́ | آزاد ، اصیل . |
| سترغلی | stərǧláy | کولك ، دسترګو غالي ، کاسهٔ چشم ، |
| ستور | stwar | څاروي |
| سنجاب | | لولی . |
| سرابن | srāṣ | حریص |
| سفال | | تیټ ، بې قدره ، پستي او بې همتي ، کودړی |
| سقلات | | خیل خان پېتول . |
| سکه | ska | لو ، ځکه ، ګویا ، لکه چې . |
| سمك | | کب ، ماهي . |
| سنداسي | | واندې کېدل ، ملنګ ، کیبالتو یکی ملنګ |
| سولند | swáland | حریص ، بخیل ، ممسك ، لکه سولند سړی . |

Marfat.com

| | | |
|---|---|---|
| سوها | *sohā* | یو ډول څوانی توکی دی. |
| سپپاري | *sepāri* | یو لوړه غږه ونه ده چې په تورو سیمو کې تښه کیږي. |
| سیم | | یو گران قیمته فلز دی. |

# ش

| | |
|---|---|
| شب داج | توره شپه، د تورون شپه. |
| شط | سیند، هغه ستر رود چې دریاب ته گډیږي. |
| شهاب | ستور، ستوري. |

# ط

| | |
|---|---|
| طره | حوغه |
| طوق | غاړکۍ، امیل |

# ع

| | |
|---|---|
| عتاب | قهر او غصه |
| عرعر | سپېدار |

# غ

| | |
|---|---|
| غبغب | د چرگ جنجړی، د چرگ ججوړه. |
| غربال | غلبېل، پرویځې. |
| غزا وشوه | اصل معنا: دا یو شوق دی، په دې پوښتنه وشول؟ ( یو تکیه کلام دی ). |

Marfat.com

| | | |
|---|---|---|
| غوږ | ğor | برخه، نصیب، قسمت، مجازاً میراث. |
| غوږځی | | په زوره چیغې ایستل، په اتڼ کې تو بونه اوچغې ایستل. |
| غوږی | ğwazáy | سخت انتظار، غوږ بلی، دچا دراتګ د زړې انتظار. |
| غوک | | لویه څنګښنه (چونګښه)، شلانده. |
| غونډی | ğúnday | دوزغنو جوال. |
| غونډژبی | ğwənḍ-žəbay | فصیح، بلیغ. |

## ف

| | | |
|---|---|---|
| فلوس | | دفلس جمع، دیوې ونې میوه ده چې په تور و سیمو کې شنه کېږي زېږي تړنه او په طب کې کارې اخیستل کېږي |

## ق

| | | |
|---|---|---|
| قرقره | | دچرګ تاج، چرګ خولی، تاج، شوغه. |
| قنج (غنج) | | ناز. |

## ک

| | | |
|---|---|---|
| کار | | دوروکالو ډېری. |
| کام | | هدف، مرام. |
| کاواک | | ډډ، ګوګ. |
| کروړ | Kroṛ | سخت، محکم. |
| کړیکه | Kṛika | چیغه، وږووکی غږ. |
| کښنیده | | نقشه، انځور. |
| کلاب (کلب) | | سپی. |

Marfat.com

| | | |
|---|---|---|
| کنگال | | مفلس، بې‌ستمن، مېنځل شوی. |
| کوتل | Kutə́l | ذبح کول، حلالول، پوستکی ترې ایستل |
| کودیکه | | یو ډول خاورین دېګ دی. |
| کورمه | Kormá | کورنۍ، اهل بیت. |
| کوله | Kolá | دساقي دپاسه دګل برخه. |
| کوی | | چم، کوڅه، مالت. |
| کهی | Kaháy | ډنګر، لاغر. |

## ګ

| | | |
|---|---|---|
| ګانډه | gánda | سبا، راتلونکې ورځ. |
| ګایل | | ژوبل، زخمي، پرهار ژلی. |
| ګرام | grām | کلی، سیمه، استوګنځی. |
| ګروهېدل | grohedə́l | عقیده لرل، معتقد کېدل. |
| ګړیال | garyāl | زنګ. |
| ګورهنډه | gorhánda | وره تیاره کوټه، په غره کې بانډه چې ولړ شپږمه عجازاقبر |
| ګونټه | gontá | دشطرنج دانه. |
| ګوهار | | دغواوو پاده. |
| ګوی | | پېنډوس، پېنډ وسکه. |
| ګنګو | gongú | زعفران. |
| ګېډی | gedáy | ناپوه، بېړل، احمق. |

## ل

| | | |
|---|---|---|
| لارغه | lārǧə́ | درنګ، حنډ. |

Marfat.com

ګونګک، یوه ډول انګور دی.

واګي، قبضه.

*lu* لوګي.

*locedə́l* یوه داسې اوږده مبارزه کول چې یوه سیاله ډله هم نهائي بریالیتوب ته ونه رسېږي، خو له مبارزې څخه هم لاس نه اخلي.

*lostə́l* پر کوچ پیل کول، لېږد پیل.

پاشل.

# م

شته - هستي او دارایي.

استوګنځی، مسکن.

*matrá* نایاب، نشت، زون.

*mət* بازو، هاند، همت.

جذب شوی، عاشق شوی.

نغری، دېګدان.

مست، نشه.

نرښځی.

بد ویل، غیبت.

طلب، لټون، کومک

کونجکه، خرموره.

Marfat.com

| | |
|---|---|
| مستدام | همیشه، تل. |
| مشاطه | دمه، سینگارونکی. |
| مشگیرك | دیو مارغه نوم دی. |
| مصحف | کتاب، هغه پاڼې چې یو ځای یې سره ټولې کړې وي. |
| مطر | باران، ورښت. |
| معتیو (معتوه) | غیر مکلف، لیونی ډوله. |
| مغاك | گودال، ژورغالی. |
| مقراض | بیاتي، قیچي. |
| منجلاب | خوسا ډنډ. |
| منزه | پاك، سپېڅلی، پاکیزه. |
| مواس | چوغلگر. |
| میثاق | ژمنه، وعده، عهد، پیمان. |
| میزر | پړوني، چادري. |
| محوت | پیلبه، پیل والا |
| عیسی | معاش ـ تنخوا. |

# ن

| | |
|---|---|
| نارون (نارو) | یو ډول دانه ده چې د چېتلو او بولډ خبلو پیدا کېږي او په منځ کې یې د تارغوندې نرۍ چینجي وي. |

| | | |
|---|---|---|
| نار | | د ندر، ساقه. |
| ناغه | | دستر گوسره رگونه. |
| ناوك | | غشی، شتی |
| نخل | | دخرماونه، خجوره. |
| ندا | | غږ، آواز |
| ندی | *naday* | ږود، وړوکی سیند. |
| نغړول | | نغړل، په يوه سا تېرول. |
| نغوتل | | غوږ نيول، دخبرې منل. |
| نغوته | | اشاره، تلقين. |
| نمري | | جامې، لباس، کالي. |
| نمط | | طريقه، نوع، روش، رويه<br>هغه دله خلك چې په يوه فكر او رنګ وي. |
| نول | | غم، پرېشاني، اندوه. |
| نومر | | يادشوی، نومول شوی. |

# و

| | | |
|---|---|---|
| واړه | *wāṛə* | غوړه، وړ |
| وبله | | يو تر بله. |
| ورژلي (وژل) | | ږېزه ږېزه كول، مړل. |
| وشتې | *wášte* | توكې نكالې، لطيفې. |

Marfat.com

| | | |
|---|---|---|
| وقر (وقار) | | طاقت، تحمل، درنښت. |
| ویلاړ | *weláṛ* | عزم، اراده، نیت او مراد. |

## ه

| | | |
|---|---|---|
| همیانه | | هغه تیلی چې پیسې پکې ایښودل کېږي |
| هنډه | *hánḍa* | مضبوطه اراده، دزړه غوښتنه، پډ... یوه حبره غوښته کول. |
| هوك | *huk* | نیغ، شخ. |

## ی

| | | |
|---|---|---|
| یرغال | | بیرغ، یرغل حمله، برید. |
| یسار | | کین، اسان. |
| یمین | | ښی. |

Marfat.com

## یادونه:

د متن ترتیب، په دوو ډوله سره، د رحمان بابا د دیوان د څو پخوانیو خطي نسخو ترلاسه شوی، په دغو نسخو کې چې ناسم غزلونه وو، چې په متن کې غزلو یې بلیتونه زیات وو، او یا یې ترمیم سره ورلوده، نو ځکه موږ نوي ناسم ته راغلي غزلې د ضمیمې په نوم، په دې ضمیمه کې هغه داسې غزلې شته، چې په ... کې ځینې یې شکل هم خوندي دی، لکه د متن د ۸۷ م غزله، چې په ضمیمې په ۲۸۳ مخ کې راغلې ده. او یا لکه د متن د ۲٤٦ م غزله، چې په ټوله د ضمیمې په ۲۸۶ مخ کې راغلې ده. نو محترم لوستونکي به دغه کار زموږ تېروتنه و نه ګڼي.

اداره

Marfat.com

ذخیرہ

# *COLLECTIVE WORKS OF RAHMAN BABA*

PUBLISHED

BY

PUSHTU ACADEMY

Government Printing House

1977

Marfat.com